# د شیعو د عقایدو منشور

(د شیعو عقیدې او اصول)

لیکوال: علامه جعفر سبحانی

ژباړن: محمدرحیم درانی

# لړلیک


سریزه .................................................. ۹
د کتاب لنډیز .................................................۱۷
لومړی اصل: .................................................. ۷۴
دویم اصل: .................................................. ۷۶
دریم اصل: .................................................. ۷۶
څلورم اصل: .................................................. ۷۷
پینځم اصل .................................................. ۷۸
شپیږم اصل .................................................. ۸۰
اووم اصل .................................................. ۸۰
اتم اصل .................................................. ۸۰
نهم اصل .................................................۸۱
لسم اصل .................................................. ۸۲
یوولسم اصل .................................................. ۸۳
دولسم اصل .................................................. ۸۴
دیارلسم اصل .................................................. ۸۴
څوارلسم اصل .................................................. ۸۵
پینځلسم اصل .................................................. ۸۶
شپاړسم اصل .................................................. ۸۶
اوولسم اصل .................................................. ۸۷
اتلسم اصل .................................................. ۸۸
نولسم اصل .................................................. ۸۸
شلم اصل .................................................. ۸۹
یویشتم اصل .................................................. ۹۰

دوه ويشتم اصل ........................ ........................ ۹۱
درې ويشتم اصل ........................ ........................۹۲
څلور ويشتم اصل ........................ ........................ ۹۳
پنځه ويشتم اصل ........................ ........................ ۹۴
شپږيشتم اصل ........................ ........................ ۹۵
دويمه برخه ........................ ........................ ۹۷
اووه ويشتم اصل ........................ ........................ ۹۸
د تو حيد پړاوونه ........................ ........................۹۹
اته ويشتم اصل ........................ ........................۱۰۰
نهه ويشتم اصل ........................ ........................۱۰۱
دريشم اصل ........................ ........................ ۱۰۳
يو ديريشم اصل ........................ ........................ ۱۰۶
دوه ديرشم اصل ........................ ........................ ۱۱۲
په تشريع کښې تدبير ........................ ........................ ۱۱۲
درې ديرشم اصل ........................ ........................ ۱۱۴
د عقائدو کليات ........................ ........................ ۱۱۷
د خداى پاک صفتونه ........................ ........................ ۱۱۷
څلورديرشم اصل ........................ ........................ ۱۱۸
شپږديرشم اصل ........................ ........................ ۱۲۰
د خداى ذاتي صفتونه ........................ ........................ ۱۲۱
اته ديرشم اصل ........................ ........................۱۲۵
نه ديرشم اصل ........................ ........................۱۲۷
څلويښتم اصل ........................ ........................ ۱۲۹
يوڅلويښتم اصل ........................ ........................ ۱۲۹
د خداى سلبي صفتونه ........................ ........................ ۱۳۰

دوه ځلوېښتم اصل .............................................. ۱۳۰
خبري صفتونه ............................................ ۱۳۴
درې ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۳۴
د خدای عدل ............................................ ۱۳۹
څلور ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۳۹
شپږ ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۴۴
اووه ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۴۶
قضا او قدر ............................................ ۱۴۶
اته ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۴۶
نه ځلوېښتم اصل ............................................ ۱۴۸
پنځوسم اصل ............................................ ۱۵۱
انسان او اختيار ............................................ ۱۵۳
يو پنځوسم اصل ............................................ ۱۵۳
دوه پنځوسم اصل ............................................ ۱۵۴
درې پنځوسم اصل ............................................ ۱۵۶
عام نبوت ............................................ ۱۵۷
څلور پنځوسم اصل ............................................ ۱۵۷
د قران او د نبوت اهداف ............................................ ۱۶۰
پينځه پنځوسم اصل ............................................ ۱۶۰
د پيغمبرانو د پيژندلو لارې ............................................ ۱۶۲
شپږ پنځوسم اصل ............................................ ۱۶۲
اووه پنځو سم اصل: ............................................ ۱۶۴
اته پنځو سم اصل ............................................ ۱۶۴
نهه پنځوسم اصل ............................................ ۱۶۵
وحی او نبوت ............................................ ۱۶۷

شپیتم اصل ...................................... ۱۶۷
یو شپیتم اصل ...................................... ۱۶۸
درې شپیتم اصل ...................................... ۱۷۲
څلور شپیتم اصل ...................................... ۱۷۳
پینځه شپیتم اصل ...................................... ۱۷۵
شپږ شپیتم اصل: ...................................... ۱۷۶
اووه شپیتم اصل ...................................... ۱۷۶
اته شپیتم اصل ...................................... ۱۷۸
نهه شپیتم اصل ...................................... ۱۷۹
شپږمه برخه ...................................... ۱۸۰
اویایم اصل ...................................... ۱۸۰
قران یا همیشنۍ معجزه ...................................... ۱۸۰
یو اویایم اصل ...................................... ۱۸۲
دوه اویایم اصل ...................................... ۱۸۳
درې اویایم اصل ...................................... ۱۸۶
څلور اویایم اصل ...................................... ۱۸۸
پینځه اویایم اصل ...................................... ۱۹۱
شپږ اویایم اصل ...................................... ۱۹۲
اووه اویایم اصل: ...................................... ۱۹۶
اته اویایم اصل: ...................................... ۱۹۷
نهه او یایم اصل: ...................................... ۱۹۹
اتیایم اصل: ...................................... ۲۰۱
یو اتیایم اصل: ...................................... ۲۰۲
دوه اتیایم اصل ...................................... ۲۰۶
اوومه برخه. ...................................... ۲۱۱

امامت او خلافت. ........................................ ۲۱۱
خلور اتیایم اصل ........................................۲۱۴
پینځه اتیایم اصل: ........................................۲۱۶
شپږ اتیایم اصل ........................................۲۱۷
اووه اتیایم اصل: ........................................۲۲۲
اته اتیایم اصل: ........................................ ۲۲۴
نهه اتیایم اصل: ........................................ ۲۲۷
نوییم اصل ........................................۲۳۰
یونو یم اصل ........................................۲۳۱
دوه نو یم اصل: د امام عصمت ........................................ ۲۳۴
خلور نویم اصل ........................................ ۲۳۹
پینځه نویم اصل ........................................۲۴۱
اووه نویم اصل ........................................ ۲۴۳
اته نویم اصل ........................................ ۲۴۴
نهه نویم اصل ........................................ ۲۴۵
سلم اصل ........................................ ۲۴۶
یوسل یو اصل ........................................ ۲۴۷
یوسل دویم اصل ........................................ ۲۴۸
له مرګه وروسته جهان ........................................۲۴۹
یوسل دریم اصل ........................................۲۴۹
یوسل خلورم اصل ........................................۲۴۹
یوسل پینځم اصل ........................................ ۲۵۲
یوسل شپږم اصل ........................................ ۲۵۴
یوسل نهم اصل ........................................ ۲۵۸
یوسل لسم اصل ........................................ ۲۶۱

يوسل يوولسم اصل ........................................ ۲۶۴
يوسل دولسم اصل ........................................ ۲۶۵
يوسل ديارلسم اصل ........................................ ۲۶۶
يوسل څوارلسم اصل ........................................ ۲۶۸
يوسل پينځلسم اصل ........................................ ۲۷۱
يوسل شپاړسم اصل ........................................ ۲۷۶
يوسل اولسم اصل ........................................ ۲۷۷
يوسل اتلسم اصل ........................................ ۲۷۹
ايمان، كفر، بدعت، تقيه، توسل او بداء وغيره.... ........................ ۲۸۲
يو سل شلم اصل ........................................ ۲۸۳
يوسل يويشتم اصل ........................................ ۲۸۵
يوسل دوه ويشتم اصل ........................................ ۲۸۸
يوسل درې ويشتم اصل (بدعت) ........................................ ۲۸۹
يو سل شپږ ديرشم اصل ........................................ ۲۹۱
يو سل اووه ديرشم اصل ........................................ ۲۹۲
يو سل اتة ديرشم اصل ........................................ ۲۹۶
يو سل نهه ديرشم اصل ........................................ ۲۹۸
يو سل څلويښتم اصل ........................................ ۳۰۱
يو سل يو څلويښتم اصل ........................................ ۳۰۲
ځينې اختلافي فقهي حكمونه ........................................ ۳۰۳
يو سل دوه څلويښتم اصل ........................................ ۳۰۳
يو سل درې څلويښتم اصل ........................................ ۳۰۶
يو سل څلور څلويښتم اصل ........................................ ۳۰۹
يو سل پينځه څلويښتم اصل ........................................ ۳۱۳
يو سل شپږ څلويښتم اصل ........................................ ۳۱۷

يو سل اووه ځلويښتم اصل ............................................ ٣١٨
يو سل اته ځلويښتم اصل ............................................ ٣١٩
يو سل نهه ځلويښتم اصل ............................................ ٣٢٣
يو سل پنځوسم اصل ............................................ ٣٢٦
سر چينې ............................................ ٣٢٨

## سریزه

دین ته د اوسمهاله انسان ګروهنه او د عقایدو د منشور کتاب

د لیکلو ضرورت

اوسنی وخت د صنعت او ټیکنالوجۍ زمانه ګڼل کیږي ځکه چې انسانانو په دې اخرنۍ پیړۍ کښې ډېر زیات پرمختګ کړے دے او دا کار د ستاینې وړ دے خو د دې کارونو تر څنګ کلتور هم یو څیز دے چې هماغه دین او دیني مفهومونو ته پاملرنه ده.

دین ته ګروهیدل، د انسانانو له ډېرو زړو ګروهنو څخه دے چې تاریخ هغه یاد کړے او یادوي یې، او د تاریخ په ګواهۍ او پخو دلیلونه سره دا خبره ثابته ده چې یوه زمانه هم له مذهبي احساسه خالي نه وه، که څه هم له رُنسانسه وروسته او په علمي طریقو کښې په بدلونه پسې او د انسان په مادي طبیعت باندې له سلطې وروسته د ځینې سیاسي او کلتوري عواملو په سبب د دین په لور پاملرنه کمه شوه او په لویدیځې ټولنې کښې له دین ته بې پامي زیاته شوه. بیا ورو ورو ختیځو هېوادونو ته هم دا ناروغي راورسیده او ځینې ډلې یې متأثرې کړې، او دا څپه تر دې مخکښې لاړه چې دا تصور

وشو چې نوې علم د انسانانو ټول ضرورتونه پوره کولے شي او هغه غوښتنې چې دین به پوره کولې، علم یې پوره کولے شي.

خو د ځینې ورانوونکو عواملو څرګندیدو دغه تصور غلط ثابت کړ او دا یې ثابته کړه چې انسانان هیڅکله له دین او د هغې له لار ښوونې بې نیازه نه دي او هیڅ یو څیز د مذهب ځای نه شي نیولے. له دې عواملو څخه درې عاملو ته اشاره کوو:

۱. په شلمې پیړۍ کښې د نړیوالو جنګونو شورو کیدل: لومړې نړیوال او دویم جنګ چې په لسګونو ملیونه انسان یې قرباني کړل، د هغه علم په مشرۍ او لارښود کښې وشول چې له دینه جدا او پرې شوے و، او هغه علم چې دا ګمان کیدۀ چې دا به د انسانانو ټول ارمانونه پوره کړي، ناڅاپه یې انسان په داسې برخلیک اخته کړ.

۲. د اخلاقي فساد د پراخیدو په سبب د کورنۍ ورانیدل: د لویدیځې نړۍ په لویه برخه کښې، د کورنۍ مفهوم له منځه تللے دے او کورنۍ په یو مؤقت او ناپیدار څیز بدله شوې ده او نوي سائنس او علم په دې ړنګولو کښې بې اثره نه و، البته مطلب مو هغه علم دے چې صحیح رهبري یې نه وي شوے او له دینه جدا وي.

یو ځل بیا ټینګار کوو چې د دې مطلب دا نه دے چې نوې علم یو نقصاني څیز دے، بلکه که علم او ټیکنیک له دیني او معنوي لارښوونې بې برخې وي نو د دومره زیانونو او نیمګړتیاوو سبب کیږي.

۳. د ځینې علمي فرضیو بې اعتباري او ماته: پر وړاندینیو دوو عواملو ورزیات چې په نوي علم باندې یې په ټولنیزو میدانونو کښې د انسانانو ډېر باور او زړه تړون کم کړ، د ځینې علمي فرضیو شکست او بې اعتباري هم د دې سبب شوه چې په نړۍ پیژندولو کښې د انسانانو چې په علم باندې کوم ایمان او باور و هغه له لاسه ورکړي او په بله ژبه، په کوم خوږ خوب چې په نولسمه پیړۍ کښې د یورپ خلک ویده شوي وو، راویښ شي.

نوموړي عوامل او دې ته ورته لاملونه سبب شول چې انسان یو ځل بیا خپل انساني فطرت ته راستون شي او دین او د هغې معارفو ته مخ کړي. نو په حقیقت کښې د یو وخت له جدایۍ وروسته چې انسان ځان د دین له ځانګړتیاوو بې برخې کړی و، د یو تږي انسان په شان د دین د پاکې چینې په تکل کښې شو.

دا موضوع دومره روښانه ده چې دلیل او ګواهۍ ته څه ضرورت نه لري او هغه کسان چې د نړۍ له پیښنو خبر دي په ډېره ښه طریقه له دې خبر دي. دا نوې ګروهنه تر دې حده ده چې دین ته یو ځل بیا په

علمي مرکزونو کښې په یو لوړه سطحه پاملرنه وشي، او متفکران او استاذان د هغې په هکله خبرې وکړي، او داسې اوني او میاشت نه تیریږي چې د دین او دین پیژندنې په هکله په لسګونو کتابونه او مقالې ونه لیکلې شي.

د یو لیکوال په قول: "مذهب او معنویت ته راستنیدل، یو داسې خط دے چې د لویدیځ د ټولن پیژندنې بنیادونو ته خطره جوړه شوې ده. نو لکه څنګه چې هغوي د مسلمانانو اسلام ته له ستنیدو ویره لري، د عسایانو عسائیت ته له ستنیدو هم ویره او وحشت لري". په حقیقت کښې له هر یو معنوي یرغل، او په غربي ټولنه کښې او تر دې چې په فردي ژوند کښې د دین او معنویت له هر حاکمیته ویریږي.

په لویدیځو تحلیلګرانو کښې یو کس د مسلمانانو او غیر مسلمو کسانو په ټولنه کښې ایمان او مذهب ته د بیاستنیدو نمونې بیانوي او د په لویدیځه ټولنه کښې تندلارو عیسایانو ته اشاره کوي چې په دې اخرني کلونو کښې یې ډېره وده موندلې ده. په دې اخرني کلونو کښې په بیلا بیلو شکلونو مذهب ته ګروهنه ډېره زیاته شوې ده تر دې حده چې د ډېرو هیوادونو لپاره خطره محسوسیږي.[۱]

---

۱. Henri Tinca په پنې هینې ویژه نامې کښې، کلیزه، لوموند ورځپانه، ۱۵۲مخ.

د دغه شناندي په خیال، مونږ دا څیز نیک بختي ګڼو او له دې خوشحال یو چې انسان یو ځل بیا د دین له مینې ډک غیږ ته راستنیږي. خو د دې زیري تر څنګ، یوه اندیښمنوونکې خبره شته او هغه دا چې که چرې دا تنده په صحیح طریقې لیرې نه کړې شي، او خدای دې نه وکړي چې کچه او غلط تفکرات د دین په نامه خلکو ته ورکړے شي نو اوسنے انسان به خپل ورک شوې بیانه مومي، او یو ځل به بیا له دینه مخ واړوي. نو دې ته په پام سره په زړه سواندو او دین پوهه او دردمنو کسانو ضروري ده چې د دې فطرت غږ ته د صحیح ځواب ورکولو لپاره د دین صحیح مفهوم انسانانو ته وړاندې کړي او دا روان الهي فیض په روڼه طریقه د انسانانو ته ورکړي.

په داسې حالاتو کښې چې دین ګروهنه د یو نړیوال څیز په شکل څرګنده شوې ده او له دینه مخ تاوهونکیو کسانو یو ځل بیا دین ته مخه کړې ده، نو مسلماً ځینې ډلې به د شخصي غرضونو لپاره دا هڅه کوي چې له مذهبي ګروهنې خلک واړوي او دین لټوونکیو ته د اصلي دین په ځای یو زهرجن خوراک ورکړي، چې په دې طریقه به هغوي د دیني تندې ماتولو سره سره خپلو غلطو مقصدونو ته هم ورسي.

مونږ چې د اسلام دین اخرنې او بشپړ اسماني شریعت ګڼو او دا عقیده لرو چې دا دین د قیامت تر ورځې پورې د انسان د فردي او ټولنیز ژوند ټولې اړتیاوې پوره کوي نو د هغې د عالي مفهومونو د جاري کولو لپاره له بیله بیلو اسبابو ګټه واخلو او له دې بې ساري فرصته د دین د صحیح تعلیماتو د رسولو لپاره ښه ګټه واخلو.

له بلې خوا مونږ باوري یو چې د اهلبیتو مکتب هماغه حقیقي او اصیل مکتب دے چې د قران او د پیغمبر(ص) د اهلبیتو(ع) په لاس مونږ ته رسیدلے دے، او په حقیقت کښې د اهلبیتو طریقه یوه داسې نیغه لار ده چې بې له کومو ککړو لاسونو مونږ د حقیقت سرچینې ته رسوي. د دې مکتب عالي اصلونه او په تاریخ کښې د هغې د رسالت کورنۍ سره انتساب یو داسې جاذبیت لرلے دے چې د حقیقت لټونکي ځان ته راکاږي او سبب کیږي چې هغوي د دې مذهب په دفاع کښې ښه په مینه له خپل سره تیر شي.

د حقیقت لټوونکي چې غواړي دیني حقیقتونه د دې دین له اخرني اسماني څیښتنه ، پیغمبر مبارک(ع) او د هغه له پاکو اهلبیتو علیهم السلام له خُلې زده کړي، نو دې لیکلي شوي کتاب ته په مراجعې سره به هغه د لارې لپاره یو روښانه څراغ بیاموميي، هو! هغوي کولې شي چې د دې مطمئن کوونکي کتاب په لوستلو سره د اهلبیتو

مکتب په لاس راړوي او د لا زیات خبریدو لپاره چې په دې کښې د
کومو کتابونو ذکر شوے دے هغې ته مراجعه وکړي.

دا کتاب نړیوالو ته اعلان کوي چې د عقایدو اصول او د اهلبیتو
دیني تعلیمات چې عقیده او عمل دواړو ته شاملیږي، همدا دي چې
په دې منشور کښې راغلي دي او هر یو هغه مطلب چې مونږ ته یې
نسبت راکړے شوے دے او په دې کتاب کښې لیکلي شوي اصولو
او مفاهیمو سره سمون نه لري نو هغه یوازې یو تور دے او هیڅ
ارزښت او اعتبار نه لري.

دلته خبره لنډه وو او د خدای په فضل، په ځینو اصولو سره د
اهلبتیو(ع) په مکتب کښې د اسلام اصول بیانوو.

د اسلامي عقایدو د اصولو د بیان لپاره د انسان او نړۍ په هکله د
اسلام د نظر او د پیژندولو او معرفت د لارو په هکله د یو لړ کلیاتو
بیان ته ضرورت لري. د مکتب د دغې برخې بیان د عالم امکان په
هکله د هغې د نظر ښکاره کوونکے دے مونږ دلته د کلام له اوږد
والي د ډډه کولو لپاره لنډې خبرې کوو او د هر یو اصول د تفصیل
لپاره د کلامي کتابونو حواله ورکوو.

دلته ضروري ګڼو کښې د حجت الاسلام والمسلمین ښاغلې رباني
ګلپایګاني د کوششونو او هڅو ډېره مننه وکړم چې د دې کتاب په

ليکلو کښې يې له ليکوال سره مرسته وکړه، شَکَرَ الله مُساعيه الجَمِيله.

**جعفر سبحاني**

**۲۳/۱۰/۷۲ چې د ۱۴۱۸ هجري کال**

د روژې د مياشتې ۱۴ نيټې سره سمون لري.

## د کتاب لنډيز

په اسلام کښې د پېژندلو لارې

لومړنې اصل:

اسلام د جهان او د دين د حقيقتونو د پېژندلو لپاره له دريو وسيلو "حس"، "عقل" او "وحي" ګټه اخلي.

دوهم اصل:

د پيغمبرانو بلنه، عقيدې ته عمل سره سره ده، که د دين له نظره وي، عقيده بې عمله او همدارنګ عمل بې عقيده ژغورونکې نه دے.

دريم اصل:

د ديني عقيدو او احکامو په قبلولو کښې د خداى له دوو حجتونو: عقل او وحي ګټه اخستل کيږي.

څلورم اصل:

دې ته په پام سره چې عقل او وحي دواړه د خداى حجت دي، نو د دوي تر مينځ به هيڅ کله حقيقي تعارض او ټکره نه راځي، لکه څنګه چې علم او عقل همدارنګ دي.

پينځم اصل:

د جهان حقيقتونه، زمونږ له تصور او تفکره جدا ، ځانته حقيقت او مستقل وجود لري، ابدي او جاودانه مقوله ده.

هستي د اسلام له نظره

شپږم اصل:

جهان د خدای مخلوق دے او د هغې اجزا خدای سره له تعلقه پرته بل څه واقعيت نه لري او د يوې شيبې لپاره هم له خدايه بې نيازه نه دي، ځکه چې خدای سره د يوې شيبې لپاره لاتعلقي د هغوي بابودۍ او عدم سره سمه ده.

اووم اصل:

د جهان اوسنې نظام، يو ابدي او تل پاتې نظام نه دے او يوه ورځ به ټول خراب شي.

اتم اصل:

د جهان نظام د علت او معلول پر ستنو ولاړ دے، او د څیزونو په یو بل کښې تاثیر، د خدای په حکم سره کیږي.

نهم اصل:

هستي، یوازې مادي طبیعت سره مساوي نه ده او د جهان زیاته برخه ماوراء هستي ده.

لسم اصل:

جهان کلاً او جزاً، یو هدایت شوې څیز دے او هر یو موجود چې په کومې مرتبې کښې دے، په خپل حد کښې د خدای د عام هدایت لاندې دے.

یوولسم اصل:

د پیدایښت دا نظام یو احسن او اکمل نظام دے چې په ډېره ښه طریقه پیدا کړې شوې دے.

دولسم اصل:

دې ته په پام سره چې د پیدایښت دا نظام، د داسې خدای پیدایښت او د داسې خدای فعل دے چې مطلقاً حق دے، نو د هغه پیدا کړې شی به هم څه هدف او مقصد لري او عبث نه دے پیدا شوې.

انسان د اسلام له نظره

دیارلسم اصل:

انسان یو داسې موجود دے چې له بدن او روحه مرکب دے او له مرګه وروسته که څه هم بدن یې خاورې او ریزې ریزې شي خو د خدای په حکم د هغه روح باقي وي او جاودان وي.

څوارلسم اصل:

هر یو انسان پاک فطرت او د توحید فطرت سره پیدا کیږي او د مور له خیټې یو کس هم ګنهګار او بد کردارې نه پیدا کیږي.

پینځلسم اصل:

انسان یو داسې موجود دے چې د خپل اختیار مالک دے او د ژوند په دوه لارې کښې په خپله په ټاکلو او عمل کښې ازادي لري.

شپاړسم اصل:

انسان يو داسې موجود دے چې تربيت او روزنه يې کيدے شي چې د خداى په لور د هغه د رشد او بيا ستنيدو لاره د تل لپاره خلاصه ده.

اوولسم اصل:

انسان د خپل عقل او اختيار په سبب، د خداى، د پيغمبرانو او د نورو انسانانو په وړاندې مسئول دے.

اتلسم اصل:

يو انسان هم په بل انسان باندې څه برترې او لوړاوې نه لري، خو يوازې د معنوي کمالاتو په وسيله چې د هغې له ټولو څرګند کمالات تقوا او پرهيزګاري ده.

نولسم اصل:

د انسان په فطرت کښې ښه اخلاق اچولي شوي دي او پکښې ثابت او تل پاتې دي، د وخت تېريدو سره پکښې هيڅ بدلون او تغيير نه راځي.

شلم اصل:

له دې پرته چې د انسان عملونه په یو بل جهان کښې سزا او جزا لري، موجوده جهان هم – چې د یو مدبر او حکیم خدای په لاس چلیږي – د انسان عملونو ته بې پامه نه دے او د خدای په خوښه (واکنش) عمل کوي.

یویشتم اصل:

د قومونو او هیوادونو پرمختګ یا پاتے والے، له خارجي عواملو پرته، د هغوي عقیدو، اخلاقو او اعمالو سره اړه لري او دا اصل د خدای قضا او قدر سره منافات نه لري، بلکې د هغې یوه برخه ده.

دوه ویشتم اصل:

انساني تاریخ یو ښه او روڼ مستقبل لري او په نړۍ باندې حاکمیت به په اخر کښې د صالحانو په لاس وي.

درې ویشتم اصل:

انسان له خدای خاص کرامتونه ورکړي دي، لکه څنګه چې د خلقت په لومړیو کښې ورته ملائیکو سجده کړې ده، او د دې کرامت او زبرګۍ ساتل په هغه باندې لازم او فرض دي او باید له هر یوه هغه کار ډډه وکړي چې د کرامت په خلاف وي.

څلور ویشتم اصل:

د انسان عقلاني ژوند او د هغه د فکر روزنه، په اسلام کښې ځانته ځای لري. له همدې سببه باید له پټو سترګو تقلیده ځان وساتي.

پینځه ویشتم اصل:

د انسان فردي ازادي په اقتصادي، سیاسي او نورو ډګرونو کښې په دې شرط سره ده چې معنوي لوړاوي او عامو مصلحتونو سره ټکره ونه لري.

شپږ ویشتم اصل:

ایمان، د زده باور دے چې په زور د انسانانو په زړه کښې ځای نه کوي او په اسلام کښې جهاد د دې لپاره نه دے چې په زور په انسانانو دین قبول کړي بلکې د جهاد مقصد دا دے چې نړیوالو ته د خدای د پیغام رسولو خنډونه له منځه یوړل شي او ټولنه د فساد او تباهۍ له عواملو پاکه کړي.

دوهمه برخه

توحید او د هغې مرتبې

اووه ويشتم اصل:

د خدای په وجود باندې عقيده، د ټولو الهي دينونو تر مينځ يو مشترک اصل دے او په بيلا بيلو طريقو په دې اصل دليل راوړې کيږي.

اته ويشتم اصل: د توحيد لومړنۍ مرتبه، ذاتي توحيد دے. يعنې خدای يو او بې ثاري دے او د هغه ذات بسيط دے او مرکب نه دے او عقلي او خارجي ترکيب د هغه په ذات کښې څه لاره نه لري.

نهه ويشتم اصل:

د خدای کمالي صفتونه د مفهو له نظره متعدد او بيلا بيل دي، خو د خارجي واقعيت له نظره يو بل سره د خدای په ذات کښې يو دي (صفاتي توحيد) او د صفاتي خارجي اتحاد، په دې معنې نه دے چې د هغه له ذاته کمالي صفتونه نفي کړي.

ديرشم اصل:

په جهان کښې بې له خدايه بل څوک پيدا کوونکے نشته (په خالقيت کښې توحيد). انسان په ډېرې ازادۍ سره د وجود له نعمته ګټه اخلي او طبعاً د هغه د عملونو مسؤليت او ذمه واري د هغه په خپله ذمې ده.

یو دیرشم اصل:

جهان بې له خدایه بل ربّ او مدبر نه لري (په تدبیر او تو کار کښې توحید) او نور مدبران، لکه پرښتې، یوازې د هغه په حکیمانه اذن او اجازې سره خپل کارونه ترسره کوي.

دوه دیرشم اصل:

که د پیدایښت په جهان کښې یوازې یو خدای مدبر دے، د دین او تشریع په چارو کښې هم هغه حاکم او مطلق پیروي شوونکے دے او که ځینې دیني چارې بل څوک ترسره کوي نو هغه د هغه په اذن او اجازت سره دي.

درې دیرشم اصل:

په عبادت کښې توحید یو داسې اصل دے چې ټولو اسماني شریعتونو کښې مشترک دے او د انبیاوو د بعثت هدف، په دې اصل باندې تاکید او د دې اصل یادونه او تذکر دے.

دریمه برخه

د خدای پاک صفتونه

ثلور دیرشم اصل:

خدای پاک جمالي او جلالي، یا ثبوتي او سلبي صفتونه لري چې لومړي (جلالي یا ثبوتي) د هغه له وجودي کماله حکایت کوي او دوهم (جلالي یا سلبي) له دې حکایت کوي چې د هغه ذات له دې صفتونو او نقصانونو پاک او منزه دے.

پینځه دیرشم اصل:

د خدای پاک د صفتونو د پیژندلو لپاره د پیژندولو له دوو وسیلو "عقل" او "وحي" مرسته اخلو او دا دوه وسیلې خدای پاک په ډېرو لوړو صفتونو سره ستایي.

شپږ دیرشم اصل:

د خدای صفتونه په دوه ډوله تقسیمیږي صفات ذات او صفات فعل، او د خدای افعال د هغه له ذاته او ذاتي کماله سرچینه اخلي.

اووه دیرشم اصل:

علم او خبرتیا، قدرت او توان، ژوند او حیات او اراده او اختیار د خدای پاک له ذاتي صفتونو څخه ګڼل کیږي، او د خدای د ارادې واقعیت، هماغه "اختیار" او د هغه ازادي د افعالو په کولو کښې ده.

اته دیرشم اصل:

د خدای له فعلي صفتونو څخه یو د هغه انسانانو سره خبرې کول دي چې په شورى سورت  په ۵۱ ایت کښې  په درې ډوله منحصر شوې دي. له دې دریو ډولو ورتیر، په یوهٔ فرض ټول جهان د خدای کلام او خبرې دي، لکه په همدې فرض یې حضرت عیسی ته د خدای کلمة ویلې ده.

نهه دیرشم اصل:

د خدای کلام چې د هغه له فعلي صفتونو څخه دے، حادث دے او قدیم نه دے، او قدیم بالذات یوازې خدای دے او له خدایه پرته د هر یو قدیم ازلي تصور، توحید ذاتي سره منافات لري.

څلویښتم اصل:

د خدای پاک له فعلي صفتونو څخه یو د هغه صدق او رښتیا والے دے، او دروغ په له دې نظره چې یو قبیح او بد څیز دے د خدای په ذات کښې نیشته.

یو څلویښتم اصل:

د خدای له فعلي صفتونو څخه یو د هغه حکمت دے او حکیم د هغه له نامو څخه ګڼل کیږي. دې ته په پام سره چې د خدای نومونه ډېر اتقان او کمال لري نو له هر ډول عبث پاک دي او هغه ته حکیم ویل کیږي.

دوه څلویښتم اصل:

خدای پاک، هم په دنیا کښې او هم په اخرت کښې، هیڅکله په ظاهرو سترګو نه لیدل کیږي، ځکه چې د هغه د لیدنې لازمه دا ده چې هغه جسم ولري، خو د ایمان د نور په وسیله د زړه په سترګو هغه لیدلے شي.

درې څلویښتم اصل:

د خبري صفتونو په تفسیر کښې (لکه "ید الله" ، "وجه الله"، "عین الله" او "استوا علی العرش") باید په ایتونو کښې جومودو قرینو ته وګورو او مقصد ترې بیان کړو، او داسې تفسیر ظاهري تفسیر دے نه باطني، او د ظاهر راخستل تصدیق دے نه تاویل.

څلورمه برخه

## الهي عدل

**ثلور ثلویښتم اصل:**

د خدای له جمالي صفتونو څخه یو عدل دے چې وحي اوعقل پر هغې ګواهي ورکوي، او خدای ذات د ظلم له اسبابو چې جهل او عجز او نیاز دي، پاک دے.

**پینځه ثلویښتم اصل:**

عقل او خرد، د کارونو او افعالو حسن او قبح پیژندلے شي، او که چرې دا پیژنګلوي له عقله واخستې شي، نو له شرعي نظره هم حسن او قبح نه شي ثابتید ے.

**شپږ ثلویښتم اصل:**

الهي عدل د ځان لپاره په تکوین (خلقت) او تشریع (قانون) کښې تجلیات لري، په تشریع کښې د عدل مظاهر ځینې دا دي: نیکو ته بلل او له بدیو منعې کول، د توان تر حده تکلیف ورکول، په سزا او جزا کښې عدالت.

**اووه ثلویښتم اصل:**

د انسان او جهان پيدايښت، بې هدفه او بې مقصده نه دے شوے. د خداى فعل له هر ډول عبثه او لغو پاک او منزه دے، اود خداى د فعل هدفمن شونه له دې سببه نه دي چې هغه نيازمن او محتاج وي.

## قضا او قدر

### اته څلويښتم اصل:

قضا او قدر له منلي شوي اسلامي عقيدو څخه ده. کوم کسان چې د دې مسلو د ستونزو د حل کونې فکري توان نه لري بايد په دې ميدان کښې داخل نه شي او په دې مسلې باندې اجمالي عقيده لرل د هغه لپاره کافي دي.

### نهه څلويښتم اصل:

"قدر" د څيزونو "د اندازه اخستلو" په معنې دے او "قضا" د هغې د حتمي شونې په معنى ده او دواړه په دوه ډوله علمي قضا او قدر او فعلي او عيني قضا او قدر تقسيميږي.

### پنځوسم اصل:

د خدای قضا او قدر د انسان ازادۍ سره څه منافات او ټکره نه لري، بلکه د خدای تقدیر داسې جوړ شوی دی چې د انسان فعل او کار په ډېرې ازادۍ او اختیار سره له هغه ترسره شي.

## انسان او اختیار

یو پنځوسم اصل:

د انسان اختیار او ازادي یو محسوس او غیر انکاري واقعیت دی. د هر یو انسان وجدان او همدارنګ عقل په دې خبره ګواهي ورکوي، او که داسې نه وي نو د خدای له لورې د پیغمبرانو رالیږل عبث کیږي.

دوه پنځوسم اصل:

انسان په خپلو کارونو کښې مجبور نه دی، او په عین حال کښې داسې هم نه دی چې پریښودی شوې وي. په نورو ټکو سره به دا ووایو: نه جبر شته او تفویض، بلکه خبره د دې دواړو تر مینځ ده.

درې پنځوسم اصل:

خدای پاک له ازله زمونږ له افعالو او اعمالو خبر و، او دا ازلي علم د انسان ازادۍ او اختيار سره څه ټکره او منافات نه لري.

د عقايدو کليات

پينځمه برخه

د پيغمبرانو د بعثت د لازموالي دليلونه

څلور پنځوسم اصل:

د خدای پاک حکيم شونه دا لازمه وي چې د تکامل د لارې وهلو لپاره انسانانو ته پيغمبران راوليږي او د خلقت عالي هدفونو ته د رسيدو لپاره يوازې په عقلي هدايتونو بسنه ونه کړي.

پينځه پنځوسم اصل:

قران، د پيغمبرانو د راليږلو غرض او مقصد د توحيد د مبانيو مزبوتول، د نفس د تهذيب او تزکيه، د کتاب تعليم او د خلکو په عدل چلند ګڼلے دے.

شپږ پنځوسم اصل:

ریښتوني پیغمبران، په درېیو طریقو له دروغجنو مدعیانو څخه پېژندل کېږي: معجزه، د تېر شوي پیغمبرانو تصدیق، هغه قرائن او شواهد چې د یوکس د دعوې په رښتیا والي ګواهي ورکوي.

اووه پنځوسم اصل:

د معجزې او د نبوت د دعوې په رښتیاوالي کښې یوه منطقي رابطه ده، او معجزه د دعوې په رښتیاوالي یو منطقي دلیل دے، نه اقناعي دلیل.

اته پنځوسم اصل:

کله چې یو خارق العاده کار د نبوت دعوې سره وي نو هغې ته "معجزه" ویلې شي او که چرې دا دعوی ورسره نه وي (که ترسره کونکے یې یو نیک کس وي) نو "کرامت" ورته ویل کیږي.

نهه پنځوسم اصل:

معجزه څلورو خاصیتونو سره له جادو او سحره جلا کیږي: د زده کړې وړ نه وي، د مقابلې دعوت وي پکښې، د مقابلې توان یې څوک نه لري، بیلا بیل خارق العاده کارونه وکړي نه یو ډول.

شپیتم اصل:

د پیغمبرانو غیبو سره رابطه د وحي په وسیله کیږي، نه د عقل او خرد او حس او یا ظاهري څیزونو په وسیله. د خدای د وحي حقیقت او واقعیت عادي مقیاسونو سره د پوهیدو او تللو وړ نه دي.

یو شپیتم اصل:

د مادي تفکراتو په خلاف، وحي نه د پیغمبرانو د تفکر پیدا کړے شوے څیز دے، او نه د هغه د روحي او رواني حالاتو تجلي او څرګندونه ده. د وحي اخرنې تفسیر (د محتوی له نظره) په اخر کښې د جاهلیت د وخت د مشرکانو هماغه خبرې ته ورګرځي چې ویل به یې: بې له "اضغاث احلام" بل څه نه دي.

د پیغمبرانو عصمت

دوه شپیتم اصل:

الهي پیغمبران، د وحي د اخستلو په مقام کښې او د هغې د حفاظت او رسولو په مقام کښې له هر ډول عمدي او سهوي غلطۍ پاک دي او د وحي د راخستلو له وخته تر د وحي د رسولو پورې د پربښتو د نظر او حفاظت لاندې دي.

دریم شپیتم اصل:

پیغمبران له هر ډول ګناه او ناروا کاره پاک دي، او خلک د هغوی د دعوت په ربنتیاوالي هاله باور کوي چې له ګناهونو پاک وي. له دې ورتیر، هغوی داسې هدایت شوي کسان دي چې د هغوي علمي او معنوي مقام سره ضلالت او ګمراهي د جمعه کیدو قابل نه دي.

څلور شپیتم اصل:

پیغمبران، له دې پرته چې له ګناهونو پاک دي، د قضاوت په مقام کښې، د دیني موضوعاتو په تشخیص کښې او د ژوند په عادي مسلو کښې هم له غلطۍ او اشتباه پاک دي او اصولاً د خلکو اعتماد او د بعثت مقصد هغه وخت ترلاسه کیږي چې پیغمبران پراخ عصمت ولري.

پینځه شپیتم اصل:

پیغمبران، په ذکر شویو مرتبو پرته کښې له عصمته، له داسې ناروغیو او بد عملیو چې خلک ترې نفرت وکړي او ورسره روحي پستي راشي هم پاک او منزه دي.

شپږ شپیتم اصل:

د قران له ظاهري ایتونو د پیغمبرانو په معصوم نه کیدو باندې هر ډول استنباط یو غلط او له وخته وړاندې (عجولانه) فیصله ده چې باید له هغې دې پرهیز وشي او له دې غلط استنباطه د مخنیوي لپاره دې هغه قرائن وکتلے شي چې په خپله په ایتونو کښې موجود دي او د هغې تفسیر دې وکړے شي.

اووه شپیتم اصل:

د پیغمبرانو عصمت له دې سببه دے چې هغوي د خدای په جلال او جمال باندې ډیر لوی معرفت لري، او د خدای د اطاعت له ښو نتیجو او د ګناه له بدو عواقبو هم په دنیا او هم په اخرت کښې ښه خبر دي.

اته شپیتم اصل:

د پیغمبرانو عصمت، د هغوي ازادۍ او اختیار سره څه ټکره او منافات نه لري، او د خدای له قدرته د هغوي کامله او دقیقه اګاهي او یا د بدو کارونو او د سرکشۍ له انجامه د هغوي پوره خبریدل، د تقوا او فجور په اختیارولو کښې د انسان ذاتي توان او قدرت نه ختموي.

نهه شپیتم اصل:

ټول پیغمبران معصوم دي، په عین حال کښې کیدے شي چې یو کس معصوم وي خو پیغمبر نه وي، لکه د عمران لور حضرت مریم علیها السلام چې قران د هغې یو پاک او غوره شوې شخصیت ښایي خو پیغمبره نه وه.

د عقاید کلیات

شپږمه برخه

خاص نبوت

اویایم اصل:

حضرت محمد بن عبدالله صلی الله علیه واله وسلم چې د نبیانو د لړۍ اخرنې پیغمبر و چې خپل نبوت یې د قران پاک په تل پاتې معجزې سره شورو کړ او تر دې چې دښمنانو ته یې بلنه ورکړه چې د قران په څیر یو سورت راوړي خو چا دا توان ونه لاره.

یو اویایم اصل:

د قران د نازلیدو په هماغه زمانه کښې، د قران د کلماتو ښکلا، د ترکیب تازه والي او د معنو ژورتیا د هغه وخت د بلاغت استاذان

تسلیم کړل او دې ته یې مجبور کړل چې د هغې په برترۍ اعتراف او اقرار وکړي. له دې وروسته هم د پوهانو دې کتاب ته سر ټیټول لا زیات شو.

دوه اویایم اصل:

قران، له ادبي معجزې پرته، له بیلا بیلو اړخونو معجزه ده: د قران راوړونکے یو امي او نالوستې کس دے. قران که څه هم په بیلا وختونو او حالاتو کښې لکه په جنګ، صلحه، سختۍ او پراختیا کښې تدریجاً نازل شو خو بیا هم د هغې په سبک کښې وړکي غوندې دوه والې نشته. په دې کتاب کښې د انسان فطرت سره سم حکمونه نازل شوي او ابدي قانونونه پکښې نازل شوي دي او ....

درې اویایم اصل:

قران د خدای پاک د ایتونو د تشریح سره سره، د پیدایښت د ځینې علمي رازونو هم پرده اوچته کړې ده چې په هغه وخت کښې له هغې بې د وحي له لارې نه شو خبریدے. همدارنګ دې کتاب په قطعي توګه د ځینو پیښتو په هکله له وخته وړاندې خبر ورکړے دے او هغه پیښې رامنځته شوي دي او همدا خبره هم د دې ګواهي ورکوي چې دا کتاب د غیبو عالم سره اړه لري.

ثلور اویایم اصل:

بیلا بیلې قرینې او شواهد د پیغمبر(ص) د پیغمبرۍ په دعوې باندې ګواهي کوي: د مکې د خلکو تر مینځ د هغه روښانه ژوند، د هغه وخت له ککړتیاو د هغه پاکي، د دعوت او بلنې پوخوالې، هغه وسیلې چې پیغمبر(ص) د خپل دین د پراختیا لپاره له هغې ګټه اخستې ده، د هغه کسانو شخصیت چې کومو پر دوي ایمان راوړ او اخر دا چې د انسانانو په تاریخ کښې د هغه د یو بې څاري تمدن جوړول د هغه د دعوت د بلنې د رښتیاوالي دلیلونه دي.

پینځه اویایم اصل:

د تیر شوي پیغمبر تصدیق، د پیغمبرانو د پیژندلو یوه طریقه ده. د پیغمبر(ص) د راتللو زیرے په تیرو اسماني کتابونو لکه تورات او انجیل (یوحنا ۱۴ او ۱۲ فصلونو کښې) راغلے دے.

شپږ اویایم اصل:

پیغمبر(ص) له قرانه پرته، نورې معجزې او کرامتونه هم لرل، لکه شق القمر، معراج، اهل کتابو سره په مباهلې کښې بریالیتوب، د غیبو خبرونه ورکول او نور....

د پیغمبر(ص) د نبوت بیلګې

اووه اویایم اصل:

د اسلام ایین یو عام اسلامي ایین دے، نه دا چې یوې سیمې یا یو نسل او قوم سره خاص وي. که د دې دین کتاب په عربۍ ژبه کښې نازل شوے دے نو د هغې سبب یوازې همدا دے چې د خدای سنت او طریقه دا ده چې پیغمبران د هغوي د قوم په ژبه رالیږي چې هغوي یې په خبرو پوه شي.

اته اویایم اصل:

پیغمبر(ص) اخرنې پیغمبر دے د هغه کتاب اخرنې کتاب او د هغه شریعت هم اخرنې شریعت دے او د ټولو شریعتونو ختموونکے دے. له هغه وروسته د نبوت سلسله بنده شوې ده او له هغه وروسته به نه پیغمبر راځي او نه به بل شریعت.

نهه اویایم اصل:

د اسلام دین د انسانانو د ټولو فطري غوښتو پوره کوونکے دے او ثابت او جاودان اصول لري. د نوي مسلو او مشکلاتو په حل لاره او ځواب کښې له ځینې څیزونو لکه عقل، په مهم باندې د اهم وړاندې

کول، ژوندې او مستمر اجتهاد او د احکام ثانویه په احکام اولیه باندې وړاندې کولو قاعدو ګټه اخلي.

اتیایم اصل:

د اسلام د شریعت له خصوصیاتو څینې، په عقایدو کښې اسانتیا او په برنامه ریزۍ کښې د هغې هر اړخیزوالے دے. چې دا خصوصیت په نورو دینونو کښې (په بیله توګه په هغه دین کښې تحریف شوے دے) وجود نه لري، د مثال په توګه: د توحید سورت د مسلمان کس د عقیدې بیانوونکے دے چې د نورو دینونو نامعقولو عقیدو لکه عسائیت سره د هغې په مقایسه او تطبیق اسلام یو زړه راکښونکے او د حقیقتونو بیانونکے دین دے.

یو اتیایم اصل:

د مسلمانانو اسماني کتاب له هر ډول تحریفه پاک پاتې دے، نه پر هغې څه زیات شوي او نه ترې کم شوي دي. د خدای پیغمبر(ص) ټولنې ته یو سل څوارلس سورتونه ورکړي وو چې په هماغه طریقه باقي پاتې دي او عقلي او نقلي دلیلونه د قران په تحریف نه شونے باندې دلالت کوي.

دوه اتیایم اصل:

د فريقينو په کتابونو کښې چې کوم داسې روايتونه راغلي دي چې د قران تحريف ترې ښکاريږي هغه څه علمي ارزښت نه لري. ځکه چې په دې کښې ځينې روايتونه يوازې تفسيري شکل لري او د هغه د اياتونو په هکله د پيغمبر وضاحتونه او تشريحات دي نه دا چې په اول کښې د قران برخه وه او بيا وروسته حذف شوي وي. ځينې نور داسې روايتونه چې د قران په تحريف باندې صراحت لري هغه د غير مؤثقو کسانو له خُلې راغلي دي او د سند له مخې او د متن له مخې هغه اعتبار نه لري چې د يقين لپاره کافي وي. همدارنګ کومو کسانو چې د حديثونو کتابونه راغونډ کړي دي نو دا حديثونه د هغوي د عقيدې بيانونکي او ګواه نه دي.

د عقايدو کليات

اوومه برخه

امامت او خلافت

درې اتيايم اصل:

کومه ډله چې د پيغمبر(ص) له رحلته وروسته داسلامي ټولنې مشري د حضرت علي(ع) او د هغه د معصومو بچيو حق ګڼي هغوي

ته شیعه ویل کیږي. او د صحابه و هغې ډلې ته هم په تاریخ کښې شیعه ویلے شوي دي چې د پیغمبر(ص) له خُلې یې د علی(ع) د خلافت اعلان اوریدلے او د هغه حضرت له رحلته وروسته په دې اصل باقي پاتې دي. د شیعو تاریخ بې له اسلامي تاریخه او سابقه یې بې له اسلامي سابقې بل څه نه ده.

څلور اتیایم اصل:

دا خبره هیڅکله معقوله نه ده چې یو کس د ابد لپاره یو شریعت راوړي خو د هغې د مشرۍ او رهبرۍ لپاره چې د دین د باقي پاتې کیدو ضمانت دے یوه طرحه جوړه نه کړي.

پینځه اتیایم اصل:

دریو خطرو ته په پام سره: ایران، روم او داخلي منافقان (چې د پیغمبر(ص) د رحلت په وخت کښې اسلام ته پیښې وې) د پیغمبر له خوا د ځای ناستي نه ټاکل د هرج او مرج او د امت د اختلاف سبب جوړیدهٔ او د جاهلیت د بیا راتللو لپاره یې لاره برابروله، په داسې حال کښې چې د خلیفه ټاکلو هر ډول جګړه او اختلاف ختماوه. له همدې سببه شیعه دا عقیده لري چې پیغمبر(ص) د امت د لالهانده کیدو د مخنیوي لپاره دخدای په حکم یو ځای ناستې ټاکلے دے.

شپږ اتیایم اصل:

د خدای حکیمانه مشیت داسې و چې پیغمبر(ص) له ځانه وروسته امام او رهبر وټاکي او هغه هم په بیلا بیلو ځایونو کښې د علی(ع) په ټاکلو سره په دې غوښته عمل وکړ.

اووه اویایم اصل:

د هجرت د کال په لسمه د ذی الحجې د میاشتې په اتلسمه نیټه، دا ایت "يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّهَ لاَ يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ" نازل شو او خدای پاک پیغمبر ته دا حکم وکړ چې په داسې ورځ د ټولنې راتلوونکے مشر وټاکي. او هغه هم د زرګونو کسانو په وړاندې یوه اوږده خطبه ولوسته او علی(ع) یې خپل ځای ناستې وټاکه او خلکو ته یې وښوده.

اته اتیایم اصل:

د غدیر حدیث یو متواتر اسلامي حدیث دے چې ۱۱۰ تنو اصحابو او ۸۹ تابعینو دا نقل کړے دے او ۳۵۰ اهل سنتو پوهانو هغه په خپلو مشهورو کتابونو کښې راوړے دے او اسلامي لیکوالانو د هغې په هکله په پراخه توګه کتابونه لیکلي دي.

نهه اتیایم اصل:

پیغمبر(ص) د ځای ناستي او خلیفه په ټاکلو سره د اسلام هغه ټول دښمنان چې د پیغمبر(ص) له رحلته وروسته د اسلام د ځراغ د مړیدو په تمه وو مایوس کړل او د هغوي دا مایوسي او نهیلي د پیغمبر(ص) د کارونو او ذمه وارو (بې له نبوته) یوه رهبر ته په سپارلو کښې وه.

نویم اصل:

د پیغمبر(ص) له رحلته وروسته، د خلیفه ټاکل د اصحابو په ذهن کښې د یو ضروري او مشروع اصل په توګه موجود و له همدې سببه دویم خلیفه د لومړي خلیفه په وسیله وټاکل شو او دریم خلیفه هم د شپږو کسانو د شورا په وسیله وټاکل شو چې دا شورا دویم خلیفه جوړه کړې وه، په دې توپیر سره چې شیعه وایي چې باید د خدای لخوا په نص سره خلیفه وټاکل شي نه دا چې د وړاندې خلیفه په وسیله چې په ټاکلو کښې خطا کولے شي.

یو نویم اصل:

د پیغمبر(ص) له رحلته وروسته د امام ذمه واری لاندې دي: د قران د مفاهیمو بیانول، د شرعې د حکمونو بیانول، له هر ډول انحرافه د

ټولنې ساتل، عقیدتي او دیني پوښتنو ته ځوابونه ورکول، د دښمنانو په وړاندې د حدونو او مرزونو ساتل، په ټولنه کښې عدالت جاري کول او د دې غوندې نور کارونه. همدې ته په پام د شیعو له نظره باید داسې کس د خدای د خاص عنایت او نظر لاندې وي او د غیبي تربیت تر سیوري لاندې دې حد ته رسیدلے وي.

دوه نویم اصل:

وړاندینیو خطرناکو ذمه واریو ته په پام سره، امام باید یو داسې کس وي چې د پیغمبر(ص) په خبره له هرې ګناه او خطا پاک او معصوم وي او د "تطهیر ایت" او د "ثقلینو حدیث" په ډېره ښه طریقه د اهلبیتو علیهم السلام په پاکۍ باندې ګواهي ورکوي.

درې نویم اصل:

د پیغمبر(ص) خلیفه ګان دولس کسان دي او د "اثنا عشر" ټکې د فریقینو په کتابونو کښې راغلے دے. او هر یو امام هم له ځانه وروسته امام ټاکلے دے چې لومړے یې علی(ع) او اخرنې یې حجت بن الحسن العسکری- عجل الله تعالی فرجه- دے.

څلور نویم اصل:

د رسالت کورنۍ سره مینه او دوستي یو قراني اصل او اسلامي ذمه واري ده، چې د دې کورنۍ علمي او عملي کمالاتو ته په پام سره د دې دوي د دوستانو دکمال سبب کیږي.

دولسم امام

غیبت او ظهور

پینځه نویم اصل:

د عدل د قائمولو لپاره په اخرنۍ زمانه کښې د پیغمبر(ص) له کورنۍ د یو کس ظهور، یوه منلې شوې اسلامي عقیده ده چې د فریقینو حدیثونه پر هغې ګواه دي.

شپږ نویم اصل:

د دې نړیوال مصلح خاصیتونه په روایتونو کښې راغلي دي، او د ځینو فرقو اختلاف په دې کښې نه چې هغه به راځي بلکه په دې کښې دے چې د هغه زوکړه شوې ده که نه. په دې هکله زمونږ د شیعو دا عقیده ده چې هغه د **۲۵۵** هجري کال د شعبان د میاشتې په پینځلسمه نیټه د امام حسن عسکری په کور کښې د بي بي

نرجس په غیږ کښې وزیږید او تر ننه پورې ژوندې دے او د پاڅون لپاره د خدای د حکم په انتظار دے.

اووه نویم اصل:

د خدای ولیان په دوه ډوله دي: "مرئی" (لیدلے شي) او "له نظره غیب" په قران پاک کښې په سوره کهف کښې (د موسی او خضر علیهما السلام په کیسه کښې) د دواړو ډلو ذکر شوے دے، او حضرت ولی عصر – عجل الله تعالی فرجه – د غیبت په دور کښې د خدای له غیبو اولیاوو څخه دے.

اته نویم اصل:

د امام (عجل الله تعالی فرجه) د غیبت په زمانه کښې د هغوي ځینې دندې او کارونه جامع الشرائط فقیهانو ته سپارلې شوي دي او د هغه حضرت له برکتونو د خلکو محرومیدل ځینې اسباب لري چې د هغه غیبت یې ضروري کړے دے چې یو ترې د خلکو د هغه د ظهور لپاره تیار نه شونه او صلاحیت نه لرنه دے.

نهه نویم اصل:

دې ته په پام چې ځینې تیر شوي پیغمبران په خپل ژوند کښې غیب وو نو پکار نه دي چې د حضرت ولی عصر- عجل الله تعالی فرجه –

غیبت د حیرانیا سبب شي. د هغه حضرت د غیبیدولو له رازونو څخه یو دا دے چې په هغه زمان کښې به ظهور وکړي چې د نړۍ خلک د هغه ظهور او کلي عدالت ته تیار وي. ځکه چې د خلکو له تیاریدو وړاندې د هغه حضرت ظهور د هغه حضرت د ماتې او شهادت سبب کیږي او د ظالمانو د بریالیتوب سبب کیږي.

سلم اصل:

د امام وجود د خدای پاک له لویو رحمتونو څخه یو رحمت دے او که خلک لکه څنګه چې پکار دي، هغه ومني نو له هغه به ډېره ګټه واخلي، په لومړۍ درجه کښې خلک په خپله سبب شوي دي چې له هغه محروم شي (البته له پردې شاته هم د هغه حضرت وجود داسې دے لکه نمر چې د وریزو شاته وي چې ګټه رسوي او ډېر برکتونه لري).

یو سل یو اصل:

د حضرت ولی عصر – عجل الله تعالی فرجه – زوکړه په **۲۵۵** هجري کال کښې وشوه او دې ته په پام سره دې وخت هغه یوولس سوه کاله عمر لري. د یو داسې اوږد ژوند قبلول د خدای د لوی حجت لپاره، د خدای پراخ او بې پایانه قدرت ته پام سره څه مشکل کار نه دے.

یو سل دوهم اصل:

د هغه حضرت د ظهور وخت چاته روښانه نه دے او د هغې وخت د قیامت په شان په ټولو پټ دے. خو په عین حال کښې په روایتونو کښې د هغه حضرت د ظهور ډېرې نښانې راغلې دي.

د عقایدو کلیات

اتمه برخه

له مرګه وروسته جهان

یو سل دریم اصل:

له مرګه وروسته په یو بل ژوند باندې اعتقاد، په ټولو شریعتونو کښې یو مشترک اصل دے او دین د قیامت له ورځې بغیر څه معنی او مفهوم نه لري. نو دې اهمیت ته پام سره د قران یوه لویه برخه د دې اصل په هکله نازله شوې ده.

یو سل څلورم اصل:

خدای پاک حق مطلق دے او د هغه کار هم باید د هغه په شان حق مطلق وي. دې خبرې ته پام سره او دا چې د انسان پیدایښت بې جاودانه ژوند عبث او لغو کیږي، د قیامت او معاد لازم والې روښانیږي. او دغه وخت د خدای عدل د بدو کسانو د سزا او د ښو کسانو جزا کښې د یو داسې ورځې راتلل لازم ګڼي.

یو سل پینځم اصل:

قران د معاد په هکله موجودو پوښتنو ته ځواب ورکوي، او په دې دلیلونه کښې کله د خدای پراخ قدرت د دلیل په توګه راوړي او لومړنۍ پیدایښت د قیامت په امکان باندې او انسان ته په دوباره ژوند ورکولو باندې دلیل راوړي، او کله کله په پسرلي کښې د ځمکې بیا ژوندي کیدل د انسانانو بیا ژوندي کیدو سره تشبیه کوي او همدارنګ .....

یو سل شپږم اصل:

د قیامت په ورځ د انسانانو معاد (بیا راتګ) هم جسماني دے او هم روحاني. په دې معنی چې انسان په قیامت کښې هم داسې ثوابونه او عذابونه لري چې له بدنه بغیر امکان لري او هم داسې جزا او سزا لري چې له روحه بغیر ورته ممکن نه دي.

يو سل اووم اصل:

مرګ د انسان د ژوند خاتمه نه ده، بلکه مرګ سره هغه يوازې له دې جهانه بل جهان ته بدليږي، له دې پرته د دنيا او اخرت تر مينځ يوه بله سراى چې "برزخ" نوميږي هم شته چې په هغې کښې خپل ژوند، نعمتونه او سزاګانې شته دي.

يو سل اتم اصل:

برزخي ژوند هاله شروع کيږي چې د انسان له بدنه روح قبض شي او له دفن کولو وروسته د پرښتو په وسيله له هغه پوښتنې شورو شي او د مؤمنانو لپاره د برزخ جهان د رحمت مظهر دے او کافرانو او منافقانو لپاره د عذاب مظهر دے.

يو سل نهم اصل:

ځينې ډلې، د الهى دينونو منلې شوې قيامت نه مني او د هغې په ځاى کچه عقيدې لکه "تناسخ" وغيره مني. چې تناسخ زمونږ د عالمانو په نظر کښې يو باطل او محال امر دے او په هغې باندې عقيده په قيامت باندې د عقيدې خنډ ده.

يو سل لسم اصل:

په تيرو امتونو کښې مسخ، د "تناسخ" په شکل نه و ، بلکه انسانان يوازې په ظاهري شکل د بيزوګانو (شادوګانو) په شان شو خو د هغوي انساني شخصيت په خپل ځای محفوظ پاتې کيده، او مسخ تناسخ سره ډېره توپير لري.

يو سل يوولسم اصل:

"اشراط الساعة" د قيامت د رانزدې کيدو علامتونه دي. دا علامتونه په لنډه توګه دا دي: د اخرني پيغمبر راتلل، د ياجوج او ماجوج د بند پاتيدل، په پنډ لوګي سره اسمان پټيدل، د حضرت عيسی نازليدل، او له ځمکې د يو خاص قسم ځناور راوتل.

يو سل دولسم اصل:

له قيامته وړاندې به دوه ځله "نفخ سور" شپيلۍ وهل کيږي چې يوې سره ټول انسانان مړه کيږي او بلې سره به ژوندي کيږي.

يو سل ديارلسم اصل:

د قيامت په ورځ به په يوه خاصه طريقه، د خلکو د عملونو حساب کتاب کيږي. او هر يو کس ته به د هغه عمل نامه په لاس کښې ورکول کيږي، ډېره ګواهان به د هغه په دنيا کښې په ښو او بدو کارونو ګواهي ورکوي.

يو سل څوارلسم اصل:

د قیامت په ورځ د امت د ګنهګارو کسانو شفاعت د خدای په اذن سره د قران یو منلې شوې اصل دے او په دې هکله ډېر ایتونه او روایتونه راغلي دي.

یو سل پینځلسم اصل:

له هغې کسانو د شفاعت غوښتل چې خدای ورته د شفاعت اذن کړے دے څه اشکال نه لري. ځکه چې د شفاعت غوښتنه هماغه دعا غوښتل دي او له مؤمنه دعا غوښتل، یو داسې عمل دے چې قران او حدیث هغه جائزه ګڼلې ده بلکه د هغې په لور یې بلنه ورکړې ده.

یو سل شپاړسم اصل:

د ګنهګارو لپاره بې له د مرګ له وخته د توبې دروازې همیشه خلاصه ده او په توبې باندې عقیده او همدارنګ په شفاعت باندې عقیده، که چرې د دې فلسفه، اداب او شرطونه وکتل شي نو په ګناه باندې د تشویق سبب نه کیږي، بلکه د توبې د دروازې خلاصیدل د هغه کسانو د تیاریدو لپاره دي چې غواړي خپل باقي عمر پاک تیر کړي او د خدای رحمت دا غواړي چې هغوي نهیلۍ سره مخامخ شي او د خدای له رحمته مایوس شي او په ابدي ضلالت کښې وغورځیږي.

یو سل اوولسم اصل:

انسان په یو بلې سرای کښې، خپلو نیکو او بدو عملونو جزار او سزا ته رسي او د هغه بد عملونه د هغه نیک عملونه نه باطلوي، خو په ځینې چارو کښې لکه ارتداد وغیره چې قران د هغې په هکله ګزارش ورکړے دے، او دا هماغه د حبط عمل مسله ده.

یو سل اتلسم اصل:

په دوزخ کښې خلود او تل پاتې والې، کافرانو سره خاص دي او ګنهګار مؤمنان (که چرې په دنیا او عالم برزخ کښې عذابونه او د هغوي شفاعت د هغوي عمل نامه پوره پاکه نه کړي) نو په دوزخ کښې له لږ عذابه وروسته، بخښل کیږي او له اوره به نجات بیامومي.

یو سل نولسم اصل:

د قران له ایتونو او حدیثونو دا ثابتیږي چې دوزخ او جنت اوس هم موجود دي که څه هم د هغوي ځای مونږ ته روښانه نه دے.

نهمه برخه

ایمان، کفر، بدعت، تقیه او توسل وغیره...

یو سل شلم اصل:

د ایمان اصلي ځای د انسان زړه دے او د مسلمان لپاره په یو خدای، د قیامت په ورځ او د پیغمبر په رسالت باندې اجمالي ایمان کافي دي. د دې په مقابله کښې کفر دا دے چې انسان لږ تر لږه دا څیزونه هم ونه لري.

یو سل یویشتم اصل:

د زړه ایمان هاله اثر لري چې یو کس د هغې څرګندونه وکړي او یا لږ تر لږه د هغې په خلاف تظاهر ونه کړي. او د ژغوریدو لپاره یوازې د زړه ایمان کافي نه دے بلکه باید د خدای پاک په حکمونو باندې عمل هم ورسره وي.

یو سل دوه ویشتم اصل:

هر هغه مسلمان چې دا درې اصلونه (خدای، رسول، قیامت) نو د هغه کافر ګڼل حرام دي، که څه هم په نورو مسلو کښې مخالف وي.

یو سل درې ویشتم اصل:

بدعت په لغت کښې نوي کار ته وایي او په اصطلاح کښې هغه دے چې انسان په شریعت کښې داسې څیز داخل کښې چې په هغې کښې نه وي. د یو کار دین ته نسبت ورکول هاله د "بدعت" لاندې راځي چې د هغې په جواز او مشروعیت باندې په خاص یا عامه توګه په دیني کتابونو کښې اشاره نه وي شوې.

یو سل څلور ویشتم اصل:

په داسې ځايونو کښې چې د عقيدې څرګندونه، جاني ، مالي خطر لري يا د انسان د ناموس بې عزتي ورسره کيږي نو د عقل او د قران د څرګند حکم په مطابق بايد انسان خپله عقيده څرګنده نه کړي، بلکه ضروري ده چې د هغې په خلاف څرګندونه وکړي. دې خبرې ته د شيعو په عقيده کښې "تقيه" ويل کيږي. بايد پام وکړو چې تقيه د نفاق په مقابله کښې ده، تقيه د ايمان پټول او د کفر څرګندول دي خو نفاق د ايمان څرګندول او د کفر پټول دي.

يو سل پينځه ويشتم اصل:

په ځينې حالاتو کښې تقيه واجبه ده، خو په داسې ځايونو کښې چې تقيه د اصل دين د ختميدو سبب کيږي، تقيه حرامه ده. همدا سبب دے چې تر اوسه پورې په شيعه و کښې د تقيه په بهانه يا عنوان سره د خپلې عقيدې پر خلاف کتاب نه دے ليکل شوې، بلکه د دې مذهب د داسې پوهانو شمېر له سلګونو بلکه زرګونو زيات دے چې د شيعه مکتب د بچولو لپاره يې ځانونه قربان کړي دي.

يو سل شپږ ويشتم اصل:

د انسان ژوند (بلکه د طبيعت مجرى په اصل کښې دا ده چې) له اسبابو څخه په مرسته قايم دے او په دې مسله کښې په طبيعي او غيبي اسبابو کښې څه فرق نشته. خو يوازې دا خبره ضروري ده چې مؤحد انسان بايد اسبابو ته د "وسيلې" په عنوان سره وګوري او د هغوي لپاره د "تاثير کښې د استقلال" قايل نه شي.

يو سل اووه ويشتم اصل:

د خدای پاک نامو سره او همدارنګ د صالحانو دعا سره توسل، له غيبي سببونو او ماوراء طبيعت څخه يو دے چې په قران کښې په روښانه توګه هغه ياد شوے دے.

يوسل اته ويشتم اصل:

د خدای قطعي تقديرونه د بدليدو وړ نه دي، خو مشروط او معلّق تقديرونه د بدليدو وړ دي. چې دې خبر ته "بداء" ويل کيږي چې شيعه پر هغې عقيده لري او د هغه مبنا او مفهوم بې په ټوله هستۍ کښې د خدای د قدرت قبولو بل څه نه دے او د انسان د نيک او بد عمل ـ د خدای په تقدير سره – د هغه په تقدير کښې اثر نه لري.

يو سل نهه ويشتم اصل:

لکه څنګه چې په تيرو امتونو کښې، د خدای په اراده يوه ډله دې جهان ته راستنه شوه همدارنګ به په اخره زمانه کښې هم يوه ډله دې دنيا ته راستنيږي، او دې ته د شيعو په عقيده کښې "رجعت" ويل کيږي چې د هغې خصوصيات د عقايدو په کتابونو کښې بيان شوي دي.

يو سل ديرشم اصل:

د پيغمبر(ص) اصحاب که هغه په بدر، اُحد، احزاب او حُنين کښې شهيدان شوي دي او که هغوي د پيغمبر(ص) له رحلته وروسته د اسلام په

مخپرتګ کښې کوششونه کړي دي د ټولو شیعه احترام او درناوې کوي. خو په عین حال کښې باید دې خبرې ته دې پام وشي چې یوازې پیغمبر(ص) سره د یو کس کښیناستل او د هغه لیدل، د دې سبب نه کیږي چې یو انسان دې د تل لپاره له ګناهونو او خطا پاک شي او اصحاب او تابعین په دې خبره کښې یوشان دي. دې ته په پام سره له اصحابو د روایت په نقلولو کښې باید د هغوي د ژوند کارنامه وکتل شي او په دقیقه توګه وڅیړل شي او د هغوي د خبرو د صحیح کیدو او غلط کیدو اندازه ولګولی شي د دې لپاره چې د دین پاک تعلیمات او پاکه سرچینه د ځینې کسانو د هوا او هوس او ځان غوښتو په سبب ککړه نه شي.

یو سل یو دیرشم اصل:

پیغمبر(ص) او د هغه کورنۍ سره مینه کول د اسلام له اصولو څخه دي چې قران او سنت په هغې باندې ټینګار کوي و د پیغمبر(ص) درناوې او د هغه اهلبیتو درناوې (د هغوي په زوکړې خوشحالي او په شهادت یې خفګان" په ټول کال کښې د دې محبت څرګندونه ده او دې ته پام سره چې په قران کښې راغلي دي نو دا بدعت نه دے.

یو سل دوه دیرشم اصل:

د شهیدانو لپاره غم او ماتم کول د حضرت یعقوب نبي او په جنګ احد کښې د پیغمبر(ص) پیروي ده. له دې ورتیر د هغوي لپاره په ځینو خاصو ورځو کښې مجلس کول د هغوي د مکتب د حفاظت سبب کیږي.

یو سل درېیم اصل:

د جهان هوښیاران د خپلو نیکیانو او مشرانو اثار د یو کلتوري میراث په توګه ساتي. او د پیغمبرانو د کورونو ترفیع باندې قران تاکید کوي او د اصحاب کهف په قبرونو باندې مسجد جوړول او د هغوي په خوا کښې بنا جوړول په دې خبرې باندې قران ګواهي کوي او دا ښایي د شهیدانو او صالحانو د قبرونو په خوا کښې جماتونه جوړ جایز دي.

یو سل څلور دیرشم اصل:

د پیغمبرانو، ولیانو او مؤمنانو زیارت کول له اسلامي اصولو څخه دي چې پیغمبر(ص) د هغې په هکله حکم کړے دے او د هغې یې ښه اثار ښودلي دي.

یو سل پینځه دیرشم اصل:

غلو، له حده د تېریدو په معنی ده او کوم کسان چې د پیغمبرانو او امامانو په مقام کښې له حده تجاوز کوي هغوي غالیان دي او له اسلامي ټولنې مطرود (شړلي شوي) دي.

لسمه برخه

حدیث، اجتهاد او فقه

یو سل شپږ دیرشم اصل:

هغه حدیثونه چې ثقه او عادلو راویانو له پیغمبر(ص) نقل کړي دي ټول شیعه عالمان یې قبلوي او د شیعو د فقهې او اجتهاد بنیاد او بنسټ د خدای په کتاب، او د پیغمبر(ص) په صحیح سنت او اجماع او عقل باندې ولاړ دے.

یو سل اووه دیرشم اصل:

هغه حدیثونه او روایتونه چې د دولسو امامانو په لاس مونږ ته رارسیدلي دي هغه نیغ په نیغه او په لږې فاصلې سره د خدای له وحي سرچینه اخلي. ځکه چې پاکو امامانو یا دا روایتونه یا بې له څه واسطې له پیغمبر(ص) راخستي دي یا یې دخپلو پلرونو په واسطه له پیغمبره(ص) نقل کړي دي یا دا چې دغه روایتونه د علی(ع) له کتابه نقلوي او یا دا چې - د مُحَدّث شونې په حکم سره – پر هغوي القاء شوي دي.

یو سل اته دیرشم اصل:

د خدای د رسول او اهلبیتو(ع) حدیثونه د شیعو عالمانو په لاس په مشهورو کتابونو کنبې راجمع شوي دي او څلور کتابونه (کافي، من لا یحضره الفقیه، تهذیب او استبصار) د شیعو له مهمو مصدرونو څخه دي.

یو سل نهه دیرشم اصل:

د شیعو په فقهي کښې له لومړۍ ورځې د اجتهاد دروازه خلاصه وه او هیڅ کله نه ده بنده شوې. همدارنګ د هغوي اجتهاد مطلق اجتهاد دے او نه د یو مشخص مذهب په چارچوب او چوکاټ کښې. او د شیعو د اجتهاد مبنا او بنسټ هم لکه څنګه چې مو ویل: کتاب، سنت، اجماع او عقل دے.

یو سل څلویښتم اصل:

د صحابي قول په داسې حال کښې چې د پیغمبر(ص) سنت نقل کړي حجت دے خو هر کله چې له قران او حدیثه خپله پوهه او اخستې مطلب (برداشت) نقل کړي نو هغه د بل مجتهد لپاره حجت نه دے.

یو سل یو څلویښتم اصل:

په یو مسلمان واجبه ده چې په خپلو عقایدو او اصول دین باندې یقین حاصل کړي خو په فروع دین کښې د مجتهد په فتوی عمل کولی شي.

ځینې اختلافي فقهي حکمونه

یو سل دوه څلویښتم اصل:

شیعه په وضو کښې خپل لاسونه لپاسه نه تر د ګوتو سرونو پورې وینځي، نه اپوټه، همدارنګ په وضو کښې په پښو مسحه کوي او مینځي یې نه.

او په دې عملونو کښې د هغوي مدرک او دليل د قران ايتونه او نبوي سنت د ے.

يو سل درې څلويښتم اصل:

شيعه دا عقيده لري چې په لمانځه کښې سجده بايد په طبيعي ځمکه وکړې او يا په هغه څيز چې له ځمکې زرغونيږي. د تاريخ او سنت په ګواهۍ سره د پيغمبر(ص) په ژوند کښې هم همدا طريقه وه او بيا وروسته دا طريقه له مينځه لاړه او په فرش او جامو باندې سجده شورو شوه.

يو سل څلور څلويښتم اصل:

د ماسپيښين او ماځيګر په لمنځونو کښې او همدارنګ د ماښام او ماسخوتن په لمنځونو کښې جدايي کول سنت دي، او په عين حال کښې دواړه لمنځونه په يو ځای هم کولې شې. لکه څنګه چې ټول مسلمانانو په عرفه او مزدلفه کښې هغه په يوځای کوي او پيغمبر(ص) څو څو ځله بې له کوم عذره دواړه لمنځونه په يوځای جمع کړي دي د دې لپاره چې امت ته يې اساني وي.

يو سل پينځه څلويښتم اصل:

موقت وادۀ، يو ډول مشروع وادۀ د ے. قران د مؤقت وادۀ په مشروعيت باندې ګواهي ورکوي او پيغمبر(ص) او اصحابو هم په دې اصل باندې عمل کړ ے د ے او دا حکم هيڅ کله نسخ نه د ے شو ے.

يو سل شپږ ثلو يښتم اصل:

په لمانځه لاسونه په يو بل کيښودل صحيح نه دي او لاس تړلې لمونځ کول (تکتف) بدعت دے. د يو صحابي ابو حميد ساعدي په روايت کښې چې د پيغمبر(ص) د لمانځه طريقه په کښې په تفصيل سره راغلې ده لاس کيښودل ترې نه ثرګنديږي او دا کار مونږ ته دا ښيي چې د پيغمبر(ص) په زمانه کښې دا کار نه و او تکتف هغه بدعت دے چې د پيغمبر(ص) له وخته وروسته شورو شوے دے.

يو سل اووه ثلو يښتم اصل:

د روژې په مياشت کښې د شپې نافله لمونځونه (تراويح) مستحبې دي خو په جمعې سره د هغې کول "بدعت" دے او په خپلې راى سره اجتهاد دې عمل ته مشروعيت نه ورکوي.

يو سل اته ثلو يښتم اصل:

په هر يو مسلمان واجبه ده چې د انفال سورت د يو ثلويښتم ايت په حکم سره دخپل مال پينځمه برخه په خاصو موردونو کښې چې په قران او سنت کښې راغلي دي ولګوي.

يو سل نهه ثلو يښتم اصل:

اسلامي تمدن د ټولو مسلمانانو د بې ځنډه هڅې او کار نتيجه ده او شيعه د اسلام تمدن په جوړولو کښې ډېره لويه برخه لري.

يو سل پنځوسم اصل:

د اسلام په ځينو فرقو کښې په ځينې فرعي مسلو کښې که څه فرق وي نو دا د دې سبب نه کيږي چې هغوي د دښمنانو په وړاندې متحد او يو نه شي او علمي او تحقيقاتي ناستو او سمينارونو سره بايد دا اختلافات له منځه يوړې شي.

الحمد لله رب العالمين

دين ته د اوسمهاله انسان ګروهنه

او

د عقايدو د منشور کتاب د ليکلو ضرورت

اوسنی وخت د  صنعت او ټيکنالوجی ‌زمانه ګڼل کيږي ځکه چې انسانانو په دې اخرنی ‌پيړی ‌کښې ډېر زيات پرمختګ کړے دے او دا کار د ستاينې وړ دے خو د دې کارونو تر څنګ کلتور هم يو څيز دے چې هماغه دين او ديني مفهومونو ته پاملرنه ده.

دين ته ګروهيدل، د انسانانو له ډېرو زړو ګروهنو څخه دے چې تاريخ هغه ياد کړے او يادوي يې، او د تاريخ په ګواهی ‌او پخو دليلونه سره دا خبره ثابته ده چې يوه زمانه هم له مذهبي احساسه خالي نه وه، که څه هم له رُنسانسه وروسته او په علمي طريقو کښې په بدلونه پسې او د انسان په مادي طبيعت باندې له سلطې وروسته د ځينې سياسي او کلتوري عواملو په سبب د دين په لور پاملرنه کمه شوه او په لويديځې ټولنې کښې له دين ته بې پامي زياته شوه. بيا ورو ورو ختيځو هېوادونو ته هم دا ناروغي راورسيده او ځينې ډلې يې متأثرې کړې، او دا څپه تر دې مخکښې لاړه چې دا تصور

وشو چې نوې علم د انسانانو ټول ضرورتونه پوره کولے شي او هغه غوښتنې چې دین به پوره کولې، علم یې پوره کولے شي.

خو د ځینې ورانوونکو عواملو څرګندیدو دغه تصور غلط ثابت کړ او دا یې ثابته کړه چې انسانان هیڅکله له دین او د هغې له لار ښوونې بې نیازه نه دي او هیڅ یو څیز د مذهب ځای نه شي نیولے. له دې عواملو څخه درې عاملو ته اشاره کوو:

**۴.** پ**ه شلمې پیړۍ کښې د نړیوالو جنګونو شورو کیدل:** لومړۍنړیوال او دویم جنګ چې په لسګونو ملیونه انسان یې قرباني کړل، د هغه علم په مشرۍ او لارښود کښې وشول چې له دینه جدا او پرې شوے و، او هغه علم چې دا ګمان کیدۀ چې دا به د انسانانو ټول ارمانونه پوره کړي، ناڅاپه یې انسان په داسې برخلیک اخته کړ.

**۵.** **د اخلاقي فساد د پراخیدو په سبب د کورنۍ ورانیدل:** د لویدیځې نړۍ په لویه برخه کښې، د کورنۍ مفهوم له منځه تللے دے او کورنۍ په یو مؤقت او ناپیدار څیز بدله شوې ده او نوې سائنس او علم په دې ړنګولو کښې بې اثره نه و، البته مطلب مو هغه علم دے چې صحیح رهبري یې نه وي شوے او له دینه جدا وي. یو ځل بیا ټینګار کوو چې د دې مطلب دا نه دے چې نوې علم یو نقصاني څیز دے، بلکه که علم او ټیکنیک له دیني او معنوي

لارښوونېږي برخې وي نو د دومره زيانونو او نيمګړتياوو سبب کيږي.

۲. د ځينې علمي فرضيو بې اعتباري او ماته: پر وړاندينيو دوو عواملو ورزيات چې په نوي علم باندې يې په ټولنيزو ميدانونو کښې د انسانانو ډېر باور او زړه تړون کم کړ، د ځينې علمي فرضيو شکست او بې اعتباري هم د دې سبب شوه چې په نړۍ پيژندولو کښې د انسانانو چې په علم باندې کوم ايمان او باور و هغه له لاسه ورکړي او په بله ژبه، په کوم خوږ خوب چې په نولسمه پيړۍ کښې د يورپ خلک ويده شوي وو، راويښ شي.

نوموړي عوامل او دې ته ورته لاملونه سبب شول چې انسان يو ځل بيا خپل انساني فطرت ته راستون شي او دين او د هغې معارفو ته مخ کړي. نو په حقيقت کښې د يو وخت له جدايۍ وروسته چې انسان ځان د دين له ځانګړتياووبې برخې کړی و، د يو ترېي انسان په شان د دين د پاکې چينې په تکل کښې شو.

دا موضوع دومره روښانه ده چې دليل او ګواهۍ ته څه ضرورت نه لري او هغه کسان چې د نړۍ له پيښنو خبر دي په ډېره ښه طريقه له دې خبر دي. دا نوې ګروهنه تر دې حده ده چې دين ته يو ځل بيا په علمي مرکزونو کښې په يو لوړه سطحه پاملرنه وشي، او متفکران او استاذان د هغې په هکله خبرې وکړي، او داسې اونۍ او مياشت

نه تیریږي چې د دین او دین پیژندنې په هکله په لسګونو کتابونه او مقالې ونه لیکلې شي.

د یو لیکوال په قول: "مذهب او معنویت ته راستنیدل، یو داسې خط دے چې د لویدیځ د ټولن پیژندنې بنیادونو ته خطره جوړه شوې ده. نو لکه څنګه چې هغوي د مسلمانانو اسلام ته له ستنیدو ویره لري، د عسایانو عسائیت ته له ستنیدو هم ویره او وحشت لري". په حقیقت کښې له هر یو معنوي یرغل، او په غربي ټولنه کښې او تر دې چې په فردي ژوند کښې د دین او معنویت له هر حاکمیته ویریږي.

په لویدیځو تحلیلګرانو کښې یو کس د مسلمانانو او غیر مسلمو کسانو په ټولنه کښې ایمان او مذهب ته د بیاستنیدو نمونې بیانوي او د په لویدیځه ټولنه کښې تندلارو عیسایانو ته اشاره کوي چې په دې اخرني کلونو کښې یې ډېره وده موندلې ده. په دې اخرني کلونو کښې په بیلا بیلو شکلونو مذهب ته ګروهنه ډېره زیاته شوې ده تر دې حده چې د ډېرو هیوادونو لپاره خطره محسوسیږي.[1]

د دغه شناندي په خیال، مونږ دا څیز نیک بختي ګڼو او له دې خوشحال یو چې انسان یو ځل بیا د دین له مینې ډک غیږ ته راستنیږي. خو د دې زیري تر څنګ، یوه اندیښمنوونکې خبره شته

---

[1]. Henri Tinca په پنې هیني ویژه نامې کښې، کلیزه، لوموند ورځپاڼه، ۱۵۲مخ.

او هغه دا چې که چرې دا تنده په صحیح طریقې لیرې نه کړې شي، او خدای دې نه وکړي چې کچه او غلط تفکرات د دین په نامهخلکو ته ورکړے شي نو اوسنے انسان به خپل ورک شوې بیانه مومي، او یو ځل به بیا له دینه مخ واړوي. نو دې ته په پام سره په زړه سواندو او دین پوهه او دردمنو کسانو ضروري ده چې د دې فطرت غږ ته د صحیح ځواب ورکولو لپاره د دین صحیح مفهوم انسانانوته وړاندې کړي او دا روان الهي فیض په روڼه طریقه د انسانانوته ورکړي.

په داسې حالاتو کښې چې دین ګروهنه د یو نړیوال څیز په شکل څرګنده شوې ده او له دینه مخ تاوهونکیو کسانو یو ځل بیا دین ته مخه کړې ده، نو مسلماً ځینې ډلې به د شخصي غرضونو لپاره دا هڅه کوي چې له مذهبي ګروهنې خلک واړوي او دین لټوونکیو ته د اصلي دین په ځای یو زهرجن خوراک ورکړي، چې په دې طریقه به هغوي د دیني تندې ماتولو سره سره خپلو غلطو مقصدونو ته هم ورسي.

مونږ چې د اسلام دین اخرنې او بشپړ اسماني شریعت ګڼو او دا عقیده لرو چې دا دین د قیامت تر ورځې پورې د انسان د فردي او ټولنیز ژوند ټولې اړتیاوې پوره کوي نو د هغې د عالي مفهومونو د جاري کولو لپاره له بیله بیلو اسبابو ګټه واخلو او له دې بې ساري فرصته د دین د صحیح تعلیماتو د رسولو لپاره ښه ګټه واخلو.

له بلې خوا مونږ باوري یو چې د اهلبیتو مکتب هماغه حقیقي او اصیل مکتب دے چې د قران او د پیغمبر(ص) د اهلبیتو(ع) په لاس مونږ ته رسیدلے دے، او په حقیقت کښې د اهلبیتو طریقه یوه داسې نیغه لار ده چې بې له کومو ککړو لاسونو مونږ د حقیقت سرچینې ته رسوي. د دې مکتب عالي اصلونه او په تاریخ کښې د هغې د رسالت کورنۍ سره انتساب یو داسې جاذبیت لرلے دے چې د حقیقت لټونکي ځان ته راکاږي او سبب کیږي چې هغوي د دې مذهب په دفاع کښې ښه په مینه له خپل سره تیر شي.

د حقیقت لټوونکي چې غواړي دیني حقیقتونه د دې دین له اخرني اسماني څښتنه ، پیغمبر مبارک(ع) او د هغه له پاکو اهلبیتو علیهم السلام له خُلې زده کړي، نو دې لیکلي شوي کتاب ته په مراجعې سره به هغه د لارې لپاره یو روښانه څراغ بیامومي، هو! هغوي کولې شي چې د دې مطمئن کوونکي کتاب په لوستلو سره د اهلبیتو مکتب په لاس راوړوي او د لا زیات خبریدو لپاره چې په دې کښې د کومو کتابونو ذکر شوے دے هغې ته مراجعه وکړي.

دا کتاب نړیوالو ته اعلان کوي چې د عقایدو اصول او د اهلبیتو دیني تعلیمات چې عقیده او عمل دواړو ته شاملیږي، همدا دي چې په دې منشور کښې راغلي دي او هر یو هغه مطلب چې مونږ ته یې نسبت راکړے شوے دے او په دې کتاب کښې لیکلي شوي اصولو

او مفاهيمو سره سمون نه لري نو هغه يوازې يو تور دے او هيڅ ارزښت او اعتبار نه لري.

دلته خبره لنډه وو او د خدای په فضل، په ځينو اصولو سره د اهلبتيو(ع) په مکتب کښې د اسلام اصول بيانوو.

د اسلامي عقايدو د اصولو د بيان لپاره د انسان او نړۍ په هکله د اسلام د نظر او د پيژندولو او معرفت د لارو په هکله د يو لړ کلياتو بيان ته ضرورت لري. د مکتب د دغې برخې بيان د عالم امکان په هکله د هغې د نظر ښکاره کوونکے دے مونږ دلته د کلام له اوږد والي د ډډه کولو لپاره لنډې خبرې کوو او د هر يو اصول د تفصيل لپاره د کلامي کتابونو حواله ورکوو.

دلته ضروري ګڼو کښې د حجت الاسلام والمسلمين ښاغلې رباني ګلپايګاني د کوششونو او هڅو ډېره مننه وکړم چې د دې کتاب په ليکلو کښې يې له ليکوال سره مرسته وکړه، شَکَرَ الله مُساعيه الجَمِيله.

جعفر سبحاني

۲۳/۱۰/۷۲ چې د ۱۴۱۸ هجري کال

د روژې د مياشتې ۱۴ نيتې سره سمون لري.

# لومړۍ برخه

## د اسلامي عقيدو کليات

## لومړۍ اصل:

اسلام د نړۍ او دینی حقیقتونو د پیژندلو لپاره له دریو وسیلو ګټه اخلی او هر یو په خپلو خاصو حدودو کښې معتبر ګڼي هغه درې وسیلې دا دي:

۱. حس، چې ترټولو مهم یې د اوریدلو او لیدلو حس دے.
۲. عقل او پوهه چې په یو محدود حد کښې د خاصو اصولو لاندې په یقین سره حقیقت کشف کوي.
۳. وحي، چې د غیبو نړۍ سره د لوړو او غوره شویو انسانانو د ارتباط وسیله ده. لومړنۍ دوه لارې د ټولو لپاره دي او ټول عام خلک ترې په جهان پیژندلو کښې کار اخستے شي له څرنګه چې په شریعت په پوهیدلو کښې هم اغیزمنې دي. حال دا چې دریمه لار د هغه خاصو کسانو لپاره ده چې خدای ورباندې خپله پیرزوینه کړې وي چې تر ټولو څرګنده بیلګه یې پیغمبران دي.

د حس یا محسوسولو له وسیلو یوازې په محسوساتو کښې ګټه اخستې شی لکه څنګه چې له عقله هم په هغو محدودو مواردو کښې کار اخستې شو چې پکښې یې شرطونه پوره وي حال دا چې د وحي ساحه ډیره لویه او پراخه ده د عقایدو او احکامو په شمول په مختلفو زمینو کښې لاره پرانستونکے ده. قرآن پاک د دغو وسیلو په هکله په ډیرو آیتونو کښې خبرې کړې دي چې دوه بیلګې یې بیانوو:

د حس او عقل په هکله فرمايي:
وَاللّهُ أَخْرَجَكُم مِّن بُطُونِ أُمَّهَاتِكُمْ لاَ تَعْلَمُونَ شَيْئًا وَجَعَلَ لَكُمُ الْسَّمْعَ وَالأَبْصَارَ وَالأَفْئِدَةَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ (نحل/۷۸). خدای تاسو په داسې حال کښې د مور له خېټو راوويستئ چې په څه نه پوهيدئ، او تاسو ته يې غوګونه، سترګې او زړه درکړ ښايي شکروباسئ.
((أفئدة)) په عربۍ کښې د فؤاد جمع ده او د سمع او ابصار قرينه ته په پام؛ د انسان عقل دے او د آيت په اخر کښې حکم شوے دے چې شکرګزار وسئ او ښيي چې انسان له دې دريو طاقتونو ګټه واخلي ځکه چې د شکر معنی دا ده چې هر يو نعمت په خپل ځای کښې په کار راوستل شي چې د څه لپاره ورکړےشو ے دے.
او د وحي په په هکله فرمايي:
وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ إِلاَّ رِجَالاً نُّوحِي إِلَيْهِمْ فَاسْأَلُواْ أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ (نحل/۴۳) له تاسو نه وړاندې مو نه دي ليږلي مګر داسې سړي چې هغوي ته مو وحي کوله نو که نه پوهيږئ نو له اهل الذکر نه پوښتنه وکړئ.
يو مذهبی انسان د نړۍ او مذهب د پيژندلو لپاره له حسه کار اخلي خو ډير ځله حسي ادراکات د عقل د فيصلو بنياد جوړوي. لکه چې د خدای او د هغه د صفتونو د پيژندلو لپاره له عقله کار اخستلے شي او د دي درو واړو په وسيله تر لاسه شوي نتيجه په خپل ځای کښې نافذه او په ځای ده او د حقيقت په معلومولو کښی معتبره ده.[۱]

۱. د انسان د نفس له ګناهونو پاکی، تزکيه او تصفيه د ځينو الهاماتو سبب کيږي چې ځينې خلک هغه د پيژندلو او شناخت يوه وسيله ګڼي.

## دویم اصل:

د خدايي د پيغمبران بلنه په دوو څيزونو کښې خلاصه کيږي: ۱- عقيده؛ ۲- عمل. د عقيدې حدود د خدای په وجود، د هغه په جلالي او جمالي صفتونو او د هغه په کارونو ايمان راوړل[1] دي لکه څنګه چې د عمل نه مطلب هغه احکام او دندې دي چې انسان بايد د خدای په حکم خپل وګړنيز او ټولنيز ژوند د هغو په بنياد جوړ کړي.

د عقيدې په هکله هغه څه چې زمونږ په نظر کښې دي، علم و يقين دے او يوازې هغه څه حجت کيدے شي چې دې مطلوب ته ورسيږی او په دې عقيدو کښې له چا تقليد او پيروي نه شي کولے.

په حکومونو په عمل کښې دا غوښتې شوي دي چې خپل ژوند د هغې مطابق تېر کړې نو په دې ځای کښې له يقينه پرته په نورو لارو چې کومې لارې شريعت تائيدوی هم اتناد کوې شې او جامع الشرايط مجتهد ته رجوع کول يو له عغې لارو دی چې شريعت يې تائيدوې او په راتلونکي بحث کښې د دې په هکله هم خبرې وکړو.

## دريم اصل:

مونږ د عقائدو او دينی احکامو په ثابتولو کښې د پيژندلو له ټولو معتبرو لارو ګڼه اخلو عقل او وحي له دغو لارو څخه دي له وحي نه زمونږ مطلب

---

۱. د پيغمبرانوراليږل او د امامانو معين کول او پس له مرګه د مړو ژوندي کول، دا ټول د خدای فعل او کار دے.

آسمانی کتاب قرآن کریم او هغه حدیثونه دي چي هغو سند رسول اکرم(ص) ته رسی او د امامانو حدیثونه هم،په هغه توضیح سره چې وروسته به یې ذکر کړو، سنت او د خدای حجت دي.
عقل او وحی د یو بل حجیت تائیدوي او که د عقل په قطعی حکم سره د وحی حجیت ثابتو نو وحی هم په خپل خاص حد کښې د عقل حجیت تائیدوي.
قرأن کریم په ډیرو ځایونو کښې د عقل فیصلو ته خلک غواړي او خلکو ته د عالم په عجائبو د سوچ او فکر کولو بلنه ورکوي او په خپله هم د خپلو مطالبو د ثابتولو لپاره له عقله مدد اخلي یو آسمانی کتاب هم عقل او دلیل ته دومره اهمیت نه دے ورکړے څومره چې قرآن ورکړے دے او په قرآن کښې په عقائدو او معارفو باندې عقلی دلیلونه تر حده زیاد دي.
اهل بیتو امامانو هم د عقل په حجیت باندې په هغه ځای کښې چې عقل د قضاوت وړتیا؛ تاکید کړے دے او امام کاظم(ع) په خپل فرمان کښې وحی ظاهری حجت او عقل باطنی حجت ګڼلے دے.[1]

## څلورم اصل:

له دې امله چې وحی قطعی دلیل دے او عقل هم داسې څراغ دے چې خدای پاک د هر انسان په باطن کښې بل کړے دے، نو هیڅ کله باید د دغو دوو خدایي حجتونو تر مینځ تعارض او ټکره رانه شی. او که په ځینو

---

١. ان لله علی الناس حجتین حجة ظاهرة و حجة باطنة فاما الظاهرة فالرسل و الانبیاء والائمة واما الباطنة فالعقول،

ځایونو کښې ابتدائي تعارض مخې ته شي نو پکار دے پوه شو چې په دغه مورد کښې مونږ له دینه سم اخستون نه دے لرے او یا یې په عقلی مقدماتو کښې څه غلطی شوې ده ځکه چې حکیم خدای هیڅ کله انسان دوه متعارضو لارو ته نه بلي.

لکه څنګه چې د عقل او وحی په مینځ کښې حقیقی تعارض نه شې تصور کیدے په علم او وحی کښې هم هیڅ کله تعارض نه شي کیدے او په ځینو ځایونو کښې که مونږ ته څه تعارض ښکاره شو نو بیا هم په کار دے دا ووایو چې یا مونږ په دغه مورد ښه نه یو پوه شوې یا دا چې علم قطعیت او یقین ته نه دے رسیدلے او زیات تر تعارض چې د دي دوو تر مینځ راځي د هغې وجه هم دا دویمه خبره ده چې علمي فرضیې لا یقین ته نه وي رسیدلې او خلک د خپل علم مطابق هغه قطعي او یقیني ګڼي نو په دی وخت کښې د تعارض خیال کیږي.

## پینځم اصل

هغه قانونونه چې د هستۍ په نظام باندې حاکم دي او زمونږ تر تصوراتو خپلواکه حقیقت لري، ابدی اوتل پاتې حقیقتونه دي. مطلب دا چې که چرې انسان د پیژندلو یوې لارې د واقعیت په توګه یو حقیقت ته ورسید نو پکار دې چې ووایو چې دا د تل لپاره حق او پاتے کیدونکے دے او که د هغه واقیعت په کشف کښې ځینې برخه د حقیقت مطابق ده او ځینې نه، نو چې کومه برخه د حقیقت مطابق ده هغه تل لپاره حقیقت ده او د ځای او شرائطو په بدلیدو سره واقعیت نه بدلیږي. او په بله ژبه به دا ووایو چې په

يو حقيقت کښې نسبيت په دې معنا چې په يو وخت کښې عين حقيقت وي او بل وخت کښې خطا، د کاينانتو په پيژندلو کښې دغه ډول نسبيت نه شي تصور کيدے. که ۲+۲ څلور کيږي نو تل به داسې وي او که نه کيږي نو تل به نه کيږي. او داسې نه ده چې يو شناخت په يوه مرحله کښې عين حقيقت وي او په بله مرحله کښې خطا او غلط وي.

په پيژندلو کښې نسبيت په هغه مواردو کښې متصور دے چې د هغې حقيقت د انسان له فکر او ارادې پرته بل څه نه وي لکه هغه ټولنې چې د هيواد په چلولو کښې له وحي کار نه اخلی د خپل هيواد د چلولو په روده کښې اختيار لري که دغې ټولنې يوه ورځ په يوې طريقې اتفاق وکړ نو تر څو چې په دې مسئلې کښې اتفاق لري نو هغه طريقه چې خوښه کړې يې ده هغه هم حقيقت لري او که يوه ورځ يې د هغې طريقې په خلاف بله طريقه غوره کړه نو بيا به دويمه طريقه حقيقت ګڼل کيږي او په عين حال له دې دوو رودو او شناختونو هر يو په خپله زمانه کښې عين حقيقت دے.

خو هغه چارې زمونږ له ذهن او تصوره بهرنے حقيقت او حد ونه لري که چرې په صحيح طريقه ورباندې وپوهيدل شي او شناخت يې تر لاسه شي نو د تل لپاره به صحيح او پايدار وي او د هغې خلاف به هم تل بې بنياده او باطل وي.

## هستي د اسلام له نظره

## شپږم اصل

دا جهان- یعنی د خدایه پرته چې څه دي- ټول د خدای پیدا ایښت دے او کائنات د یوې شیبې لپاره هم له خدایه بې نیازه نه دي او نه به وي. دا چې مونږ وایو چې جهان د خدای مخلوق دے یعنی خدای پیدا کړےدے مطلب مو دا دےچې جهان د هغه په اراده پیدا شوے دے او د جهان پیدا ایښت داسې نه دے لکه چې زوے له مور او پلاره پیدا شي لکه چې فرمایي: لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (اخلاص/۳)

## اووم اصل

د جهان دا نظام ابدي او تل پاتې نه دے بلکه څه وخت وروسته چې خدای ترې خبر دے، د نړۍ دا نظام به ختم شي او یو بل نظام به راپیدا شي چې هماغه د أخرت او معاد نظام دے لکه چې فرمایي: يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُواْ للّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ (ابراهیم/۴۸) هغه ورځ چې ځمکه او آسمانونه به بدل شي او د قهار خدای په وړاندې به حاضر شي.په یو بل ځاې کښې فرمایي: إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ (بقره/۱۵۶) مونږ ټول د خدای یو او هغه ته به بیرته ګرځو. چې په دې آیت کښې هم دې حقیقت ته اشاره ده.

## اتم اصل

د دې نړۍ نظام د علت او معلول په اساس ولاړ قائم دے او د نړۍ په موجوداتو کښې د علت او معلول رابطه ده، په هر یوه څیز کې د بل تاثیر د

خدای په حکم پورې تړلے دے او د خدای حکیمانه اراده دا ده چې خپل فضل او ښندنه غالبا د سبب او مسبب تر نظام لاندې جاری کړي.

قرأن کریم دا دواړه مطلبونه بیان کړي دي؛ همدا چې د څیزونو تر مینځ د سببیت رابطه ده او همدا چې د هر څیز په بل کښې هر ډول اثر د خدای په کلی ارادې او حکم پورې تړلے دے. د لومړني مورد لپاره کافی ده چې دې یو آیت ته پام وکړو:

وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاء مَاء فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقاً لَّكُمْ (بقره/۲۲) له آسمانه یې اوبه نازلې کړې او د هغې اوبو په سبب یې (له ځمکی) میوې ستاسو د روزۍ لپاره راوباسلې.

په دویم مورد کښې دغه آیت ته پام وکړئ: وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ (اعراف/۵۸) او د پاکې ځمکې وابښه د خدای په حکم راوځي. او همداشان د بقرې سورې۱۰۲، ۲۴۹ او ۲۵۱ آیتونه او د ال عمران سورې ۱۲۶ آیت همدا مضمون لري.[۱]

## نهم اصل

کائنات یوازی مادی څیزونه نه دي بلکې په دې نړۍ کښې ځینې څیزونه داسې دي چې ماوراء طبیعت (له مادی پرته نور څه) دي چې د قرآن په اصطلاح کښې ورته ((دغیبو جهان)) ویلے شي نو لکه څنګه چې مادی څیزونه په یو بل باندې د خدای په حکم اثر کوي همدارنګ غیبي

---

۱- د دې په هکله د لا زیات معلوماتو لپاره د کلام او تفسیر کتابونو ته مراجعه وکړئ لکه المیزان۱/۷۲،الالهیات ۲/ ۵۱-۵۴.

موجودات هم په دې جهان باندې د خدای په حکم اثر کوي.او په بله وینا به دا ووایو چې د خدای د فیض واسطې دي.

قرأن کریم په دې جهان کښې د پرښتو اثرات داسې بیانوي: فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا (نازعات/۵) قسم دې وي د نړۍ د چارو په تدبیر کوونکو.الْقَاهِرُفَوْقَ عِبَادِهِ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُم حَفَظَةً(انعام/۲۱) او هغه په خپلو بندګانو قاهر(غالب) دے او پر تاسو څارونکي درلیږي.

له دغو آیتونو څرګندیږي چې د دې جهان ټول پیدایښت که هغه مادي څیزونه وي او که غیر مادي ټول د سببیت تر نظام لاندې دي او د خدای په حکم او اجازې پورې تړلي دي.

## لسم اصل

جهان یو هدایت شوے حقیقت دے او د نړۍ هره ذره په هر پړاو کښې ده په خپل ځای د خدای له هدایته رڼا اخلي او د هدایت دا مرتبې په درې ډوله دي؛ طبیعي هدایت، غریزی هدایت او تکوینی هدایت، قرآن کریم دا عام او تکوینی هدایت په بیلا بیلو آیتونو کښې یاد کړے دے چې یو آیت ترې دلته راوړو:

رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى (طه/ ۵۰)؛ زمونږ پروردګار هغه څوک دے چې هر څه یې پیدا کړل بیا یې هغه هدایت کړل.

## يوولسم اصل

د پيدايښت نظام يو ډير بشپړ او ښه نظام دے. د هستۍ دا سستم په ډيره اعلی طريقه جوړ شوے دے او تر دې د كامل او ښكلې نظام تصور نه شي كيدے. قرآن كريم فرمايي: الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ (سجده/٧)هغه خداى چې هر څه يې ډير ښه پيدا كړل. او همدا رنګ فرمايي: فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ (مؤمنون/١۴) مبارک دے هغه ذات چې تر ټولو ښه پيدا كوونكے دے. څرګنده ده چې كله خالق ښه وي نو مخلوق به هم ښه وي.

عقلي دليل چې د دې اصل لپاره راوړلے شي هغه دا دے چې د هر يو كاركوونكي كار د كمال او نيمګرتيا له لحاظه د هغه له صفتونو او كمالاتو سره تناسب او برابرے ولري. نو يو فاعل چې په وجودي صفتونو كښې څه نقص او كمے نه لري نو د هغه كار به هم له هر ډول نقص او عيبه پاک وي او كله چې مونږ پوه شو چې خداى د ټولو وجودي كمالاتو په بشپړه ټوكه لرونكے دے نو د هغه كار به هم له ټولو ښه كامل او بشپړه وي.

له دې ورتير، د خداى حكيم والے دا تقاضا لري چې د احسن نظام د پيدا كولو د امكان په بڼه كښې غير احسن پيدا نه كړي.

دا خبره هم د ويلو وړ ده چې په دې جهان كښې چې كوم څه د شر په نوم ياديږي د هستۍ له كمال او ښه والي سره څه تضاد او ټكره نه لري او د دې خبرې وضاحت به په ((په خالقيت كښې توحيد)) په بحث كښې راشي.

## دولسم اصل

له دې امله چې دا جهان هغه خدای پیدا کړےدے چې حق مطلق دے نو باید دا جهان هم حق او له حکمته ډک وي او عبث او چټي نه وي. دې خبرې ته د قرآن کریم په ډیرو آیتونو کښې اشاره شوې ده چې یو ترې ذکر کوو:
مَا خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا إِلَّا بِالْحَقِّ (احقاف/۳) (آسمانونه او ځمکه او څه چې د دې تر مینځ دي هغه مو یوازې په حقه پیدا کړي دي. د انسان او د جهان د پیدایښت مقصد هم هاله پوره کیږي کله چې قیامت راشي لکه څنګه چې امیرالؤمنین فرمایې: فان الغایه القیامه.[۱]

انسان؛ د اسلام له نظره

## دیارلسم اصل

انسان یو داسې موجود دے چې له بدن، او روحه جوړ دے چې له مرګه وروسته یې بدن شړیږي خو روح یې ژوند ته ادامه ورکوي یعنی د انسان د مرګ مطلب دا نه دے چې هغه فنا شو له همدې امله به تر قیامته په عالم برزخ کښې ژوند تیروي. قرآن د انسان د ژوند أخری مرحله چې کله پکښې روح پوکل کیږي داسې بیانوي: ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ (مؤمنون/۱۴) بیا مو هغه یو بل موجود وګرځاوه.

---

۱ . نهج البلاغة، خطبة ۱۹۰

همدا رنګ د انسان برزخی ژوند ته په بیلا بیلو آیتونو کښې اشاره کوي لکه چې فرمایې: وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ (مؤمنون/ ۱۰۰)او تر هغو مخکښې (یا د هغوي شاته) برزخ دے[1] تر هغه ورځې چې بیا پاڅول شی. هغه آیتونه چې په برزخی ژوند باندې دلالت کوي ډیر زیات دي.

## څوارلسم اصل

هر یو انسان د توحید په پاک فطرت سره پیدا کیږي داسې که چرې په همدې حال کښې پر مخ لاړ شي او خارجی عوامل هغه بې لارې نه کړي نو پخپله په په حقه لاره ځي. هیڅ انسان له موره ګناهکار او بدکار نه دے پیدا شوے او دا پلیتۍ او بدۍ عرضی دي او د خارجی عواملو له وجې او اختیاري دي او ارثي عادتونه هم داسې نه دي چې د انسان ارادې سره نه بدلیږي (بلکه بدلیدے شي) له همدې وجې هغه لیدتوګه او نظریه چې په اوسني عسائیت کښې مشهوره ده چې ګناه د انسان یو ذاتي څیز دے؛ یوه باطله نظریه ده.

قرأن کریم په دي هکله فرمایې: فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا (روم/ ۳۰) نو دین حنیف ته مخ کړه (دغه دین) د خدای فطری دین دے چې خلق یې په همدغې فطرت پیدا کړي دي.

[1] . د برزخ عالم په یو ډول مخې ته دے او په یو ډول شاته دے، له همدې وجې مو دواړه کلمې راوړي دي.

پیغبراکرم(ص) همدارنګ فرمایلي دي: ما من مولود الا یولد علی الفطرة.[1]
انسان دنیا ته نه راځي مګر د دین (توحید) په فطرت.

## پینځلسم اصل

انسان یو داسې موجود دے چې په اراده کښې ازاد دے یعنی د خپل عقل په طاقت د یو کار د بیلا بیلو اړخونو جاج اخلي او د کار کول یا نه کول غوره کوي.

قرأن پاک فرمایې: إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا (انسان/۳) مونږ هغوي ته لاره وښودله نو هغه یا شکر ګزار دے او یا کفران کوونکے.

همدارنګ فرمایې: وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاء فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاء فَلْيَكْفُرْ. (کهف\۲۹) ووایه چې حق ستا له پروردګاره نازل شوے دے نو هر څوک چې غواړي ایمان دې راوړي او هر څوک دې غواړې کفر دې وکړي.

## شپاړسم اصل

کله چې پوه شو چې انسان یو روغ فطرت لري او د عقل طاقت ورسره دے چې ښه له بده جدا کولے شي او همدارنګ اختیار او اراده لري نو پوهیږو چې هغه یو داسې موجود دے چې تربیت او روزنې ته چمتووالے او وړتیا لري او د ترقۍ او لوړاوي او خدای ته د بیرته ستنیدو لاره ورته تل خلاصه ده مګر په هغه وخت کښې چې کله ورته مرګ راورسي چې بیا یې هیڅ

---

۱ . توحید صدوق۳۳۱.

قسم توبه نه قبلیږي له همدې وجې د پیغمبرانو بلنه او دعوت د ټولو انسانانو لپاره دے تر دې چې فرعون ته یې هم دا دعوت شاملیږي، لکه څنګه چې فرمایي: فَقُلْ هَل لَّكَ إِلَى أَن تَزَكَّى وَأَهْدِيَكَ إِلَى رَبِّكَ فَتَخْشَى (نازعات ۱۸-۱۹) اے موسی! فرعون ته ووایه:أیا غواړې چې پاک شې او تا ستا خدای ته هدایت کړم چې وویریږې؟

دې ته په پام انسان باید هیڅکله د خدای له رحمته او مغفرته نهیلے نه شي لکه څنګه چې فرمایي:

لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا (زمر/۵۳) د خدای له رحمته نهیلې کیږئ چې هغه ټول ګناهونه بخښي.

## اوولسم اصل

دې ته په پام چې انسان عقل لري او د اختیار خاوند دے نو یو داسې مخلوق دے چې مسئولیت لري او ذمه وار دے د خدای په وړاندې، د خدای د پیغمبرانو په وړاندې، دخپل انساني ګوهر او د نورو انسانانو په وړاندې ذمه داري لري، قرآن پاک دې ذمه دارۍ ته داسې اشاره کوي:

وَأَوْفُواْ بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْؤُولاً (اسراء/۳۴) په خپل عهد او اوژمنې وفادار اوسئ چې د دې عهد په هکله به پوښتنه کیږي.

همدارنګ فرمایي: إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً (اسراء/۳۶) له غوږونو، سترګو او زړه ټولو به پوښتنه کیږي. بیا فرمایي: أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى (قیامت/۳۶) آیا انسان دا ګمان کوي چې په

خپل حال پرېښودل شوے دے.او زمونږ پیغمبر (ص) فرمايي: ألا كلكم راع و كلكم مسؤول عن رعيته.[1]

## اتلسم اصل

هيڅ يو انسان په بل باندې څه لوړاوے نه لري مګر د هغو معنوی کمالاتو په وجه چې هغه يې لري او د لوړاوي تر ټولو څرګند معيار او ملاک د ژوند په درستو کارونو کښې تقوی او پرهيزګاري ده، لکه چې فرمايي: يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ (حجرات/۱۳) اے انسانانو تاسو مو له نر او ښځې پيدا کړئ او تاسو مو قبيلې او ټولې جوړ کړئ د دې لپاره چې يو بل وپيژنئ په تاسو کښې خدای ته تر ټولو نزدې هغه څوک دے چې په تاسو کښې يې تر ټولو تقوی زياته وي.

## نولسم اصل

اخلاقي ارزښتونه چې په حقيقت کښې د انسانيت اصول دي او يوه فطری سرچشمه لري تل پاتی او هميشني اصول دي او د وخت په تيريدو او ټولنيزو بدلونونو سره نه بدليږي، مثلا د عهد او ژمنې د پوره کولو ښه والے يا د نيکۍ په بدل د نيکۍ کول يو تل پاتے څيز دے او د کله نه چې انسان ؤ او تر کله پورې به چې وي؛ دا اصول به وي، دا اخلاقی قانون به

---

۱ . مسند احمد، ۵۴/۲، صحيح بخاري، ۲۸۴/۲، (کتاب الجمعه، ۱۱باب، ۲ حديث).

هیڅکله بدل نه شي او همدارنګ د خیانت او بې لوظۍ بد والې دې. نو دې ته په پام سره د انسان په ټولنیز ژوند کښې داسې اصول شته چې هغه له انسانانو سره تړلي دي او ثابت او تل پاتي دي.
هو! له دغو اخلاقی اصولو سره په خوا کښې ځینې داسې رسمونه هم موندل کیږي چې د وخت په تیریدو او د ځایونو په بدلیدو سره بدل شوي دي چې دا له ثابتو اصولو سره کوم ربط نه لري.
قران کریم ځینې ثابتو اخلاقی اصولو ته اشاره کوي، لکه څنګه چې فرمایي: هَلْ جَزَاء الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ (الرحمن/ ٦٠) آیا د احسان بدله بې له احسانه بل څه ده؟ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِن سَبِيلٍ (توبه/ ٩١) په نیکي کونکیو څه ګرمه نشته. فَإِنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ (یوسف/ ٩٠) خدای د نیکي کونکیو بدله نه ضایع کوي. إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ (نحل/ ٩٠) خدای پاک د عدل او احسان او له خپلوانو سره د مرستې حکم کوي او له فحشاء (پلیتۍ) او ظلم زیاتی منع کول کوي.

## شلم اصل

د انسان عملونه له دې ورتېر چې په هغه جهان کښې سزا او جزا لري په دې نړۍ کښې هم ښې یا بدې پایلې لري. په حقیقت کښې انسان ته ځینې پیښې ورپیښیږي چې د هغه د عمل نتیجه وي. دا یو داسې حقیقت دے چې وحی ترې پرده اوچته کړې ده، قرآن کریم په دې په هکله ډیر آیتونه لري چې مونږ ترې دوه بیلګې ذکر کوو: وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَى آمَنُواْ وَاتَّقَواْ لَفَتَحْنَا

عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاء وَالأَرْضِ وَلَكِن كَذَّبُواْ فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُواْ يَكْسِبُونَ.
(اعراف/۹۶) که چرې د کليو (او ښارونو) خلک ايمان راوړي او پرهيزګار شي نو هغوي ته د آسمان او د ځمکې د برکتونو ورونه خلاصوم، خو هغوي د خدای آيتونه دروغ وګڼل نو مونږ هم هغوي په خپلو کړو سزا کړل.
حضرت نوح (ع) خپل امت ته دا خبره وکړه چې له ګناهونو څخه د پاکۍ او د رحمت د ورونو د خلاصيدو تر مينځ يوه رابطه شته، لکه څنګه چې فرمايي: فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا. يُرْسِلِ السَّمَاء عَلَيْكُم مِّدْرَارًا. وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا (نوح/ ۱۰-۱۲) خپل قوم ته مې وويل: له خدايه بخښنه وغواړئ بيشکه چې هغه د ګناهونو زيات بخښونکے دے. (نو که داسې وکړئ) په تاسو باندې به له آسمانه زيات باران راوليږي او په مال او اولاد سره به ستاسو مرسته وکړي او تاسو ته به باغونه جوړ کړي (درکړي) او تاسو ته به ويالې درکړي.

## يويشتم اصل

د امتونو د پرمختګ او شاتګ علتونه، له بهرنيو عواملو ورتېر زياتره د هغوي خپل عقائد ،اخلاق او کړه وړه دي دا اصل د خدای له قضا او قدر سره ه څه ټکره نه لري ځکه چې دا د خدای د کلی تقدير يوه ښبه ده. يعنی د خدای دا اراده ده چې امتونه دې خپل تقدير په خپلو عقيدو او کړو سره جوړ کړي. مثلا هغه ټولنه چې پکښې د عدالت خيال ساتل کيږی نو د هغوي ژوند به ښه او په أرام وي او کومه ټولنه چې د عدالت په خلاف چليږی نو هغه يو بد مستقبل لري.دا هماغه اصل دے چې د قرآن په ژبه

کښې ورته «الهی سنت» او دود ویل کیږي. لکه څنګه چې قرآن پاک فرمايي: فَلَمَّا جَاءهُمْ نَذِيرٌ مَّا زَادَهُمْ إِلَّا نُفُورًا اسْتِكْبَارًا فِي الْأَرْضِ وَمَكْرَ السَّيِّئِ وَلَا يَحِيقُ الْمَكْرُ السَّيِّئُ إِلَّا بِأَهْلِهِ فَهَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا سُنَّتَ الْأَوَّلِينَ فَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَبْدِيلًا وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ اللَّهِ تَحْوِيلًا (فاطر/۴۲-۴۳) کله چې يو ويرونکے (پيغمبر) هغوي ته ورغلو نو د هغوي يې يوازې (پيغمبر سره) فاصله زياته کړه (دا ټول) په ځمکه کښې د هغوي د کبر او بدو چلونو په وجه (وو) خو دا بد چلونه يوازې په هماغه چل کوونکيو اثر کوي آيا هغوي له هغه سنته چې په تيروباندې راغلي وو د بل څه په تمه دي؟! د خدای په سنت کښې به هيڅ بدلون ونه مومې.

...وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ .... وَتِلْكَ الأيَّامُ نُدَاوِلُهَا(ال عمران/۱۳۹-۱۴۰) تاسو لوړ يئ که مؤمنان ووسئ.... او دا ورځ (د برې او د ماتې) د خلکو تر مينځ ګرځوو راګرځوو....

## دوه ويشتم اصل

د بشر تاريخ روښ مستقبل لري، سره له دې چې د انسانانو ژوند تل له ډيرو ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ ؤ خو دا حالت به تر أخره نه وي بلکې انسانی تاريخ د يو رڼون مستقبل طرف ته روان دے چې پکښې به په هر ځای کښې عدل وي او لکه قرآن چې فرمايي صالحين او نيکان به د ځمکې حاکمان وي، لکه څنګه چې فرمايي: وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ.(انبياء/۱۰۵) مونږ په زبور کښې له ذکره (توراته) وروسته وليکل چې زما نيک بندګان به د ځمکې وارثان (حاکمان) کيږي.

او همدارنګ فرمايي: وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ (نور/۵۵) خدای پاک له تاسو څخه هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړے دے او نيک عملونه يې کړي دي؛ وعده ورکړې ده چې هغوي په ځمکې کښې خليفه ګان کړي لکه څنګه چې يې تېرو خلکو ته خلافت ورکړے ؤ.

دي ته په پام سره د تاريخ په راتلونکو کښې او د حق او باطل په جنګ کښې اخري فتح او برے د حق دے، سره د دې چې کيدے شي لږ زيات وخت واخلي،لکه څنګه چې فرمايي: بَلْ نَقْذِفُ بِالْحَقِّ عَلَى الْبَاطِلِ فَيَدْمَغُهُ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ (انبياء/۱۸) بلکې مونږ په حقو سره باطل وهو، چې وې ځپي نو ناڅاپه (باطل) ختم شي.

## درې ويشتم اصل

انسان د قرآن له نظره ځانګړے درنښت او عزت لري تر دې چې پرښتو ورته سجده وکړه، لکه چې فرمايي: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُم مِّنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِّمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلاً (اسراء/۷۰) بيشکه چې بنی أدم ته مو بزرګی او کرامت ورکړ او هغوي ته مو په وچې او درياب کښې ځای ورکړ او له پاکو (څيزونو) مو روزی ورکړه او په ډير هغو څيزونو چې مونږ پيدا کړي دي؛ ورته لوړاوے ورکړ.

دې ته په پام سره چې د انسان د ژوند اساس د هغه په عزت او کرامت تړلے دے نو هر هغه کار کول چې ورسره د انسان عزت خرابيږي په اسلام کښې منع شوے دے او په نورو ټکو به دا ووايو چې په اسلام کښې د هر قسم

ناروا زور زياتي كول او د زور زياتي قبلول منع شوي دي.اميرالمؤمنين حضرت على(ع) فرمايي: ولا تكن عبد غيرک و قد جعلک الله حرا[1]د نور چا مريے مه كيږه حال دا چې ته خداى آذاد پيدا كړے يې.

او همدارنګ فرمايي ان الله فوض الى المؤمنين كل شىء الا ازلال نفسه [2] خداى پاک د مؤمن ټول كارونه هغه ته پريښي دي (يعنى په كولو او نه كولو كښى اختيار لري) خو يوازې دا (دا يې نه دے پريښي) چې ځان (بل چا ته) خوار او ذليل كړي.

روښانه ده چې د خداى مشروع حكومتونه له دغه قانون سره ټكره نه خوري چې د دې څيړنه او توضيح ب په راتلونكي بحث كښې راشي.

## څلور ويشتم اصل

د انسان عقلانى ژوند د اسلام په نظر كښې يو خاص مقام لري ځكه چې په نورو حيواناتو باندې د انسان لوړاوے او مخكښې والے د عقل په سبب دے، له همدې وجې په ډيرو آيتونو كښې انسان عقل او فكر ته بللے شوے دے تر دې چې د خداى په مخلوقاتو كښې فكر كول د عاقلانو نښانه ګڼلې شوې ده، لكه څنګه چې فرمايي: الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىَ جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذا بَاطِلاً (أل عمران/۱۹۲) هغه داسې كسان دي چې په ولاړه او ناسته او اړخ باندې (ملاست د خداي) ذكر كوي او د آسمانونو او ځمكې په پيدا كيدو كښې فكر كوي (او وايي:)

---

۱ . نهج البلاغه، د ليكونو برخه، ۳۸ ليک

۲ . وسائل الشيعه ۴۲۴/۱۱، (د امر بالمعروف كتاب كښې باب۱۱،حديث۴)

اے زمونږ پروردګاره! دا تا عبث نه دي پیدا کړي (په دې هکله آیتونه ډیر زیات دي چې ټول دلته نه شو راوړلے)
د همدغه ډول نظر په اساس قرآن انسانان عقل ته بللي دي او د تیرو خلکو له ړانده تقلید او پیروۍ یې منع کړې دي.

## پنځه ویشتم اصل

په اقتصادي، سیاسي او نورو ډګرونو کښې د انسان آزادي په اسلام کښې په دې شرط سره ده چې د اسلام له معنوي پرمختګ او لوړاوي سره ټکره و نه خوري او همدارنګ عمومي مصلحتونو ته زیان ونه رسوي، په حقیقت کښې د اسلامي احکامو د فرض کیدو فلسفه دا ده چې په انسان باندې د ذمه وارۍ په اچولو سره د هغه عزت نفس بچ کړي او عمومي مصلحتونه هم پوره کړي.
اسلام چې د بت پرستۍ او شراب خورۍ نه منعې کول کوي نو د دې لپاره چې د انسان خپل عزت ورسره بچ کړي او له دې ځایه د اسلامي سزاګانو حکمت او فلسفه هم روښانه کیږي.
قرآن کریم د قصاص قانون د انسان د ژوندي کیدو سبب ګڼي او فرمایي: وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِيْ الأَلْبَابِ (بقره/۱۷۹) اے هوښیارانو په قصاص کښې ستاسو لپاره ژوند دے. اوپیغمبر(ص) وفرمایل: ان المعصية اذا عمل بها العبد سرا لم يضر الا عاملها ، فاذا عمل بها علانية ولم يغير عليه اضرت بالعامه،کله چې یو کس په پټه ګناه کوي نو یوازې ځان ته زیان

رسوي خو که په څرګنده ګناه وکړي او څوک ورباندې څه اعتراض هم و نه کړي نو عامو خلکو ته زيان رسوي.
امام صادق (ع) د حديث له نقل کولو وروسته زياته کړي ده: ذالک انه يذل بعمله دين الله و يقتدی به اهل عداوة الله، د دې سبب دا دے چې کوم کس په څرګنده ګناه کوي هغه د خدای د حکمونو حرمت ماتوی او د خدای دښمنان د هغه پيروي کوي.[1]

## شپږيشتم اصل

په اسلام کښې د فردی ازادۍ يوه نښانه دا ده چې د دين په قبلولو کښې په چا څه زور نشته، لکه چې فرمايي: لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ (بقره/۲۵۶) "په دين (قبلولو) کښې څه جبر نشته په تحقيق سره سمه لار له کږې لارې څرګنده شوې ده". ځکه چې کوم دين چې د اسلام مطلوب دين دے هغه د زړه ايمان او باور دے او دا داسې څيز نه دے چې په زوره د چا زړه ته داخل کړے شي بلکې يو لړ سريزو ته اړتيا لري چې د ټولو په سر کښې يې له باطله د حق روښانه کيدل دي. کله چې دا پيژندل تر لاسه شي نو په طبيعي حالاتو کښې انسان حق غوره کوي.
دا خبره هم سمه ده چې جهاد د اسلام په فرائضو کښې يو اهم فرض دے خو د دې معنی دا نه ده چې نور خلک دې د دين قبلولو ته مجبور کړے شي بلکې د دې مطلب دا دے چې کوم څيزونه د خدای د پيغام د رسولو په مخ

---

[1] - وسائل الشيعه ۴۰۷/۱۱، (د امر بالمعروف کتاب، ۴باب، ۱حديث)

کښې خنډ کیږي هغه لرې کړے شي چې د "تبین الرشد" مسئله تحقق ومومي او حق روښانه شي. دا یوه طبیعي خبره ده چې ځینې د زر او زور خاوندان د خپلو شیطانی او مادی ګټو لپاره د اسلام د ازادي غواړي پیغام د رسولو خنډ جوړیږي نو د نبوت فلسفه او مقصد (چې د خلکو هدایت او د خدای پیغام رسول دي) تقاضا کوي چې جهاد کوونکي دې هر ډول خنډونه له لارې لرې کړي چې خلکو ته د حق پیغام رسول أسان شي.

له تیرو بحثونو د انسان او د جهان په هڅکله د اسلام نظریه روښانه شوه په دې هکله ځینې نورې خبرې هم شته چې په مناسب ځای کښې به یې راوړو. اوس د عقیدو او حکمونو په هکله د اسلام لیدتوګه (نظریه) بیانوو.

# دویمه برخه

د عقایدو کلیات

## اووه ویشتم اصل

د خدای پاک په شتون باندې عقیده لرل د آسمانی شریعتونو تر مینځ یوه مشترکه عقیده ده او له مادي پالو کسانو سره د یو الهی انسان (که هغه د هر یو شریعت منونکے وي) فرق په همدې عقیدې کښې دے.
قرآن کریم د خدای شتون یو روښانه څیز ګڼي چې دلیل ته اړتیا نه لري او په دې کښې هر قسمه شک او تردید بې ځایه ګڼي لکه څنګه چې فرمایي: أَفِي اللّهِ شَكٌّ فَاطِرِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ (ابراهیم/ ۱۰) ایا د خدای په هکله شک کوئ چې د ځمکو او آسمانونو جوړوونکے دے؟!
بیا هم قرآن پاک هغو کسانو ته چې غواړي په عقل او فکر او دلیل سره خدای وپیژنی او شک او تردید له زړه لرې کړي؛ څو لارې ښودلي دي. مهمې لارې یې لاندینۍ دي:
۱- په خاصو حالتو کښې انسان ته د یو لوړ او اوچت موجود د شتون احساس کیدل او ورته اړمن کیدل چې دا هماغه د انساني فطرت أواز دے چې هغه د کائناتو خالق ته بلی. قرآن پاک فرمایي: فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا (روم/ ۳۰)***** او همدارنګ فرمایي: فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ (عنکبوت/۲۵)

کله چې په کشتۍ کښې کښیني (او د دریاب په څپو کښې ګیر شي) نو په خلوص سره خدای بلی خو کله چې وچې ته نجات بیاموميٍ نو بیا شرک کوي.
۲- په عالم طبیعت او د جهان په څیزونو کښې فکر کولو ته بلنه چې د خدای د شتون روښان نښه ده او پکښې د خدای د وجود د علم، قدرت او په جهان کښې د حکیمانه تدبیر نښانی دي: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لآيَاتٍ لِّأُوْلِي الألْبَابِ (ال عمران/۱۹۰) د آسمانونو او ځمکې په پیدا کولو کښې او د شپې او ورځ په راتللو کښې د هوښیارانو لپاره نښانې دي.
په دې هکله آیتونه زیات دي او مونږ د بیلګې په توګه په همدې بسنه کوو.
روښانه ده چې کومې دوه لارې مو ښودلی دي د خدای د پیژندلو یوازې همدا دوه لارې نه دي بلکې د خدای د پیژندلو لارې ډیرې زیاتې دي چې متکلمانو په خپلو کتابونو کښې راوړي دي.

## د توحید پړاوونه

ټول آسمانی شریعتونه په توحید او د یو خدای د عبادت په اساس ولاړ دي او د ټولو روښانه اصل هماغه د توحید عقیده ده، که څه هم په ځینو دینونو کښې د توحید په دې عقیده کښې څه اختلاف او انحراف راغلے دے. لاندې د قرآن او حدیثونو په رڼا کښې او د عقلی دلیلونو په مرسته د توحید مرتبې بیانوو.

## اته ويشتم اصل

د توحيد لومړنۍ مرتبه د ذاتي توحيد مرتبه ده، ذاتي توحيد دوه تفسيرونه لري.

الف: د خدای ذات يو دی او سارے نه لري او د هغه لپاره د مثل او سيال تصور نه شي کيدے.

ب: د خدای ذات بسيط دے او په هغې کښې څه کثرت او ترکيب (د برخو نه جوړښت) نشته.

اميرالمؤمنين على (ع) د دې دو معنو په بيان کښې داسې فرمايي:

١- هُوَ وَاحِدٌ لَيسَ لَهُ فى الاشياء شَبَهٌ: هغه يو دے او په څيزونو کښې د هغه څه مثل نشته.

٢- وَ انّهُ عَزّ وَجَلّ أحدىّ المعنى لا ينقَسِمُ فى وجودٍ و لا وَهْمٍ و لا عقلٍ.[١] هغه ((أحْدِىُ المَعنىٰ)) دے يعنى نه په خارج او بهر،نه په وهم او نه په عقل کښې د هغه اجزا او برخه تصور کيدې نه شي.

د توحيد سورت د خدای ديو والي په هکله د مسلمانانو د عقيدې بيانوونکے دے، دا سورت د (اخلاص) دواړو مرحلو ته اشاره کوي، لومړي قسم ته په دې آيت سره: وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ او دويم قسم ته په دې آيت سره: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ

کوم څه چې مو ووېل له دې څرګنديږي چې د عيسايانو د تثليث عقيده چې ((پلار خداي، زوے خدای او روح القدس)) منې د اسلام له نظره باطله

---

١ . توحيد ، د شيخ صدوق ليکلے شوے ،٨٣مخ،٣باب،٣حديث.

ده او د قرآن په ځینو آیتونو کښې د دې عقیدې ناسموالے بیان شوے دے په کلامی کتابونو کښې په دې هکله په تفصیل سره خبرې شوي دي او مونږ دلته یوازې یوه خبره ترې بیانوو:
تثلیث په دې معنی چې خدایان درې دي، دوه حالتونه لري: یا خو داسې ده چې له دوي څخه هر یو ځانته شخصیت او وجود لري یعنی هر یو ټوله خدایي لري که داسې وي نو په اسلام کښې له ذاتی توحید (چې مثال نه لري) سره مخالفت او ټکره لري. او یا دا درې ټول په جمع یو وجود لري او هر یو یې یوه برخه ده که داسې وي نو دلته ترکیب او مرکب والے لازم راځي او له دویمی معنی (یعنی بسیط والي) سره مخالفت لري.

## نهه ویشتم اصل

د توحید دویمه مرتبه د خدای په ذاتی صفاتو کښې د هغه یووالے دے مونږ خدای د ټولو کمالي صفتونو لرونکے ګڼو او عقل او وحی په دې دلالت کوي چې دا ټول صفتونه په خدای کښې موجود دي، دې ته په پام سره خدای عالم، قادر، حی، سمیع،بصیر او......دے ، دا صفتونه د مفهوم له لحاظه له یو بل سره فرق او توپیر لري یعنی د ((عالم)) د ټکي نه چې زمونږ ذهن ته څه راځي هغه بل څه دي او څه چې د ((قادر)) د ټکي نه راځي هغه بل څه، خو خبره دا ده چې لکه څنګه چې دا ټکي د مفهوم له لحاظ له یو بل سره مخالفت لري آیا په حقیقت کښې یعنې د خدای په وجود کښې هم یو بل سره مخالفت او مغایرت لري که نه په حقیقت کښې ټول یو دي؟ په ځواب کښې باید ووایو کله چې دا د خدای په ذات کښې

مغایرت ولري نو د خدای په ذات کښې ترکیب او کثرت لازم راځي نو باید ووایو چې دا صفتونو سره د دې چې په مفهوم کښې اختلاف لري خو د عینیت په مقام کښې یو دي په نورو ټکو سره به داسې ووایو چې د خدای ذات سره د دې چې بسیط او یو دے خو بیا هم دا ټول صفتونه لري او داسې نه ده چې د خدای یوه برخه د هغه له علمه جوړه شوې وي بله یې له قدرته او داسې نور....او محققان داسې وایي: "بَل هُو عِلمٌ کُلّهُ وَ قدرة کُلّهُ و حیاةٌ کُلّهُ....[1]

دې ته په پام سره د خدای ذاتي صفتونه سره له دې چې قدیم او ازلی دي د هغه عین ذات دي او د هغه کسانو لیدتوګه غلطه ده چې د خدای صفتونه ازلی او قدیم (خو د خدای له ذاته جدا بل شے یې ګڼي) دا نظریه په حقیقت کښې له دې ځایه راوتې ده چې د خدای صفتونه د انسان په شان وګڼل شي او له دې امله چې د انسان صفتونه د هغه پر ذات ورزیات دي نو دا تصور شوےدے چې د خدای صفتونه هم د انسان په شان د هغه پر ذات ورزیات دي.

امام صادق (ع) فرمایي: "لَمْ یَزل الله -عَزّ وجلّ- ربنا والعلمُ ذاتُه و لا معلومَ والسمعُ ذاتُه ولا مسموعَ والبصر ذاتُه ولا مُبصرِ والقدرةُ ذاتُه ولا مقدور"[2].

خدای له ازله زمونږ پروردګار ؤ او دے او وړاندې له دې چې معلوم، مسموع،مبصر او مقدور وجود ولري علم، سمع، بصر او قدرت د هغه عین ذات وو.

---

۱ . صدر المتالهین،اسفار اربعه، ۲ټوک، ۱۳۵مخ.

۲ . د شیخ صدوق کتاب توحید ۱۳۹مخ، ۱۱باب، ۱حدیث

امیرالمؤمنین (ع) هم د خدای له ذات سره د هغه د صفتونو د یووالی په هکله فرمایي: "وَ کَمَالُ الاخْلاصِ لَهُ نَفی الصفاتِ عَنه لِشهادةِ کُلّ صِفةٍ أنّها غیرَ الوصوفِ وَ شَهادةِ کُلّ موصوفٍ أنَها غیر الصفةِ"[1] په توحید کښې د اخلاص کمال دا دے چې هغه صفتونه (چې په ذات باندې زیات دي) له هغه نفی کړو ځکه چې هر یو صفت دا ګواهی ورکوي چې هغه له موصوفه جدا دے[2]

## دریشم اصل

د توحید دریمه مرتبه په خالقیت او پیدایښت کښې د هغه توحید او یووالے دے یعنی له خدایه پرته بل څوک پیداکوونکے نشته او هر څه چې وجود پیدا کوي ټول د هغه مخلوق او پیدایښت دے، قرآن د توحید په دې شکل تاکید کوي او فرمایي: قُلِ اللّهُ خَالِقُ کُلِّ شَيْءٍ وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (رعد/۱۶) ووایه: الله د هر څیز خالق دے او هغه یوازې غالب دے. ذَلِکُمُ

۱ . نهج البلاغه، لومړی خطبه.

۲ . ځینو دبې خبرۍ له مخې دې لیدتوګې ته د ((معطله)) لیدتوګه ویلې ده حال دا چې ((معطله)) هغه کسانو ته ویلے شي چې د جمال صفتونه د خدای د ذات لپاره نه ثابتوي او لازمه یې دا ده چې د خدای ذات له وجودي صفتونو څخه خالی دے، دا عقیده سمه نه ده او دا غلطه عقیده ((له ذات سره د صفتونو د یووالي)) له نظریې سره څه اړیکه او رابطه نه لري بلکه((د صفتونو ذات سره د یووالي)) نظریه سره د دې چې د خدای لپاره جمالی صفتونه ثابتوی له ځینو اعتراضونو هم پاکه ده لکه د قدما تعدد او د صفتونو په ذات باندې زیاتوالے.

اللَّهُ رَبُّكُمْ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ لَّا إِلَهَ إِلَّا هُوَ (غافر/۶۲) خدای ستاسو پروردګار دے د هر څيز خالق دے له هغه نه پرته بل خدای نشته.
د وحی نه علاوه، عقل هم په خالقيت کښې د توحيد ګواهي ورکوي ځکه چې له خدايه پرته هر څه ممکن الوجود دي او نيازمند دي او د خپل نياز د پوره کولو لپاره خدای ته اړمن دي. په خالقيت کښې توحيد په دې معنی نه دے چې مونږ د هستۍ د سببيت د قاعدې انکار وکړو ځکه چې د ټولو امکانی څيزونو په يو بل اثر د خدای په حکم پورې تړلے دے او د سبب شتون او د بل لپاره د هغې سبب ګرځيدل ټول د خدای د ارادې څرګندونه کوي، هماغه دے چې لمر او سپوږمۍ ته يې ګرمی او رڼا ورکړه او هر کله چې وغواړي دا اثرترې اخستے شي له همدې امله هغه يو او بې مثله پالونکے دے.
لکه څنګه چې په اتم اصل کښې اشاره وشوه قرآن کريم هم د سببيت اصل تائيدوي لکه چې فرمايي: اللَّهُ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَيَبْسُطُهُ فِي السَّمَاء كَيْفَ يَشَاء (روم/۴۸) هغه خدای چې بادونه راليږي نو بادونه وريځې روانې کړي نو څنګه يې چې خوښه وي په آسمان کښې يې خپروي. په دي آيت کښې دا خبره څرګنده ده چې د وريځو په روانيدو کښې بادونه اثر لري.
کله چې مونږ وويل چې خدای د هر څه خالق دے نو د دې مطلب دا نه دے چې د بندګانو بد کارونه هم د خدای په غاړه واچوو ځکه چې دا خو سمه ده چې هيڅ يو څيز د خدای له کلي ارادې نه بغير نه شي پيدا کيدے خو د انسان په هکله به دا ووايو چې انسان يو مختار (اراده لرونکے) موجود

دے او د ارادې خاوند دے[1] او په خپل کار کښې - د خدای په مقرر کړي تقدیر سره- اراده او د ټاکنې حق لري نو د یو کار څرنګوالے د اطاعت یا ګناه له مخې د انسان په ارادې پورې تړلے دے.

په نورو الفاظو سره به دا ووایو چې ټوله هستي (موجودات) مطلقا (بې له څه شرطه) د خدای ده او خدای ته یې نسبت ورکول کیږي او په دې څه بدی نشته، لکه څنګه چې فرمایي: الَّذِي أَحْسَنَ كُلَّ شَيْءٍ خَلَقَهُ (سجده/۷) خو دا د انسان اراده ده چې هغه کار د عقل او شرع مطابق تر سره کوي که نه. د لاڅرګندونې او وضاحت لپاره د انسان دوه کارونه لکه څښلو او خوړلو ته پام وکړئ دا دوه کارونه له یوه اړخه خدای پیدا کړي دي ځکه چې له موجوداتو دي خو له دې لحاظ چې دا دوه د خوراک او څښاک په قالب کښې راغلي دي او انسان په خپلې اختیاری ارادې او په خپلو غړیو سره هغه په دې شکل راوستے دے.

نو باید دا کار له خپل فاعل سره مربوط وي ځکه چې په همدې قالب کښې هیڅکله خدای ته د دغو کارونو نسبت نه شو ورکولے. نو دې ته په پام خدای د وجود بخښونکے او انسان خوړونکے یا څښونکے او د کار کوونکے او دے.(لکه ټیلیویژن چې خدای پیدا کړې وي، بجلی هغه ورکړی وي خو ریموټ کنټرول یې تا ته درکړے وي چې کوم چینل ګورې د هغه سزا یا جزا به درکوي)(مترجم)

---

۱ . د انسان د ارادې په هکله به د عدل په برخه کښې وغږیږو.

## یو دیریشم اصل

د توحید څلورمه مرتبه د جهان او انسان په پاللو او تدبیر کښې د هغه توحید او یووالے دے، ربوی توحید هم په دوه ډوله دے:

۱- تکوینی تدبیر

۲- تشریعی تدبیر

د تشریعی تدبیر په هکله به وروسته په یو جدا اصل کښې وغږیږو خبرې کوو اوس یوازې د تکوینی تدبیر په هکله خبرې کوو.

د تکوینی تدبیر نه مطلب د جهان ساتل او چلول دي یعنی د ټول موجوده جهان ـ چلول د هغې د جوړولو په شان ـ د خدای کار دے سمه ده چې په انسانی کارونو کښې داسې کیدے شي چې یو کس یو شے جوړ کړي او بیا یې بل چلوي له یو کس چې کارخانه جوړه کړي او بل یې چلوي خو د کائناتو او خلقت جوړونکے او چلوونکے (پالونکے) یو خدای دےاو نکته پکښې دا ده چې د جهان تدبیر د هغې د پیدا ښت نه جدا نه دے.

د انبیاؤ تاریخ دا ښیي چې د هغوي امتونو په خالقیت کښې توحید مانه او څه جنګ او بحث یې پکښې نه کاوه خو شرک په دې کښې و چې په ربوبیت او د جهان په چلولو کښې یې بل څوک منل او بیا به یې عبادت هم د هغه کاوه، د ابراهیم خلیل الله (ع) د وخت مشرکانو یوازې یو خدای مانه خو په دې غلطه عقیده وو چې سپوږمۍ، ستوري او لمر د دې جهان

چلوونکي دي او حضرت ابراهيم (ع) هم ورسره په همدې باب مناظره کړې ده.[۱]

د حضرت يوسف (ع) په زمانه کښې چې د حضرت ابراهيم (ع) نه پس وه، هم په ربوبيت کښې شرک وه. دا خيال کيدو چې خداى د جهان د پيدايښت نه پس د هغې چلول او ساتل نورو ته وسپارل، د دا خبره په بند کښې له خپلو ملګرو سره د حضرت يوسف له خبرو څرګنديږي کله چې هغوي ته فرمايي: أَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ اللّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ (يوسف/۳۹) آيابيلا بيل (ډير) خدايان ښه دي که يو خداى چې بريالے دے.

همدا رنګ د قرآن له آيتونو پوهيږو چې زمونږ د پيغمبر(ص) د وخت مشرکانو هم خپل ځينې کارونه او برخليک د خپلو معبودانو په لاس کښې ګاڼه، قرآن پاک فرمايي: وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لِّيَكُونُوا لَهُمْ عِزًّا (مريم / ۸۱) له خدايه پرته يې د ځان لپاره نور خدايان ونيول چې د هغوي د عزت سبب شي.

همدارنګ فرمايي: وَاتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ آلِهَةً لَعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ. لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ (يس/۷۴-۷۵) "بې له خدايه يې نور خدايان نيولي دي چې بريالي شي (دا خدايان) د دوي د مرستې توان نه لري خو دوي د سپايانو په شان (د بتانو) په خدمت کښې دي.

قرأن په ډيرو آيتونو کښې مشرکانو ته خبردارے ورکوي چې تاسو د داسې څيزونو عبادت کوئ چې نه ځان ته څه ګټه ورکولے شي او نه خپلو عبادت کوونکيو ته. له دې قسمه آيتونو پوهيږو چې د پيغمبر(ص) د زمانې

---

۱۷- انعام/۷۲-۷۸

مشرکانو دا عقيده لرله چې دا معبودان ګټه او نقصان رسولے شي[1] او له همدې وجې به يې د بتانو عبادت کاوه، دا آيتونه او دې غوندې نور آيتونه چې د پيغمبر د وخت د مشرکانو د عقيدو څرګندونه کوي دا ښيي چې سره له دې هغوي په خالقيت کښې د توحيد عقيده لرله خو د ځينو هغه څيزونو انکار يې کاوه چې د خداى له ربوبيت سره تړاو لري او خپل معبودان يې په هغو کښې مؤثر ګڼل. قرآن پاک د دې لپاره چې هغوي له عبادته منعې کړي او دغه انګيزه ختمه کړي فرمايي: ستاسو معبودان تر دې ډير ضعيف دي چې داسې کار (پالنه) وکړے شي.

قران په ډيرو آيتونو کښې مشرکانو ته په دې خبره بد وايي چې هغوي له خداى سره مثل او سارے تصور کوي او له هغه سره د خداى په شان مينه کوي وَمِنَ النَّاسِ مَن يَتَّخِذُ مِن دُونِ اللّهِ أَندَاداً يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللّهِ (بقره/١٦٥) ځينې خلکو د خداى لپاره سيالان غوره کړي دي او له هغوي سره د خداى په شان مينه کوي.

قرآن ډيرو ځايونو کښې د خداى سره د سيالى او ساري د ټاکلو غندنه کړې ده[2]، له دغو آيتونو څرګنديږي چې مشرکانو به هغوي ته داسې مقام او مرتبه ورکوله څنګه چې د خداى وي او د همدې فکر له امله به يې له هغوي سره مينه کوله او د هغوي عبادت به يې کاوه او په نور ټکو به يې داسې بيان کړو چې هغوي به بتان په ځينو څيزونو کښې د خداى ((ند)) مثل او همرنګ جوړول او له همدې وجې به يې د هغوي عبادت کاوه.

---

١ . يونس/١٨، فرقان/٥٥.

٢ . بقره/٢١، ابراهيم/٣٠، سبا/٣٣، زمر/٨، فصلت/٩.

قرآن د قیامت په ورځې د مشرکانو له خلې داسې نقلوي چې هغوي به خپل ځان او بتانو ته داسې بد رد وایي: تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (شعراء/۹۷-۹۸) "قسم په خدای چې مونږ په ځرګنده ګمراهۍ کښې وو کله چې مو تاسو (بتان) له خدای سره یو شان ګڼلئ".

هو! د خدای د ربوبیت حد ډیر لوي دے له همدې وجې د پیغمبر (ص) د وخت ځینې مشرکان په ځینو مهمو چارو کښې موحدان وو لکه رزق ورکول، مرګ او ژوند، د جهان ساتل او کلي تدبیر

لکه ځنګه چې فرمایي: قُلْ مَن يَرْزُقُكُم مِّنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ أَمَّن يَمْلِكُ السَّمْعَ والأَبْصَارَ وَمَن يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيَّتَ مِنَ الْحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ الأَمْرَ فَسَيَقُولُونَ اللّهُ فَقُلْ أَفَلاَ تَتَّقُونَ (یونس/۳۱) "ووایه څوک دے چې تاسو ته له آسمانه او ځمکې روزي درکوي، څوک دے چې ستاسو د سترګو او غوږونو مالک دے، څوک دے چې ژوندے له مړي راوباسي او مړے له ژوندي اوباسي؟ څوک دے چې د پیدایښت کارونه تدبیروي؟ نو ټول به وایي: خداي. ووایه: نو ولې نه ویریږئ"؟!

قُل لِّمَنِ الْأَرْضُ وَمَن فِيهَا إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ. سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ. قُلْ مَن رَّبُّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ. سَيَقُولُونَ لِلَّهِ قُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ (مؤمنون/۸۴-۸۷) ووایه:ځمکه اوڅه چې په هغې کښې دي د چا دي که پوهیږئ (نووایئ) نو هغوي به ووایي چې د الله دي، ووایه: نو ولې پند نه اخلئ. ووایه د اوو آسمانونو او د لوي عرش پروردګارڅوک دے؟ نو وایي به: خداي، ووایه: نو ولې نه ویریږئ (تقوی دار نه کیږئ)

خو همدغو کسانو د مریم او یس سورتونو په قول چې مخکښې تیر شول په ځینو ځایونو کښې خپل معبودان د جهان په تقدیر کښې مؤثر ګڼل،

شفاعت یې د هغوي حق ګڼه او ویل به یې چې بې له خدایه د دوي شفاعت هم اثر لري.

نو دې ته په پام سره منافات نه لري چې ځینې کسان په ځینو ځایونو کښې لکه د جهان په تقدیر کښې خدای مؤثر وګڼي خو په نورو ځیزونو لکه شفاعت،ګټه، تاوان، عزت او بخشش، او د ځینو ځیزونو تدبیر د خپلو معبودانو په لاس کښې ګاڼه او د هغوي په تاثیر عقیده ولري.

هو! کله کله به مشرکانو د خپل شرک او بت پرستۍ د صحیح ګڼلو لپاره ویل: زمونږ دا عبادت ځکه دے چې ورسره خدای ته نزدې کیدل غواړو (یعنی مونږ دغه بتان په خپل ژوندون کښې مؤثر نه ګڼو) قرآن مجید د هغوي بهانه داسې بیانوي: مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَا إِلَى اللَّهِ زُلْفَى مونږ د بتانو عبادت یوازې د دې لپاره کوو چې خدای ته ورسره نزدې شو. خدای د آیت په اخر کښې فرمایي: چې د هغوي د عوی دروغ ده،لکه چې فرمایي: إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ (زمر/۳) خدای دروغجن کفرکوونکي ته هدایت نه کوي.

په ربوبیت کښې د توحید معنی دا ده چې د انسان او نړۍ په هر ډول کلي او جزئي تدبیر کښې یوازې خدای مدبر وګڼو او د هغه له اذن او امره پرته د نړۍ او انسان په چلولو کښې هر ډول مستقل تدبیر رد کړو قران له خدایه پرته بل هر ډول مستقل تدبیر ردوي او له دې امله چې تدبیر یوازې په خدای تعالی پورې منحصر ګڼي نو بې له خدایه د بل هر چا عبادت هم مردود او باطل ګڼي.

د ربوي توحيد دليل روښانه دے ځکه چې د انسان او جهان خلقت او پيدايښت له چلولو جدا نه دے نوکه د انسان او جهان خالق يو دے نو مدبر او چلوونکے يې هم يو دے له همدې وجې د جهان په پيدايښت او د هغې په تدبير او چلولو کښې کلک اړيکي موجود دي،کله چې خداى په قرآن کښې د جهان د پيدايښت په هکله خبره کوي نو ځان د جهان مدبر معرفى کوي او فرمايي: اللّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِي لأَجَلٍ مُّسَمًّى يُدَبِّرُ الأَمْرَ ... (رعد/٢) هغه خداى چې آسمان يې بې له داسې ستنو چې وليدے شي جوړ کړ بيا په بادشاهۍ لګيا شو او لمر او سپوږمۍ يې مسخر کړل، هر يو تر ټاکلي شوي وخته حرکت کوي هغه د پېښځون د کارونو مدبر دے....

په يو بل آيت کښې يې د جهان د يو مدبر او چلوونکي د ثابتولو لپاره په جهان کښې د يو نظم د موجوديت دليل راوړےدے.

لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللَّهُ لَفَسَدَتَا (انبياء/٢٢) که په آسمان يا ځمکې کښې بې له يو الله نور خدايان وے نو د دې دوو نظام به فاسد او خراب شوے ؤ.

هو! په ربوبيت کښې د توحيد عقيده له دې خبرې سره څه ټکره نه لري چې ووايو نور مدبران او چلوونکي هم شته چې د خداى په حکم دا جهان چلوي چې د هماغه خداى د طاقت مظهر او څرګندوونکي دي له همدې وجې قرآن سره د دوې چې په ربوبيت کښې يې په توحيد ټينګار کړے دے د نورو مدبرانو شتون هم بيانوي فَالْمُدَبِّرَاتِ أَمْرًا (نازعات/٧٩)

## دوه دیرشم اصل

له تدبیره مطلب د انسان او جهان په ټولو اړخونو کښې ،که د دنیا کارونه وي که د اخرت له تکویني او تشریعي نظره د هغو اداره کول دي. دې ته په پام سره د انسانانو د ټولو کارونو تدبیر یوازې د یو خدای په لاس دے.
اوس د توحید دوهم قسم ته پام وکړئ

په تشریع کښې تدبیر
لکه څنګه چې په تکوینی کارونو کښې یوازې خدای مدبر دے او د جهان پیدا ینبت او د انسان ژوند د هغه په لاس دے همدا رنګ هر هغه کار چې له تشریع سره تعلق لري ټول د خدای په اختیار کښې دي لکه حکومت او حاکمیت، قانون جوړول او مقررول، اطاعت او فرمانبرداري،شفاعت او د ګناه بخښل او نور... او هیڅوک بې د هغه له حکمه په دې کښې د لاس وهنې حق نه لري له همدې وجې په حاکمیت کښې توحید او په تشریع او اطاعت کښې توحید ، په تدبیر کښې د توحید له څانګو ګڼل کیږي.
له همدې وجې که پیغمبر (ص) په مسلمانانو باندې حاکم ټاکلے شوے دے دا ټاکل د خدای په اجازت شوي دي، همدا وجه ده چې د هغه پیروي د خدای د پیروي په شان لازمه ده بلکې د هغه اطاعت بالکل د خدای اطاعت دے، اللّٰه پاک فرمایي: مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللّهَ (نساء/ ۸۰)
چاچې د پیغمبر (ص) پیروي وکړه نو هغه د خدای پیروي وکړه. او همدارنګ فرمایي: وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللّهِ (نساء/۶۴) ما یو

رسول هم نه دے رالیږلے مگر د دې لپاره چې د خدای په حکم د هغه اطاعت او پیروي وشي. نو که د خدای حکم او اجازت نه وے نو پیغمبراکرم (ص) نه حاکم ؤ او نه یې پیروي لازمه وه او په حقیقت کښې د هغه حکومت او اطاعت د خدای د حکومت او اطاعت څرګندونه ده.

دا به هم ووایو چې کله د دندې او حکم روښانول د ربوبیت له شانه دي نو هیڅوک حق نه لري چې بې له خدای له حکمه بل حکم او فیصله وکړي: وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (مائده/۴۴) اوڅوک چې د هغه څه مطابق حکم و نه کړي کوم چې خدای نازل کړي دي نو هم هغوي کافران دي.

همدارنګ شفاعت او د ګناهونو بخښل یوازې د خدای حق دے او د هغه له اجازته پرته هیڅوک شفاعت نه شي کولے، لکه څنګه چې فرمایي: مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ (بقره/۲۵۵) څوک دي چې د هغه په نزد د هغه له اجازته پر ته شفاعت وکړي. همدارنګ فرمایي: وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى (انبیاء/۲۸) دوي شفاعت نه شي کولے مګر د هغه چا لپاره چې خدای وغواړي.

دې ته په پام سره د جنت او بخشش د ټکټ اخستل او خرڅول په دې خیال چې د بې له خدایه بل څوک جنت خرڅ کړي یا د آخرت له عذابه څوک بچ کړي لکه څنګه چې په عیسایانو کښې رواج دے، یو بې بنیاده کار دے لکه چې فرمایي: فَاسْتَغْفَرُواْ لِذُنُوبِهِمْ وَمَن يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ اللّهُ (ال عمران/۱۳۵)

هغه څه ته په پام سره چې وویل شول یو خدای منونکے موحد سړے باید د شریعت په کارونو کښې خپل مرجع او مدبر یوازې خدای وګڼي مګر دا چې خدای پخپله یو کس د مشری او د حکمونو د بیانولو لپاره وټاکي.

## درې ديرشم اصل

په عبادت کښې توحيد په ټولو آسماني دينونو کښې مشترک اصل دے او په بله معنی د پيغمبرانو د راليږلو اصلی هدف داو چې خلکو ته دا اصل ورياد کړي،لکه چې فرمايي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ (نحل/۳۶) په هر امت کښې مو يو پيغمبر مبعوث کړ چې خلکو ته ووايي د خدای عبادت وکړئ او د طاغوت له عبادته ځان وساتئ. ټول مسلمانان په لمانځه کښې د وحدت ګواهی ورکوي او وايي: إِيَّاكَ نَعْبُدُ (الفاتحه/۵)

دې ته په پام سره دا خبره ټول منی چې بايد يوازې د خدای عبادت وشي او د نورو له عبادته ځان وساتلے شي اوڅوک پکښې څه اختلاف نه لري که څه اختلاف دے نو هغه د ځينو کارونو په هکله دے چې آيا د داسې کارونو کول د خدای نه بغير د بل چا عبادت ګڼل کيږي که نه؟ په دې هکله د يوې قطعی فيصلې لپاره بايد د عبادت منطقی تعريف وکړو او هغه عمل چې ورته عبادت ويلې کيږي له هغه عمله چې د عزت او احترام لپاره کيږي،جدا کړو.

په دې کښې څه شک نشته چې د مور پلار. انبياؤ او اولياؤ عبادت حرام او شرک دے او د هغوي احترام او عزت کول لازم او عين توحيد دے وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا (اسراء/۲۳)

اوس بايد دا وګورو چې کوم څيز دے چې هغه عبادت له احترامه جدا کوي او وګورو چې يو عمل په ځينو ځايونو کښې عين توحيد دے (لکه

حضرت أدم (ع) ته د پرښتو سجده یا حضرت یوسف (ع) ته د دروڼو سجده) او په بل ځای کښې هماغه عمل شرک او بت پرستي ده (لکه بتانو ته سجده کول) د دې پوښتنې ځواب له هغې بحثه چې په ربوبیت کښې د توحید په هکله تیر شو روښانیږي.

عبادت او پرستش (چې نورو ته کول یې منع دي) دا دے چې انسان یو موجود ته خضوع وکړي (ټیټ شي) په دې عقیدې سره چې د انسان تقدیر یوازې د هغه په لاس دے یا ځینې برخې یې د هغه موجود په لاس دي او په بله ژبه به دا ووایو چې د جهان او انسان رب او مالک هغه دے.

خو که انسان د یو موجود عزت په دې نیت وکړي چې هغه د خدای نیک بنده دے او د فضیلت او برکت څښتن دے او له انسان سره نیکي کوي نو دې عمل ته عزت او احترام وایي نه عبادت. که حضرت أدم (ع) ته د پرښتو سجده او همدا رنګ حضرت یوسف ته د حضرت یعقوب (ع) او د هغه د زامنو سجده شرک او عبادت نه و نو سب یې همدا ؤ چې دغه خضوع او احترام د بندګۍ په نیت ؤ خو د حضرت أدم (ع) او حضرت یوسف (ع) دا کرامت او بزرګی له خدایه وه نه دا چې هغوي یې خپل رب او پروردګار ګڼل.

دې قاعدې ته په پام سره مونږ د اولیاؤ قبرونو ته د مسلمانانو احترام او عزت په هکله هم قضاوت کولے شو او روښانه خبره ده چې د پیغمبر (ص) د زوکړې په ورځ د هغه مقدس قبر ښکلول او خوشحالي کول هیڅکله شرک نه دے بلکې له هغه سره د محبت څرګندونه ده او په هغه باندې د ربوبیت اعتقاد نه دے چې شرک ترې نه جوړ شي.

همدارنګ ټولې نورې مسئلې چې احترام ګڼل کیږي لکه د خدای د اولیاؤ په شان کښې شعرونه یا مرثیې ویل، د هغوي أثار ساتل، د هغوي په قبرونو باندي ګنبد جوړول او نور...... دا ټول نه شرک دے او نه بدعت. شرک ځکه نه دے چې مطلب یې له هغوي سره مینه او محبت دے نه د هغوي د ربوبیت عقیده، او بدعت ځکه نه دے چې دا عملونه په قرآن او حدیث کښې راغلي دي چې هماغه د پیغمبر (ص) له کورنۍ سره محبت او مودت دے او د هغوي د زوکړې په ورځ خوشحالي یا د شهادت په ورځ غم دواړه له هغوي سره د محبت او مینې څرګندونه ده (د دې وضاحت به د بدعت په برخه کښې راشي)

د دې په مقابل کښې بتانو ته د مشرکانو سجده ځکه شرک دے چې هغوي د بتانو د ربوبیت عقیده لرله، د جهان په ټولو یا ځنیو کارونو کښې هغوي ځان ته خدایان ګڼل او دا ویل چې د انسانانو تقدیر د هغوي په لاس دے مشرکانو لږ تر لږه عزت، ذلت، بخشش او شفاعت د هغوي په لاس ګڼل.

# دریمه برخه

## د عقائدو کلیات

*د خدای پاک صفتونه*

## څلورديرشم اصل

له دې امله چې د خدای ذات نه ختمیدونکې (غیر متناهی) حقیقت دے او مثل او سارے نه لري نو انسان د هغه د ذات حقیقت ته د رسیدو لپاره څه لاره نه لري خو په عین حال کښې هغه د جمال او جلال د صفتونو له لارې پیژندے شي.

له جمالی صفتونو مطلب هغه صفتونه دي چې د خدای د وجود د کمالاتو ښودنه کوي لکه علم، قدرت، ژوند ، اختیار او داسې نور..

له جلالی صفتونو مطلب هغه صفتونه دي چې خدای تر دې لوړ او سپېڅلے دے چې په دغو صفتونو وستایل شي ځکه چې دا صفتونه د نقص او کمي، عجز او ناتوانی څرګندوي. چې خدای پاک له دې څیزونو پاک دے او هیڅ نقص او عیب نه لري لکه بدن لرل، په یو ځای کښې ځای کیدل، کله کله دغو دوه قسمه صفتونو ته ثبوتی اوسلبی صفتونه هم ویل کیږي چې د دواړو مطلب یو دے.

**پنځه دیرشم اصل**

د شناخت او پیژندلو په بحث کښې مو وویل چې د حقیقتونو د پیژندلو لویې لارې درې دي: حس، عقل او وحي. د خدای پاک د جلالی او جمالی صفتونو د پیژندلو لپاره هم له درې لارو ګټه اخستے شو.

۱. د عقل لاره: د جهان او د هغې د پټو رازونو څیړنه چې ټول د خدای مخلوق دي، مونږ په خدای پاک کښې موجودو کمالونو ته رسوي.آیا مونږ دا تصور کولے شو چې د مخلوقاتو دا لویه نړۍ او کاینات بر له عقل، توان

او اختیاره جوړه شوې وي؟ قرآن مجید په دې هکله د عقل د حکم د تائید لپاره د هغو د آیتونو لوستلو ته بلنه ورکوي چې پکښې د تکوین او د جهان د جوړېدو په هکله خبرې دي لکه چې فرمايي: قُلِ انظُرُواْ مَاذَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ (یونس/۱۰۱)

البته د دې جهان په څېړنې او مطالعې کښې عقل دغه لاره د حس په مرستې وهي په دې طریقه چې اول حس یو څیز په حیرانتیا سره درک کړي (یعنی په لاس، سترګو، غوږونو یې حس کړي) بیا عقل داوايي چې دا حیرانوونکي څیزونه د خدای د عظمت او جمال نښانې دي.

۲. د وحی لاره: کله چې قطعي دلیلونو، نبوت او وحی ثابت کړل او روښانه شوه چې کتاب او پیغمبر (ص) ټول د خدای له طرفه دي نو کوم څه چې په کتاب او سنت کښې راغلي دي هغه به خامخا د خدای د صفتونو په پېژندلو کښې مونږ ته لار خلاصوي او په دې دواړو (قرأن او حدیث) کښې خدای پاک په تر ټولو ښو صفتونو یاد شوے دے او د دې په هکله هم دومره کافی ده چې پوه شو چې په قرآن کښې **۱۳۵** نومونه او صفتونه د خدای لپاره ذکر شوي دي چې مهم ترې دا دي: هُوَ اللَّهُ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ. **هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ لَهُ الْأَسْمَاء الْحُسْنَى يُسَبِّحُ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ** (حشر۲۳-۲۴) هغه داسې خدای دے چې د هغه نه بغیر بل خدای نشته، له نقصه پاک، باچا، امن ورکونکے، څارونکے، قدرتمن، لوړ شان والا د خدای ذات پاک دے له هغه څه چې (دوي يې) ورسره شریکوي، هغه پیداکوونکے دے، (له عدم نه وجود ته) راویستونکے دے،ښه اینځورګر

دے، د هغه لپاره نيک نومونه دي څه چې په آسمانونو او ځمکې کښې دي د هغه تسبيح کوي او هغه ښه غالب او ښه حکت والا دے.
په دې ځای کښې بايد يادونه وکړو چې کوم کسان د خدای د صفتونو د پيژندلو په هکله له بحثه ډډه کوي هغه په حقيقت کښې ((معطله)) ټولے دے ځکه چې انسان له هغو لوړو زده کړو او معارفو منعې کوي چې عقل او وحی د هغو طرف ته هدايت کوي، که د دې رنګ معارفو په هکله بحث او خبرې منع دے نو په قرآن کښې د دومره ډيرو صفتونو د راوړلو او په هغو کښې د فکرکولو ضرورت نه و.

## شپږديرشم اصل

له يوه بل نظره د خدای صفتونه په دوه ډله دي:
الف: ذاتی صفتونه؛
ب: فعلی صفتونه؛
له ذاتي صفتونو مطلب هغه صفتونه دي چې که دا صفتونه د خدای لپاره راوړې نو يوازې د خدای د ذات تصور ورته کافي دے يعنې د خدای له ذاته راويستل شوي دي لکه علم ، قدرت او ژوند.
د خدای له فعلی صفتونو مطلب هغه صفتونه دي چې خدای تعالی د هغه فعل ته په پام سره په دغو صفتونو ستايل کيږي، لکه پيدايښت، رزق وکول، بخښونکے او داسې نور چې دا ټول صفتونه د خدای کار ته په پام سره راوړل کيږي.

په بله وينا ترڅو چې خدای څه پیدا کړي نه وي او ترڅو يې چا ته روزي نه وي ورکړې نو خدای ته بالفعل رازق او خالق نه شو ويلې، که څه هم د خلقت، رزق، رحمت او مغفرت قدرت لري.
په أخر کښې یادونه کوو چې د خدای ټول فعلي صفتونه د خدای له ذاته او ذاتی کمالونه راوځي يعنی خدای يو مطلق کمال لري چې د ټولو فعلي کمالونو سرچينه ده.

*د خدای ذاتی صفتونه*

وروستو له دې چې د خدای صفتونه مو په ثبوتی او سلبی، ذاتی او فعلی تقسيم کړل غوره ده چې کومې مهمې مسئلې له دې سره اړه لري هغه دلته بيان کړو:

اووه ويشتم اصل

الف: ازلی او پراخ علم؛

له دې امله چې د خدای علم د هغه عين ذات دے نو ازلی دے او بې نهايته دے خدای تعالی په خپل ذات باندې پر علم سربيره په نورو څيزونو که کلی وي که جزئي؛ له کيدو مخکښې يا وروسته خبر دے. قرآن په دې حقيقت باندې ډير ټينګار کړے د ے لکه چې فرمايي: إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ (عنکبوت/۶۲) او همدا رنګ فرمايي: أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ (ملک/۱۴) د امامانو په حديثونو کښې هم بيا بيا د خدای په ازليت او د

هغه د علم په پراختیا تاکید شوے دے لکه څنګه چې امام صادق (ع) فرمايي: لم يزل عالما بالمكان قبل تكوينه كعلمه به بعد ما كونه و كذالک علمه بجميع الاشياء[1] د يو ځای په پيدا کولو باندې د خدای علم د هغې د پيدايښت نه وړاندې داسې دے لکه د هغې د پيدايښت نه وروسته چې دے او همدارنګ په ټولو څيزونو باندې دهغه علم دے.

## ب: پراخ قدرت؛

د خدای قدرت او توان د خدای د علم په شان ازلي دے او له دې امله چې د خدای عين ذات دے نو د هغه د علم په شان لامحدود دے،قرأن مجيد د خدای د علم په پراختيا تاکيد کوي او فرمايي: وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا (احزاب/۲۷)او همدارنګ فرمايي: وَكَانَ اللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ مُّقْتَدِرًا (کهف/۴۵) امام صادق (ع) فرمايي: الاشياء له سواء علما و قدرة و سلطانا و ملكا و احاطة[2] ټول څيزونه خدای ته برابر دي په هغو باندې د علم، قدرت، حکومت او مالکيت لرلو له نظره.

ياده دې وي چې کوم څيزونه ذاتا محال دي او ذاتا محال څيزونه د خدای له قدرته او واکه بهر دي نو دا د خدای قدرت د نيمګړتيا په وجه نه دي بلکې د ذاتی محال والي له وجې دي چې قابليت او په وجود کښې د راتلو وړتيا نه لري (او په اصطلاح کښې داسې وايي چې نقص په قابل کښې دے) د مولا علی (ع) نه چې کله د محال ذاتی په هکله پوښتنه وشوه نو

۱ . د شيخ صدوق د توحيد کتاب، ۱۳۷مخ، ۱۰باب ،۹حديث.

۲ . د شيخ صدوق د توحيد کتاب، ۹باب، ۱۵حديث.

هغوي داسې وفرمايل: إنّ الله تبارکَ و تعالی لاینسب الی العجز والذی سألتنی لایکون[1] خدای پاک له عجزه پاک دے خو چې تا له ما کومه پوښتنه وکړه هغه کیدنکې نه دے.

## ج: ژوند (حیات)

هغه خدای چې عقل او قدرت لري خامخا ژوندے هم دے ځکه چې تیر دوه صفتونه د ژوندی موجود صفتونه دي او له همدې ځایه د خدای د ژوندي والي دلیلونه هم روښانه کیږي البته د خدای د ژوند صفت د نورو صفتونو غوندې یې له هر عیب او نقصه پاک دے او دا صفت چې په انسان کښې کوم خصوصیت لري لکه ورته د مرګ راتلل په خدای کښې نشته، ځکه چې هغه حی بالذات دے نو ورته مرګ نه شي راتلے او په یو بل یو بیان کله چې هغه کمال مطلق شو نو مرګ چې یو نقص دے د هغه ذات ته نه شي راتللے لکه څنګه چې فرمایي: وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ (فرقان/۵۸)

## د:اراده او اختیار

هغه کار کونکے (فاعل) چې له خپل کاره خبر وي هغه د هغې فاعل په مقابله کښې بشپړ او کامل دے کوم چې له خپل کاره نه وي خبر لکه څنګه چې اراده لرونکے او اختیار لرونکے فاعل (چې که غواړي نو یو کار وکړي او که نه یې غواړي نو نه یې کوي) تر مجبور فاعله کامل او پوره دے.

نوموړې خبرې ته او دې ته په پام سره چې خدای په ټول کائنات کښې تر ټولو بشپړ اوکامل فاعل دے نو باید ووایو چې هغه یو اختیار لرونکے

---

[1] . د شیخ صدوق د کتاب توحید، ۱۳۳مخ، ۹باب، ۹حدیث.

فاعل دے نه دا چې د بل چا له طرفه مجبور وي او که مونږ دا ووايو چې خدای مريد دے نو مطلب مو دا دے چې خدای د اختيار خاوند دے،

هغه اراده چې انسان يې لري او تدريجی څيز او حادث دے د خدای په ذات کښې نشته، له همدې وجې له غلطۍ د خلکو د بچ کيدو لپاره د اهل بيتو (ع) په حديثونو کښې اراده د فعل کول بلل شوي دي، لکه څنګه چې فرمايي: اراده په انسان کښې يو ننيز حالت دے چې ورپسې کار تر سره کيږي خو د خدای اراده د کار کول دي بې له دې چې پکښې داسې څه حالت پيدا شي.[1]

له دې بيانه روښانه شوه چې اراده ـ د اختيار په معنی ـ د خدای له ذاتی صفتونو ده خود ايجاد او پيداکولو په معنی د خدای له فعلی صفتونو ده. لکه څنګه چې فرمايي: إِنَّمَا أَمْرُهُ إِذَا أَرَادَ شَيْئًا أَنْ يَقُولَ لَهُ كُنْ فَيَكُونُ (يس/۸۲) د خدای حکم يوازې دا دے چې هر کله دڅه څيز اراده وکړي ورته ووايي وشه نو هغه وشي.

## د خدای فعلی صفتونه

کله چې د خدای د ذاتی صفتونو له سرټکيو خبر شو نو غوره ده چې د خدای له ځينې فعلی صفتونو هم ځان خبرکړو، مونږ دلته د دريو صفتونو جاج اخلو:

۱- خبری کول؛ (تکلم)

---

[1] -اصول کافی، ۱ټوک، ۱۰۹مخ.۱

۲- ربنتيا ويل؛
۳- حکمت؛

## اته دیرشم اصل

قرأن کريم د خدای لپاره د تکلم او د خبرې کولو صفت راوړے دے،فرمايي: وَكَلَّمَ اللّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا (نساء/۱۶۴) او همدارنګ فرمايي: وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا (شوری۵۱) انسان له خدای سره خبرې نه شي کولے مګر د وحی په وسيله، یا له پردې شاته، يا دا چې ورته استازي راوليږي.

دې ته په پام سره په دې کښې څه شک نشته چې تکلم د خدای له صفتونو څخه يو صفت دے خو خبره د دې د حقيقت په هکله ده او دا چې دا صفت د خدای له ذاتی صفتونو دے که له فعلی صفتونو؟ دا خو روښانه ده چې انسان څنګه خبرې کوي د خدای لپاره د داسې خبرې تصور نه شي کيدے.

کله چې ګورو چې د خدای لپاره دا صفت په قرآن مجيد کښې راغلے دے نو ضروری ده چې د دې د حقيقت د پوهيدلو لپاره هم قرآن ته رجوع وکړو.

قرأن له انسان سره د خدای خبرې کول په دريو قسمونو بيان کړي دي وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا (شوری/۵۱) د انسان لپاره ممکنه نه ده چې له خدای سره خبرې وکړي مګر د دغو دريو طريقو په يوه طريقه:

۱- ((إِلَّا وَحْيًا)) زړه ته الهام

۲- أَوْ مِن وَرَاء حِجَابٍ یا د پردې له شا، داسې چې انسان د خداې خبرې اوري خو هغه نه وینی لکه له حضرت موسی(ع) سره د خدای خبرې همدارنګ وې.

۳- أَوْ یُرْسِلَ رَسُولًا: خپل استازے (پرښته) رالیږي چې د خدای په حکم ورسره خبرې وکړي.

په دې آیت کښې خبرې کول داسې بیان شوي دي چې خدای یوه خبره (کلام) جوړوي کله بې له واسطې او کله د پرښتې په واسطه. په لومړي ډول کښې کله خبره نیغ په نیغه د پیغمبر (ص) په زړه راځی او کله کله د غوږ په لاره زړه ته رسي په دریو واړو طریقو کښې خبره او تکلم د جوړولو په معنی دے او د خدای له فعلی صفتونو دے. دا د تکلم یو تفسیر شو چې د قرآن په مرسته مو بیان کړ.

دویم تفسیر یې دا دے چې خدای ټول موجودات خپل ((کلمات)) ګڼي لکه چې فرمایي: قُل لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمَاتِ رَبِّي لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ أَن تَنفَدَ كَلِمَاتُ رَبِّي وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهِ مَدَدًا (کهف/۱۰۹) ووایه که چرې دریاب د خدای د کلماتو د لیکلو لپاره سیاهي (رنګ) شي نو سمندر به ختم شي وړاندې له دې چې زما د رب کلمې ختمې شي که څه هم د دې غوندې بل دریاب هم ورسره کړو.

په دې آیت کښې د ((کلماتو)) نه مطلب د خدای مخلوقات دي چې بې له خدایه یې بل څوک نه شي شمیرلے، په دې خبره هغه آیت هم ګواه دے چې پکښې حضرت عیسی (ع) د خدای کلمه (کلمة الله) یاد شوے دے،

فرمايي: وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا إِلَى مَرْيَمَ (نساء/۱۷۱) اميرالمؤ منين د خداى د كلمې تفسير په جوړولو او كار كولو سره كړے دے فرمايي: يقول لمن اراد كونه (كن) فيكون لا بصوت يقرع او لا بنداء يسمع، وانما كلامه سبحانه فعل منه انشأه و مثله[1] خداى چې كله غواړي څه شے پيدا كړي نو هغې ته وايي ((وشه)) نو هغه وشي (موجود شي) خو د هغه ويل په لوړ أواز او اوريدونكي غږ سره نه دي، د خداى خبره د هغه هماغه كار دے يو موجود له عدمه وجود ته راولي او هغه ته وجود او عينيت وركړي.

نتيجه دا شوه چې ((د خداى متكلم والے)) كه د خبرو كولو په معنى وي لكه څنګه چې په لومړي آيت كښې ورته اشاره وشوه او كه د خالقيت او پيدايښت په معنى وي په دواړو صورتونو كښې تكلم د خداى له فعلى صفتونو دے نه له ذاتي صفتونو.

## نه ديرشم اصل

له تير بحثه روښانه شوه چې د خداى كلام په دوه ډوله تفسير كيدے شي چې دويم له لومړي نه عام دے نو ورسره دا هم ثابتيږي چې د خداى كلام حادث دے او قديم نه دے ځكه چې د خداى كلام د هغه كار دے او د خداى كار (فعل) حادث دے نو نتيجه دا شوه چې تكلم هم يو حادث څيز دے.

سره د دې چې د خداى كلام حادث دے خو د ادب دخيال ساتلو لپاره او د دې لپاره چې څه غلط فهمي و نه شي، د خداى كلام ته مخلوق نه وايو

---

[1] -نهج البلاغه، ۱۸۴خطبه.

ځکه چې کيدې شي څوک يې په مجعول او جوړ کړي څيز سره تفسير وکړي خو که له دې اړخه يې سترګې پټې کړو نو بې له خدايه هر څه د خدای مخلوق دي سليمان بن جعفر جعفری وايي: له اووم امام موسی بن جعفر (ع) مې پوښتنه وکړه: آيا قرآن مخلوق دے؟ امام (ع) په ځواب کښې وفرمايل: زه وايم چې قرآن د خدای کلام دے[1] دلته د يوې نکتې بيانول ضروری دي هغه دا چې د دريمې پيړۍ په لومړيو کښې په ۲۱۲ هجري سپوږميز کال کښې د قرآن د قديم يا حادث والي مسئله د مسلمانانو تر مينځ رامينځ ته شوه او د مسلمانانو د اختلاف سبب شوه حال دا چې چا د قرآن د قديم والي دعوی کوله هغوي د خپلې دعوی لپاره څه دليل نه لاره ځکه چې دلته څو احتمالونه کيدے شي چې د ځينو له مخې قرآن خامخا قديم او ځينو له مخې خامخا حادث دے.

که له قرآن مطلب همدا کتاب او هغی ټکي وي چې تلاوت يې کيږي يا هغه خبرې چې جبرائيل امين له خدايه راوړې او د پيغمبر (ص) په زړه يې نازلې کړې دي نو دا خو منلې شوې خبره ده چې دا ټول هر څه حادث دي او که مطلب ترې د قرآن آيتونو معنی او هغه کيسې وي چې د پيغمبرانو په هکله بيان شوي دي يا د پيغمبر (ص) جنګونه وي نو دا هم قديمي نه شي کيدے.

او اخر دا چې که د قرآن نه مطلب هغه علم وي چې خدای يې په قرآن او د هغې په معنو لري نو دا منلې شوې خبره ده چې د خدای علم قديم دے او د خدای له ذاتی صفتونو څخه دے خو علم له کلامه پرته بل څيز دے.

---

[1]-د شيخ صدوق د توحيد کتاب، ۲۲۳مخ، د القرأن ماهو باب، حديث.۱

## څلويښتم اصل

د خدای له صفتونو څخه يو «صدق» دے يعنی خدای په خپلو کارونو کښې رښتونے دے او د هغه په خبرو کښې د دروغو څه ځای نشته.
د دې خبرې دليل هم روښانه دے ځکه چې دروغ د جاهلانو، نيازمندانو، عاجزانو او ډارونو عادت دے او خدای له دې ټولو صفتونو پاک دے بلکې داسې به ووايو دروغ ويل قبيح او بد دي او خدای له بدکاره پاک او منزه دے.

## يوڅلويښتم اصل

د خدای له کمالی صفتونو يو صفت حکمت دے لکه څنګه چې حکيم د هغه له نومونو يو نوم دے د خدای د حکيم والي مطلب دا دے چې:

١- د خدای کارونه ډير فکر او کمال لري.

٢- خداي پاک هيڅکله ناروا او عبث کار نه کوي.

د لومړۍ معنی شاهد د خلقت دا حيرانوونکے نظام دے چې د خلقت لويه مانۍ يې په ښه طريقه و درولې ده لکه چې فرمايي: صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ (نمل/٨٨) دهغه خدای خلقت چې هر څه يې ښه محکم پيدا کړي دي.

د دويمې معنی شاهد دا دے چې فرمايي: وَمَا خَلَقْنَا السَّمَاءَ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا بَاطِلًا (ص/۲۷) او مونږ آسمان ځمکه اوڅه چې د دې دواړو تر مينځ دي باطل (عبث) نه دي پيدا کړي.
له دې ورتير خدای مطلق کمال دے نو بايد د هغه فعل هم له کماله ډک وي او له عبث او فصولۍ پاک وي.

## د خدای سلبی صفتونه

## دوه څلويښتم اصل

د خدای د صفتونو په تقسيم کښې مو دا خبره وکړه چې د خدای صفتونه په دوه ډوله دي: جلالی صفتونه او جمالی صفتونه. کوم صفتونه چې جمالی دي هغه ته ثبوتی صفتونه وايي، او کوم څه چې نقص او نيمګړتيا وي هغه ته جلالی يا سلبی صفتونه وايي.
د سلبی صفتونو له بيانولو زمونږ غرض له ټولو نقصونو او عيبونو د خدای پاکول دي له دې امله چې د خدای ذات غنی او مطلق کمال دے نو له هر هغه صفته پاک دے چې پکښې نقص او نيازمندی وي، له همدې وجې اسلامی متکلمان وايي چې خدای پاک بدن نه لري، د څه شي لپاره محل نه دے او په څه کښې حلول نه کوي (ننوځي نه) ځکه چې په دې ټولو صفتونو کښې نقص او نيازمندي شته.

يو له هغې صفتونو چې نيمګړتيا حسابيږي د هغه ليدل کيدل دي د خدای د ليدلو لازمه دا ده چې په هغه کښې د ليدل کيدو لپاره ضروري شرطونه موجود وي لکه:

الف: په يو ځای او يو طرف کښې وي.

ب: په تياره کښې نه وي او رڼا وربانديې وي.

ج: د هغه او د هغه د ليدونکے تر مينځ څه فاصله وي.

دا روښانه خبره وه چې دا شرطونه د يو بدن لرونکي او مادي موجود أثار دي نه د پاک خدای.

له دې ورتير کوم خدای چې ليدے شي هغه له دوو حالتو بهر نه دے يا بايد د هغه ټول بدن وليدے شي يا ځينې بدن. که لومړے قسم وي نو د خدای محيط شونه او په يو ځای محدود شونه لازم راځي او که دويم ډول وي نو د خدای مرکب کيدل او ټوټې او اجزاء لازم راځي او دا دواړه د خدای له شان ليرې څيزونه دي.

څه چې وويل شو په ظاهري سترګو او ظاهري حواسو د خدای د ليدلو په اړه وو او هغه ليدل چې په زړه سره او باطني شهود سره د ايمان د بشپړيدو په سبب کيږي هغه زمونږ له بحثه وتلي، د هغې په امکان کښې څه شک نشته بلکې د خدای د وليانو لپاره د هغې په واقع کيدو کښې شک نشته.

ذعلب يماني، د اميرالمؤمنين على (ع) له يارانو څخه و امام (ع) ته يې عرض وکړ: آيا خپل خدای دې ليدلے دے؟ امام (ع) ورته ځواب ورکړ: زه د هغه څه چې ويې نه وينم عبادت نه کوم بيا يې ترې پوښتنه وکړه: هغه څنګه وينې؟ امام (ع) وفرمايل: لا تُدْرِكُهُ العُيُونُ بِمشاهدةِ الاعيان و لكن تدركه

القلوب بِحقایقِ الایمانِ[1] ظاهري سترګې هغه نه ويني خو زړونه د حقیقی ایمان په رڼا کښې هغه ويني.

له دې ورتیر چې عقل د سر په سترګو د خدای لیدل ناممکن ګڼي، قرآن هم په ډاګه د هغه لیدل منفي کړي دي.

کله چې حضرت موسی (ع) (د بنی اسرائیلو په ټینګار) له خدایه د لیدو سوال کوي نو منفی ځواب اوري، لکه چې فرمايي: رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي (اعراف/۱۴۳) موسی وویل: اے زما خدایه! ماته ځان وښیه چې تاته وګورم، خدای وفرمایل: هیڅ کله مې نه شې لیدے.

کیدے شي دا پوښتنه وشي چې که د خدای لیدل ممکن نه وي نو قرآن ولې فرمايي چې د قیامت په ورځ به د هغه ښه بندګان هغه ته ګوري، لکه چې فرمايي: وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ (قیامت/۲۳/۲۲) په هغه ورځ به خوشحال مخونه خپل رب ته ګوري. ځواب يې دا دے چې په دې آیت کښې له کتلو مطلب دا دے چې د خدای رحمت ته به په تمه وي ځکه چې په همدې آیت کښې دوه دلیلونه په دې خبرې موجود دي:

۱- د کتلو نسبت مخونو ته ورکوي او فرمايي چې خوشحال مخونه به هغه ته ګوري او که مطلب ترې د خدای لیدل وو نو باید داسې یې ویلې چې سترګې به هغه ته ګوري نه مخونه.

۲- په دې سورې کښې د دوو ټولیو په هکله خبرې شوي دي:

---

۱ - نهج البلاغه، ۱۷۹خطبه.

هغه ټولے چې ځلیدونکے او خوشحاله مخونه لري او د هغوي انعام یې دا بیان کړے دے چې "وَ اِلی رَبّها نَاظرة" او بل ټولے هغه چې د هغوي مخونه غمجن دي او د هغوي سزا یې داسې بیان کړې ده تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ (قیامت/۲۵)

د دویمې جملې مطلب روښانه دے او هغه دا چې دې ټولې ته به پته وي چې سخت عذاب د دوي په انتظار دے نو خامخا به د داسې عذاب په انتظار وي او دا چې وایي خدای ته به ګوري دا کنایه ده چې د خدای د رحمت په انتظار به وي د دې لپاره په عربی، فارسی، درې او په پښتو کښې ډیر مثالونه شته لکه د چا انتظار چې کیږی نو داسې وایي زه فلانکي ته سترګې په لار یم.

له دې ورتیر د قرآن د یو آیت په تفسیر کښې باید سړے یوازې و آیت ونه ګوري بلکه نور د دې په شان آیتونه چې د دې مطلب په هکله راغلې وي ټول راټول کړي او له هغو ټولو نه د آیت حقیقی معنی واخلي. د لیدو په هکله هم که چرې دا ټول آیتونه او روایتونه راټول کړې شي نو د اسلام له نظره به د خدای د نه لیدو خبره روښانه شي.

له دې ځایه معلومیږي چې که حضرت موسی (ع) له خدایه د لیدو غوښتنه کوله نو هغه د بنی اسرئیلو د ټینګار په سبب وه چې ویل به یې: لکه څنګه چې د خدای آواز اورې او نقل کوې یې، همدارنګ خدای هم وینه او مونږ ته یې بیان کړه وَإِذْ قُلْتُمْ يَا مُوسَى لَن نُّؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً (بقره/۵۵) يَسْأَلُكَ أَهْلُ الْكِتَابِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَابًا مِّنَ السَّمَاءِ فَقَدْ سَأَلُواْ مُوسَى أَكْبَرَ مِن ذَلِكَ فَقَالُواْ أَرِنَا اللّهِ جَهْرَةً (نساء/۱۵۳) له همدې وجې حضرت موسی (ع) د لیدو

غوښتنه وکړه او منفی ځواب یې واورید لکه چې فرمایي: وَلَمَّا جَاء مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ قَالَ رَبِّ أَرِنِي أَنظُرْ إِلَيْكَ قَالَ لَن تَرَانِي (اعراف/۱۴۳)کله چې حضرت موسی (ع) زمونږ ټاکلي ځای ته راغے او دهغه خدای له هغه سره خبرې وکړې، حضرت موسی (ع) وویل: پروردګاره! ماته ځان وښایه چې تا ووینم، خدای وفرمایل: هیڅ کله به ما نه وینې.

## خبري صفتونه

## درې ځلویښتم اصل

تر دې ځایه چې د خدای کوم صفتونه بیان شول د تکلم نه علاوه نور ټول داسې صفتونه وو چې د هغو په ثابتولو یا نفی کولو کښې عقل قضاوت کاوه خو ځینې صفتونه چې په قرآن او حدیث کښې راغلي دي چې له نقله پرته بل څه دلیل نه لري لکه:

۱- یدالله- إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ (فتح/۱۰) څوک چې له تا سره بیعت کوي په حقیقت کښې خدای سره بیعت کوي له خدای لاس د هغوي د لاس لپاسه دے.

۲- وجه الله- وَلِلّهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (بقره/۱۱۵) ختیځ او لویدیځ د خدای دي نوچې کوم طرف مخ کړئ نو خدای هلته دے، د خدای ذات محیط (رحمت یې) پراخ او هغه ښه پوه دے.

۳- - وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا (هود/۳۷) زما په وړاندې او زما په ښوونې سره کشتۍ (بيړۍ) جوړه کړه.

۴- په عرش استواء(ودريدل)- الرَّحْمَنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَى (طه/۵) خدای په عرش مستقر شو (خداي باچاهي شروع کړه) او دارنګ نور مثالونه.....

دغو صفتونو ته خبری صفتونه ځکه وايي چې دا يوازې په نقل(قرأن او حديث) کښې راغلي دي.

دا خبره د يادونې وړ ده چې د عقل او پوهې له مخې له دې صفتونو عرفی معنی نه شو اخستے ځکه چې له دې نه بدن او تشبيه لازم راځي چې عقل او نقل يې په ناسموالی دلالت کوي. نو د دې د صحيح تفسير لپاره بايد د قرآن ټول آيتونه په نظر کښې وساتو او همدارنګ بايد پوه شو چې د عربی ژبه هم د نورو ژبو غوندې له کنايو ډکه ده او قرآن کريم هم د خلکو په ژبه خبرې کوي اوس درته دا صفتونه بيانوو:

الف: په لومړي آيت کښې فرمايي: څوک چې له تا سره بيعت کوي (يعنی ستا په لاس کښې لاس ږدي) بيشکه چې له خدای سره بيعت کوي (ځکه چې له راستولي سره بيعت، له راستوونکي سره بيعت دے) بيا فرمايي: د خدای لاس د هغوي په لاسونو اوچت دے يعنی د خدای قدرت (توان) د هغوي تر قدرته ډيردے، مطلب يې دا نه دے چې خدای بدن لري او زمونږ په شان دوه لاسونه چې د خدای لاس د ټولو لپاسه وي، د دې خبرې ګواه دا دے چې وايي: فَمَن نَکثَ فانّما ينکثُ علی نفسه و من اوفی بما عاهَدَ الله فسيُوتيه اجراً عظيماً، کوم کس چې بيعت مات کړ خپل نقصان يې کړے دے او څوک چې په بيعت وفادار پاتې شي نو لوي اجر به ولري.

دارنګ خبرې کول چې عهد ماتوونکي يې کوانښلي دي او وفاکوونکيو ته يې د اجر ورکولو وعده کړې ده، د دې ښوونه کوي چې د «يدالله» مطلب د خدای حاکميت او قدرت دے او د «يد» يعنی لاس معنی په ډيرو ژبو کښې له قدرته او توانه کنايه ده لکه چې فرمايي: خدای دې لاس مات مه کړه يا خدای دې زمونږ نه لاسونه لنډ کړه.

ډير مفسران لکه زمخشری په تفسير کشاف **۳۳۵/۳** او طبرسی په مجمع البيان **۱۱۳/۵** کښې فرمايي: دا جمله له دې کنايه ده چې له پيغمبر(ص) سره د هغوي بيعت کول داسې وو لکه له خدای سره بيعت کول او مطلب يې د پيغمبر(ص) د بيعت لوي ښودل دي.

ب: د «وجه الله» مطلب د خدای ذات دے نه دا چې هغه هم د انسان غوندې مخ ولري قرآن کله چې د يو قوم غرقيدل او تباه کيدل څرکندوي نو فرمايي: كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ، بيا ورپسې فرمايي چې د خدای ذات به پاتې وي نو فرمايي: وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (الرحمن**۲۷**) د خدای ذات به چې د جلال او بزرګۍ خاوند دے پاتے وي.

له دې بيانه د تير شوي آيت معنی روښانيږي او مطلب يې دا دے چې خدای په يو خاص ځای کښې نه دے بلکه د هغه وجود په هر څه محيط دے او کوم اړخ ته چې مخ کړو هغه ته مو مخ دے بيا د دې مطلب د ثابتيدو لپاره د خدای دوه صفتونه بيانوي:

۱-واسع- يعنی د خدای ذات پراخ دے او انتها او حد نه لري.

۲-عليم- له هر څه خبر دے.

ج: په دريم آيت کښې خداى د حضرت نوح(ع) کيسه بيانوي چې حضرت نوح (ع) ته د خداى له خوا د کشتۍ د جوړولو حکم وشو کله چې خلکو وليدل چې نوح (ع) له دريابه په ليرې ځاى کښې کشتۍ جوړوي نوپه هغه پورې به يې خندا وکړه نو په دغو حالاتو کښې خداى هغه ته فرمايي کشتۍ جوړه کړه، ته زما د نظر لاندې يې او ما د دې کار تاته وحي کړې ده مطلب يې دا دے چې نوح (ع) د خداى په حکم کشتۍ جوړوله نو خامخا به ورته د خداى حمايت او مرسته حاصله وه او مسخره کوونکيو به هغه ته څه أزار او زيان نه شو رسولے.

د: عرش په عربۍ کښې د تخت په معنى دے او ((استواء)) چې کله له ((على)) سره يو ځاى راشي نو د استقرار (ولاړتيا) او استيلاء (د لوړاوي غوښتلو) په معنى وي، له دې امله چې پخوا به حکومت معمولا له تخته چليده چې باچا به په تخت وخاته او د حکومت کارونه به يې تر سره کول، له همدې وجې دا کنايه د دې ده چې په خلکو به يې لوړاوے پيدا کړ او د کارونو د کولو طاقت به يې پيدا کړ او لکه څنګه چې مخکښې تير شول عقلي او نقلي دليلونه د خداى لپاره په يو ځاى کښې واقع کيدل منع کړي وو نو دا ټول روښانه دليلونه دي چې مونږ ته دا ښيي چې له دارنګ عبارتونو مطلب په تخت باندې کښيناستل نه دي بلکه کنايه ده له دې چې خداى د جهان د کارونو په تدبير اخته شو ځکه چې:

١. په ډيرو آيتونو کښې له دې وړاندې دا خبره ذکر شوې ده چې خداى ځمکه آسمانونه پيدا کړي دي او خداى د خلقت مانۍ بې ستنو ودرولې ده.

۲. په ډېرو آيتونو کښې له دې جملې وروسته د جهان د تدبير او ساتلو په هکله خبرې کوي.

له دې امله چې د استواء خبره د داسې دوو جملو تر مينځ راغله يعنې پيدا ايښت او د جهان تدبير نو په عرش باندې د استواء معنى روښانېږي او هغه دا چې قرآن دا بيانول غواړي چې د ټولو کائناتو په پيدا ايښت سره د دومره لويې جهان د چارو تدبير د خداى له قدرت او ساتنې ونه واته بلکه له خلقت سره بيا هم د تدبير واګي د هغه په لاس کښې دي. مونږ له دې آيتونو څخه يو آيت وړاندې کوو:

إِنَّ رَبَّكُمُ اللّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُدَبِّرُ الأَمْرَ مَا مِن شَفِيعٍ إِلاَّ مِن بَعْدِ إِذْنِهِ (يونس/۳) بې شکه ستاسو پروردګار هغه څوک دے چې آسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو (دورو) کښې پيدا کړل بيا په عرش مستقر شو، د کارونو تدبيرول د هغه په لاس دي هيڅ يو شفاعت کوونکے د هغه له حکمه بغير شفاعت نه کوي.[1]

# څلورمه برخه
# د عقائدو کليات

---

۱ -په دې هکله د سوره رعد۲، سوره سجده۴ او سوره اعراف۱۵۴ آيتونو ته مراجعه وکړئ.

## د خدای عدل

## څلور څلویښتم اصل

ټول مسلمانان خدای عادل ګڼي او عدل د خدای له جمالی صفتونو څخه یو صفت دے او د دې عقیدې بنیاد داده چې قرآن هر ډول ظلم له خدایه منفی کړے دے او د «قائم بالقسط» په توګه یاد شوے دے لکه چې فرمایي: إِنَّ اللّهَ لاَ يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ (نساء/ ۴۰) خدای د یوې ذرې هومره هم ظلم نه کوي او همدارنګ فرمایي: إِنَّ اللّهَ لاَ يَظْلِمُ النَّاسَ شَيْئًا (یونس/۴۴) خدای هیڅکله په خلکو ظلم نه کوي.

او همدارنګ فرمایي: شَهِدَ اللّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُواْ الْعِلْمِ قَآئِمَاً بِالْقِسْطِ (أل عمران/۱۸) خداي، پرښتی او د علم خاوندان ګواهې ورکوي چې بې له هغه بل خدای نشته او هغه قائم بالقسط دے (یعنی په عدالت ولاړ دے) له آیتونو پرته عقل هم د خدای په عدالت باندې روښانه ګواهې ورکوي ځکه چې عدل کمالی صفت دے او ظلم د تیمګړتیا، او د انسان عقل وایي چې خدای ټول کمالونه لري او له هر عیب او نقصه پاک دے هم د ذات په مقام کښې هم د فعل په مقام کښې.

په اصل کښې ظلم له لاندینیو سببونو څخه د یو لامل معلول دے:

۱. کوونکے یې د ظلم له بدۍ خبر نه وي (بې خبري)؛

۲. کوونکے د ظلم له بدۍ خبر وي خو د عدل کولو توان نه لري او یا ظلم ته اړمن وي (عجز و نیاز)؛

۳. کوونکے د ظلم له بدۍ خبر وي او عدل هم کولے شي خو له دې امله چې یو حکیم او پوه کس نه دے نو ځکه د ظلم کولو څخه ډډه نه کوي (جهل او کم عقلي)

څرګنده خبره ده چې له لاندینیو صفتونو څخه یوه صفت هم په خدای کښې نشته له همدې وجې د خدای ټول کارونه عقل سره سم او په عدالت سره دي.

دا دلیل د پیغمبر(ص) په روایت کښې راغلے دے[1] شیخ صدوق داسي روایتوي: یو یهودي پیغمبر(ص) ته راغلو او څو پوښتنې یې وکړې چې یوه پوښتنه ترې همدا د خدای د عدل په هکله وه نو پیغمبر(ص) ورته د ظلم نه کولو سبب داسې بیان کړ: لعلمه بقبحه و استغناءه عنه، خدای پاک کله چې د ګناه په بدۍ خبر دے او ورته اړمن هم نه دے نو هیڅ کله ظلم نه کوي.[2]

عدلیه (د شیعه ؤ) متکلمانوهم د خدای د عدل په بحث کښې همدا دلیل راوړے دے[3]دې آیتونو ته په پام سره ټول مسلمانان د خدای د عدالت په هکله یو نظر لري خو د خدای د عدالت په تفسیر کښې اختلاف لري او له دې لاندینیو دو نظرونو څخه یې یو نظر خپل کړے دے:

---

۱- د شیخ صدوق د توحید کتاب، د ماشومانو باب، د ۱۳ حدیث لاندې (۳۹۷-۳۹۸مخونه)

۱- د جمعې د ورځې په دعا کښې راغلي دي ((انما یجعل من یخاف الفوت و انما یحتاج الظلم الضعیف

۲- کشف المراد، ۳۰۵مخ.

الف: د انسان عقل د کارونو په ښه والي او بد والي پوهیږي، ښه کار د انسان کمال ګڼل کیږي او بد کار د هغه نقص، او خدای پاک چې کله ذاتا د ټولو کمالونو لرونکے دے نو له همدې وجې د هغه کار کامل او خوښ شوے دے.
د دې ټکي یادول ضروري دي چې عقل هیڅ کله د خدای په هکله څه حکم نه ورکوي او دا نه وایې چې خدای باید عادل وي بلکه د عقل کار د خدای د فعل د واقعیت کشف کول دي یعنی کله چې دې ته پام وشی چې خدای کمال مطلق دے او له هر ډول نقصه پاک دے نو دې ته رسو چې د هغه کار به هم د کمال په أخري درجه کښې وي او له نقصه پاک وي؛ او نتیجه دا کیږي چې له خپلو بندګانو سره به په عدالت سره چلند کوي.د قرآن چې کوم آیتونه ذکر شو هغه هم په حقیقت کښې د هغه څه تائید کوي چې انسان ورته په عقل سره رسیږي او دا هماغه مسله ده چې د کلام په علم کښې ورته ((حسن و قبح عقلي)) ویل کیږي او د دې نظریې منونکیو ته ((عدلیه)) ویل کیږي چې تر ټولو وړاندې پکښې امامیه ((شیعه)) دي.
ب: د دې نظریې په مقابله کښې یوه بله نظریه ده چې ادعا لري چې د انسان عقل د کار په ښه والي یا بدوالي نه پوهیږي حتی په کلي حسن او قبح هم نه پوهیږي او د ښو او بدو د پیژندلو یوازینۍ لاره د خدای وحي ده، چې خدای د کوم څیزد کولو حکم وکړي هغه ښه او حسن دے او له کوم څه چې مومنعې کړي هغه بد او قبیح دے. د دې نظریې په اساس که خدای حکم وکړي چې یو بې ګناه سړے دې دوزخ ته واچول شي او یا دې یو ګناهکار جنت ته بوتلل شي، نو دا عدل دے! دا ټولے وایې چې که مونږ خدای ته

عادل وايو نو سبب يې يوازې دا دے چې په آسماني کتاب کښې دا رنګ صفت راغلے دے.

## پینځه څلویښتم اصل

دې ته پام سره چې د عقلی حسن او قبح مسله زمونږ د شیعوؤ د ډیرو عقیدواساس او بنسټ دے نو لاندې په لنډه توګه د دې له ډیرو دلیلونو څخه دوه دلیلونه بیانوو:

الف: هر انسان چې د هر دین منونکے وي او د دنیا په هر ځاي کښې وي د عدل ښه والے او د ظلم بدوالے پیژني او همداراز د وعدې د پوره کولو په ښه والي او د وعدې د خلاف ورزۍ په بدوالي پوهیږي. انسانی تاریخ په دې ګواه دے او تر اوسه داسې نه دي پیدا شوي چې یو عاقل انسان له دې خبرو انکار وکړی.

ب: که چرې داسې ووایو چې عقل د کارونو د حسن او قبح (ښه والي او بدوالي) د پیژندلو توان نه لري او انسان باید د حسن او قبح د پیژندلو لپاره شرعې ته رجوع وکړي نو خامخا باید ومنو چې شرعي حسن و قبح هم د ثابتیدو قابل نه دي. ځکه چې که فرض کړو شارع (خدای) د یو کار له ښه والي یا بد والي مونږ خبر کړي نو مونږ بیا هم له دې خبره د هغې کار حسن و قبح ته نه شو رسیدلې تر څو چې مونږ د هغه په خبرو کښې د دروغو احتمال ورکوو مګر یوازې هغه وخت چې اول مو د دروغو بدوالے پیژندلے

وي او منلې مو وي چې شارع له دې بد صفته پاک دے او دا خبره چې شارع (خدای) دا بد صفت نه لري بې له عقله په بله طریقه نه ثابتیږي.[1]

له دې ورتیره د قرآن له آیتونو ثابتیږي چې د انسان عقل د ځینو څیزونو د حسن او قبح پیژندلو توان لري له همدې وجې خدای پاک د هغوي عقل پرې کړې (فیصلې) ته بلي، لکه چې فرمایي: أَفَنَجْعَلُ الْمُسْلِمِينَ كَالْمُجْرِمِينَ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ (قلم/۳۵-۳۶) آیا اطاعت او پیروي کوونکي (مسلمانان) به مشرکانو سره یو شان گرځوو؟ په تاسو څه شوي دي، څنگه پرې کړه کوئ؟!

او همدارنگ فرمایي: هَلْ جَزَاء الْإِحْسَانِ إِلَّا الْإِحْسَانُ (الرحمن۶۰/) آیا د نیکی بدله بې له نیکی بل څه ده؟

دلته یو پوښتنه کیږي چې د هغې ځواب ضروري گڼو: خدای پاک په قرآن مجید کښې فرمایي: لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ (انبیاء/۲۳) خدای څې کوم کار کوي د هغې په هکله ترې پوښتنه نه کیږي او د هغوي (انسانانو) نه به پوښتنه کیږي، اوس دا پوښتنه کیږي چې خدای ځان له دې نه اوچت گڼي چې پوښتنه ترې وشي له همدې وجې کوم کار چې هغه وکړي نو له هغه څوک پوښتنه نه شي کولے حال دا څې که حسن او قبح عقلي ومنو نو که خدای بیا یو بد کار وکړي نو بیا ترې پوښتنه کیدې شي چې ولې دې دا کار وکړ؟

---

۱- په تجرید الاعتقاد کتاب کښې د محقق طوسي لاندینې عبارت همدا دلیل بیانوي ((ولانقضائهما مطلقا لو ثبتا شرعا)) که د حسن و قبح ثابتولو لار یوازې شرعه وي نو حسن و قبح بیا نه شرعا ثابتیږي او نه عقلا.

ځواب: د دې سبب دا دے چې هغه حکیم دے د حکمت او عقل خاوند دے نو هغه هیڅ کله ناروا او قبیح کار نه کوي او کله چې حکیم شو نو لازمه یې دا ده چې کار به یې حسن او ښه وي نو له همدې وجې له پوښتنې لپاره څه ځای نه پاتې کیږي.

## شپږ څلویښتم اصل

د خدای عدالت په تکوین او تشریع او بدله ورکولو کښې بیلا بیلې څرګندونې (تجلیات) لري، چې لاندې د هر یو تفصیل بیانوو.

الف: تکویني عدل: خدای پاک هر یو موجود ته څه ورکوي چې ورسره ښایې او توان یې لري، او د پیدایښت او مقام ورکولو په وخت د هیچا قابلیت او استعداد نه هیروي. قرآن پاک فرمایې رَبُّنَا الَّذِي أَعْطَى كُلَّ شَيْءٍ خَلْقَهُ ثُمَّ هَدَى (طه/۵۵) زمونږ پروردګار هغه څوک دے چې هر یو څیز (د) وجود (اړتیاوې) یې غه ته ورکړي دي او هغه ته هدایت کوي.

ب: تشریعی عدل: انسان کله چې معنوي کمالاتو ته د رسیدلو توان لري نو خدای هغه د پیغمبرانو او دینی قانونونو د رالیږلو په وسیله هدایتوي او همدارنګ انسان ته د هغه له توانه زیات تکلیف نه ورکوي لکه چې فرمایې: إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (نحل/۹۰) خدای د عدل

کولو او احسان کولو او خپلونو ته(د حق) ورکولو حکم کوي او له فحشاء او ناروا (کارونو) او ظلمه منعې کوي تاسو ته پند درکوي ښایې چې پام ورته وکړئ. کله چې عدل او احسان او خپلوانو سره ښیګړه کول د انسان لپاره د کمال سبب کیږي نو دا کارونه یې واجب کړي دي او هغه نور درې کارونه چې د انسان د غورځیدو سبب کیږي نو له هغې یې نهي کړي ده. همدارنګ په دې هکله چې د خدای تکلیف ورکول د انسان له توانه زیات نه وي فرمایي: وَلَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا (مؤمنون/۶۲) خدای یو انسان ته هم له هغه توانه زیات تکلیف نه ورکوي.

ج: د بدلې ورکولوعدل: خدای هیڅ کله مؤمن اوکافر یا ښه او بد سړي ته د بدلې له نظریه یو شان نه ګوري . له همدې وجې ترلا څو چې یې خپل پیغام دپیغمبرانو په وسیله انسانانو ته نه وي رسولے او اتمام حجت یې پرې نه وي کړے هیڅ کله هغوي ته سزا نه ورکوي لکه چې فرمایي: مَا كُنَّا مُعَذِّبِينَ حَتَّى نَبْعَثَ رَسُولاً(اسراء۱۵) تر څو چې مو پیغمبر نه وي لیږلے هیڅ کله عذاب نه ورکوو.

او همدارنګ فرمایي: وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا (انبیاء/۴۷) د قیامت په ورځې به د عدل تلې لږوو نو هیچا سره به هیڅ زیاتي نه کیږي.

## اووه څلویښتم اصل

خدای انسان پیدا کو او هغه د پیداکیدو څه مقصد شتهد انسانانو د پیداکیدو مطلب او مقصد هماغه انسانی کمال ته رسیدل دي چې د خدای د عبادت او بندګۍ په سبب دې ځای ته راورسیږي. کله چې دې مقصد ته رسیدل ځینې مقدماتو ته اړمن وي چې خدای یې باید وکړي نو خدای ضرور هغه مقدمات پوره کوي او که داسې نه وي نو د انسان پیدا ایښت بې مقصده پاتې کیږي. له همدې وجې یې د انسانانو د هدایت لپاره پیغمبران رالیږلي دي او خپلې نښانې او معجزې یې هغوي ته ورکړي دي همدارنګ ښه کارونو او اطاعت ته د بللو لپاره او له بدو منعې کولو لپاره یې په خپل پیغام (قرأن او حدیث) کښې ښې یا بدې وعدې ورکوي دي.

کوم څه چې بیان شول دا د عدلیه په کلام کښې د ((لطف د قاعدې)) یو لنډیزؤچې دا قاعده په خپله د حسن او قبح د قاعدې لاندې ګڼلې شوې ده چې د ډیرو اعتقادي مسلو بنیاد او ښټ دے.

## قضا او قدر

## اته څلویښتم اصل

قضا او قدر یوه منل شوې اسلامي عقیده ده چې په کتاب او سنت کښې راغلې ده او عقلی دلیلونه یې هم تائیدوي.

د قضا او قدر په هکله أیت نه ډیر دي چې لاندې ترې ځینو ته اشاره کوو:
قرأن د قدر په هکله فرمایي: إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (قمر/۴۹) مونږ هر یو ځیز په اندازه پیدا کړ. همدارنګ فرمایي: وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ عِندَنَا خَزَائِنُهُ وَمَا نُنَزِّلُهُ إِلاَّ بِقَدَرٍ مَّعْلُومٍ (حجر/۲۱) هیڅ یو ځیز داسې نشته چې له مونږ سره یې خزانې نه وي او مونږ هغه نه درلیږو مګر په اندازه.
د قضا په هکله هم فرمایې وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ (بقره/۱۱۷) کله چې د یو کار د کولو پریکنده اراده وکړي نو بس دومره ورته وایې: ((وشه)) نو هغه وشي.
او همدارنګ فرمایې: هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ ثُمَّ قَضَى أَجَلاً (انعام/۲) خدای هغه ذات دے چې تاسو یې له خاورو پیدا کړئ بیا یې یو وخت وټاکه (مقرر کړ)
دغو آیتونو ته په پام سره او همدارنګ هغو ډیرو روایتونو ته په پام سره چې په دې هکله موجود دي هیڅ یو مسلمان د قضا او قدر انکار نه شی کولے، که څه هم د مسلې له تفصیله او جزئیاتو خبریدل لازمی نه دي او قاعده دا ده چې د کومو کسانو ذهن په دې مسلې د پوهیدلو لپاره تیار نه وي ښه دا ده چې دغو مسئلو ته داخل نه شي ځکه چې کیدے شي په خپلې عقیدې کښې تردید یا خطا وکړي او ګمراه شي له همدې وجې امیرالمؤمنین علی (ع) دې ټولي ته فرمایي: طریق مظلم فلا تسلکوه، و بحر عمیق فلا تلجوه، و سرالله فلا تتکلفوه [1] دا یوه تیاره لاره ده نو په

---

۱- نهج البلاغه، کلمات قصار/۲۸۷.

هغې مه ځئ، ژور دریاب دے نو مه ورګډیږئ، او دا د خدای راز دے نو په دې باندې د پوهیدو لپاره ځان په تکلیف کښې مه اچوئ.
البته د امام (ع) خبرې د هغو کسانو لپاره دي چې په داسې رنګ بحثونو د پوهیدو توان نه لري، او کیدے شي داسې بحثونه د هغوي ګمراهۍ سبب شي او دې مطلب شاهد دا دے چې هغه حضرت پخپله په نورو ځایونو کښې د قضا او قدر په هکله خبرې کړې دي [1]له همدې وجې مونږ هم د خپلې پوهې تر حده د قرآن او روایتونو په مرستې او د عقل په مټ د دغو بحثونو څه نه څه تفصیل بیانوو:

## نه ځلویښتم اصل

((قدر)) په لغت کښې د اندازې او مقدار په معنی دے او ((قضا)) د قطعیت او د ارومرو په معنی ده[2] امام رضا (ع) د قضا او قدر په تفسیر کښې داسې فرمایې: د قدر معنی د یو څیز د باقی پاتې کیدو او فناکیدو له مخې د یو څیز اندازه لګول دي او قضا د یو څیز قطعي والے او د تحقق موندل او کیدل دي.[3] کله چې مونږ ته د دې دوو لغوي معنی روښانه شوه او پوه شو

---

۲- د شیخ صدوق د توحید کتاب، ۲۰باب ،۲۸حدیث. نهج البلاغه، کلمات قصار/۸۸.
۳- مقاییس اللغه،۵ټوک، ۲۳مخ او ۹۳مخ. مفردات راغب،د قضا او قدر په معنی کښې.
۳- اصول کافی، لومړی ټوک/۱۵۸مخ.

چې یو شیز اندازه کولو ته قدر او قطعیت ته قضا وایي نو اوس یې اصطلاحی معنی بیانوو.

الف: د قدر تفسیر:

له دې امله چې هر یو مخلوق ممکن الوجود دے نو خپل ځانته یوه خاصه اندازه او حد لري مثلا د جماداتو یوه خپله اندازه ده او د نباتاتو او حیواناتو خپله او له دې امله چې د هر یو شیز اندازه شوے وجود د خدای مخلوق دے نو تقدیر به یې هم د خدای تقدیر وي او ضمنا دا مقدار او اندازه له دې امله چې د خدای کار دے نو دې ته ((تقدیر او قدر فعلي)) ویل کیږي او له دې نظره چې دا ټول خدای ته له پیدا کولو وړاندې معلوم وو او خدای ترې خبرؤ نو ورته ((تقدیر علمی))ویل کیږي. په حقیقت کښې په قدر عقیده لرل د شیزونو د ځانګړتیاو له نظره د خدای په خالقیت عقیده لرل دي او دا فعلی تقدیر د خدای په ازلی علم تکیه لري نو نتیجه دا شوه چې په علمی قدر عقیده په حقیقت کښې د خدای په ازلی علم عقیده لرل دي.

ب: د قضا تفسیر:

لکه څنګه چې مو وویل ((قضا)) د یو شیز ارومرو په وجود کښې راتلل دي نو مسلما د علت او معلول د نظام په اساس د هر یو شیز قطعیت موندل او کیدل د هغه د علت تام (بشپړ علت) په تحقیق او راتللو پورې تړلې دي. او کله چې د علت او معلول نظام تر خدای رسي نو په حقیقت کښې د هر یو شیز (قطعیت) او وجود د خدای په ارادې او قدرت تکیه لري. دا د فعل په

مقام کښې د خدای قضا ده او دې په هکله د خدای ازلی علم د خدای ذاتی قضا ده.

هغه څه چې وویل شول د تکوینی قضا او قدر په هکله وو که ذاتی وي که فعلی. کله کله قضا او قدر د تشریع په هکله وي په دې معنا چې دا تشریع او د خدای حکمونه د خدای قضا «پرېکړه» ده او دې حالت لکه واجب، فرض، حرام او نور دا ټول د خدای تشریعی تقدیر دے. له امیرالمؤمنین علی (ع) څخه چې کله د قضا او قدر د حقیقت په هکله پوښتنه وشوه نو هغوي د قضا او قدر دا مرحله داسې یاده کړه: د قضا او قدر نه مطلب د خدای د ااطاعت حکم کول او له ګناهانو یې منعې کول او انسانانو ته د ښو کارونو د کولو او د بدوکارونو د نه کولو توان ورکول او ورته له خدای سره د نزدې کیدو توفیق ورکول او ګناهکار په خپل حال پرېښودل او ښه او بده وعده ورکول دي. دا زمونږ په کارونو کښې د خدای قضا او قدر دے.[1] که دلته مونږ ګورو چې امام علی (ع) د یو پوښتنه کوونکي په ځواب کښې یوازې تشریعی قضا او قدر بیان کړے دے نو کیدے شي د پوښتنه کوونکے حال ته یې کتلې وي او حاضرو کسانو ته یې کتلې وي ځکه چې په هغو ورځو کښې به د تکوینی قضا او قدر نه مطلب دا اخستے شو چې د انسان ټول کارونه د قضا او قدر په لاس دي یعنی انسان مجبور دے او څه اختیار نه لري او د دې خبرې شاهد دا دے چې په أخر کښې امام (ع) فرمایې: و اما غیرذالک فلا تظنه فان الظن له محبط للاعمال او له دې

---

۱- د شیخ صدوق د توحید کتاب ۳۸۰مخ.

پرته بل ګمان مه کوه ځکه چې داسې ګمان د عملونو د خرابيدو سبب کيږي. مطلب يې دا دے چې د انسان د کارونو ارزښت د هغه د اختيار په سبب دے او که چرې انسان مجبوره وي نو د هغه کارونه څه ارزښت نه لري.

نتيجه دا شوه څه قضا او قدر کله تکويني دے او کله تشريعی او دواړه ډوله يې دوه مرحلې لري: ۱- ذاتی (علمي) ۲- فعلی.

## پنځوسم اصل

قضا او قدر د انسان له آزادۍ او اختيار سره څه ټکره او تضاد نه لري ځکه چې د انسان په هکله د خدای تقدير د هغه خاص فاعليت دے او هغه دا چې هغه يو اختيار لرونکے او د خپل کار په کولو او نه کولو کښې آزاد انسان دے د خدای قضا د انسان له ارادې او اختياره وروسته د هغې کار حتميت (قطعيت او خامخا کيدل) دي.

په نورو ټکو سره به دا ووايو چې د انسان پيدايښت د هغه له آزادۍ او اختيار سره اخښل شوے او اندازه شوے دے او د خدای قضا همدا ده چې کله انسان په خپل اختيار سره د يو کار د کولو اسباب برابر کړي نو د خدای تنفيذ پکښې له دې لارې ترسره کيږي.

کوم کسان چې د انسان آزادۍ او اختيار منکر دي هغوي په عمل کښې دا خبره منی چې انسان آزاد دے -او له همدې وجې-د ټولنيزو مدني او

جزايي قانونونو خيال ساتي او د زوررو په هکله د عدالت د جاري کيدو غوښتونکے وي.
ځيني ګناهکارو خپل غلط کارونه د خداى په تقدير پسې تړلي دي او وايي چه دا خداى خوښه او تقدير و او له مونږ سره بل څه لار نه وه حال دا چې عقل او وحي دا خبره نه غندي ځکه چې عقل وايي چې انسان خپله لاره په خپله خوښوي او شرعه هم دا وايي چې د انسان شکرګذار يا کفران کوونکے کيدلے شي لکه چې فرمايي: إِنَّا هَدَيْنَاهُ السَّبِيلَ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا (انسان/۳)
د پيغمبر (ص) په زمانه کښې هم د بت پرستانو يو ټولے ؤ چې ويل به يې زمونږ دا ګمراهي د خداى په مشيت او خوښه ده او که خداى نه غوښتے نو مونږ به بت پرستان نه وو قرآن کريم د هغوي خبره داسې بيانوي سَيَقُولُ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ لَوْ شَاء اللّهُ مَا أَشْرَكْنَا وَلاَ آبَاؤُنَا وَلاَ حَرَّمْنَا مِن شَيْءٍ (انعام/۱۴۸) ډير زر به مشرکان ووايي: ((که خداى غوښتلے نو مونږ او پلاران به مو مشرکان نه کيدل او څه به مو نه حرامول)) بيا د هغوي په ځواب کښې فرمايې: كَذَلِكَ كَذَّبَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِم حَتَّى ذَاقُواْ بَأْسَنَا له هغو نه وړاندې خلکو هم په خداى پورې داسې دروغ وتړل تر دې چې زمونږ عذاب يې وڅکه.
په أخر کښې يادونه کوو چې په نړۍ کښې د خداى کلي سنتونه چې کله د انسان د سعادت او کله د هغه د بدمرغۍ سبب کيږي د خداى د قضا او قدر نښانې دي او دا انسان دے چې په خپله خوښه يوه لاره غوره کوي. د دې په هکله مونږ په تير شوي بحث، چې په اسلامي نړۍ ليد کښې د انسان په هکله و، خبرې کړي دي.

## انسان او اختیار

### یو پنځوسم اصل

د انسان اختیار او آزادي یو منل شوے او روښانه حقیقت دے او انسان په بیلا بیلو طریقو هغه معلومولے شي. چې لاندې څو طریقو ته اشاره کوو.

الف: دانسان ضمیر او عقل په دې خبره ګواهی ورکوي چې هغه په خپله فیصله او پرې کړه کښې آزاد دے او د کولو یا نه کولو څخه یو طرف اختیارولے شي، او که څوک په دې څرګند درک کښې شک لري نو باید هیڅ یو اصل قبول نه کړي.

ب: د انسانانو په ټولنه کښې۔ که دینی وي که غیر دینی۔ د مختلفو کسانو ستاینه یا غندنه د دې نښه ده چې ستایونکے یا غندوونکے کس هغه کارکوونکے (فاعل) په خپل کار کښې د اختیار خاوند ګڼي.

ج: که مونږ دا ووایو چې هیڅ قسم اختیار نه لرو نو بیا خو شریعت هم بې فائدې او عبث دے ځکه چې کله د انسان لپاره یوه لاره مقرره ده او هغه هم مجبور دے چې په هغې لارې لاړ شي او د نوک هومره اختلاف ترې هم نه شي کولے نو د امر او نهی او ښې او بدې وعدې ورکولو څه معنی او دلیل نه پاتې کیږي.

د: په تاریخ کښې مونږ ګورو چې داسې انسانان شته چې د خلکو په اصلاح او هدایت پسې وو او په دې لارې کښې یې پروګرامونه جوړې کړي

دي او نتيجه يې هم تر لاسه کړې ده. نو دا بديهي خبره ده چې که انسان مجبور وي نو داسې به نه وه. ځکه چې که انسان مجبور وي نو بيا خو دې هلو ځلو څه ګټه نه لرله.

دا ټلو دليلونه د انسان مختار والې يو داسې حقيقت جوړوي چې څوک ترې انکار نه شي کولی. خو د آزادۍ له اصله دا نتيجه نه شو اخستې چې انسان په خپل حال پرېښودل شوی دی او خدای پاک د هغه په کار کښې څه اثر نه لري، ځکه چې دا د تفويض عقيده خدای ته د انسان د هميشنۍ اړتيا له اصل سره ټکره لري او همدارنګ د خدای د خالقيت او قدرت حدونه رالنډوي داسې نه ده بلکې حقيقت په بل ډول دی چې په راتلونکي اصل کښې بيانيږي.

## دوه پنځوسم اصل

د پيغمبر (ص) له وفاته وروسته يو له هغې مسئلو څخه چې په مسلمانانو کښې رامينځ ته شوه د انسان له لاسه د يو کار د کيدو څرګندوالی ؤ ځينو خلکو د جبر عقيده خپره کړه او انسان يې يو مجبور فاعل وګڼه او ځينو نورو د دې په مقابله کښې انسان يو آزاد پرېښودل شوی موجود وګڼه چې د هغه کارونه له خدای سره څه اړه نه لري، په حقيقت کښې دواړو ډلو دا فکر کاوه چې کار يا بايد انسان ته منسوب شي يا خدای ته؛ يا بايد پکښې خدای اثر ولري او يا انسان.

حال دا چې دلته یوه دریمه لار هم شته چې زمونږ پاکو امامانو هغې ته اشاره کړې ده. امام صادق (ع) فرمایي: لا جبر و لا تفویض ولکن امر بین الامرین (نه جبر شته او نه تفویض په حال پرېښودل بلکې د دې دوو تر مینځ یو بل څیز دے) یو کار په عین حال کښې چې انسان ته یې نسبت ورکوو خدای ته هم نسبت لري ځکه چې انسان کله یو کار کوي نو دا انسان او د ده قدرت پخپله د خدای مخلوق دے نو څنګه کېدے شي چې کار یې له خدایه جدا او بېل وي؟!

د انسان د کار د حقیقت په هکله د اهلبیتو (ع) طریقه هماغه ده چې کومه په قرآن کښې راغلې ده. دا آسمانی کتاب په عین حال کښې چې د انسان کار یې ګڼي خدای ته یې هم نسبت ورکوي. یعنی د دواړو کار کېدے شي لکه څرنګه چې فرمایي: وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ وَلَكِنَّ اللَّهَ رَمَى (انفال/۱۷) کله چې تا غشے اوویشت نو دا تا ونه ویشت بلکه خدای وویشت. د دې مطلب دا دے چې کله پیغمبر (ص) یو کار وکړ نو هغه یوازې په خپل طاقت دا کار و نه کړ بلکه د خدای په قدرت یې دغه کار وکړ. نو له دې وجې ورته د دواړو نسبت ورکول صحیح دي.

په نورو ټکو به دا ووایو چې د خدای طاقت په هر څه کښې موجود دے لکه څنګه چې د برېښنا په تارونو کښې له برېښنا کوټه برېښنا راځي خو بټن یې مونږ وهو نو بلب بلیږي. نو دا خبره صحیح ده چې ووایو دا بلب مونږ ولګاوه او دا هم صحیح ده چې وویل شي د دې بلب رڼا له برېښنا ده.

## درې پنځوسم اصل

مونږ، سره د دې چې د انسان د اختیار او آزادۍ عقیده لرو دا عقیده هم لرو چې خدای له ازله زمونږ له کارونه خبرۀ، او دې دوو عقیدو تر مینځ څه ټکره نشته.کوم کسان چې دا دواړه د جمع کیدو وړنه ګڼي هغوي باید دې ته پام وکړي چې د خدای په ازلی علم داسې وو چې دا کار به د انسان په لاس (د هغه په اختیار) تر سره کیږي نو داسې علم د انسان له آزادۍ او اختیار سره څه ټکره نه لري.

په نورو ټکو سره به دا ووایو چې د خدای ازلي علم لکه څنګه چې د انسان د کار په هکله دے همدارنګ له انسان نه د هغه کار د کیدو په څرنګوالي هم وے چې دا کار به دا رنګ په خپل اختیار کوي.دا رنګ ازلي علم نه یوازې د انسان له اختیار سره ټکره نه لري بلکه هغې ته ټینګتیا ورکوي. ځکه که یو کار د انسان په اختیار سره و نه کړے شي، نو د خدای علم به پوره نه شي ځکه چې په ازلي علم کښې دا وو چې دا کار به د فلانی انسان په لاس د هغه په اختیار کیږي نه بې اختیاره. نو که په ازلي علم کښې دا وي چې د یو انسان کار د هغه په اختیار سره د هغه په لاس تر سره شي یعنی انسان دې په پوره آزادۍ سره دا عمل وکړي نو په دې وخت کښې ضروری ده چې په همدغو خصوصیاتو او بیلګو سره دا کار تر سره شي نه په اضطرار او د مجبورۍ په حالت سره.

پینځمه برخه

د عقائدو کلیات

۴

## عام نبوت

د نبوت د لازم والي دلیلونه

## څلور پنځوسم اصل

حکیم خدای د انسانانو د هدایت او لارښونې لپاره لوړ رتبه انسانان رالیږلي دي او هغوي ته یې د انسانانو لپاره خپل پیغام ورکړے دے. دا هماغه پیغمبران او رسولان دي چې بندګانو ته د خدای د فیض او رحمت د رسیدلو وسیله دي او دا فیض له هماغه لومړۍ ورځې چې انسان د هغې ورتیا پیدا کړې ده د خدای له خوا نازل شوے دے او د اسلام د پیغمبر(ص) تر وخته هم جاري ؤ او باید په دې خبره پوه شو چې د هر پیغمبر (ص) دین د هغه وخت تر ټولو دینونو کامل او پوره دین و. او که چرې دا فیض او رحمت جاري نه وے نو انسان به هیڅ کله کمال ته نه و رسیدلے.

کله چې د انسان خلقت د حکیم خدای کار دے نو د هغه خلقت به ضرور څه هدف او مقصد لري. او کله چې ګورو د انسان په وجود کښې تر ځناورو یو

شے زيات دے، چې هغه عقل او پوهه ده نو بايد د هغه د پيدايښت غرض او مقصد هم معقول او له عقل سره سم څيز وي.

له بل طرفه، که څه هم د انسان عقل د هغه د تکامل او بشپړتيا په لاره کښې اغيزمن او ضروري دے خو کافی نه دے او که انسان په تکامل او سعادت کښې يوازې په عقل بسنه وشي نو هيڅ کله په پوره توګه تکامل ته نه رسيږي. د مثال په توګه د انسان مبداء (پيل) او معاد (خاتمه) يو له هغه لويو مسلو څخه ده چې د انسان عقل يې بوښت کړے دے. انسان غواړي چې پوه شي چې له کومه راغلے دے؟ او چرته به ځي؟ خو يوازې عقل د دې خبرې ځواب ته نه رسيږي او د دې خبرې دليل دا دے چې انسان سره له دومره ترقۍ بيا هم ډير انسانان بت پرستان دي او د بتانو عبادت کوي.

د انسان عقل او علم يوازې په دې مسله کښې نه بلکه په داسې ډيرو مسئلو کښې چې په ژوند کښې ورته اړمن دے ښکيل دے او تر اوسه يې ځان ته سمه لار نه ده ټاکلې. په اقتصادی، اخلاقی او کورنيو چارو کښې دانسانانو بيلا بيلې ليدتوګې د دې ښانه ده چې د انسان عقل په صحيح توګه په دغو مسئلو نه دے پوهيدلے او همدا سبب دے چې ګورو متعارض او په خپلو کښې متضاد دينونه او مذهبدنه پيدا شوي دي.

پاسنی ټکي ته په پام سره صحيح عقل دا حکم کوي چې د خدای د حکمت په اساس بايدد خدای له لورې رهبران او تربيت کوونکي راشي چې انسانانو ته د ژوند کولو صحيح لاره وښيي.

کوم کسان چې دا فکر کوي چې عقلی لارښوونی د آسمانی لارښونو ځای نیولے شي هغوي باید دو خبرو ته پام وکړي:

۱. د انسان عقل د انسان په پوره پیژندلو او د موجوداتو له رازونو او د هغه د تیر او راتلونکي وخت له حالتونو ناخبره او ناقص دے، حال دا چې دې قاعدې ته په پام سره یو جوړونکے له خپل جوړ کړي څیزه پوره پوره خبر وي، د انسان پیداکوونکے هم د هغه له رازونو او حالتونو پوره پوره خبر دے او په قرآن کښې دې دلیل ته داسې اشاره کوي: أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ (ملک/۱۴) آیا هغه چا چې پیداکړے دے هغه (له خپل پیدائښته) نه دے خبر! او هغه ځیراو ښه خبر دے.

۲. انسان د حب ذات (هر څه د ځان لپاره د خوښولو) په سبب بی خبره یا په شعوري ډول، تل پخپله ګټه پسې وي او په پلانونو کښې له خپلو فردي یا ډله ایزو ګټو نه شي تیریدلے نو نتیجه به دا وي چې د انسانانو پروګرام به هیڅ کله پوره او جامع نه وي خو د پیغمبرانو پروګرام له دې امله چې د خدای له طرفه دے نو نیمګرتیا پکښې نشته.

دې دوو خبرو ته په پام سره باید ووایو چې انسان هیڅ کله له الهي لارښوونو او د پیغمبرانو له پروګرامونو بې نیازه نه دے او نه به وي.

## د قران او د نبوت اهداف

## پينځه پنځوسم اصل

په تير شوي اصل کښې د عقل په حکم د پيغمبرانو د راليږلو په لازموالي پوه شو اوس د قرآن او روايتونو له نظره د نبوت لازموالے او د هغې موخې جاجوکه څه هم قرآن هم دې مسئلې ته د يوې عقلی څيړنې په نظر کتلي دي. قرأن د پيغمبرانو د راليږلو لانديني مقصدونه بيان کړي دي:

۱- د توحيد بنسټونو مزبوتيا او د دې په مقابل کښې د هر رنګ انحراف او بے لارۍ مخ نيوے کول، لکه چې فرمايي: وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولاً أَنِ اعْبُدُواْ اللّهَ وَاجْتَنِبُواْ الطَّاغُوتَ (نحل/۳۶) هر امت ته مو يو پيغمبر وليږه چې هغوي د خداى عبادت وکړي او له طاغوته ځان وساتي. د دې مقصد لپاره پيغمبران تل له مشرکانو سره په جنګ وو او په دې لاره کښې يې ډير کړاوونه زغملي دي.

اميرالمؤمنين (ع) د پيغمبرانو د راليږلو د مقصد په هکله فرمايي: و ليعقل العباد عن ربهم ما جهلوه، فيعرفوه بربوبيته بعد ما انكروا، و يوحدوه بالالوهية بعد ما عندوا.[۱] پيغمبران يې راوليږل د دې لپاره چې بندګان يې د خداى د توحيد او د هغه د صفتونو په هکله په کوم څه نه پوهيږي، پوه يې کړي او وروسته له دې چې د هغه د ربوبيت او يووالي انکار يې کړی و او دښمني يې ورسره کوله يو ځل بيا پرې ايمان راوړي.

---

۱- نهج البلاغه، ۱۴۳خطبه

۲- خلکو ته د خدای پیغام او تعلیمات ښودل او د تزکیې لاره ښودل لکه چې فرمایي: هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ (جمعه/۲) هغه هغه څوک دے چې په امي خلکو کښې يې پیغمبر راولیږه چې د خدای آیتونه ورته تلاوت کړی او له اخلاقی بدیو يې پاک کړي او هغوي ته کتاب او حکمت وښیي.

۳- په انسانی ټولنه کښې عدالت راوستل لکه چې فرمایي: لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ (حدید/۲۵)مونږ پیغمبران په روښانه دلیلونو سره ولیږل او له هغوي سره مو کتاب او میزان (تله) نازل کړل د دې لپاره چې خلک عدالت ته راولي.

او دا منلې شوې خبره ده چې عدالت هاله راځي چې انسان په بیلا بیلو اړخونو کښې عدالت وپیژني او تر یو الهی حکومت لاندې هغه پلے کړي.

٤- د اختلاف په وخت کښې فیصله (پرې کړه)، لکه چې فرمایي: كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللّهُ النَّبِيِّينَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُواْ فِيهِ (بقره۲۱۳) خلک ټول یو امت وو (تر دې چې پکښې اختلاف راغلو نو خدای پیغمبران زیری ورکوونکي او ویروونکي راولیږل او له هغوي سره يې په حقه کتاب نازل کړ د دې لپاره چې د خلکو تر مینځ په هغه څه فیصله وکړي چې پکښې يې اختلاف کړے دے.

روښانه ده چې د خلکو اختلاف یوازې په عقیدو کښې نه و بلکې د ژوند په بیلا بیلو برخو کښې يې اختلاف لرلو.

۵- په بندګانو باندې اتمام حجت(غاړره خلاصول)، لکه چې فرمایي: رُّسُلاً مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلاَّ يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ وَكَانَ اللّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا

(نساء/۱۲۵) پیغمبران يې ویروونکي او زیرے ورکوونکي راولیږل د دې لپاره چې د پیغمبرانو له راتللو وروسته خلک خدای ته څه عذر و نه لري او خدای طاقتور او حکمت والا دے.

دا منلې شوې خبره ده چې خدای د انسان له پیدایښته څه مقصد لري چې هغې مقصد ته هاله رسیدلے شي چې د ژوند په ټولو اړخونو کښې کله یوه پوره منظم پروګرام ولري او دا پروګرام په داسې ډول له خدایه انسان ته راورسیږي چې دانسانانو څه عذر یا بهانه پاتې نه شي چې ووایي مونږ ته د ژوند صحیح لار نه وه ښودل شوې.

## د پیغمبرانو د پیژندلو لارې

### شپږ پنځوسم اصل

د انسان فطرت دا دے چې یو څیز هم بې دلیله نه قبلوي او هر چا چې بې دلیله یوه ادعا قبوله کړه هغه د خپل فطرت خلاف کار کړے دے. د نبوت ادعا هغه تر ټولو لویه ادعا ده چې یو انسان يې کولے شي نو باید د داسې لویې دعوې لپاره مطمئنوونکے دلیل هم ولری دا دلیل له لاندینیو دریو دلیلونو څخه یو کیدے شي.

الف: تیر پیغمبر چې نبوت یې په دلیلونو سره ثابت دے د راتلونکے پیغمبر په راتلوو ټینګار وکړي لکه څنګه چې حضرت عیسیٰ(ع) زمونږ د پیغمبر (ص) نبوت جوت کړے او زیرے یې ورکړے دے.[1]
ب: بیلا بیلې قرینې د هغه د ادعا رښتیاوالے بیان کړي دا قرینې باید د هغه په ژوند، دعوت، او په هغه کسانو کښې چې په هغه یې ایمان راوړے دے او همدارنګ د هغه د دعوت او بلنې په طریقې کښې ولټوو. نن سبا د دنیا په محکمو کښې د حق او باطل او د مجرم او بې ګناه پیژندګلو په همدې طریقه کیږي. او د اسلام په لومړیو کښې هم د پیغمبر (ص) د رښتیاوالی د څرګندولو لپاره له همدې طریقې کار اخستل شوے دے.[2]
ج: د معجزې راوړل: یعنی د نبوت له دعوې سره سره باید یو داسې کار هم وکړي چې نور خلک یې نه شي کولے او خلکو ته د مقابلې بلنه هم ورکړي او دا خارق العاده کار باید د هغه له ادعا سره غږمله هم وي.
لومړنے دوه لارې عامې نه دي (یعنی د ټولو پیغمبرانو لپاره نه دي) خو دا دریمه لار د ټولو لپاره ده او د نبوت په تاریخ کښې، انسانانو د نبوت ثابتولو لپاره له همدې لارې کار اخستے دے او پیغمبران هم د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره همدا لار په کار راوستې ده. د پیغمبرانو د پیژندلو لارې

---

۱- د صف سورت / ۲أیت

۱- د روم بادشاه په همدې طریقه د پیغمبر (ص) پیغبمرۍ ته رسیدلے ؤ. تاریخ طبری د شپیږم هجري کال پیښې.۳/ ۲۲۴۰

## اووه پنځو سم اصل:

دَمعجزې او د َنبوت د عوې دَرښتیا والي تر مینځ یوه منطقی رابطه موجوده ده ځکه چې که معجزه راوړونکے په خپلې دعوې کښې رښتونے وي نو مطلب یې ثاتیږي او که دورغجن وي نو له خدای سره چې د خپل مخلوق هدایت غواړي نه ګمراهي، دا نه ښایي چي داسي طاقت یو دروغجن سړي ته ورکړی ځکه چې کله خلق له هغه سره داسې طاقت ووینی نو په هغه ایمان راوړي او دَ هغه په خبرو عمل کوي نو که هغه په خپلې دعوې کښې دروغجن وي نو خلک هم ګمراه کوي او دا خبره دَ خدای له عدل او حکمت سره ټکره لري دا مسئله دَ عقلی حُسن او قُبح له نتیجو څخه ده چې په تیرو ځایونو کښې یې بحث وشو.

## اته پنځو سم اصل

د یو خارق العاده کار (داسې کار چې نور څوک یې نه شي کولے) کول چې د نبوت له ادعا سره غږمله وي معجزه وایيي. خو که یو خارق العاده کار یوښه انسان وکړي خو دَ نبوت دعویٰ ورسره نه وي نو هغی ته (کرامت ) ویل کیږي او دَدې خبرې دلیل چې له پیغمبرانو پرته نور نیک خلک هم خارق العاده کار کولے شي یو په قرآن کښې دَ حضرت مریم(س) لپاره دَ مائده (خوراک میوې) نازلیدل دي او دویم د حضرت آصف برخیا (چې دسلیمان علیه السلام له ملګرو څخه ؤ) په یوه لحظه کښی دَ یمن نه فلسطین ته دَ ملکۀ سبا د تخت راوړل ؤو چې په قرآن مجید کښې دَدواړو

ذکرراغلے د ے دَبي بي مریم په هکله فرمايي كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقاً (آل عمران / ۳۷ )کله به چې زکریا د هغې محراب ته ورغلو نو له هغې سره به يې رزق (خواړه) بیا مو نده ویل به يې ا ے مریم دا هر څه تا ته له کومه راځی؟ مریم به ویل دادَ خدي له طرفه

دَبلقیس دَتخت په هکله فرمايي: قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن يَرْتَدَّ إِلَيْكَ طَرْفُكَ (نمل / ۴۰ هغه کس چې ورسره دَ کتاب لږ شان علم ؤ وویل زۀ به هغه تا ته وړواند ې له دې چې سترګو له رَپ ورکړ ے، راوړم

## نهه پنځوسم اصل

معجزه له نورو خارق العاده کارونو سره لاندیني توپیرونه لري:

الف: له چا زده کړې نه کول:دَمعجزې راوړونکے بې له دې چې کومه زده کړه او تعلیم حاصل کړي معجزه کوي حال دا چې نور خارق العاده کارونه د مخکښې زده کړې او تعلیم له مخې کیږي د عمران زوی موسیٰ علیه السلام دَ ځوانۍ له تیرولو وروسته مصر ته روان شو په نیمه لاره کښې ورته نبوت اورسالت ورکړےشو او حکم ورته وشو چې ا ے موسیٰ خپله امسادې وغورځوه او کله يې چې وغورځوله نودَ هغې نه ښامار جوړ شو چې موسیٰ ترې پخپله هم وویریده همدارنګ موسیٰ ته حکم وشو خپل لاس له ترخګه راوباسه چې کله يې راوباسه نوله هغی یو نور وځلیده چې

دَخلکو سترګې يې وبريښولې[1] خود سليمان دَوخت دَجادو ګرانو په هکله فرمايي يُعَلِّمُونَ النَّاسَ السِّحْرَ... فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ (بقره /۱۰۲)

دوي به خلکو ته جادو ورزده کاوه او خلکو به هم له هغو (دوو پرښتو) داسې زده کړه کوله چې دَ هغې په سبب به يې دَ ښځې او ميړه تر مينځ بيلتون راوسته

ب: مقابله ورسره نه شي کيدے ځکه چې معجزه دَ خدايي پاک له نه ختميدونکي قدرت څخه سرچينه اخلي له همدې وجې ورسره څوک مقابله نه شي کولےحال دا چې جادو او سحراو دَدې غوندې نور کارونه لکه دَ د مرتاضانو کارونه له دې امله چې د انسان کاردے نو ورسره مقابله کيدے شي او نور کسان هم د هغې په شان کولے شي

ج: د محدوديت نه لرل، يعنی دَپيغمبرانومعجزې څه حد نه لري او دومره ډېرې او رنګارنګ دي چې دَ هغوي ترمينځ يو مشترک شے نه شي پيدا کيدے مثلا دَ امسا غورځول او ښامار ترې جوړيدل يو څه دي او د لاس راو يستل او پړقيدل بل څه همدارنګ د امسا وهلو سره د چينو راوتل بل څه دي او په امسا سره دَ درياب چاودل بل څه. دَ حضرت عيسی (ع) په هکله هم داسې لولو چې له خټوبه يې مارغه جوړوه بيا به يې په هغې کښې پوکل او د خدای په حکم به هغه ژوندے کيده له دې ورتير په ړوند سړي

---

[1] . قصص ۳۲ - ۳۱

او دَبرګي په مريض به يې لاس راښکه نو هغوي به روغ شو يا به يې مړي ژوندی کول او په کور کښې د دننه سامان په هکله به يې خبر ورکاوه.

د: دَمعجزے راوړونکے يا دکرامت کوونکے له جادوګرانو سرهم دَ مقصد له مخې او هم له رو حي نظره ډير توپير لري لومړنے ټولے لوي مقصدونه لري حال دا چې دويم ټولےد دې دنيا غرضي دي او له همدې وجې د هغوي روحيات او اخلاق هم سره فرق لري.

## وحی او نبوت

### شپيتم اصل

په تير اصل کښې مو له حقيقي پيغمبرانو د دروغجنو مدعيانو د پيژندلو او فرق لارې چارې وښودلې او د غيبو له نړۍ سره د پيغمبرانو رابطه چې هماغه وحی ده څيړو وحی چې دَ غيبو علم له نړۍ سره د پيغمبرانو د ارتباط تر ټولو لويه لاره ده د انسان له عقل يا احساسه سرچينه نه اخلي بلکې يوه ځانګړې پوهه ده چې خدای يې پيغمبرانو ته ورکوي دَدې لپاره چې خپل پيغام پيغمبرانوته ورسوي قرآن دَوحی صفت داسې بيانوي: نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ (شعرا ء/١٩٣ _١٩٤) دا قرآن روح الامين (دَ وحی پرښتې) ستا په زړه نازل کړے دے دا آيت مونږ ته بيانوي چې د خداي له پيغامونو خبريدل د ظاهری حواسو په ذريعه نه دي بلکه

دَوحی پرښته هغه د پیغمبر(ص) په زړه نازلوي[1] دې ته په پام سره مونږ دَ وحی حقیقت په عامه طریقه نه شو بیانولے په حقیقت کښې دوحی نازلیدل دَ غیبو له مظاهرو یو مظهر دے چې باید ایمان پرې راوړل شي که څه هم مونږ ته یې حقیقت روښانه نه وي لکه چې فرمایي: الَّذِینَ یُؤْمِنُونَ بِالْغَیْبِ (بقره /۳)

## یو شپیتم اصل

کوم کسان چې هر یو څیز دَ مادیاتو او احساساتو په تله تلي او غواړي چې غیبي حقیقتونه هم په حسي چوکاټ کښې وسنجوي هغوي د خدای وحی په بیلا بیلو طریقو توجیه کړې ده چې هغه ټولې خبرې زمونږله نظره باطلې دي دلته دغه ډول توجیهاتو ته یوه کتنه کوو او څیړو یې.
الف: دلیکوالانو یوۀ ټولي: پیغمبران په انسانانو کښې پوه او نابغه کسان ګڼلي دي او وحی یې دَ هغوي له عقل او باطنی حواسو راوتلې ګڼلې ده دَدې ټولي په خیال روح الامین د دې پاکو خلکو پاک روح او نفس دے اوآسمانی کتاب دَ هغوي لو ړ فکرونونه اولید توګې دي د وحی دارنګ تفسیر د دې خبرې نښانه ده چې دا خلک د تجربې علم په وړاندې باتې راغلي دي اویوازې په هغه څه اعتبارلري چې په حس سره په لاس راځي

---

۱ . البته د خداي د وحي لارې یوازې د الهي پرښتې په نازلیدولو پورې نه محدودیږي بلکې نورې لارې هم لري چې د شوری سورې په یو پینځوسم آیت کښې بیان شوي دي او وضاحت یې په اته دیرشم اصل کښې وشو.

دَدي لیدتوګې تر ټولو لوي مشکل دادے چې د پیغمبرانو له خبرو سره ټکره لري ځکه چې هغوي به تل دا اعلان کاوه چې کوم څه مونږ دَانسانانو لپاره راوړي دي هغه یوازې دَخدای وحي ده نو وړاندې لیدتوګې ته په پام سره بیا پیغمبران درو غجن کسان وو ځکه چې هغوي وایي دادَخداي وحي ده او دوي وایي چې نه دا دَ پیغمبرانو دَعقل اوعلم کار دے او دَ پیغمبرانو دروغوالے د هغوي لوړ له مقام او له هغه څه سره چې په تاریخ کښې راغلي دي سمون نه لري

په نورو ټکو سره به دا ووایو: مصلحان دوه ډوله دي هغه مصلحان چې خپل پرو ګرام د خدای له طرفه ګڼي او بل هغه مصلحان چې خپل پروګرام دَ خپل فکر نتیجه ګڼي او کیدے شی دواړه ډوله مصلحان زړه سواندي وي او دَ خلکو خیر غواړي نودې ته په پام سره مونږ دا نه شو کولے چې دواړه ډوله یو شان وګڼو.

ب: بل ټولے په هماغه انګیزه چې وړاندې بیان شوه وحي دَ پیغمبر (ص) دَروحی حالتونو څرګندونه ګڼي دوي دا دعوا لري چې پیغمبر دَ هغې پوخ ایمان په سبب چې په خدای یې لري دَخپلو زیاتو عبادتونو په وجه داسې حقیقتونو ته رسي چې په ځان کښې یو لړ حقیقتونه مومي او دا خیال کوي چې دا ورته د غیبو له علم نه راغلي دي حال دا چې دغه معلومات یې یوازی له خپله نفسه وي دَدغې لیدتوګې او نظریې څښتنان وایی چې مونږ دَپیغمبر په رښتینوالي کښې څه شک نه کوو او دا عقیده لرو چې پیغمبرڅه نه څه لوړ حقیقتونه ګوري خو خبر دَ دې حقیقتونو په سرچینې کښې ده چې دا حقیقتونه له چا راغلي دي ؟پیغمبران دا فکر کوي چې دا

حقیقتونه ورته دَ غیبو دَ علم نه راغلي دي حال داچې دا حقیقتونه دَهغوي له خپله نفسه دي[1]

دا نظریه هم څه نوې خبره نه ده بلکې دَهم هغه جاهلیت دَزمانې نظریه ده خو په یوې نوې جامې کښې یې وړاندې کړې ده دَ دې نظریې تهوله خبره داده چې وحی دَ پیغمبرانو له خیال نه راوتلې او هغوي دومره په خپل ځان کښې غرق وو او دَ خدای په عبادت او دَ بندګانو دَ ښه کیدو په فکر کښې وي چې ناڅا په ځینې حقیقتونه خپلې مخې ته ویني او فکر کوي چې دا ورته دَغیبو دَ عالم نه راغلي دي او دا هما غه دَ عربو د جاهلیت د وخت تصور دے چې دَوحي په هکله به یې ویل: بَلْ قَالُواْ أَضْغَاثُ أَحْلاَمٍ (انبیا /۵) یعنی وحي هغه پریشانه فکرونه دي چې یغمبرېي ویني قرآن مجید په نورو آیتونو کښې دا نظر یه په کلکه ردوی او فرمایي:پیغمبر چې وایي چې زهٔ دَوحي پرښته وینم نو رښتونے دے نه دَ هغه زړه خطا کارې دے او نه یې سترګو، لکه چې فرمایي: مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى (نجم/۱۱) او همدا رنګ فرمایي: مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى (نجم/۱۷ ) زړه هغه څه دروغ ونه ګڼل چې سترګو ولیدل او هیڅ کله دَهغه سترګې خطا نه شوې یعنی په حقیقت کښې یې دَوحي پرښته ولیده هم په ظاهری سترګو او هم په با طني سترګو

دَ پیغمبرانو عصمت (له ګناهونو پاکي)

دوه شپیتم اصل

---

۱ . سید محمد رشید رضا، وحي محمدي ۲۲مخ.

عصمت دَخوندیتوب په معنیٰ دے او دَ نبوت په برخه کښې لاندینۍ مرتبې لري

الف: دَوحي دَاخستلو په وخت عصمت یعنی دَ وحي ساتل رسول

ب:له ګناه عصمت

ج: په وګړنیزو او ټولنیزو چارو کښې له خطا عصمت

په لومړۍ مرحله کښې دَپیغمبرانو عصمت ټول مني ځکه چې په دې مرحلې کښې هر ډول خطا دَخلکو باور له منځه وړي اوبیا دَپیغمبرانو په خبرو څه اعتبار او باور نه پاتې کیږي او دَنبوت هدف اومقصد خرابیږي له دې ور تیر قرآن کریم هم فرمایي مونږ پیغمبر دَ خپل نظر لا ندې ساتو چې وحي ورته په صحیح صورت کښې ورسیږي لکه چې فرمایي: عَالِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلَى غَيْبِهِ أَحَدًا إِلَّا مَنِ ارْتَضَى مِن رَّسُولٍ فَإِنَّهُ يَسْلُكُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهِ رَصَدًا لِيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا رِسَالَاتِ رَبِّهِمْ وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ وَأَحْصَى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا (جن/۲۲_۲۸) هغه له غیبو خبردے او دَغیبو حقیقتونه چا ته نه ښیي مګر هغه چاته چې له رسولانو په شان یې خوښ وي نو دَهغه دَ حفاظت لپاره دَهغې نه مخکښې او دَهغه نه وروسته ساتونک ګماري چې پوه شي چې هغوي دَخپل پرورد ګار پیغامونه رسولې دي او خدای په هغه څه احاطه لري چې له هغوی سره دي او ټول څیزونه یې شمیرلې دي

په دې آیت کښې دَوحي دَساتلو لپاره دوه ډوله ساتندویي ذکر شوي دي

الف: هغه پرښتې چې پیغمبران له هرې خوا ساتي

ب: هغه خدای چې په پیغمبرانو او په پر ښتو هم احاطه لري دَدې حفاظت علت هم دادے چې دَنبوت مقصد ترلاسه شی او هغه دا چې دَخدای وحي انسان ته په صحیح طریقه ورسیږي.

## درې شپیتم اصل

پیغمبران په شرعي حکمونو عمل کولو کښې له هرډول ګناه پاک دي او دَپیغمبرانو دَرالیږلو مقصد هاله پوره کیږی چې کله هغوي دغه ډول خوندیتوب ولري ځکه چې که هغوي په احکامو باندې په خپله صحیح عمل نه کوي او نورو ته یې ښیي نو دَ هغوي په رښتیا والی باور نه شی کیدې او دَنبوت مطلب نه پوره کیږي محقق طوسی په خپل لنډ بیان کښې دا دلیل داسې بیاندي: وَ يَجِبُ فی النَبيّ العَصمةُ ليحصُلَ الوُ ثُوقُ فَيَحصُلَ الغَرَضُ!
عصمت د پیغمبرانو لپاره ضروری دے دَدې لپاره چې دَهغوي په خبرو باور حاصل شي اودَ نبوت مطلب پوره شي دَپیغمبرانو له ګناهونو نه عصمت په بیلا بیلو آیتونو کښې قرآن مجید تائید کړے دے چې ځینو آیتونو ته یې اشاره کوو

الف: قرآن پیغمبران دَ خدای له لورې هدایت شوي او خوښ کړے شوي ګڼي وَاجْتَبَيْنَاهُمْ وَهَدَيْنَاهُمْ إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ (انعام/۸۷ )

ب: قرآن یادونه کوي چې خدای څوک هدایت کړي نو هغه څوک نه شی ګمراه کولے وَمَن يَهْدِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِن مُّضِلٍّ(زمر/۳۷)

ج: معصیت او ګناه ضلالت او ګمراهي ګڼي: وَلَقَدْ أَضَلَّ مِنكُمْ جِبِلًّا كَثِيرًا (یٰس/۲۲) له دې ټول آیتونو دا خیر په لاس راځي چې پیغمبران دَ هر ډول ګناهونو پاک دي له دې پرته هغه عقلي دلیل چې دَپیغمبرانو دَ عصمت په لازم والي مو راوړ هغه دَ پیغمبران له بعثته وړاندې عصمت ثابتوي ځکه

چې که یو انسان دَخپل عمر یوه برخه په ګناهونو او ګمراهۍ کښې تیره کړي او بیا دَهدایت بیرغ په لاس کښې واخلی نو خلق ورباندې دو مره باور نه کوي خو کوم کس چې د ژوند دَ اول نه له ګناهونو پاک وي او خلک یې په پاکۍ پیژني او خوښو ي یې نو خلک ورباندې باور کوي پردې سربېره که یو کس د پیغمبرۍ دا علان نه وړاندې ګناهکار وي نو بیا ځینی هغه کسان چې د رسالت مخالفان او غرضي خلک دي هغوي د تیر عمر د ګناهونو او بدو کارونو په یادولو سره د پیغمبر شخصیت او د هغه پیغام خرابولےشي. په داسې چاپیریال کښې یوازې هغه انسان چې د عمر په زیاته برخه کښې د صداقت او پاکۍ له امله "محمد امین" لقت اخستے وي په خپل ځلانده شخصیت سره د دښمن د ناوړه تبلیغاتو پردې لیرې کولے او په خپل استقامت سره د جهالت تیاره فضا رڼا کولے شي. له دې ورتیر دایوه منلې شوې خبره ده چې کوم انسان هم له بعثته وړاندې له ګناه پاک وي او هم ورسته تر هغے انسانه ښه او کامل دے کوم چې یواز ې له بعثته وروسته له ګناهونو پاک وي. او د هغے د هدایت اثر به هم ډیر وي او د خدای د حکمت تقاضا دا ده چې هغه کامل او ښه انسان د خلکو د هدایت لپاره خوښ کړي.

## څلور شپیتم اصل

پیغمبران له ګناهونو د عصمت پر لرلو سربېره په لاندینیو مواردو کښې هم له خطا خوندي وو.

الف:په اختلافاتو کښې قضاوت: پیغمبرانو ته دخداي له طرفه حکم ؤچې د قضاوت د قانون مطابق وکړي، یعنی ددعوی ٰکوونکي نه ګواه وغواړي او که له دعوی کوونکي سره ګواه نه ؤنو له منکره قسم وغواړي اوهیڅکله یې له دې طریقې سره مخالفت نه دےکړے. خوممکنه ده چې ګواه یا قصداً یا په غلطۍ سره د شوي کار په خلاف ګواهي ورکړي یا په دروغه قسم وخوري نو په نتیجه کښې یې فیصله صحیح نه وي دارنګ فیصله عصمت ته څه زیان نه رسوي ځکه چې هغه ته دا حکم دے چې د قضاوت د قاعدې مطابق حکم وکړي او کله چې د دۀ حکم د حقیقت په خلاف وي نو هغه دخپل حکم دغلطۍ نه خبردے، که څه هم د ټولینزو مصلحتونو له مخې دهغې مطابق دعمل حکم ورته نشته.

ب: د دیني احکامو د موضوعاتو تشخیص ورکول مثلاً پلانکے څیز شراب دي که نه.

ج: ټولنیزې مسئلې او د کارونو د مصلحت یا مفسدې پیژندل.

د: د ژوند عامې مسئلې

- په دې څلورو ځایونو کښې دهغوی د پاکۍ دلیل دا دے چې د زیاترو خلکو په ذهن کښې په داسې مسئلو کښې خطا کول په دینی احکامو کښې خطاکول دي. نونتیجه داشوه چې په دارنګ مسئلو کښې خطاکول په پیغمبر باندې د خلکو باور خرابوي او اخر دا چې د پیغمبر د رالیږلو هدف ورسره خرابیږي. سره ددې چې په لومړنیو دوو کښې د پیغمبرانو د عصمت لازموالے تر اخرني مورده زیات روښانه دے.

## پینځه شپیتم اصل

د عصمت له مرتبو څخه یوه رتبه داده چې په پیغمبرانو کښې داسې څیزونه نه وي چې خلک ترې لرې وتښتي. ټول په دې خبره پوهیږو چې ځینې داسې بدنی ناروغی‌دي یا داسې روحي عاتونه دي چې انسان ورسره سپک او بې ارزښته کیږي او خلک ترې نفرت کوي نو ضروري ده چې پیغمبران له داسې بدني ناروغیو پاک وي ځکه له هغه د خلکو نفرت کول او تښتیدل د رسالت او نبوت له مقصد سره سمون نه خوري.همدارنګ داخبره دیادونې ده چې دلته د عقل حکم دیو واقعیت څرګندونه کوي او هغه داچې کله مونږ داوواېو چې خدای حکیم دےنو د حکمت غوښتنه یې دا ده چې پیغمبران باید له داسې عیبونو او نارو غیو پاک او سالم وي.[1]

۱ . دا ډول روایتونه سره د دې چې عقل سره مخالف دي ځینې هغه روایتونوسره هم ټکره لري چې له امامانو رارسیدلي دي.امام صادق(ع) له خپل پلار نیکونو داسې نکلوي: حضرت ایوب(ع) په خپلې ټولې نارو غې چرته بدبوي او بد صورت پیدانه کړ او د هغه له بدنه هیڅ کله وینه او زوې او داسې نور څیزونه چې خلک ترې نفرت لري راونه وتل دانبیاوو او او لیاوو په هکله د داي سنت او طریقه هم داده. دایوب(ع) خلک ځکه لرې شول چې هغه غریب شو اوپه ظاهره ضعیف شو خو هغوي ته داپته نه وه چې ایوب(ع) د خدای پهنزد څومره مقام لري (خصال، لومړی‌ټوک، اووه بابونه ،۱۰۷ حدیث، ۴۰۰ مخ)نوکوم روایتو نه چې ددی په خلاف دي هغه څه اساس نه لري اود قبلولو وړ نه دي

## شپږ شپیتم اصل:

د عقل پرېکنده حکم او د قرآن څرګنده فیصله مود پیغمبرانو د عصمت دلازموالي په باب واوریدهٔ خو په دې هکله ځینې آیتونه په لومړني نظر کښې له پیغمبرانو د ګناه د کیدو ښوونه کوي (لکه دحضرت ادم په هکله آیتونه او داسې نور) نود دغو آیتونو په هکله څه ځواب موجود دے؟. په ځواب کښې باید دې ته پام وکړو چې داخو منلې شوې خبره ده چې په قرآن کښې تناقض او ټکره نشته نوباید هغې قرینو ته پام وکړو چې په خپله په دغه آیتونو کښې موجودې دي او صحیح معنی ترې واخلو او په دې ځای کښې په ابتدایي نظر سره هیڅ کله هم فیصله نه شو کولے له نیکه مرغه شیعه تفسیر کوونکیو او متکلمانو د د غو آیتونو ښه تفسیر کړےدے او حتی ځینو په دارنګ آیتونو باندې جدا کتابونه هم لیکلي دي. دلته د کتاب د وړوکوالي په سبب مونږ هغه ټول آیتونه جداجدانه شو راوړلے اوتاسو کولے شئ په دې هکله اړوندو کتابونو ته مراجعه وکړئ.[1]

## اووه شپیتم اصل

د عصمت عامل او سرچینه دوه څیزونه دي:

---

[1] . تنزیه الأنبیاء،سید مرتضیٰ،عصمت الأنبیاء،فخرالدین رازي؛مفاهیم القران،جعفرسبحانی،5ټوک دپیغمبرانو دعصمت په باب کښې.

الف: پیغمبران (اودخداي خاص اولیاء) د فطري معرفت او پیژندلو په یوه ډیرلوړه مرتبه کښې دي چې هیڅ کله د خدای رضاپه بل څه نه بدلوي. په نورو ټکو به داوواېو چې د خدای د جمال او جلال او دلوړ مقام پیژندلو هغوي له دې منعې کوي چې بل څه ته پام وکړي او دخداي له رضا پرته په بل فکر کښې شي او د معرفت او شناخت دا مرتبه هماغه ده چې امیرالمومنین فرمایي: مَا رأیتُ شیأً اِلا و رأیتُ اللهَ قَبلَهُ و بَعده و مَعَهُ؛ زه هیڅ شے نه وینم مګر دا چې خدای ترې وړاندې ورسته او ورسره ګورم او امام صادق(ع) هم فرمايي: وَلٰکِنّی أعبده حباً له و تلک عبادة الکرام[1]؛ زه خدای سره د دوستۍ په سبب د هغه عبادت کوم هو! دا دے د بزرګانو عبادت.

ب: د اطاعت له ښو نتیجو او د معصیت او ګناه له بدو پالو د پیغمبرانو پوره پوره خبریدل د دې سبب کیږي چې د خداي نافرماني ونه کړي البته بشپړ او هر اړخیز عصمت او پاکي د خدای د خاصو اولیاو لپاره ده په عین حال کښې ځینې پرهیزګاره انسانان هم په خپلو ډېرو کارونو کښې له ګناه خوندي دي مثلا پرهیزګار کس هیڅ کله د هیڅ شي په بدل کښې ځان نه وژني[2] او له دې ورتیر ځینې عام کسان هم داسې شته چې په ځینې کارونو کښې پاک دي مثلاً یو کس هم دې ته تیارنه دے چې بجلۍ څرګند

---

۱ . بحار الانوار ۲۲/۷۰.

۲ . امیرالمؤمنین د دې ډلې په هکله فرمایي: "هُمْ والجنةُ کَمنْ قد رأها و هم فیها مُنَعّمون، وَهُم والنار کَمنْ قد راها وَهُم فیها مُعَذِبونْ" هغوي ته جنت داسې دے لکه چې ویني یې او په نعمتونو کښې یې پراته دي او دوزخ ورته داسې دے لکه چې ویني یې او پکښې عذاب شوي دي. (نهج البلاغه، د همام خطبه، ۱۹۳)

تارونيسي چې پرېښنا پکښې وي. دا ځرګنده خبره ده چې هغه ولې دغه تار ته لاس نه وړي ځکه چې خبر دے چې که دې ته لاس وروړي نوډېر بد اثر لري. نو اوس که يو سړی ته دګناه هم داسې بداثرات معلوم شي اوورته يقين شي نو هغه خامخا خپل ځان له ګناه ساتي.

## اته شپيتم اصل

د عصمت علت او سرچينې ته وګورو نو دې خبرې ته رسو چې عصمت د معصوم(ع) له اختياراو ازادۍ سره څه ټکره نه لري، بلکې يو معصوم کس سره له دې چې د اطاعت او معصيت له پايلو خبر وي بيا هم دګناه کولو توان لري. که څه هم له دې توانه هيڅ کله ګټه نه اخلي. لکه څنګه چې يو پلار دخپل زوي دمړ کولو طاقت لري خو هيڅ کله دا کار نه کوي.اوله دې زيات روښانه له خدايه د قبيح اوبد کار نه کيدل دي چې توان يې لري خو دخپل حکمت له مخې دا کارنه کوي مثلاً خدای دا توان لري چې ښه بندګان دوزخ ته واچوي او ګناهګارخلک جنت ته خوخدای عدالت او حکمت دااجازت نه ورکوي له همدې ځايه روښانيږی چې د معصومينو لپاره دګناه پرېښودل او عبادت کول يو لوي فخردے ځکه چې سره ددې چې د ګناه توان لري خو بيا هم ګناه نه کوي.

## نهه شپیتم اصل

مونږ، د ټولو پیغمبرانو د معصوم والي له عقیدې سره سره عصمت یوازې په نبوت پورې محدود او ملازم نه ګڼو. کیدے شی یو سړے معصوم وي خو نبی نه وي قرآن د حضرت مریم(س) په هکله فرمایي: يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللّهَ اصْطَفَاكِ وَطَهَّرَكِ وَاصْطَفَاكِ عَلَى نِسَاء الْعَالَمِينَ (ال عمران/۴۲) اے مریم خدای ته د ښځو تر مینځ غوره کړې او له ګناهونوېې پاکه کړې او د نړۍ په ښځوېې فضیلت درکړ.دلته ګورو چې قرآن د هغې په هکله د "اصطفاء" لفظ راوړے دے نو له دې معلومیږی چې هغه بی بی معصومه وه ځکه د پیغمبرانو لپاره هم دا لفظ استعمال شوےدے إِنَّ اللّهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ (ال عمران/۳۳) له دې ورتیر په تیر آیت کښې د مریم د پاکۍ خبره شوې ده او د پاکۍ نه یې مطلب له هر ډول پلیتۍ د هغې پاکوالےدے نه یوازې له ګناه او بد کارۍ د هغې پاکوالے او له هغه توره د هغې پاکوالے چې یهودویانو د بچې د پیدا کولو په مسله کښې په هغې لګولے ؤ که چې له دغه ګناه پاکوالے خو په هماغه لومړنے ورځو کښې د عیسی(ع)په شهادت شوے وه او بیایې بیانولو ته څه ضرورت نه ؤ له دې ورتیر که آیت ته وګورو په هغې کښې د بی بی مریم د هغه وخت ذکر کوي چې هغه به په محراب کښې وه او لا تر اوسه یې عیسی(ع) په خیټه کښې نه و نو دې ته په پام سره تر هغه وخته په هغې کوم تور نه و لګیدلے چې دا ایت له هغه توره د پاکۍ لپاره وي.

## شپږمه برخه

## اویایم اصل

په تېر څپرکي کښې مو د نبوت په هکله په کلي توګه خبرې وکړې، په دې څپرکي کښې خاص د محمد بن عبدالله(ص) د نبوت په هکله خبرې کوو وړاندې مو دا خبره وکړه چې د پیغمبرانو نبوت په درېو طریقو ثابتیږي.
الف: هغه معجزه چې د نبوت دعوی ورسره وي.
ب: د هغو قرینو او ګواهۍ راغونډول چې د هغه دعوی ورسره رېښتونې ثابتیږي.
ج: د تیر شوي پیغمبر تصدیق
د پیغمبر(ص) نبوت په درې واړو طریقو ثابتیږي چې په لنډه توګه یې ذکر کوو:

## قران یا همیشنۍ معجزه

صحیح تاریخونه په دې خبرې ګواه دي چې پیغمبر(ص) خپله بلنه په بیلا بیلو معجزو سره کړې ده. خو له دې دومره معجزو څخه یوه معجزه د هغه همیشنۍ او جاویدانه معجزه ده چې هغه قرآن دے.
پیغمبر اسلام خپل نبوت په همدې آسماني کتاب سره اعلان کړ او نړۍ ته یې له هغه سره د مقابلې کولو بلنه ورکړه او د قرآن له څرګندو چیلنجونو

سره سره بیا هم هیڅ د پیغمبر(ص) په زمانه کښې د هغې غوندې قرآن رانه وړ او نن هم له کلونو کلونو وروسته څوک دا توان نه لري چې د هغې غوندې راوړي قرآن همدارنګ اوس هم خپله چیلنج کوي او وایي: قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا (اسراء/۸۸) ووایه که انسانان او پیریان دواړه یو ځای شي چې د دې غوندې قرآن راوړي نو توان یې نه لري چې د دې غوندې راوړي سره له دې چې ځینې له ځینیو سره مرسته وکړي. قرآن دلته د چلینج په مقام کښې وایي: اے پیغمبره(ص) دوي ته ووایه که توان یې لري نو داسې کتاب دې راوړي. په بل ځای کښې تر دې حده هم کم بیانوي او فرمایي: ووایه که کولے شي نو د دې غوندې لس سورتونه دې راوړي یا دې یو سورت د دې غوندې راوړي.

قُلْ فَأْتُواْ بِعَشْرِ سُوَرٍ مِّثْلِهِ مُفْتَرَيَاتٍ (هود/۱۳)

فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ (بقره/۲۳)

پوهیږو چې د اسلام دښمنان له ۱۵ سوو کالو راهسې چې د دې دین له راتللو تیریږي په اسلام باندې هر قسم ګزارونه وکړل او اسلام ته د تاوان رسولو لپاره یې له هیڅ کوشش ډډه نه ده کړې او حتی چې پیغمبر(ص) یې په سحر و جادو او داسې نورو بدو خبرو تورن کړے دے خو هیڅ کله یې دا توان پیدا نه کړ چې د قرآن په مقابلې کښې بل داسې څه راوړي. لکه چې نن هم ورسره هر څه په لاس کښې دي خو د قرآن د هغې بلنې او چیلینج ځواب نه شي ورکولے او دا خبره په دې دلالت کوي چې قرآن د انسان خبرې نه دي او د خدای کلام دے.

## یو اویایم اصل

پیغمبر(ص) بیلا بیلې معجزې لرلې چې په تفصیل سره د حدیث او تاریخ په کتابونو کښې راغلي دي خو یوه معجزه یې داسې ده چې په ټولو زمانو کښې ځلیږي او هغه قرآن دے او دا چې رسول الله مبارک په دغه همیشنے معجزې سره تر نورو پیغمبرانو لوړاوے لري دا دے چې د هغه دین آخرنے دین دے او د ټولو زمانو لپاره دے نو تل پاتے دین یوې همیشنۍ معجزې ته اړتیا لري چې په هره زمانه کښې د نبوت لپاره پریکنده دلیل وي او انسانان په هره زمانه کښې نیغ په نیغه وکتلے شي او ګټه ترې واخستې شي.

قرآن له بیلا بیلو اړخونو معجزه ده چې د هر یو په هکله د بحث کولو لپاره دا کتاب کم دے مونږ یې په لنډ ډول یوازې نومونه یادوو.

د قرآن د نازلیدو په لومړیو کښې چې کوم څیز چې د عربي نړۍ د فصاحت او بلاغت د استاذانو پام واړوۀ هغه د قرآن د ټکو ښکلا، نوښت، د ټکو ترتیب او د معنو لوړاوے ؤ چې دې ټولو ته فصاحت او بلاغت ویل کیږي دا ځانګړتیا یې د هغې ورځې عربو او د نن ورځې خلکو ته څرګنده ده او د همدې فصاحت او بلاغت په سبب به پیغمبر(ص) د قرآن په تلاوت سره د هغې ورځې د دې فن استاذان چیلنج کول او دې ته به یې مجبورول چې د قرآن عظمت ته سر ټیټ کړي او ګوته په غاښ ورته پاتې شي او دا یقین وکړي چې قرآن د انسان کار نه دے او تر بشره لوړ دے.

ولید بن مغیره چې د قریشو د شعر او ادب استاذ ؤ، کله چې د قرآن آیتونه واوریدل نو داسې یې وویل: "په خدای قسم، اوس مې له محمده(ص) داسې خبره واوریده چې نه د انسانانو د خبرو په شان وه او نه د پیریانو د خبرو په شان، داسې خبرې دي چې یو خاص خوږوالے لري. د هغه د خبرو ښاخونه درانه او جرړې یې برکتناکې او داسې لوړې خبرې دي چې د هغې درجې ته هیڅ قسم خبرې نه رسي او مقابله ورسره نه شي کولے.
دا یوازې ولید بن مغیره نه ؤ چې د قرآن د ښکلا په وړاندې یې سر ټیټ کړ بلکې د عربو د بلاغت نورو استاذانو هم د عاجزۍ اعتراف وکړ او هغه یې یوه ژوندۍ معجزه وګڼله لکه عتبه بن ربیعه، طفیل بن عمرو او داسې نورو. البته جاهلي عربو د خپل تعلیم او کلتور د ټیټوالي په سبب یوازې د معجزې همدا برخه لیده خو کله چې د اسلامي نړۍ په ځلورمه برخه وځلید شو نو د نړۍ مفکرانو د دې کتاب په لوړو آیتونو کښې غور او فکر پیل کړ او د بلاغت له معجزې پرته یې نورې هغه برخې راوباسلې چې دا ګواهي ورکوي چې دا قرآن د خدای له اړخه نازل شوے دے او په هر زمانه کښې یې ترې نوې نوې حقیقتونه زده کړل او دا غور او فکر لا ادامه لري....

## دوه اویایم اصل

په تېر اصل کښې مو په لنډه توګه د قرآن ادبي معجزه بیان کړه اوس غواړو چې په لنډه توګه د په نورو برخو کښې د قرآن معجزو ته اشاره وکړو که د قرآن ادبي اعجاز یوازې د هغه کسانو لپاره دے چې په عربۍ ژبه ښه

پوهيږي خو د اعجاز نور اړخونه يې د ټولو خلکو لپاره دي او ټول وربانديې پوهيدلے شي.

الف: د قرآن راوړونکے يو اُمّی کس ؤ چې سبق يې نه و ويلے؛ نه چرته مدرسې ته تللے ؤ او نه يې چرته له استاد سره سبق ويلے ؤ او نه يې چرته کوم کتاب لوستے ؤ لکه چې قرآن فرمايي: وَمَا كُنتَ تَتْلُو مِن قَبْلِهِ مِن كِتَابٍ وَلَا تَخُطُّهُ بِيَمِينِكَ إِذًا لَّارْتَابَ الْمُبْطِلُونَ (عنکبوت/۴۸) له دې مخکښې دې نه کتاب لوستۀ نه دې په لاس څه ليکل کول، که داسې نه وه نو باطل پالو به (ستا په رسالت کښې) شک کولو.

پيغمبر(ص) دا آيت هغو خلکو ته ولوستۀ چې د هغه د ټول ژوند نه خبر وو نو که هغه په خپلې دعوې کښې دروغجن وے نو هغوي به پرې خامخا نيوکه کوله او دروغجن به يې بالۀ. او که وينو چې ځينې په هغه باندې دا تور لګوي چې "قران يې له بل انسانه زده کړے دے"[1] نو دا خبره له ويخه غلطه او تهمت دے لکه څنګه چې قرآن دا تور رد کړے دے او فرمايي: څوک چې وايي چې قرآن مې پيغمبر ته ښودلے دے هغه عرب نه دے په داسې حال کښې چې قرآن په فصيحه عربۍ ژبه کښې دے[2]

ب – قرآن په دوه ويشتو کالو کښې په بيلا بيلو ځايونو او حالتونو (لکه جنګ او صلحې کښې سفر او حضر کښې) پيغمبر(ص) تلاوت کړے دے نو داسې بيلو وختونو کښې چې څوک خبرې کوي کيدے شي چې دهغه په خبرو کښې دوګون والے او ټکره وي. کوم کسان چې په يو شان او ارام

---

۱ . نحل/۱۰۳

۲ . نحل/۱۰۳

حالت کښې خپل کتاب لیکي هم پکښې داسې خبرې کيد ے شي چې له یو بل سره سمون ونه لري او پکښې ټکره وي نو بیا که بیلا بیل حالتونه او وختونه وي نو لازمه ده چې که د یو عام سړي کار وي نو په کښې به اختلاف وي.

د پام وړ ده چې قرآن په بیلا بیلو موضاعاتو خبرې کړي دي لکه: الاهیات، تاریخ، تشریع او قانون، اخلاق، طبیعت او داسې نورې او په عین حال کښې دا ټولې خبرې د محتوا او سبک له نظره په ډېر لوړ حد کښې یو شان هماهنګي او نظم لري. قرآن پخپله د معجزې دا برخه هم یاده کړې ده او فرمايي: أَفَلاَ يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ اخْتِلاَفًا كَثِيرًا (نساء/۸۲): آیا په قرآن کښې غور نه کوئ که دا چېرې د خدای له خوا نه وے نو تاسو به پکښې ډېر اختلاف موندلے وے.

ج – قرآن کریم د انسان ثابت فطرت ته په پام سره قانون جوړ کړے دے د دغه اساسي نظر په نتیجه کښې یې د انسان د ژوند ټولو روحي او مادي اړخونو او ضرورتونو ته کتلي دي او داسې کلي اصول یې بیان کړي دي چې هیڅکله نه زړیږي.

د اسلام د کلي قانون یوه ځانګړنه دا ده چې په بیلا بیلو وختونو او ځایونو کښې جاري کېدلے شي او مسلمانانو چې کله د نړۍ په لویه برخه حکومت کاوۀ نو په پیړیو پیړیو یې د همدې قانون په رڼا کښې حکومت کاوۀ. امام باقر علیه السلام فرمايي: "إنّ اللهَ لم يدَعْ شيئاً تحتاجُ اليه الأُمة إلا أنْزَله فی

کتابه و بیّنهُ لرسولهِ و **جعَلَ لِکل شيء حدّا و جعل علیه دلیلاً"**[1] خدای پاک هیڅ یو شے چې خلک ورته محتاج دي نه دې پرېښے مگر دا چې په خپل کتاب کښې یې بیان کړے دے او خپل رسول ته یې د هغې حکم په تفصیل سره بیان کړے دے او د هر څیز لپاره یې یو حد او د هر یو حد لپاره یې دلیل معین کړے دے.

## درېم اویایم اصل

د – قرآن په بیلا بیلو آیتونو کښې په مختلفو مناسبتونو د جهان هغه رازونه چې د هغه وخت انسانان ترې خبر نه وو بیان کړي دي او د یو داسې کس لپاره، چې سبق یې نه دے ویلے او په یو داسې ټولنې کښې پاتے شوے دے چې د څه نه خبر نه وه، له دغو رازونو خبریدل ممکن نه دي مگر د وحي په وسیله د جاذبې د قانون څرگندول د نوي علم له ویاړونو څخه دي او نن سبا د خلقت د ماڼۍ ودانۍ د هغې په اساس گڼي. خو قرآن په یوې ډېرې وړې جملې کښې دا راز بیانوي او فرمایي: اللّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا (رعد/۲) خدای هغه ذات دے چې آسمان یې په داسې ستنو ودرولے دے چې لیدے نه شي. د عمومي زوجیت قانون یو بل هغه قانون دے چې اوسنے علم ورباندې فخر کوي، او قرا ن کریم دا قانون په هغه زمانه کښې ښودلے دے چې د دې په هکله چاته هیڅ خبر نه ؤ فرمایي: وَمِن

---

۱. کافی ۵۹/۱

كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ (ذاريات/۴۹) او هر يو څيز مو جفت پيدا کړ ښايي چې پند واخلئ. او د دې نورې بيلګې هم شته چې د تفسير په کتابونو کښې په تفصيل سره بيان شوي دي.
هـ - مخکښې له دې چې ځينې پيښې وشي قرآن د هغې په هکله په يقين سره خبر ورکړے دے د دې بيلګې هم ډېرې دي چې يوې بيلګې ته يې اشاره کوو: کله چې د روم خداى پالو عيسايانو، د اتش پرستو ساسانيانو په لاس ماتې وخوړه نو د عربو مشرکانو هم له ځان سره دا ويل چې مونږ به هم د جزيرة العرب په مسلمانانو غالب شو خو قرآن د دې په هکله په يقين سره خبر ورکړ: غُلِبَتِ الرُّومُ. فِي أَدْنَى الْأَرْضِ وَهُم مِّن بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ. فِي بِضْعِ سِنِينَ لِلَّهِ الْأَمْرُ مِن قَبْلُ وَمِن بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ **(روم/٢-٤).**
روميان (عربو ته) په نږدې ځمکه کښې مغلوب شول، او هغوي به له دې ماتې وروسته، په لږ وخت کښې (له دريو تر نهه کالو کښې) په خپل دښمن بريالي شي. نو لږ وخت نه و تېر چې دا خبره رښتيا شوه چې دواړه خداى پالي ټولي يعنې عيسايان او مسلمانان په خپلو دښمنانو (ساساني ايرانيانو او د قريشو په مشرکانو) بريالي شول. له همدې وجې د آيت په اخر کښې د مؤمنانو د خوشحالۍ خبره کوي او فرمايي: يَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ.ځکه چې دا دواړه په يو وخت په خپلو دښمنانو بريالي شول.
و- قرآن کريم د پيغمبرانو او تېرو امتونو ژوند په بيلا بيلو سورتونو کښې بيان کړے دے او دا پيښې په تورات او انجيل کښې هم بيان شوي دي خو چې کله ورته مراجعه وکړې نو پوهيږې چې قرآن ټول د خداى وحي ده خو چې کوم څه په نورو کتابونو کښې دي هغه بې لاس وهنې نه دي پاتې. په قرآن کښې د پيغمبرانو په هکله داسې څه خبره نشته چې له عقل سره ټکره

ولري يا د هغوي د شان مطابق نه وي خو په عهدين يعني تورات او انجيل کښې داسې خبرې ډېرې دي په دې هلکه يوازې د ادم عليه السلام کيسه کافي ده چې په دواړو کتابونو کښې ولوستل شي او مقايسه کړے شي.

## څلورم اويايم اصل

د پيغمبر(ص) د نبوت نښانې او شواهد

د پيغمبر(ص) د نبوت د نښانو او شواهد راټولول يو له هغو څيزونو دے چې ورسره د پيغمبر(ص) دعوی رښتيا ګڼل کيدے شي. دلته ځينې هغه نښانې بيانوو چې د پيغمبر(ص) د پيغمبرۍ په رښتياوالي دليل کيدے شي. دا نښانې او دليلونه لاندې ذکر کوو:

الف- د پيغمبر(ص) د تېر ژوند پيښې:

قريشو وړاندې له دې چې پيغمبر(ص) پيغمبرۍ ته ورسيږي هغه ته امين لقب ورکړے ؤ او خپل امانتونه به يې له هغه سره کيښودل. او کله چې د کعبې د بيا ودانولو په وخت د حجر اسود د کيښودلو لپاره په څلورو قبيلو کښې اختلاف شو نو ټول په دې خبره راضي شول چې هغه دې د قريشو ګران کس يعنې پيغمبر(ص) ولګوي ځکه چې هغه يو امين او پاک سړے دے.[1]

ب- د چاپيريال له ککړتيا پاک پاتې کيدل:

---

۱ . سيرهٔ ابن هشام، ۱ټوک، ۲۰۹.

پیغمبر(ص) په داسې خلکو کښې لوی شوے ؤ چې بت پالي، جوارګر، د لوڼو ژوندي خښوونکي، مردار خوړونکي او ظلم کوونکي وو. په داسې خلکو کښې بیا هم هغه یو پاک کس ؤ په دې قسم بدو صفتونو نه ؤ ککړ شوے.

ج- د بلنې محتوا:

کله چې د پیغمبر(ص) دعوت او بلنې ته ګورو نو وینو چې خلک داسې شي ته رابلي چې هغه د پاسنیو بدو صفتونو په اپوټه دي هغوي بت پالي وو او پیغمبر(ص) توحید ته رابلل، هغوي به د قیامت انکار کاوه او پیغمبر(ص) په قیامت باندې عقیده د ایمان شرط ګاڼه، هغوي ښځې ژوندے خښولې او د هغوي یې څه عزت نه کاوه خو پیغمبر(ص) ښځو ته عزت او کرامت ورکړ، هغوي سود خوارۀ او مال جمع کوونکي وو او پیغمبر(ص) له دې کارونو منعې کول، شرابخوري او جواري عام وه خو پیغمبر(ص) دا کارونه د شیطان کارونه ګڼل او له هغې یې ډډه کول لازمي ګڼل او داسې نور.....

د- د دعوت وسیله:

هغه وسیله او طریقه چې پیغمبر(ص) د خپل دعوت لپاره خپله کړې وه هغه ټوله انساني او اخلاقي طریقه وه. پیغمبر(ص) هیڅکله له غلطو طریقو ګټه نه ده اخستې لکه په دښمن د اوبو بندول، په اوبو کښې زهر اچول، د ونو پریکول او داسې نورې. بلکه ټینګار به یې کاوۀ چې ښځو، ماشومانو او ضعیفانو ته ازار مه رسوئ، ونې مه پریکوئ او د په دښمن باندې د حجت له ختمیدو مخکښې جنګ مه پیل کوئ. او د ماکیاولیستي منطق چې

وايي: "هدف د ځان لپاره هره وسيله جائز وي" بيزاره و. او د بيلګې په توګه د خيبر په جنګ کښې يو چا ورته وويل چې د دښمن د مغلوب کولو لپاره ورته په اوبو کښې زهر واچوئ خو پيغمبر(ص) يې دا خبره ونۀ منله. د هغوي تاريخ له دښمنانو سره له داسې ښو او کريمانه پيښو ډک دے.

هـ- په هغوي باندې د ايمان راوړنکيو شخصيت

که چرې مونږ د هغو خلکو شخصيت او کردار ته وګورو چې په پيغمبر(ص) باندې يې ايمان راوړے و نو مونږ ته د پيغمبرۍ د رښتياوالي پته لګيږي. کله چې د چا بلنې ته داسې کسان ځواب ورکړي چې په جامعې کښې څه اثر لري نو پوهيږو چې دا بلنه رښتيانې بلنه ده خو که داسې خلک د هغه بلنه قبوله کړي چې دنياپالي وي نو معلوميږي چې د هغه بلنه ضعيفه ده. په هغه باندې په ايمان راوړونکيو کسانو کښې لوړ شخصيتونه لکه اميرالمؤمنين علی(ع)، جعفر بن ابيطالب، سلمان، ابوذر، بلال، مصعب، ابن مسعود، مقداد او عمار وينو چې د دوي خلکو په پاکۍ، تقوی، جهاد او ښه والي باندې تاريخ ګواهي ورکوي.

و- په ټولنه کښې مثبت اثر، او د يو لوی او پرتمين تمدن بنسټ کيښودل:

پيغمبر(ص) په درې ويشتو کالو کښې د جزيرة العرب حالات بدل کړل هغوي له بت پرستو او داړه مارو داسې متمدن او موحد کسان جوړ کړل چې نۀ يوازې په خپل ځای کښې يې يو لوړ تمدن وزيږاوه بلکې په نورو اسلامي هيوادونو کښې يې هم يو بې سارے تمدن خپور کړ جعفر بن ابي

طالب د لومړیو وختونو د مسلمانانو په همدې ټکي ټینګار کوي او د حبشې باچا ته داسې ځواب ورکوي:

"اے باچا! خدای زمونږ په مینځ کښې داسې پیغمبر(ص) رالیږلے دے چې مونږ یې له بت پرستۍ او جوارۍ منعې کړي او لمونځ او زکات، انصاف او ښو کارونو ته بللي یو له خپلوانو سره د مرستې حکم یې راکړے دے او له فحشا او مُنکر او ظلمه یې منعې کړي یو"[1]

دا ټولې نښانې او دلیلونه او د دې غوندې نور د پیغمبر(ص) د وینا په رښتیاوالي دلالت کوي ځکه چې کوم سړے چې داسې ځانګړنې لري هغه به خامخا د غیبو له جهان سره رابطه لري او په خپلې دعوې کښې به رښتونے وي. لکه څنګه چې نورې نښې او دلیلونه هم د دې خبرې ګواه دي.

## پینځه اویایم اصل

د تیر پیغمبر تصدیق:

یو له هغو لارو چې د پیغمبرۍ دعوی ورسره ثابتیږي د تیرو پیغمبرانو تصدیق دے. ځکه چې فرض دا دے چې د تیرو پیغمبرانو نبوت په قطعي دلیلونو سره ثابت شوے دے نو د هغوي خبرې د راتلونکي پیغمبر په رښتیاوالي قطعي دلیل ګڼل کیږي. د قرآن له ځینې آیتونو دا معلومیږي چې اهل کتابو پیغمبر(ص) داسې پیژندۀ لکه څنګه چې خپل زامن پیژني. یعنې د هغه د پیغمبرۍ نښانې په تیرو کتابونو کښې بیان شوي دي

---

۱ . سیره ابن هشام، ۱ټوک، ۳۵۹ او ۳۲۰مخونه.

پیغمبر(ص) هم دا دعوی وکړه او چا هغه دروغجن ونهٔ ګاڼه لکه چې فرمایي: الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْرِفُونَهُ كَمَا يَعْرِفُونَ أَبْنَاءهُمْ وَإِنَّ فَرِيقاً مِّنْهُمْ لَيَكْتُمُونَ الْحَقَّ وَهُمْ يَعْلَمُونَ (بقره/۱۴۶) کومو کسانو ته چې مو کتاب ورکړے دے (یهود او نصاری) هغوي پیغمبر(ص) د خپل اولاد په شان پیژندهٔ او له هغوي یو ټولے سره د دي چې حق پیژني بیا یې هم پټوي.

پیغمبر(ص) دا ادعا وکړه چې عیسی(ع) د هغه د راتللو زیرے ورکړے دے او فرمایلي یې دي چې زهٔ تاسو ته له ځانه وروسته د یو پیغمبر د راتللو زیرے درکوم چې نوم یې احمد دے: وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ (صف/۶) او اهل کتابو د دې دعوې انکار ونهٔ کړ، که څه هم چې حقیقت یې هم څرګند نه کړ. او د پام وړ خبره دا ده چې د انجیل کتاب سره له دې چې په سلګونو کاله د تحریف کوونکیو په لاسونو کښې و خو بیا هم د هغه په یوحنا کتاب (په ۱۴، ۱۵ او ۱۶ فصلونو) کښې د عیسی علیه السلام وړاندوینه شته چې یو کس "فارقلیطا" (یعنې ستایلے شوے = محمد) به راځي. چې څیړونکي ورته مراجعه کولے شي.[۱]

## شپږ اویایم اصل

لکه څنګه چې مو مخکښې اشاره وکړه د پیغمبر(ص) معجزه یوازې قرآن نه وه بلکې هغوي په بیلا بیلو ځایونو کښې د خلکو د قانع کولو لپاره

۱ . په دې هکله هغې کتابونو ته چې پکښې یې په عهدینو کښې د پیغمبر(ص) د راتللو زیري راټول کړي دي مراجعه وکړې شي لکه انیس الاعلام کتاب.

معجزې کړي دي. په دې هکله به دا خبره هم وکړو چې د عقل په حساب سره باید د پیغمبر(ص) لپاره له قرانه پرته نورې معجزې هم وي ځکه چې د موسی په هکله فرمايي چې هغه ۹ معجزې لرلې[1]، حضرت عیسی هم پینځه معجزې لرے[2] نو ایا کیدے شي چې پیغمبر(ص) چې پخپله تر ټولو لوړ ؤ یوازې همدا معجزه ولري؟ او آیا خلکو به تېرو پیغمبرانو ته په پام سره له هغه د نورو معجزو تمه نه لرله او په یوې معجزې به یې بسنه کوله؟!
همدې ځای کښې قرآن د پیغمبر(ص) لپاره ډېرې معجزې ذکر کړي دي چې لاندې ورته اشاره کوو:
الف: شق القمر: کله چې د مشرکانو دا وویل چې مونږ هاله ایمان راوړو چې ته په اشارې سره سپوږمۍ په مینځ دوه ټوټې کړې نو پیغمبر(ص) د خدای په حکم دا کار وکړ لکه چې قرآن فرمايي: اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ (قمر/۱- ۲) قیامت نزدې شو، او سپوږمۍ دوه ټکړې شوه که یو آیت (معجزه) ووینې نو مخ ترې واړوي او وايي چې دا پرله پسې جادو دے. د آیت اخرنۍ برخه ګواهي ورکوي چې مطلب یې دا نه دے چې د قیامت په ورځ به سپوږمۍ دوه ټکړې شي بلکې مطلب یې دا دے چې د پیغمبر(ص) په زمانه کې دا کار شوے دے.
ب: معراج: پیغمبر(ص) په یوه شپه کښې د مکې له مسجدالحرامه د فلسطین مسجدالاقصی ته لاړ او له هغه ځایه لوړ جهان ته لاړ، نو دومره لوي مزل په دومره کم وخت کښې دا پیغمبر(ص) یوه بله معجزه وه چې په

---

۱ . سوره اسراء/۱۰۱.
۲ . آل عمران/۴۹.

قرآن کښې نقل شوې ده. او د خدای قدرت تر دې زیات دے چې طبيعي عوامل لوړ عالم ته د هغه د استازي د ختلو مخه ونيسي.[1]

ج: له اهل کتابو سره مباهله: پيغمبر(ص) د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره ځينې اهل کتابو ته د مباهلې دعوت ورکړ او ويې فرمايل: راشئ چې ځان، خپل زامن او ښځې مباهلې ته راولو. نو دا خو منلې شوې خبره ده چې په مباهله له دوو څخه يو طرف تباه کيږي خو پيغمبر(ص) بيا هم دې ته تيار شو او نتيجه يې دا شوه چې کله اهل کتابو وليدل چې پيغمبر(ص) په دې خبره ټينګ ولاړ دے او خپل د ټولو نه ګران کسان يې دې مباهلې ته راوستې دي نو له مباهلې وروسته شول او د پيغمبر(ص) شرطونه يې ومنل.[2]

له غيبو د خبر ورکولو به باب کښې هم مو مخکښې وويل چې عيسى عليه السلام به له غيبو خبر ورکولو [3] پيغمبر(ص) هم د وحي په وسيله له غيبو خبر ورکړے دے چې له هغې خبرونو څخه يو دا وه چې روميان به په ايرانيانو غالبيږي[4] او دويم خبر د مکې فتح وه.[5]

---

۱ . اسراء/۱.

۲ . ال عمران/۶۱.

۳ . آل عمران /۴۹.

۴ . روم/۲.

۵ . فتح/۲۷.

دا ځينې هغه معجزې وې چې د هغې ذکر په قرآن کښې راغلے دے له دې پرته تاريخ ليکونکيو او اسلامي محدثانو هم له هغه حضرته ډېرې معجزې نقل کړي دي چې ټولې يې اجمالي تواتر لري.

داسلام د پیغمبر(ص) ځانګړتیاوې
د اسلام د پیغمبر(ص)دین او بلنه ځینې ځانګړتیاوې لري چې څلور ترې ډیرې مهمې دي مونږ په دریواصلونو کښې هغه بیانوو.

## اووه اویایم اصل:

دپیغمبردین او بلنه نړیواله بلنه وه او له یو قوم او ځای سره خاصه نه وه له همدې امله یې په خپلو بلنو کښې د "ناس" کلمه کارولې ده لکه څنګه چې فرمایي: وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا (سباء/۲۸) مونږ د ټولو خلکو لپاره زیرے ورکوونکے او خبردارے ورکوونکے ولیږلې. او همداشان فرمایي: وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ (انبیاء/۱۰۷) یا دا ایت چې فرمایي: يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَآمِنُواْ خَيْرًا لَّكُمْ وَإِن تَكْفُرُواْ فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَكَانَ اللّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا(نساء/ ۱۷۰) اےخلکو!ستاسو د خدای له خواتاسوته رسول درغلےدے په حقه سره نو په هغه ایمان راوړئ چې ستاسو لپاره ښه ده .البته کله چې هغه حضرت خپل دعوت او بلنه پیل کړه نو طبعاً اول د خپل قوم نه شورو وکړه چې ورسره هغه خلک وویروي چې تراوسه ورته ویروونکے نه وراغلے. لِتُنذِرَ قَوْمًا مَّا أَتَاهُم مِّن نَّذِيرٍ مِّن قَبْلِكَ (سجده/۳) خوددې مطلب دا نه ؤ چې د هغه رسالت یوازې دیو خاص قوم لپاره ؤ. له همدې وجې کله کله ګورو چې قرآن له دې سره سره چې یو خاص ټولي ته په خطاب کښې یوه خبره کوي خو سملاسي نورو هغو خلکو ته هم بلنه ورکوي چې ورته دا خبره رسیدے شي او د ټولو لپاره یې حجت ګڼي.

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَذَا الْقُرْآنُ لأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ (انعام/۱۹)دا قرآن ماته وحي شوےدے چې ددې په وسیله تاسو اوټول هغه کسان چې ورته دا پیغام رسی وویروم.

روښانه چې پیغمبران باید په لومړۍ مرحله کښې خپل قوم خپل دین ته وبالي که دین یې دټولې نړۍ لپاره وي که نه وي. قرآن په دې هکله فرمایي: هیڅ یو پیغمبر می بې د خپل قوم په ژبه نه دے رالیږلے وَمَا أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلاَّ بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ (ابراهیم/۴ ) خو لکه څنګه چې مو وویل په خپلو ژبو دپیغمبرانو د رالیږلو مطلب دا نه دے چې د هغوي دین له هماغه قوم سره خاص دے.

## اته اویایم اصل:

دپیغمبر(ص) نبوت خاتم او اخري نبوت دے لکه څنګه چې یې شریعت اخري شریعت دے اوکتاب یې هم د ټولو آسمانی کتابونو اخرنے او خاتم دے یعنی له هغه ورسته به بل پیغمبرنه راځي او د هغه شریعت به ترقیامته ادامه لري. دپیغمبر(ص) د نبوت له ختمیت څخه دوه مطلبونه راوځي؛

۱. اسلام دتیرو شریعتونو ناسخ دے او ددې په راتللو سره نور شریعتونه منسوخ او رسمیت نه لري.

۲. په راتلونکی وخت کښې به بل آسمانی شریعت نه راځي او د هر ډول نوي شریعت دعویٰ کول دروغ دي.

د خاتمیت موضوع په قرآن او حدیثونو کښې په روښانه توګه ذکر شوې ده داسې چې د هیچا لپاره پکښې د شک څه ځای نه پاتې کیږي. په دې هکله ځینې آیتونو او روایتونو ته اشاره کوو: مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا (احزاب/۴۰)محمد(ص) ستاسو له سړو څخه د هیچا پلار نه و بلکه هغه د خدای رسول اود پیغمبرانو خاتم (اخرنې) دے او خدای په هر څه پوه دے. "خاتم" د ختموونکے په معنیٰ دے او که ګوتمې ته خاتم وایی نو له دې مخې چې د پیغمبر(ص)په زمانه کښې به د خلکو مهر د هغوي د ګوتۍ کانړی و چې په هغه سره به یې په کاغذونو مهر لګاوه او هغه ددې نښانه وه چې پیغام ختم شو نودې خبرې ته په پام سره د تیر شوي آیت مطلب دادے چې د پیغمبر(ص) په راتللو سره د نبوت لوي لیک او اوږده لړۍ د پیغمبرد پیغمبرۍ په مهر ختم شو.

کله چې روښانه شوه چې رسالت پیغام رسولو ته وایي هغه پیغام چې د وحې په وسیله لاس ته راغلے دے طبعاً دخدای رسالت به بې نبوته نه وي او نتیجه به یې داشي چې دنبوت ختمیدل هماغه درسالت ختمیدل هم دي. په دې هکله له بیلا بیلو حدیثونه څخه کافي ده د-منزلت حدیث-ته اشاره وکړو: پیغمبر اکرم(ص)په جنګ تبوک کښې کله چې یې علی(ع) په مدینه کښې خپل ځای ناستے مقررکړ نو هغه ته یې وفرمایل: اَلا تَرضیٰ اَنْ تَکُونَ مِنّی بمنزلت هارون مِنْ موسی اِلّا اَنّه لا نبی بَعْدِیْ- ایا په دې نه یې خوشحاله چې ستا مقام زما په نسبت داسې دے لکه چې هارون موسیٰ ته و خو په دې فرق

سره چې له وروسته بل پیغمبر نشته .د منزلت له متواتر حدیث ورتیر نور هم داسې ډیر حدیثونه شته چې په اجمالی تواتر سره نقل شوي دي .

## نهه او یایم اصل:

د اسلام د تل پاتي والي راز په دوو څیزونو کښې پټ دے.

الف: د اسلام شریعت هغه شریعت دے چې د انسانا نو د طبیعی او فطری ضرور تونو او اهلي هدایت ته د هغه د اړتیا لپاره یو بشپړ پروګرام لري داسې بشپړ او کامل پروګرام چې تر هغه د بشپړ او ښه پروګرام تصور نه شي کیدے.

ب: په عملی حکمونو کښې یې هم داسې جامع اصول کلیات بیان کړي دي چې د انسانانو دټولو نویو او متنوعو ضرورتونو د ځواب ورکولو توان لري او تراو سه داسې څه مسئله نه ده رامنځ ته شوې چې اسلامي شریعت اوفقه هغې ته ځواب ورنه کړے شي لاندینی کارونه د دغه هدف په تحقق کښې ګټه من او اثر لرونکي وو:

۱. د عقل حجیت: په هغو مواردو کښې چې عقل د قضاوت صلاحیت لري د عقل اعتبار او حجیت د ژوند په اوږدو کښې د انسانانو د دندو د استنباط لپاره یوه طریقه ده.

۲. د اهم او مهم د ټکر په وخت د اهم انتخاب: په دې پوهیږو چې اسلامی احکام په یو لړ ملاکونو ولاړدي چې هغه په هر څه کښې د هغې حقیقي او ذاتی یا عارضی مصالحو او مفسدو ته په پام سره پیدا شوي دي چې ځینې

ترې عقل په لاس راوړي او ځینې یې شریعت بیانوي. کله چې دا ملاکونه وپیژندل شي نو د ټکرې په وخت فقه کولے شي چې اهم په مهم غوره کړي او ستونزه حل کړي.

۳. داجتهاددروازې خلاص پاتې کیدل؛ دایوداسې ځیزدے چې دا شیعه مذهب لپاره یو امتیاز او ویاړ ګڼل کیږي. دا په خپله داسلامي شریعت دخاتمیت ضمانت ورکوي ځکه چې دیو ژوندي او پرله پسې اجتهاد په رڼا کښې دنوو مسئلو او پیښو حکم تل داسلام له کلی قواعدو څخه راویستل کیږي.

۴. احکام ثانویه:په اسلامی شریعت کښې له حکام اولیه پرته ځینې احکام ثانویه هم شته چې ورسره ډیرې ستونزې هواریدے شي. مثلاً په داسې ځای کښې چې کله په یو مورد کښې د یو حکم په پلې کیدو سره چا ته عسر او حرج یا زیان او ضرر پیښیږي نو (هغی شرطونو ته په پام سره چې په شریعت کښې بیان شوي دي) ځینې اصول لکه نفی حرج یا لاضرر؛ دا توان لري چې په داسې سختو کښې زمونږ مرسته وکړي. قرآن مجید فرمایی: وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ (حج/۷۸ ) همدا شان پیغمبر(ص) فرمایي: لاضرر ولاضرار، باید ووایو چې کوم مذهب دارنګ قاعدې لري د هغې لارویان هیڅکله له نه هواریدونکو ستونزو سره نه مخامخیږي او بندون ته نه رسیږي. د خاتمیت په هکله نور بحثونه د کلامي کتابونو په ذمه دي.

## اتیایم اصل:

داسلامی شریعت یوه ځانګړنه داده چې حکمونه یې ډیر په اسانه درک کیدلے او پوهیدلے شي. او همدا ځانګړنه د نړۍ په بیلا بیلو قومونو کښې د اسلام د نفوذ او خپریدو سبب ده اسلام د خدای دعبادت په باب یو صفا او پاک روښانه توحید او د خدای یووالے مطرحوي چې څه ابهام پکښې نشته. یوازې د توحید سورت د همدې دعوې لپاره بس دے لکه څنګه چې د پاک کتاب د انسان مقام او منزلت د هغه په تقویٰ او پرهیزګارۍ کښې ګڼي چې تقویٰ په خپله دټولو ښو او اخلاقی صفتونو مجموعه ده. په عملی حکمونو کښی هم ګورو چې اسلام هر ډول عسر او حرج منفی کوي او خپل پیغمبر د یو اسان شریعت راوړونکے معرفي کوي: جئت بشريعة سهلة سمحة؛ انصاف لرونکیو او بی غرضه محققانو که هغه مسلمان وي او که غیر مسلمان په څرګنده دا خبره کړې ده چې د اسلام د خپریدو راز د هغې د حکمونو هر اړخیز والے او رو ښانوالے دے د بیلګې په توګه ډاکټر ګوستاولوبون چې د فرانس یو مشهور پوهاند دے وایي: د اسلام د خپریدو راز د هغې په هماغه اسانتیا کښې پټ دے اسلام له داسې مطالبو چې سالم عقل یې نه مني او په نورو دینونو کښې یې بیلګې ډېرې دي، پاک دے. هر څومره چې فکر وکړې د اسلام تر اصولو ساده اصول نه شي موندلې. چې وایي: خدای یو دے، انسانان د خدای په وړاند برابردي، انسان د خپلې دیني ذمه وارۍ په پوره کولو سره جنت او خوشبختۍ ته رسي او له هغو په مخ اړولو سره دوزخ ته غورځیږي د اسلام د حکمونو د

غې ساده والي او روڼ والي په نړۍ کښې د دې دین له خپرېدو سره ډېره مرسته وکړه. او تر دې مهم هغه پوخ او مزبوت ایمان دے چې اسلام د خلکو په زړونو کښې اچولے چې هیڅ شک او شبهه یې له زړونو نه شی وباسلے. اسلام لکه څنګه چې د علمی کشفیاتو لپاره تر ټولو دینو زیات مناسب او نرم دے همدارنګ بخښنې او تیریدنې ته د خلکو د هڅولو لپاره هم له ټولو لوي دین دے چې د خلکو د نفسونو د تهذیب او اخلاقو د سمولو ذمه واري په غاړه اخستے شي.[1]

## یو اتیایم اصل:

هغه آسمانی کتابونه چې تیرو پیغمبرانو راوړي وو د وخت تیریدو سره د غرضیانو په لاس تحریف شوي دي او دا خبره له قرآن پرته چې له تاریخي ګواهی هم معلومیږي او د هغو په مطالبو کښې ځیرتیا او مطالعه په دغه خبره دلالت کوي ځکه چې په هغوي کښې داسې خبرې هم راغلي دي چې هیڅکله یې وحي نه تائید وي او له دې ور تیر اوسنے انجیل ډېر د حضرت عیسی(ع) د ژوند لیک شکل لري چې پکښې د هغه په دارختنې قیصه هم ذکر شوې ده. خو په تیرو اسماني کتابونو کښې له ښکاره تحریفاتو سره سره قرآن مجید له هرډول زیاتي اوکمي بچ پاتې شوےدے پیغمبر(ص)یو سل څوارلس پوره سورتونه له ځانه وروسته پریښي دي او د نړۍ خلکوته

---

۱ . د اسلام او لویدیځ د تمدن لیک: ډاکټر ګوستاولوبول فرانسوي. ۱۴۳-۱۴۱مخونه.

یی ورکړي دي . او د وحي لیکوالانو په تیره بیا حضرت علی(ع) چې له لومړۍ ورځې یې الهي وحي لیکله، ټول سورتونه لیکلي دي. او د ۱۵ سوو کالو تیریدو نه پس هم د هغې یو آیت او یو سورت هم نه کم شوے دے او نه زیات شوے.دلته د قرآن د نه تحریفیدو ځینو دلیلونو او اسبابو ته اشاره کوو:

۱.څنګه کیدے شي چې په قرآن کښې تحریف شوےوي حال دا چې خدای یې په خپله د حفاظت وعده کړې ده لکه چې فرمایی إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ (حجر/۹) مونږ په خپله قرآن نازل کړے او په خپله به د هغې حفاظت کوو.

۲ خدای پاک قرآن ته د هر ډول باطل د ننوتلو لاره نفي کړې ده او فرمایي لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ (فصلت/۴۲ ) باطل له یوه اړخه هم قرآن ته دننوتلو لاره نه مومي او هغه د حکیم او ستایلي شوي خدای له جانبه راغلے دے .د باطل نه مطلب هر یو هغه باطل څیزدے چې د قرآن د سستیدو سبب شي او کله چې په قرآن کښې څه زیات یا کم شي نو ضروري خبره ده چې د قرآن سستي ده نو له همدې وجې په قرآن کښې څه باطل څیز نشته.

۳.تاریخ د دې خبرې ګواهي ورکوي چې مسلمانانو د قرآن زده کړې او حفظ ته خاصه پاملرند کړې ده د پیغمبر(ص) د زمانې په عربو کښې داسې ښې او مزبوتې حافظې وې چې په یو ځل اوریدو سره به یې یوه اوږده خطبه حفظ کوله، نو څنګه ویلے شو چې قرآن چې دو مره قاریان اوحافظان یې لرل پکښې تحریف شوےدے ؟

۴. په دې کښې څه شک نشته چې حضرت علی(ع) په ځينو ځيزونو کښې له خليفه ګانو سره اختلاف لاره او خپل اختلاف به يې په بيلا بيلو ځايونو کښې په عقلی شکل بيانوه ،چې له هغې ځايونو څخه يو شقشقيه خطبه ده او نور داسې بحثونه شته دي. سره له دې ګورو چې علی(ع) په خپل ټول ژوند کښې د قرآن د تحريف په هکله يوه خبره هم نه ده کړې .اوس که (توبه نعوذبالله) که داسې څه کار شوے ؤ نوهغه به هيڅکله غلے نه ؤ ناست .
بلکه د دې په اپوټه هغوي تل په قرآن کښې دغور کولو بلنه ورکړې ده او فرمايي: لَيْسَ لِاَحَدٍ مِنْ بَعد القرانِ مِن فاقة و لا بعد القران من عنى فكونوا من حرثته واتباعه[1] اے خلکو د قرآن د پيروی له نه کولو وروسته څوک محتاجه نه دي او د قرآن د پيروی له نه کولو وروسته غنا او بې نيازي نشته نودې ته په پام سره د خپل ژوند په ځمکې کښې د قرآن تخم وشيندي او د هغې پيرو اوسئ
دې دليلونو او د دې غوندې نورو دليلونو ته په پام چې علماؤ بيان کړي دي د شيعه ؤ لوي عالمان د اهلبيتو په پيروی کښې له مخکښنيو زمانو تر اوسه د قرآن په پاکوالی او نه تحريف ټينګار کوي چې له هغوي لاندينيو کسانو ته اشاره کوو:
۱. فضل بن شاذان (په ۲۶۰ هجری قمری کښې وفات شوےدے چې د امامانو په زمانه کښې يې ژوند کاوه)په الايضاح کتاب کښې.

۱ . نهج البلاغه خطبه (۷)

۲. شیخ صدوق (وفات کال۳۸۱هـ. ق) په الاعتقادات کتاب کښې په ۹۳مخ.
۳. شیخ مفید (وفات کال۴۱۳هـ. ق) په اجوبه المسائل السرویه کتاب کښې، چې په مجموعه الرسائل کتاب کښې په ۲۲۲مخ نقل شوی دی.
۴. شیخ مرتضی (وفات کال۴۳۲هـ. ق) په اجوبه المسائل اطرابلسیات کتاب کښې، چې د هغه خبرې شیخ طبرسي په مجمع البیان کښې راوړې دي.
۵. شیخ طوسي چې په شیخ الطائفه مشهور دی (وفات کال۴۲۰هـ. ق) په التبیان کتاب کښې لومړی ټوک، ۳مخ.
۶. شیخ طبرسي (وفات کال ۵۴۸ هـ. ق) د خپل کتاب په سریزې کښې په مجمع البیان کښې د قران په نه تحریفیدو ټینګار کړې دی.
۷. سید بن طاووس (وفات کال۶۲۴هـ. ق) په "سعد السعود" کتاب کښې په ۱۴۴مخ وایي: په قران کښې تحریف نه شونه د امامیه و نظریه او لیدتوګه ده.
۸. علامه حلی (وفات ۷۲۶ هجری) په اجوبةالمسائل المهناویه کتاب ۱۲۱ مخ کښې فرمایي؛حق دادے چې په قرآن کښې هیڅ قسم کمے او زیاتے نشته او زه د تحریف له قوله خدای ته پناه وړم ځکه چې دا څیز د پیغمبر په متواترې معجزې کښې د شک سبب کیږی.
مونږ دلته د شیعه ؤ علماؤ په نومونو بسنه کوو چې په قرآن کښې تحریف نه مني او دا ټینګار کوو چې د شیعه ؤ علماو په بیلابیلو وختونو کښې تل

همدا نظرؤ لکه په دې زمانه کښې هم د ټولو شيعه ؤ مراجعو او مجتهدانو نظر دے.

## دوه اتيايم اصل

د حديث او تفسير په ځينو کتابونو کښې داسې روايتونه راغلي دي چې هغه د قرآن په تحريف باندې دليل ګرځول شوے دے خو بايد دې خبرو ته پام وکړو چې،

اول: له دې روايتونه څخه ډير له داسې خلکو او کتابونو نقل شوي دي چې د پوره د وثاقت او باور وړ نه دي لکه د احمد بن محمد سياري کتاب ،قرائات (وفات کال۲۸۲) چې د رجالو علماؤ د هغه روايتونه ضعيف ګڼلي دي او د هغه مذهب يې فاسد ګڼلے دے[۱] يا د علی بن احمد کوفی کتاب (وفات کال ۳۵۲) چې درجالو عالمان د هغه په هکله وايي، په اخری عمر کښې يې د غاليانو لاره خپله کړه[۲].

دويم: له دغو روايتونو څخه ځينې چې د تحريف مطلب ترې اخستے شي هغه په اصل کښې تفسيري اړخ لري. يعنی په روايت کښې د يو آيت تفسير داسې بيان شوےدےچې په آيت تطبيقيږي خو ځينو دا فکر کړےدے چې دغه تفسير او تطبيق د قرآن برخه ده چې اوس ترې ختمه شوې ده مثلاً د حمد په سورت کښې ؛صراط المستقيم، په روايتونو کښې د هغې تفسير

---

۱ . رجال نجاشي: ۱/ ۲۱۱، د ترجمې شمېره ۱۹۰.
۲ . رجال نجاشي: ۱/ ۹۲، د ترجمې شمېره ۲۸۹.

د پیغمبر(ص) او اهلبیتو(ع) په لاره تفسیر شوے دے او دا روښانه خبره ده چې داسې تفسیر د قرآن د آیت په یو اعلی مصداق باندې یو کلي تطبیق دے[1]. امام خمینی هغه روایتونه چې خلکو ترې د تحریف مراد اخستی دے په درې ډوله تقسیم کړي دي:

الف: ضعیف روایتونه چې ورباندې استدلال نه شي کیدے.

ب: جعلي روایتونه چې د هغې د جعلي توب دلیلونه څرګند دي.

ج: صحیح روایتونه:چې که په هغو روایتونو کښې ښه غور وکړے شي نوروښانیږي چې د قرآن په ایتونو کښې له تحریفه مراد د هغې په معنو کښې تحریف دے نه په لفظونو اوټکو کښې[2].

دریم: څوک چې غواړي د یو مذهب اصلی عقیده وپیژني نوبایدد هغوي عقیدتی او علمی کتابونو ته رجوع وکړي نه روایتی کتابونو ته چې د هغې د لیکوال مطلب یوازې د روایتونو راټولول وي.او د هغې په هکله تحقیق اوڅیړنه یې نورو ته پریښې وي. همدارنګ د یو مذهب د لارویانو ډیرو کمو او شاذو رایو ته مراجعه کول د یو مذهب د پیژندلو لپاره کافي نه دي او اصول دا نه دي چې د ډیرو پوهانو په وړاندې د یو څوکسانو په قول باور وشي او دا کار د فیصلې لپاره صحیح کار نه دے. د تحریف دبحث په اخر کښې ضروري ده چې څو خبروته پام وکړو:

۱. د اسلامی مذهبونو له خوا پر یو بل د قران د تحریف د تهمت لګول یوازې د اسلام دښمنانو په ګټه دي.

---

۱. طبرسي، مجمع البیان: ۱/ ۲۸، ط.

۲. تهذیب الاصول: ۲/ ۹۲.

۲. که د شیعه ؤ ځینو عالمانو د قرآن د تحریف په هکله کتاب لیکلے وي نو دا باید د هغوي ذاتی نظر یه وبلل شي نه د شیعو د اکثرو عالمانو او همدا سبب دے چې د دغې کتاب له خپریدو وروسته د هغې په رد کښې ډیر کتابونه ولیکل شول لکه څنګه چې په۱۳۴۵ هجري قمري کال کښې کله چې د مصر له عالمانو څخه یو کتاب ،فرقان، ځینې روایتونو ته په پام سره ولیکل شو چې د ځینی آیتونو د نسخ یا انساء په هکله ځینی هغه رواتونه پکښې راغلي وو چې د سنیانو په کتابونو کښې راغلي دي او دقران تحریف یې ورسره ثابت کړےؤ نو هغه کتاب د الازهر د عالمانو لخوا مردود و ګڼل شو او له بازاره ټول کړےشو.

۳ – د ټولو مسلمانانو آسمانی کتاب قرآن مجید دے چې ټول پکښې ۱۱۴ سورتونه دي چې لومړے یې الحمد سورت دے او اخرنۍ یې الناس سورت دے او د خدای د دې کتاب نوم قرآن مجید دے او د مجید ، کریم او حکیم[1] نمونه یې صفتونو ته په پام سره یادیږي. او مسلمانان کله کله هغه ته مصحف وایي او په عربۍ ژبه کښې مصحف هغو لیکلي شویو پاڼو ته وایی چې یو ځای ته راټولې شي او نقل شوي دي چې د پیغمبر (ص) د وفات نه پس کله چې ټول سورتونه راټول شول نو صحابه ؤ ورته د مصحف د نوم وړاندیز ورکړ[2] نودې ته په پام سره صحف هغو لیکلي شویو پاڼو ته وایي چې راټولې شوې وي او یو کتاب ترې جوړ شوے وي که قرآن وي که

---

۱ . ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ، ق/۱. إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ، فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ، واقعه/ ۷۷ ، ۷۸. یس، وَالْقُرْآنِ الْحَكِيمِ، یس/۱.

۲ . الاتقان: ۱۱/ ۸۵.

بل کتاب. او قرآن د خلکو عمل نامو ته مصحف وايي هلته چې فرمايي: و اذاالصحفُ نُشرت (تکوير/۱۰) هغه وخت چې عمل نامې پرانستل شي همدارنګ قرآن نورو آسمانی کتابونو ته هم صحف وايي او فرمايي: صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى (اعلی/ ۱۹) دابراهيم او د موسیٰ کتابونه.

دا ايتونه مونږته دابښيي چې د صحف معنی يوه پراخه معنی ده که څه هم د پيغمبر(ص) دوفات نه پس د قران يوه نامه هم ګڼل کيږي.

له همدې وجې د حيرانۍ خبره نه ده چې پيغمبر(ص) له ګرانې لورپاتې شويو ليکونو ته مصحف ويل کيږي او د دغه مصحف حقيقت هغه دے چې امام صادق(ع) يې په يو روايت کښې بيانوي: بی بی فاطمه(س) د پيغمبر(ص) له وفاته وروسته پينځه اويا ورځې ژوندې وه په هغې ډير لوی غم راغے جبرائيل (دخدای په حکم) ځمکې ته راتله او د خدای په نزد يې د پيغمبر او د هغه د منزلت او مقام خبرې کولې او په دې طريقه يې بی بی ته تسلي ورکوله او هغه به يې له دې وروسته له پيښېدونکيو پيښو خبروله او حضرت علی(ع) د بی بی له خولې هغه خبرې ليکلے او دا ليکل د بی بی فاطمه مصحف دے[1].

ابو جعفر له امام صادق عليه السلام نقلوي چې فرمايي: مصف فاطمة مافيه شئ من كتاب الله و انما هو شئ القى اليها بعد موت ابيها(صلوات الله عليها)[2] د فاطمه بی بی په مصحف کښې د خدای له کتاب څه نشته، (يعنې دا

۱ . کافي، ۱/ ۲۴۱.
۲ . بصائر الدرجات، ۱۹۵مخ.

فکر ونه کړئ چې دا قران دی) بلکه د هغې خبرې د پیغمبر(ص) له وفاته ورسته هغې ته القاء شوې او مونږ به د فقه او حدیث په برخه کښې د دې خبرې یادونه وکړو چې په اسلامي امت کښې داسې ستر شخصیتونه شته دي چې په داسې حال کښې چې نبي یا رسول نه دي خو فرشتې هغوي سره خبرې کوي او هغوي ته محدَث ویل کیږي، او د پیغمبر(ص) ګرانه لور "محدّثه" وه.

## اوومه برخه .

کلیات عقائد-

## امامت او خلافت.

پیغمبر(ص) د شریعت له درې ویشت کاله تبلیغ او کوشش او د مدینه فاضله (ایډئیل ښار) له جوړیدو وروسته د یوولسم هجری کال په لومړیو کښې له جهانه سترګې پټې کړې د هغوي په تللو سره که څه هم نبوت ختم شو نه به بیا پیغمبر راشی او نه به نوې شریعت، خوکومې ذمه واری چې د پیغمبر(ص) په ذمې وې (بې د وحي د رسولو له مسئولیته) هغه ټولې ختمی نه شوې او ضروري وه چې د هغوي له وفاته وروسته یو غوره او لایق کس د پیغمبر(ص) ځای ناستی او د مسلمانانو د امام او لارښود په توګه په هره زمانه کښې د دغو دندو ترسره کول په غاړه واخلي. او دا خبره ټول مسلمانان مني سره ددې چې د جانشین او ځای ناستی د ځیني صفاتو او د هغه د مقررولو په طریقه کښې د شیعه او سنیانو په مینځ کښې اختلاف دے په لاندې برخه کښې لومړے د شیعه معنی د هغوي د پیدا کیدو تاریخ او بیا له امامت سره تړلې نورې مسئلې جاجوو.

درې اتیایم اصل:

شیعه په لغت کښې د پیرو او منونکي په معنی د ے او په اصطلا ح کښې د مسلمانانو هغه ټولي ته وایي چې د پیغمبر(ص) له تللو ورسته د اسلامي ټولنې د مشرۍ حق د علی (ع) او د هغه د معصومو ځامنو ګڼي. تاریخ دا ګواهی ور کوي چې پیغمبر (ص)په خپل ژوند کښې په بیلا بیلو ځایونو اووختونو کښې د حضرت علی (ع) فضیلتونه او صفتونه اود ځان نه پس د هغه مشري بیان کړې ده . او د پیغمبر (ص) دا سپارښتنې ددې سبب شوې وې چې د معتبرو روایتونو په اساس د پیغمبر په زمانه کښې یو ټولے له حضرت علی (ع) سره شو او د علی د شیعه په نوم وپیژندل شو. دا ټولے د پیغمبر (ص) له وفاته وروسته هم په خپله عقیده باقی پاتې شو او د رهبر په باب کښې یې خپل شخصی او ډله ایز مصلحتونه د پیغمبر(ص) په وینا او نص وړاندې نه کړل او په دې توګه یو ټولے د پیغمبر(ص) په زمانه کښې او د هغه له وفاته وروسته د شیعه په نوم مشهور شو. او دې خبرې ته د ملل او نحل د لیکوالانو په ویناوو کښې هم اشاره شوې ده .

نوبختی (وفات کال ۳۱۰ هجرې) لیکي: "شیعه هغه کسانو ته ویل کیږي چې د رسول الله په زمانه کښې او د هغه له رحلته وروسته یې د حضرت علی(ع) امامت او مشري قبوله کړه او له نورو جدا شول او له علی(ع) سره یو ځای شول."[۱]

ابوالحسن اشعری وایي: "دې ټولي ته شیعه ځکه ویل کیږي چې دوي د علی(ع) پیروي کړې ده او هغه یې په نورو اصحابو وړاندې کړے د ے".[۲]

---

۱ . فرق الشیعه، ۱۷مخ.

۲ . مقالات الاسلامیین: ۱/ ۲۵.

شهرستانی لیکي: "شیعه هغه کسان دي چې په تېره بیا د علی(ع) پیروي یې کړې ده او د هغه امامت او خلافت له نصه او د پیغمبر (ص)په وصیت ګڼي".[1]

نودې ته په پام سره د شیعو د پیدایښت پیل هماغه د اسلام د پیدایښت پیل او تاریخ یې هماغه د اسلام تاریخ دے او په حقیقت کښې شیعه او اسلام د یوې سیکې دوه اړخونه یا د یو مخ دوه طرفونه دي چې په یوه و خت پیدا شوي دي. په شپږ اتیایم اصل کښې به دا خبره راشي چې پیغمبر(ص) د خپل څرګند دعوت په لومړیوورځو کښې بنی هاشم را ټول کړل او د علی(ع) د خلافت او امامت اعلان یې ورته وکړ او بیایې په بیلابیلو ځایونو کښې په تېره بیا د غدیر په ورځ د هغه د خلافت رسمی اعلان وکړ.

هو! شیعه نه د سقیفې له سازشه پیدا دي نه د عثمان د قتل د ور ځو له پیښو او نه له نورو قیصو بلکې پیغمبر(ص) پخپله په خپلې آسمانی ښوونې سره د لومړي ځل لپاره د صحابه ؤپه زړونو کښې د تشیع تخم وشینده او د وخت په تیریدو سره یې هغه زرغون کړ او ځینې لویو اصحابو لکه سلمان او ابوذر ته یې د شیعه نام ورکړه او اسلامی مفسرانو د إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ (بینه /۷) په تفسیر کښې نقل کړي دي چې د دې آیت نه مطلب علی(ع) او د هغه شیعه دي.[2] په

---

۱ . ملل و نحل: ۱/ ۱۳۱.

۲ . الدر المنثور: ۸/ ۵۸۹، چې له جابر بن عبدالله یې نقلوي، ابن سعید خدري، ابن عباس او علی(ع).

تاريخونو کښې له اصحابو او تابعينو د علی د شيعو نومونه چې علی(ع) يې بلا فصل خليفه ګاڼۀ راغلي دي . چې د هغوي د نومو بيانولو لپاره دلته ځای کم دے. تشيع او شيعه په دې معنی چې کومه بيان شوه د نړۍ ټولو شيعو په مينځ کښې مشترک ټکے دے چې د مسلمانانو يوه لويه برخه دي. شيعو دتاريخ په اوږدو کښې د اسلام د خپرولو لپاره له نورو مذهبونو سره اوږه په اوږه ډير لويه برخه اخستې ده. د لويو علمونو بنيادونه يې ايښي دي لوي دولتونه يې جوړ کړي دي او ټولنې ته يې لوي ادبی، او سياسی شخصيتونه ورکړي دي. اواوس هم د نړۍ په بيلا بيلو ځايونو کښې موجوددي.

## څلور اتيايم اصل

لکه څنګه چې به په راتلوونکيو اصلونو کښې داخبره ثابته کړو چې د امامت مسئله يوه آسمانی او خدايي مسئله ده او د پيغمبر جانشين بايد پيغمبر(ص) ته د خدای د وحی په وسيله وټاکل شي. خو د دې خبرې د نقلي او شرعي دليلونو له راوړلو مخکښې مونږ دا فرض کوو چې په دې هکله له مونږ سره هيڅ شرعي نص اووينا نشته . نو په داسې حال کښې بايد وګورو چې هغی زمانې ته په پام سره عقل څه حکم کوي؟
سالم او روغ عقل حکم کوي چې که يو مصلح او ښه کس په کلونو کلونو په خپلو ډيرو تکليفونو سره يوه نقشه او پروګرام پلے کړي او انسانی ټولنې ته يوه نوې طريقه وښيي نو لازمه ده چې د هغې د باقی پاتې کيدو

ودې او دوام لپاره څه فکر وکړي او دا خبره هيڅ کله صحيح نه ده چې يو سړے په ډيرو تکليفونو سره يو ځای جوړ کړي او بيايې د ساتلو او له خطراتو د ژغورلو لپاره هيڅ کار ونه کړې او چاره او تدبير ونه کاندي او د هغې د ساتلو لپاره متولی او ځای ناستې ونه ټاکي. پيغمبر (ص)د جهان د ټولو نه لوړ شخصيت دے چې د خپل شريعت په راوړلو سره يې په انسانی نړۍ کښې يولوی بدلون راوسته او بالکل نوې تمدن يې جوړ کړ نو دا منلې شوې خبره ده چې کله هغه يو تل پاتې او هميشنې شريعت راوړه اوپه خپله زمانه کښې يې د خلکو لارښوونه او مشري وکړه نو د ځان نه پس له احتمالي خطراتو د دې شريعت د حفاظت او ساتلو لپاره او د امت د مشرۍ لپاره يې هم څه فکر کړے دے. ځکه چې دا خبره هيڅکله عقل نه مني چې يو تل پاتې شريعت راوړي خو له ځانه وروسته د هغې دساتلو لپاره يو څه طريقه او طرحه وړاندې نه کړي هغه پيغمبر چې د انسانانو د ښيګړې لپاره يې يوه وړه خبره هم پرې نه ښوده او هر څه يې بيان کړه نو دا خبره عقل څنګه مني چې د اسلامی ټولنې د مشرۍ او د هغې د څرنګوالي په هکله چې د انسان له بشريت ساز او بنيادي مسايلو ده خبره ونه کړی او په حقيقت کښې اسلامي ټولنه بې برخليکه پريږدي. نو دې ته په پام دا خبره چې پيغمبر (ص) له دنيا لاړ او له ځانه وروسته يې د مشرۍ په هکله څه ونه ويل، د قبلولو وړنه ده.

## پینځه اتیایم اصل:

د پیغمبر(ص)د وفات په وخت د اسلام په لومړیوو ختونو کښې د سیمې او نړۍ حالاتو ته پام دا خبره روښانوي چې لازمه ده چې د امامت مقام تنصیصی (د خدای په حکم)وي. ځکه چې د پیغمبر(ص) د وفات په وخت درې قسمه خطرې اسلام ته متوجې وې له یوه طرفه د روم د امراطورۍ خطره له بل اړخه د ایران باچاهی او له دریم اړخه له داخلي منافقانو خطره وه. د لومړۍ خطرې داهمیت لپاره همدا بس ده چې پیغمبر(ص) تر اخر وخته د دې له فکره بې غمه نه و او له همدې وجې یې په هماغه ورځو کښې بلکې د خپل عمر په اخری شیبو کښې د اسامه بن زید په مشرۍ له رومیانو سره د مقابلې لپاره یولوي لښکر تیاره کړ او ویې لیږه او له دغه لښکره په سر غړونکیو باندې یې لعنت وکړ. دویم دښمن هم ډیر بد دښمن و چې د پیغمبر(ص) لیک یې وشلوه او د یمن با چا ته یې ولیکل چې پیغمبر(ص) ونیسي یایې سر له تنه جدا کړي او هغه ته یې راولیږي. او د دریمې خطرې په هکله هم باید پوه شو چې دا ټولے هم په مدینه کښې یا د مدینې نه بهر د پیغمبر(ص) په وړاندې ازغے و او په بیلا بیلو چلونو سره به یې د پیغمبر (ص) زړه ژوبلاوهٔ او په بیلا بیلو سورتونو کښې د هغوي د تیرو د ویشتلو قیصه بیان شوې ده تردې چې په قرآن کښې یو سورت مکمل د منافقانو په نوم راغلے دے او د هغوي بد عملونه او فکرونه یې پکښې بیان کړي دي.اوس دا پوښتنه کیږي چې ایادا صحیح ده چې پیغمبر(ص) له داسې خطرو سره سره اسلامی امت او اسلامی شریعت چې دښمن ورته په کمین کښې و همدا سې بې رهبره پریږدي؟! بې شکه

پیغمبر(ص) ته پته وه چې د عربو ژوند یو قبیله ای ژوند دے او د قبیلو د خلکو په زړونو کښې د خپلو مشرانو لپاره تعصب وي او په هغوي کلک ولاړ وي. نو داسې خلکو ته د رهبرۍ انتخاب پرېښودل به د قبیلو تر مینځ د او اختلافاتو سبب وي او دښمن به له داسې اختلافه ګټه اخلي او همدې حقیقت ته په پام سره شیخ الرئیس بو علی سینا وایي: د پیغمبر(ص) د نص له لارې د ځای ناستي ټاکل حقیقت ته نزدې خبره ده ځکه چې د ځای ناستي په ټاکلو سره ټول جنګونه ختمیږي

## شپږاتیایم اصل

اوس چې کله ثابته شوه چې د پیغمبر د حکمت او علم غوښتنه دا وه چې د ځان نه پس د امت لپاره باید ضروري اقدام وکړي نو باید وګورو چې هغه حضرت ددې چاره په څه ډول کړې ده؟ دلته دوه نظریې دي چې دواړه جاجوو.

۱- پیغمبر(ص) دخدای په حکم یو تکړه شخصیت چې د اسلامي امت د رهبرۍ وړ ؤ وټاکه او دځان د ځای ناستي په توګه یې خلکو ته معرفي کړ.

۲- پیغمبر(ص) د رهبر ټاکل خلکو ته پرېښودل چې د هغه نه پس د ځان لپاره یو مشر او رهبر جوړ کړي او دا خبره یې بیان کړې ده. اوس باید وګورو چې کومه یوه نظریه صحیح ده او د کتاب ،سنت، دپیغمبر(ص)د سیرت او د اسلامی تاریخ مطابق ده ؟

کله چې مونږ د پیغمبر(ص)د ژوند په حال کښې ځیر شو نو ګورو چې له کله هغه ته د شریعت د رسولو حکم شوےدے او خپلو خپلوانو ته او بیایې عامو خلکوته اعلان کړےدے. تر وفات پورې، مونږ ته په دې مطلب یقین کیږي چې هغه حضرت (ص) له ځانه وروسته په ځلونو د خلیفه نښانې ښودلي دي او په اصطلاح ووایو چې له پاسنیو نظریو څخه یې لومړنے نظر چې د نص او خلیفه ټاکنې نظریه ده خپله کړې وه نه دویمه نظریه چې خلکو ته یې دا کار پریښودلے وي. او دا خبره په لاندنیو دلیلونو سره ثابتیږي:

۱: د یوم الدار حدیث.

د بعثت له پیل کیدو درې کاله وروسته خدای پاک پیغمبر(ص) ته حکم وکړ چې خپل دعوت څرګند کړه او دا آیت نازل شو. وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ (شعراء / ۲۱۴)پیغمبر(ص)د بنی هاشمو مشران جمع کړل او ویې فرمایل ما ستاسو لپاره د دنیا او اخرت خیر راوړےدے خدای پاک ماته حکم کړےدے چې تاسو هغې ته راوبلم . له تاسو څخه کوم کس ما سره ددې دین په خپرولو کښې مرسته کوي چې په تاسو کښې زما ورور او وصی او ځای ناستې وي؟ پیغمبر (ص) درې ځلې دا خبره وکړه او هر ځل یوازې علی ورته هو ځواب ورکړ. په دغه وخت پیغمبر(ص) وفرمایل: اِنّ هذا اَخي وَ وَصيّ وَخَليفتی فيكُمْ.[۱]

---

۱. مسند احمد، ۱/ ۱۵۹ ؛تاریخ طبری ۲/ ۴۰۲ ؛تفسیر طبری (جامع البیان) ۱۹ /۷۴-۷۵، د شعراء سورت تفسیر، ۲۱۴ ایت.

**۲:د منزلت حدیث.**

پیغمبر(ص) په بیلا بیلو ځایونو کښې له ځان سره د حضرت علی مقام او منزلت هماغه ښودلےدے چې کوم منزلت او مقام د هارون له موسی سره و او د هارون له مقامونو څخه یې یوازې یو مقام (چې نبوت و) د علی لپاره نه دے بیان کړے او په یو داسې حدیث کښې چې تواتر ته نزدې دے فرمایي: یَا عَلی اَنْتَ مِنّی بمنزلة هارونَ مِن موسیٰ اِلا اَنه لا نَبِیّ بعدی[1] د قرآن کریم په نص هارون د موسی علیه السلام په زمانه کښې د نبوت[2]،خلافت،[3] او وزارت[4] مقام لاره او د منزلت حدیث هم د علی علیه السلام لپاره بې له نبوته نور ټول مقامات ثابتوي او که چرې ددې حدیث مطلب د نبوت نه بغیر د ټولو مقامونو ثابتول نه وو نو د نبوت د منفی کولو ترې څه ضرورت نه و.

---

۱ صحیح بخاری، ۲/ ۳،د ۱۳۱۴کا ل چاپ، د غزؤه تبوک په باب کښې، صحیح مسلم،۷/ ۱۲۰، د علی(ع) دفضیلتونو په باب کښې؛ سنن ابن ماجه،۱/ ۵۵، دپیغمبر (ص) د اصحابو د فضائلو په باب کښې؛ مسند امام احمد، ۱/ ۱۷۳ ،۱۷۵، ۱۷۷ ،۱۷۹ ،۱۸۲ ،۱۸۵ او ۲۳۰ مخونه ، ابن هشام ،۱۲۳/۴ (غزؤه تبوک).

۲ وَوَهَبْنَا لَهُ من رّحْمَتنَا أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا (مریم/۵۳)

۳ وَوَاعَدْنَا مُوسَى ثَلاَثِينَ لَيْلَةً وَأَتْمَمْنَاهَا بِعَشْرٍ فَتَمّ مِيقَاتُ رَبّهِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً وَقَالَ مُوسَى لأَخِيهِ هَارُونَ اخْلُفْنِي فِي قَوْمِي وَأَصْلِحْ وَلاَ تَتّبِعْ سَبِيلَ الْمُفْسِدِينَ (اعراف/۱۴۲)

۴ واجعل لی وزیرا من اهلی (طه/۲۹)

۳-د سفينې حديث

پيغمبر(ص)خپل اهلبيت د نوح د کشتۍ په شان ګڼي چې هر څوک پکښې سپور شو نو هغه نجات بياموند او هر چاچې ترې مخ واړوه نو په طوفان کښې غرق شو. لکه چې فرمايي؛ اَلا اِنّ مَثَلَ اَهلبيتی فيکم مَثَلُ سَفينةِ نوح فی قومِهِ مَنْ رَکِبَها نَجیٰ وَ مَن تَخَلّفَ عَنْها غَرِقَ.[۱]

په دې ته په پام سره د سفينې حديث د امت لپاره د ناخوښو پيښو نه د بچيدو لپاره يوازينے پناه ځای اهلبيت(ع) ښودلي چې کله کله دا ناخوښې پيښی د انسانانو د بې لارۍ سبب کيږي

۴:دامت د امان حديث.

پيغمبر(ص) خپل اهلبيت د امت لپاره د يووالي او له احتلافه د بچيدو سبب ښودلي دي او فرمايي: النّجُومُ اَمانٌ لاهلِ الارْض مِنَ الغَرق وَ اَهْلُ بَيْتِی اَمَانٌ لامّتِی مَن الاخْتلاف، فاذا خالَفَتْها قَبيلةٌ مِنَ العَرب اختلفُوا فَصَاروا حِزْبَ اِبليس[۲] لکه څنګه چې د آسمان ستوري د ځمکې د اوسيدونکيو لپاره په درياب کښې د نه غرقيدو وسيله ده (ځکه چې په درياب کې تلونکي د وَبِالنَّجْمِ هُمْ يَهْتَدُونَ (نحل /۱۲) په حکم د ستورو په وسيله ددرياب په څپو کښې لاره پيدا کوي او غاړې ته رسي) زما اهلبيت هم له اختلافه د امت د بچيدو وسيله

---

۱ مستدرک حاکم،۳/ ۳۵۱؛ صواعق المحرقه،۹۱مخ؛ميزان الاعتدال۱/ ۲۲۴؛ تاريخ الخلفاء،۵۷۳؛ الخصا ئص الکبری، ۲/ ۲۲۲ ؛ينابيع المودة،۲۸مخ ؛فتح القدير،۱۱۳ مخ او نور کتابونه.

۲ مستدرک حاکم۱۴۹/۳

دي که د عربو یو ټولے له هغوي سره مخالفت وکړي نو په اختلاف به اخته شي او د شیطان له ټولي به شي.

**۵**. د ثقلین حدیث.

د ثقلینو حدیث د اسلام له متواترو حدیثونو څخه دےچې ددواړو مذهبونو عالمانو هغه په خپلو کتابونو کښې نقل کړے دے پیغمبر(ص) په دې حدیث کښې خپل امت ته فرمایي. په تاسو کښې دوه ګران بیه څیزونه د امانت په توګه پرېږدم او څم او بیا هغې دوو سره تمسک او په هغې منګولې ښخول د امت د هدایت سبب او له هغې مخ اړول د ګمراهۍ سبب ګڼي لکه چې فرمایی: اِنّی تَارِکٌ فِیکم الثقلَیْن کِتاب الله وَ عِترتی اَهل بیتی مَا اِنْ تَمَسّکتُم بِهِما لَنْ تَضِلّوا اَبَدا وَ اِنّهُما لَنْ یَفترِقا حَتّی یَرِدا عَلَیّ الحوضَ[1] دا حدیث د اهلبیتو(ع) علمي مرجعیت قرآن سره اوږه په اوږه ښیي او په مسلمانانو دا لازموي چې په دینی چارو کښې د خدای له کتاب سره سم د اهلبیتو لار ښودنې ته هم رجوع وکړي خو د ډیر افسوس ځای دے چې ځینې کسان هرې دروازې ته ځي خو د اهلبیتو دروازې ته نه راځي حدیث ثقلین چې شیعه او سنیان په هغې اتفاق لري هغه د نړۍ ټول مسلمانان د یو امت په

---

۱ . صحیح مسلم۷/ ۱۲۲ ، سنن دارمي، ۲/ ۴۳۲، مسند احمد ، ۳/ ۱۴، ۱۷، ۲۲ ، ۵۹، ۴/ ۳۶۶ او ۳۷۱ ، ۵/ ۱۸۲ او ۱۸۹ ، خصائص علویه، نسائي ۲۰مخ، مستدرک حاکم، ۳/ ۱۰۹ ، ۱۴۸ ، ۵۳۳ او نور کتابونه، پهدې هکله د قاهرې د دارالتقریب بین المذاهب الاسلامیه په ثقلین باندې لیکل شوې رسالې ته هم مراجعه کولې شئ چې له مطبعه مخیمر چاپ شوې ده.

شکل راټولولے شي ځکه چې که د پیغمبر له وفاته وروسته د خلافت په باب امت په دوو ډلو وویشل شو نو په علمی مرجعیت د اختلاف لپاره هیڅ دلیل نشته او -حدیث ثقلین ته په پام سره- امت باید یو شي د خلفاؤد خلافت په وخت کښې هم علمی مرجعیت او په علمی خبرو کښې د رجوع ځای علی(ع) و او په دینی چارو کښې به اختلاف د علی(ع) په وسیله لیرې کیدۀ او په حقیقت کښې له کومې ورځې چې د پیغمبر (ص) اهلبیت له دینی او علمی مرجعیته لیرې شوي دي نو له هماغه وخته فرقه پالنه هم شورو شوې ده او بیلا بیلې کلامي فرقې جوړې شوي دي.

## اووه اتیایم اصل:

په تیرو حدیثونو کښې پیغمبر (ص) کله په کلی طریقه او کله په روښانه او مشخصه طریقه خپل ځای ناستے ښودلےدے، داسې چې دا دواړه طریقې په خبرو او حق غوارړو کسانو خپل حجت تماموي. بیا هم ددې لپاره چې هغه حضرت خپل پیغام نزدې او لرې ټولو خلکو ته ورسوي او د شک او تردید پکښې څه ځای پاتې نه شي نو د اخرني حج نه د واپس راتللو په وخت د غدیر په مقام ودریدۀ اوملګروته یې وفرمایل چې د خدای له خوا حکم لري چې هغوي ته یو پیغام ورسوي. د خدای پیغام چې د هغې رسول یوه لویه ذمه واري وه او که ترسره نه وه شوې نو د خپل رسالت پیغام یې نه دےرسولے. لکه چې فرمایي:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ (مائده /۶۷)اے د خدای رسوله! څه چې تاته ستا د رب له خوا درغلي دي هغه ورسوه او که دا کار دې ونه کړ نو خپل رسالت دې نه دے رسولے او خدای به تا د خلکو (له شره) ساتي.[۱] هغه وخت يې د پيغمبر(ص) لپاره يو ممبر جوړ کړ او هغه ممبر ته وخاتۀ او خلکو ته يې وفرمايل: زۀ به ډير زر د خدای بلنې ته ځواب ورکړم (وفات به شم) تاسو زما په هکله څه وايئ؟ په ځواب کښې يې وويل، مونږ ګواهی ورکوو چې تا د خدای دين مونږ ته راورساوه او زمونږ خير دې وغوښتۀ اوډير کوشش دې وکړ خدای تا ته د خير بدله درکړه. هغه وخت يې وفرمايل، آيا د خدای په وحدانيت، زما په رسالت او د قيامت په ورځ ګواهي ورکوئ؟ ټولو هو ځواب ورکړ. بيايې وفرمايل،زۀ به له تاسو وړاندې حوض کوثر ته ورسم پام کوئ چې زما له دوو ګرانبيه ځای ناستو سره تاسو څه کوئ؟ يو سړي ترې پوښتنه وکړه له دوو قيمتي ځای ناستو دې څه مطلب دے؟

پيغمبر(ص) ځواب ورکړ: يو د خدای کتاب او بل زما عترت (اهلبيت) او لطيف او خبير خدای ماته داخبر راکړےدے چې دا دواړه به له يو ٠بله نه جدا کيږي تر دې چې دقيامت په ورځې د حوض کوثر په غاړه ماته راورسيږي له هغه دوو مه مخکښې کيږئ ګني هلاک به شئ او له هغه دوو

۱. اسلامی محدثانو او مفسرانو دې آيت ته اشاره کړې ده چې د حجةالوداع په موقع د غدير په ورځ نازل شوےدے وګورئ الدررالمنثور، سيوطی، ۲/ ۲۹۸ ،فتح القدير شوکانی، ۲/ ۵۷ ،کشف الغمة اربلی، ۹۴ مخ ، د قندوزی ينابيع المودة، ۱۲۰ مخ، المنار، ۲ /۴۶۳ و نور....

مه لیري کیږئ ګنی هلاک به شئ. بیایې د علی لاس په خپل لاس کښې ونیوهٔ او اوچت یې کړ تردې چې ټولو کسانو هغه ولید بیایې داسې وفرمایل: ایها الناس من اولی الناس بالمؤمنین من انفسهم؟ له مومنانو څخه کوم کس ستاسو په ځانونو اولی(د اختیار څښتن) دے؟ په ځواب کښې وویل؛ خدای او د هغه پیغمبر(ص) ښه پوهیږي. پیغمبر(ص) وفرمایل: ان الله مولائ وانا مولی المومنین وانا اولی بهم من انفسهم . خدای زما مولی دے او زه هم د مومنانو مولی یم او زه په مومنانو د هغوي له ځانونو زیات اختیارلرم.

بیایې درې ځلې وفرمایل: فمن کنت مولاهٔ فعلی مولاه؛ د چا چې زهٔ مولا یم د هغه علی مولادے. بیایې وفرمایل: اللّهُمّ والِ من والاه وعادِ مَن عاداه وَاحبّ مَن احبه و اَبغض مَن اَبغضه وَانْصُر مَن نَصرهُ وَاخْذل مَن خَذَله، وَادر الحقَ مَعه حَیْثُ دارَ اَلا فَلْیبلغ الشاهد الغائبَ؛ ای ربه! هغه چا سره مینه وکړه چې له علی سره مینه لري او هغه چا سره دښمني وکړه چې له علی سره دښمني لري او مهربان اوسه له هغه چاسره چې علی سره مهربان وي او غصه شه په هغه چا چې په علی غصه وي او مرسته وکړه هغه چا سره چې علی سره مرسته وکړي او خوار کړه هغه څوک چې علی خوار وي او حق له هغه سره کړ ه هر چرته چې وي، حاضر کسان دې دا خبره غائبو ته ورسوي.

## اته اتیایم اصل:

حدیث غدیر له متواترو حدیثونو څخه دے او له اصحابو، تابعینو او اسلامی محدثانو څخه ددې راویانو په هره پیړۍ کښې دا حدیث په

متواتره طریقه نقل کړےدے. له صحابه و څخه ۱۱۰کسانو، له تابعینو څخه ۸۹ کسانو او له اسلامی محدثانو او عالمانو څخه ۳۵۰ کسانو د غدیر حدیث نقل کړے دے او په داسې تواتر سره په دې حدیث کښې د شک څه ځاې نه پاتې کیږی.او همدارنګ د عالمانو یو ټولی ددی حیث په هکله ځانته کتابونه لیکلي دي چې له ټولو ښه ترې د علامه عبدالحسین امینی (۱۳۹۰ - ۱۳۳۰ ه –ق) الغدیر کتاب دے چې د دې حدیث سندونه یې راټول کړي دي.اوس وګورو چې د مولی له ټکي د پیغمبر(ص) مطلب څه دے؟

ډیرې قرینې په دې ګواهي ورکوي چې مطلب ترې مشري او رهبری ده چې ځینې قرینو ته یې اشاره کوو:

الف- پیغمبر(ص) د غدیر په پیښه کښې د حجیانو کاروان په یوه اوچه او شنډه ځمکه کښې په نیمه ورځ چې سخته ګرمي وه،ودراوه، ګرمی دومره زیاته وه چې خلکو نیمه عبا په سر اچولې وه او نیمه یې ځانته لاندې اچولې وه نو په داسې حال کښې باید پیغمبر(ص) هغه خبرې وکړي چې د امت د هدایت لپاره ډیر مهمې وي، او د خلیفه تر جوړولو زیات مهم کوم یو کار کیدے شي چې د مسلمانانو د وحدت او یووالي اوددین د حفاظت سبب دے. او د اسلام راتلونکے برخلیک په همدې پورې تړلےدے.

ب-پیغمبر(ص) د علی(ع) له ولایته وړاندې د اسلام د دریو اصلونو په هکله خبرې وکړې یعنې توحید، نبوت او قیامت، او له خلک ویې د هغې په هکله اقرار واخسته بیایې د خدای پیغام ورساوۀ او کله چې پیغمبر(ص) دا پیغام ددین په اصولو باندې له اعتراف او منلو سره یو ځای

کړ نو له دې ځایه د هغه پیغام په اهمیت پوهیږو چې پیغمبر(ص) چې دومره لوی او بې وخته خلک راټول کړل نو دا به یې ورته یوه عامه خبره نه کوله چې تاسو له علی سره دوستی وکړئ بلکه د خلافت او جانشینۍ خبره وه.
ج-هغه حضرت د خطبی په لومړیو کښې وفرمایل چې ډیر زر به زۀ له تاسو لاړ شم او دا ددې خبرې څرګندونه کوي چې له هغه سره له ځانه وروسته د امت غم و نو څومره ښه ده چې ددې کار لپاره څه چاره وشي چې د هغه دین په راتلونکیوطوفانونو کښې خوندي پاتےشي.
د-د علی(ع) په هکله د خدای د پیغام له رسولو مخکښې یې د خپل مولویت او اولویت خبرې وکړې او ویې فرمایل: خدای زما مولا دے، او زۀ د مومنانو مولایم او په هغوي باندې د هغوي تر ځانونو زیات اولی (د اختیار څښتن) یم. نو دا خبره ګواهی ورکوي چې د علی(ع) مولی والے هماغه مولویت او اولویت دے چې کوم د پیغمبر(ص) لپاره په خلکو دے او پیغمبر(ص) د خدای په حکم سره هغه د علی(ع) لپاره هم ثابت کړے دے. او د پیغمبر(ص) د اولویت مطلب هماغه دے چې کوم په دې آیت کښې بیان شوے دے النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ (احزاب/٦) پیغمبر(ص) په مومنانو باندې د هغوی تر ځانونو زیات اختیار لري او د پیغمبر(ص) د اختیار مطلب دا دے چې پیغمبر(ص) د خدای په حکم د هغوي په مالونو او نفسونو کښې تصرف کولے شي. یعنې که د جهاد یا انفاق حکم وکړي نو بې چون وچرا دې ومنل شي او داسې خبره منل اوپه مالونو او نفسونو کښې تصرف کول هماغه ولایت او مشروالے دے چې د خدای له خوا هغه

ته ورکړے شوے دے او همدا مقام له هغه ورسته د خدای په حکم علی(ع) ته ورکړے شو او هغه د خلکو امام شو او امامت همدې ته وايي چې په کارونو کښې د يوې ټولنې مشري وکړے شي،
ه- پيغمبر (ص) چې کله د خدای پيغام ورساوۀ نو له خلکو يې وغوښتل چې حاضر کسان دې دا خبره غائبو کسانو ته ورسوي او پيغمبر(ص) له ممبره راکوز شو او خپلو ملګرو ته يې حکم وکړ چې علی(ع) ته د اميرالمومنين په توګه مبارکي ورکړئ نو امام په يوې خيمې کښې کښيناسته او د پيغمبر(ص) ملګري يو يو راغلے او هغه ته يې مبارکي ورکړه او تردې چې شيخين ابوبکر او عمر هم خيمې ته راغلل امام ته يې مخ کړ اوويې ويل، هنيئالک يا علی بن ابی طالب اصبحت مولائ و مولا کل مؤمن،اے علی تاته مبارک شه نن ته د هر مومن او مومنې مولا جوړشوے.[۱]

## نهه اتيايم اصل:

اسلامی تاريخ دا ښيي چې د پيغمبر(ص) دښمنانو د هغه د دين د ختمولو لپاره له بيلا بيلو طريقو ګټه اخستې ده؛ په پيغمبر(ص) باندې د جادو د تور له لګولو د هغه تر وژلو پورې، خو په دې ټولو ځايونو کښې ورسره د خدای مرسته وه او هغه يې د مشرکانو له شره خوندي ساتۀ د مشرکانو اخرنے اميد دا وه چې (زوے يې نشته نو) د هغه له مړيدو سره به د هغه

۱. د لا زياتو معلوماتو لپاره ؛الغدير؛ کتاب ته مراجعه وکړئ لوړې ټوک، ۲۷۹-۲۸۳ مخونه،

دعوت هم ختم شي أَمْ يَقُولُونَ شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ (طور/۳۰) يا هغوي وايي چې دا شاعر دے او مونږ يې د زمانې د پيښنو (وفات) په انتظار ناست يو، دا خبره د ډيرو مشركانو او منافقانو په فكر كښې وه خو پيغمبر(ص) د يو داسې جانشين د ولايت اعلان سره چې خالص ايمان يې لاره د هغوي ټول اميدونه او هيلې ختمې كړې اوپه دې طريقه يې د اسلام د باقى پاتې كيدو ضمانت وركړ او د دين بنيادونه يې مزبوت كړل. او داسلام نعمت يې د داسې ځاى ناستي په ټاكلو سره بشپړ كړ. همدا سبب ؤچې د على(ع)د ولايت له اعلانه وروسته د غدير په ورځ داايت نازل شو: الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (مائده/۳)[۱] نن كافران ستاسو ددين له ختميدلو مايوس (نهيلې) شول نو له هغوي مه ويريږه او له ما وويريږه، نن مې ستاسو دين بشپړ كړ او نعمتونه مو په تاسو پوره كړل او

---

۱. ځينې صحابه و اوتابعين، دا آيت د غدير خم په موقع نازل شوے ګڼي،لکه ابوسعيد خدرى، زيد بن ارقم، جابر بن عبدالله انصارى، ابوهريره او مجاهد مكى، د دې لپاره چې د تيرو كسانو روايتونه په دې هكله وګورئ نو د غدير پيښنه د ابو جعفر طبرى په كتاب الولايۀ كښې حافظ ابن مردويه اصفهانى له ابن كثيره په خپل تفسير كښې دويم ټوک.۴۹۱مخ ، حافظ ابونعيم اصفهانى په ؛ما نزل من القران فى علې ،كتاب كښې، خطيب بغدادى د خپل تاريخ په ۸ ټوک ۲۹۰ مخ، حافظ ابو سعيد سجستانى په ،الولاية،كتاب كښې ،حافظ ابوالقاسم حسكانى، ابن عساكر شافعى له سيوطى څخه په الدرالمنثور، ۲ ټوک۲۹۵ مخ، خطيب خوارزمى په مناقب كتاب كښې چې عبارت يې په الغدير لومړى ټوک ۲۳- ۲۳۲ مخونو كښې راغلے دے نقل كړي دي.

په دې راضي شوم چې دا اسلام (چې بشپړ شوے او جانشين مقرر شوے) ستاسو دين شي.[1]

له دغې روايتونو ورتير چې په متواتره توګه راغلي دي او ثابتوي چې د پيغمبر(ص) د جانشينۍ مسئله يو خدايي مسئله وه او د خلکو په کښې څه اختيارنه و،د تاريخ پاڼې هم په دې خبره ګواه دي چې پيغمبر(ص) هغه وخت هم د جانشينۍ او ځای ناستي والي مسئله يوه خدايي مسئله ګڼله چې لا په مکه کښې و او لايي په مدينه کښې حکومت نه ؤ جوړکړے کله چې ورته د حج په ورځوکښې د بنی عامر د قبيلې مشر راغے او ورته ويې ويل:که مونږ له تاسره بيعت وکړاو ته په خپلو دښمنانو بری شوے نو ايا مونږ له به په مشرۍ او رهبرۍ کښې څه برخه راکوې؟ پيغمبر(ص) ورته په ځواب کښې وفرمايل: دا کار د خدای په لاس کښې دے چې چاته يې ورکول غواړي هغه ته يې ورکوي. الامرالی الله يضعه حيث يشأ[2] نو دا روښانه ده که چرې د مشرۍ مسئله د خلکو په لاس کښې وے نو بايد داسې يې فرمايلي و: الامر الی الامة، يا الی اهل الحل والعقد! په دې هکله د پيغمبر(ص) خبره داسې ده لکه چې درسالت په هکله چې د خدای خبره ده،لکه چې

---

۱. فخر رازی په خپل تفسير کښې وايي: ددې آيت له نازليدو وروسته رسول الله مبارک ۸۱-۸۲ ورځې ژوندې و؛او له دې وروسته هم څه پيښه ونه شوه نو دې ته په پام سره بايد ووايو چې داايت د غدير په ورځ نازل شوےدے چې د اخرنی حج ۱۸ نيټه وه او دې ته په پام سره چې د سنيانو د وينا مطابق پيغمبر(ص)په ۱۲ربيع الاول وفات شوےدے او که درې واړه مياشتې د ۲۹ ورځووي نو ۸۲ ورځې کيږي (د فخررازی تفسير۳/ ۳۲۹ مخ)

۲. سيره ابن هشام۲/ ۴۲۲-

فرمايي: اللّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ (انعام/۱۲۴) خدای په دې ښه پوهيږي چې خپل رسالت چاته ورکړي.

## نوييم اصل

د خلافت د مسئلې تنصيصي والے او دا چې امت د جانشين په ټاکلو کښې څه رول نه لري دا خبره د صحابه و په ذهن کښې هم وه څه خو ؤ چې هغوي له لومړي خليفه وروسته په دويم خليفه کښې د خدای او د رسول د تنصيص او ټاکنې په ځای د لومړي خليفه ټاکنه مينځ ته کړه او ټول تاريخونه په دې خبره يوه خله دي چې دويم خليفه د لومړي خليفه له اړخه وټاکل شو.او دا تصور کول چې د لومړي خليفه له خوا د دويم ټاکنه يقيني نه وه بلکه يو وړانديز و، صحيح نه دي او له تاريخ سره ټکره لري. ځکه لا لومړے خليفه ژوندے ؤ چې د پيغمبر(ص) ملګرو د دويم خليفه په ټاکنه نيوکه وکړه چې له هغوي څخه يو کس زبير و نو که دا يوازې يووړانديز وے نو د صحابه ؤ نيوکې ته څه حاجت نه و له دې پرته چې عمر د ابوبکر په خلے معين شو، دريم خليفه هم د يوې داسې شورى په وسيله وټاکل شو چې هغه شورى دويم خليفه جوړه کړې وه اوددويم خليفه دا کار هم يو ډول د خليفه ټاکل ووچې د عامو خلکو لاس يې له خليفه ټاکلو لنډکړ. خبره داوه چې د عامو خلکو اود پيغمبر(ص) د يارانو په فکر کښې دا خبره هډووه نه چې خليفه دې د امت له طرفه دي. او په دې هکله چې کومې بهانې جوړيږي هغه دوروستيو خلکو کاردے بلکې د هغوي دا عقيده وه

چې خلیفه دې باید د مخکښینې خلیفه په وسیله وټاکل شي. د مثال په توګه کله چې دویم خلیفه زخمي شو نو د پیغمبر(ص) میرمنې بي بي عائشې ورته د عمر د زوي عبدالله په خله پیغام ولیږه اوویې ویل: پلارته دې زما سلام وایه اوورته ووایه چې د پیغمبر امت بې شپانه مه پریږده[1] عبدالله بن عمر هم کله چې یې پلار بیمار پروت ؤ هغه یې د خلیفه ټاکنې ته وباله او ویې ویل: خلک ستا په هکله خبري کوي اووایي چې ته به څوک جانشین ونه ټاکې آیا که ستا د اوښانو څرونکے ستا اوښان همداسې په صحرا کښې پریږدي او بل څوک ورباندې ونه ګماري نو ته به هغه ته نه غصه کیږې؟ نو د خلکو د خیال ساتل د اوښانو نه زیات ضروري دي.[2]

## یونو یم اصل

د امامت د بحث په لومړیو کښې مو اشاره وکړه چې امام او خلیفه د مسلمانانو په نظر کښې هغه کس دے چې د پیغمبر(ص) ټولې ذمه وارۍ (بې له شریعت راوړلو) د هغه په ذمې دي اوس له هغې ذمه وارو ځینې ذکر کوو چې د امامت مقام او اهمیت معلوم شي.

الف- د قرآن د معنو او مفاهیمو بیانول او د هغو د ستونزو هوارول د پیغمبر ذمه واري وه قرآن په دې هکله فرمایي: وَأَنزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا

---

۱. الامامة والسیاسة ۱/ ۳۲.

۲. حلیة الاولیاو ۱ /۴۴.

نُزِّلَ إِلَيْهِمْ (نحل/۴۴) قرآن مې په تا نازل کړ. د دې لپاره چې څه په هغوی نازل شوي دي هغوی ته یې بیان کړې.

ب-د شرعي حکمونو بیانول هم د هغه له ذمه وارو څخه وو چې ځینې به یې د قرآن په تلاوت سره او ځینې به یې د سنت په وسیله بیانول د پیغمبر(ص) له اړخه احکام ورو ورو او له ورځنیو پیښو سره سره بیان شوي دي او طبیعي خبره ده چې دا کار باید ادامه ولري په داسې حال کښې چې کوم حدیثونه د حکمونو په هکله له رسول الله مبارکه مونږ ته راغلي دي د هغې شمیر له ۵۰۰ څخه زیات نه دے[1] او دومره فقهي حدیثونه د امت لپاره کافي نه دي.

ج- پیغمبر(ص) په خپله زمانه کښې د حقو مرکز او چورلیز و او په خپل روښانه بیان سره به یې په امت کښې د فرقوله جوړیدو مخ نیوے کاوه نو له همدې وجې د هغه په ژوند کښې په اسلام کښې فرقې جوړې نه شوې یا څرګندې نه شوې.

د- دیني پوښتنو ته ځوابونه ورکول هم د پیغمبر(ص) له ذمه واریو څخه وو.

ۀ- د عمل او وینا له لارې د ټولنې د وګړو تربیت کول.

و- د اسلامي ټولنې کښې عدالت او امنیت ساتل هم د پیغمبر(ص) له ذمه واریو څخه وو.

ز- د اسلام د حدونو حفاظت کول او د دښمنانو په مقابله کښې د اسلام باقي ساتل هم د پیغمبر(ص) له ذمه واریو ګڼل کیدل.

---

۱ الوحي المحمدي، ۲۱۲مخ، شپږم چاپ

اخرنۍ دوه ذمه وارۍ د هغې خلیفه له طرفه هم امکان لري چې خلکو ټاکلے وي خو نورې ذمه وارۍ (د قران د معنوبیانول او دشرعی حکمونو بیانول او...) یو داسې پوه او خبر مشرته اړمنې دي چې د خدای وربانديې خاص نظراو رحمت وي او په علم او عمل کښې د پیغمبر(ص) په قدم روان وي. یعنی د نبیانو د علم خاوند اوله هر قسمه خطااو غلطۍ خوندي وي ددې لپاره چې دغه خطرناکې ذمه وارۍ تر سره کړےشي. او د پیغمبر(ص) په نۀ شتون کښې د تاریخ په اوږدوه کښې په لوړو ژورو کښې د هغه ځای ونیسي، سره ددې چې دغه کس نه پیغمبردے او نه د هغه غوندې د شریعت راوړونکے. او د امامت له مقام هیڅکله د نبوت مقام سره یونه دے. واضحه خبره ده چې داسې کس باید تر امته په علم او پوهې کښې اوچت وي او د موسی غوندې لدنی علم[1] ولري. او د داسې کس پیژندل یوازې د خدای په حکم د پیغمبر(ص) په وینا ممکن دي او دا هم روښانه ده چې وړاندې مقصدونوته رسیدل هاله ممکن دي چې خلک د پیغمبر(ص) په وینا د ټاکلي شوي کس اطاعت او ملاتړ ته پاڅیږي او یوازی د خدای لخوا یقین او د پیغمبر(ص) اعلان کول د دې مقصدونو د پوره کیدو لپاره کافی نه دي (لا رای لمن لایطاع) لکه څنګه چې د قران او پیغمبر(ص) په هکله هم خبره همداسې ده. دپیغمبر(ص) له رحلته وروسته ځینې ناوړه پیښې او د ځینو کسانو د ډلبندۍ سبب دا نه و چې پیغمبر(ص) په خپلې د حکمت نه ډکې ذمه وارۍ باندې عمل نه وکړے او دامت د ساتلو لپاره یې

---

١. وعلمنا من لدنا علما (کهف/٦٥)

اصولي طرحه نه وه جوړه کړې،بلکې خبره داوه چې د امت ځینې کسانو خپل نظر د پیغمبر(ص)په طرحې وړاندې کړ او خپل ذاتی مصلحت یې د خدای اودرسول تر ټاکنې او تنصیص غوره کړے و،او په تاریخ کښې یوازې دا یو ځای نه دے چې داسې شوے وي بلکه د اسلام په تاریخ کښې ددې مثالونه زیات دي.[1]

## دوه نو یم اصل: د امام عصمت

په تیراصل کښې موږویل چې امام یو عام مشر نه دے چې یوازې د هیواد په چلولو او د هغه د سرحدونو په ساتلو لګیا وي بلکه له دې پرته نورې ذمه وارۍ هم لري چې هغې ته اشاره وشوه نو دغه لویې ذمه وارۍ ترسره کول لکه د قرآن تفسیر، د احکامو بیانول، دخلکو عقیدتی پوښتنو ته ځوابونه ورکول او په عقیده کښې له هر ډول انحرافه مخ نیوے کول، هاله ممکن دي چې پراخ او بې خطاعلم ولري او که عام خلک دغه ډول چارې په لاس کښې واخلي نو له خطا او غلطۍ به په امان نه وي.
البته عصمت له نبوت سره برابر نه دے، کیدے شي یو کس له خطا او ګناه معصوم وي خو پیغمبر او نبی نه وي. د دې ځرګندہ بیلګه حضرت مریم بي بي ده چې د پیغمبرانو د عصمت په باب کښې مو د هغې د عصمت دلیلونه

---

١ د سید عبدالحسین شرف الدین عاملی لیکل شوي کتاب ؛النص والاجتهاد؛ ته مراجعه وکړئ.

بيان کړل.[1] له دې عقلي څېړنې پرته نورهم داسې دليلونه شته چې د امام په معصوم والي دلالت کوي چې ځينې ترې بيا نوو:

۱- د خدای قطعي اراده دا ده چې اهلبيت(ع) له هر ډول ګناهونو پاک کړی لکه چې فرمايي: إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا (احزاب /۳۳) "په تحقيق سره خدای غواړي له تاسو اهلبيتو هر ډول پليتي ليرې کړي او تاسو داسې پاک کړی لکه څنګه چې د پاکيدو حق دے." دا ايت د اهلبيتو(ع) په عصمت باندې داسې دلالت کوي چې د خدای اراده چې کله د اهلبيتو په پاکۍ وشوه نو دا برابره ده له دې سره چې هغوي له هرډول ګناه نه پاک دي ځکه چې په دې آيت کښې د رجس مطلب هره پليتي ده که روحی وی که په فکر او په عمل کښې وي چې ګناه يې څرګند مصداق دے،اوکله چې دا اراده د خاصوکسانو په هکله شوې ده نه د ټول امت لپاره نو له هغه پاکۍ سره فرق لري چې د ټولو په هکله راغلې ده دپاکۍ هغه اراده چې د ټولو مسلمانانوپه هکله شوې ده هغه تشريعی اراده [2] ده اوکيدےشي د ځينې کسانود نافرمانۍ په سبب دا اراده تر سره نه شي په داسې حال کښې چې داهلبيتو په حق کښې اراده تکوينی ده چې هيڅ کله به د هغې په خلاف کار (يعنی په ګناه ککړتيا) ونه شي.

دا خبره هم د پام وړ ده چې د تکوينی ارادې مطلب دا نه دے چې له اهلبيتو(ع) د ګناه کولو اختيار اخستې شوې دے او هغوي بےاختياره شوي دي داسې نه ده لکه څنګه چې د پيغمبرانو عصمت له هغوي د ګناه

---

۱ د همدې ليکوال؛ الهيات کتاب ۲ټوک۱۴۲-۱۹۸ مخونوته مراجعه وکړئ

۲ سورۀ مائده ۲ايت، و لکن يريد ليطهرکم چې د وضو د آيت په ذيل کښې راغلے دے.

کولو اختیار نه ختموي همداراز د امامانو عصمت اراده هم هغوي نه بې اختیاره کوي. (د دې تفصیل د عقائدو په کتابونو کښې داغلے دے)
۲- د ثقلینو د حدیث په حکم چې فرمایي: انی تارک فیکم الثقلین؛کتاب الله وعترتی، اهل بیت علیهم السلام له قرآن سره په یو صف کښې راوستي دي یعنی لکه څنګه چې قرآن له هر ډول خطا پاک دے همدارنګ اهلبیت(ع) هم له هررنګ خطا پاک دي. دا مطلب د حدیث له اخرۍ برخې راوځي هلته چې فرمایي: الف: ماان تمسکتم بهما لن تضلوا ابدا، تر څو چې دا دواړه کلک ونیسئ نو هیڅکله به نه ګمراه کیږئ.
ب: انهما لن یفترقا حتی یردا علی الحوض. دا دواړه یو تر بله نه جدا کیږي تر دې چې د حوض په غاړه ماته راورسي.
دا بالکل روښانه ده ځکه چې له کوم څیز سره تمسک کول او د هغې نیول د هدایت سبب کیږي او هیڅ کله هغه له قرانه نه جداکیږي،نو داسې څیز باید له هر ډول ګناه او خطا پاک وي
۳- پیغمبر(ص) خپل اهلبیت(ع) د نوح د کشتۍ غوندې ګڼلي دي او فرمایلي یې دي چې هر څوک چې په دې کشتۍ کښې سپور شو نو د دریاب له چپو په امان کښې دے او هر چا چې ورسره مخالفت وکړ نو په دریاب کښې غرق شو. اِنّمَا مَثَلُ اَهلِ بیتی فی اُمّتی کَسَفِینةِ نُوحٍ مَن رَکِبها نجیٰ وَ مَن تَخلّفَ عَنها غَرِقَ[1]، دې دلیلونو ته په پام سره چې په لنډه توګه بیان شول د اهلبیتو عصمت او له ګناهانو پاکی روښانه ده او نقلی دلیلونه یوازې همدانه دي کوم چې بیان شول بلکې نور هم شته.

۱. مستدرک حاکم ۱۵۱/۲ ؛ خصائص کبری، سیوطی ۲/ ۲۲۲.

دريې نويم اصل: دولس امامان

دامامانو پیژندل له دوو لارو امکان لري.

الف: پیغمبر(ص) د خدای په حکم په جوته د یو کس امامت بیان کړي؛

ب: تیر امام د ورپسې امام امامت بیان کړي.

د شیعو دولس امامان له دواړو لارو ثابت شوي دي هم پیغمبر (ص) د هغوي امامت بیان کړےدےاو هم هر یو امام د ځان نه د وروسته امام امامت بیان کړےدے په دې هکله یوازې په یو روایت بسنه کوو[۱]

پیغمبر(ص) یوازې د علی(ع) په ټاکلو بسنه ونه کړه بلکې یادونه یې وکړه چې له ما وروسته به دولس امامان وي چې دین او اسلام به د هغوي په لاس عزت بیامومي لکه چې فرمایي: لایزال الدین منیعا الی اثنی عشر خلیفة، او په بل روایت کښې داسې فرمایي: لایزال الاسلام عزیزا الی اثنی عشر خلیفة؛

دا خبره د ویلو ده چې د دولسو امامانو په هکله حدیثونه د سنیانو په ډیرو کتابونو او صحاحو کښې هم راغلي دي.[۲]

او دا منلے شوې خبره ده چې هغه دولس امامان چې د اسلام عزت په هغوي پورې تړلےدے بې د شیعو د دولسو امامانو په بل چا نه تطبیق کیږي، ځکه چې نه د بنی امیه و خلیفګان د دین د عزت سبب وو او نه عباسی خلیفه ګان اونه دا شمیر په هغوي صحیح راځي.

---

۱. له نورو روایتونو د خبریدلو لپاره د حدیث کتابونو لکه اصول کافی، کفایةالاثر، اثباة الهداة منتخب الاثر وغیره ته رجوع وکړئ.

۲. صحیح بخاری، ۹/ ۸۱،دالاستخلاف باب؛ صحیح مسلم، ۲/ ۳ کتاب الاماره؛ مستند احمد،۵/ ۸۲. او ۱۰۸مخونه، مستدرک حکم، ۳/ ۱۸.

دشیعو دولس امامن په دې شان دي:

١. امام علی ابن ابی طالب، (زوکړه: له بعثته لس کاله وړاندې، شهادت ۴٠ هجری کال) په نجف کښې مدفون دے.
٢. امام حسن بن علی المجتبی (٣-٥٠هجری کال ) د مدينې په بقيع مقبره کښې دفن شوے.
٣. امام حسين بن علی سيدالشهداء (۴-٦١ هجری کال) په کربلا کښې دفن شوے.
۴. امام علی بن الحسين زين العابدين عليه السلام (٣٨-٩۴ هـ . ق) په بقيع کښې دفن شوے.
٥. امام محمد بن علی باقر عليه السلام (٥٧-١١۴ هـ . ق) په بقيع کښې دفن شوے.
٦. امام جعفر بن محمد صادق عليه السلام (٨٣-١۴٨ هـ . ق) په بقيع کښې دفن شوے.
٧. امام موسی بن جعفر عليه السلام چې کا ظم لقب لري (١٢٨-١٨٣ هـ . ق) په کاظمين کښې دفن شوے.
٨. امام علی بن موسی الرضا عليه السلام (١۴٨-٢٠٣ هـ . ق) په خراسان مشهد کښې دفن شوے.
٩. امام محمد بن علی عليه السلام مشهور په جواد (١٩٥-٢٢٠ هـ . ق) په کاظمين کښې دفن شوے.
١٠. امام علی بن محمد عليه السلام چې په هادي مشهور و (٢١٢-٢٥۴ هـ . ق) په سامرا کښې دفن شوے.
١١. امام حسن بن علی عليه السلام چې په عسکری مشهور و (٢٣٢-٢٦٠ هـ . ق) په سامرا کښې دفن شوے.

۱۲. امام محمد بن حسن عجل الله تعالی فرجه الشریف چې په حجت او مهدی لقبونو مشهور دے هغه د شیعو دولسم امام و او اوس هم ژوند ے او غیب دے تر دې چې یوه ورځ به د خدای په حکم ظهور وکړي او د قرآن د څرګندي وعدې مطابق (په نور سورة ۵۴ایت او توبه /۳۳ او فتح /۲۸ او صف /۹)او همدا رنګ په متواترو اسلامی حدیثونو کښې راغلي دی چې په ټوله نړۍ کښې به اسلام او عدالت خپور کړي[۱].

د شیعو د امامانو ژوند لیک د تاریخ په کتابونو کښې په تفصیل سره بیان شوےدے او کله چې پوه شو چې دولسم امام لا تراوسه ژوند ےدے او د امامت مقام لري نو د هغه په هکله ځینې خبرې بیانوو:

## څلور نویم اصل

د پیغمبر(ص) له کورنۍ سره مینه له هغو کارونو څخه ده چې قرآن او سنت ورباندې ډیر ټینګار کړےدے لکه چې فرمایي: قُل لَّا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا إِلَّا الْمَوَدَّةَ فِي الْقُرْبَى (شوری /۲۳ ) ووایه زۀ له تاسو د خپل رسالت هیڅ بدل نه غواړم خو د اهلبیتو سره مینه. د قربی مطلب د پیغمبر(ص) خپلوان دي ځکه چې غوښتونکے یې په خپله پیغمبر(ص) دے.

د پیغمبر(ص) له کورنۍ سره مینه سره د دې چې په خپل ځای یو لوی کمال دے ورسره ورسره د دې سبب هم کیږي چې انسان له هغوي سره غړ مل شي

۱. دځینو امامانو د زوکړے او شهادت په تاریخونو کښې اختلاف دے چې مونږ تدې یو خوښ کړےدے او پهدې هم پوهیږو چې هغه ټول په ظلم سره شهیدان شوي دي چې په تاریخ کښې په تفصیل سره بیان شوي دي .

او د فضیلتونو په لاس راوړلو او د مردودو کارونو په پریښودلو کښې د هغوي پیروي وکړي.
له پیغمبر(ص) څخه په متواترو حدیثونو کښې نقل شوي دي چې اهلبیتو سره ملګرتیا د ایمان علامت او هغوي سره دښمني د کفر او نقاق علامت دے. چا چې هغوي سره مینه وکړه نو خدای او رسول سره یې مینه وکړه او چا چې هغوي سره دښمنی وکړه نو خدای او د هغه رسول سره یې دښمنی وکړه.
په اصل کښې د رسالت کورنۍ سره مینه کول د دین له ضروریاتو څخه دي چې پکښې شک اوتردید کول روانه دي او ټول مسلمانان په دې خبره یوه خلۀ دي بې له هغه کسانو چې په نواصبو مشهور دي او له همدې سببه له اسلامه انکار کوونکي ګڼل کیږي.

دولسم امام

غیبت اوظهور

د هر یو امام په هکله خبرې کول په دې کتاب کښې نه ځاییږي کوم څیز چې اشاره ورته ضروري ده دا دے چې په دولسم امام باندې عقیده لرل ضروري دي چې هغه حضرت اوس زمونږ له سترګو پټ دے او د خدای په حکم به یوه ورځ څرګند شي او ټوله نړۍ به له عدل او انصافه ډکه کړي لاندې ځینې مطلبونه په یو څو اصلونو کښې بیانوو.

## پينځه نويم اصل

کله چې نړۍ له ظلم اوزياتى ډکه شی په داسې وخت کښې د پيغمبر(ص) له کورنۍ د يو کس څرګنديدل او د عدل حکومت جوړول، په اسلامی عقيدو کښې له منل شويو خبرو څخه دي چې ټول مسلمانان په دې خبره اتفاق لري او په دې هکله نقل شوي روايتونه د تواتر حد ته رسي د څيړاندو او محققينو د شمير مطابق۲۵۷روايتونه په دې هکله نقل شوي دي چې يوازې د مسند احمد بن حنبل د يوۀ روايت په نقلولو بسنه کوو:

پيغمبر(ص) وفرمايل: لَولَم يَبقَ مِنْ الدُنيا اِلاّ يُومٌ واحِدٌ لَطَوَّلَ اللهُ ذلِکَ اليَومُ حَتّى يُخرُجُ رَجُلٌ مِن وُلدي فَيَملأُها عَدلاًو قِسطاً کما مُلِئَت ظُلماً و جوراً [1] که د نړۍ يوازې يوه ورځ عمر پاتې وي نو خداى به هغه ورځ هم دومره اوږده کړي چې يو سړے به زماله اولاده پاڅون وکړي او نړۍ به له عدل او انصافه داسې ډکه کړي لکه څنګه چې له ظلم او زياتى ډکه وه.

شپږ نويم اصل

د هغه نړيوال مصلح ځانګړتياوې د فريقينو په روايتونو کښې داسې بيان شوي دي:

۱- د پيغمبر(ص) له اهلبيتو څخه د ے------------------۳۸۹ روايتونه

۲- د اميرالمؤمنين على(ع) له اولاده د ے--------------۲۱۴ روايتونه

۳- د بي بي فاطمه (س) له اولاده د ے-----------------۱۹۲ روايتونه

۴- د امام حسين(ع) اولاد په نهمه پوړۍ کښې د ے-------۱۴۸ روايتونه

---

۱. مسند احمدبن حنبل ۱/ ۹۹ او ۳/ ۱۷ او ۷۰مخ

۵- د امام زین العابدین له اولاده دے------------------۱۸۵ روایتونه
۶- د امام حسن عسکری(ع)له اولاده دے--------------۱۴۶ روایتونه
۷- د اهلبیتو امامانو دولسم امام دے --------------- ۱۳۶ روایتونه
۸- هغه روایتونه چې د هغه د پیدا کیدو خبر ورکوي------۲۱۴ روایتونه
۹- د هغه عمر به اوږد وي ----------------------------۳۱۸ روایتونه
۱۰- هغه به لوی غیبت لري-----------------------------۹۱ روایتونه
۱۱- د هغه په ظهور سره به اسلام په ټوله نړۍ کښې امن راشي----۲۷ روایتونه
۱۲-ځمکه به له عدل او انصافه ډکوي-----------------۱۳۲ روایتونه

دې ته په پام سره د یو داسې نړیوال مصلح راتلل د مسلمانانو په راتلونکي تاریخ کښې د اسلامی روایتونو له نظره یو منلے شوے کار دے او پکښې څه شک نشته، اختلاف یوازې په دې کښې دے چې ایا هغه له موره پیدا شوے دے او اوس ژوندےدے که نه په راتلونکي زمانه کښې به پیدا کیږي؟ شیعه او ځینې د اهلسنتو محققان لومړنے خبره مني اوپه دې باور دي چې هغه حضرت په ۲۵۵ هجری قمري کال کښې زیږیدلے دےاو اوس هم ژوندےدے خو ځینې اهل سنت وایي چې هغه لا تر اوسه نه دے زیږیدلے او په راتلونکي وخت کښې به دنیا ته راځي.

کله چې مونږ شیعه په دې باور شو چې حضرت په ۲۵۵ هجری کال کښې زیږیدلے دے نو ضروري ده چې د دې لیکنې د ظرفیت مطابق د هغه د غیبت او د عمر د اوږدوالي په هکله ځینې خبرې ولیکو.

## اووه نویم اصل

د قرآن له نظره د خدای ولیان په دوه ډوله دي یو هغه څرګند ولیان چې خلک يې پیژني او دوم غیب او پټ ولیان چې خلک يې نه پیژني سره ددې چې هغه پټ ولیان د دوي تر مینځ دي او د دوي له حاله خبر دي.

۱. د کهف په سورت کښې دواړه ډوله په یو ځای بیان شوي دي. یو حضرت موسی بن عمران(ع) دے او دویم د هغه موقت ملګرے چې ورسره د دریاب او اوچې په سفر کښې یو ځای شوے دے چې نوم يې خضر(ع) دے. د خدای دا ولي داسې پټ و چې حضرت موسی(ع) ترې هم نه و خبر او یوازې د خدای په ښوونه يې هغه وپیژنده او د هغه له علمه يې ګټه واخسته لکه چې فرمايي: فَوَجَدَا عَبْدًا مِّنْ عِبَادِنَا آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا.

قَالَ لَهُ مُوسَى هَلْ أَتَّبِعُكَ عَلَى أَن تُعَلِّمَنِ مِمَّا عُلِّمْتَ رُشْدًا (کهف/۶۵-۶۶) موسی (د دریاب په غاړه) زمونږ له بندګانو یو بنده و موند چې مونږ هغه ته خپل رحمت ورکړے و او له خپل طرفه مو هغه ته یو څه علم ورکړے و موسی هغه ته وویل: آیا اجازت راکوې چې له تا سره شم او ته ما ته له خپله علمه څه نه څه رازده کړې؟

قرآن کریم بیا په تفصیل سره د خدای د دې ولي حال بیانوي. چې له ټولې پېښې څرګنده ده چې خلک د خدای دا ولي نه پیژني خو د وجود له برکته يې ګټه اخلی.[1] حضرت ولی عصر (عج) هم د موسی(ع) د ملګري په شان دے خلک يې نه پیژني خو د خلکو د ګټې کارونه کوي نو دې ته په پام

---

۱. سورة کهف، ۷۱-۸۲ ایتونه

سره د امام د غیبت معنی دا نه ده چې هغه له ټولنې جدا دے بلکې لکه څنګه چې د امامانو په روایتونو کښې راغلي دي؛ هغه داسې دے لکه لمر چې د وریځو شاته وي که څه هم سترګې یې نه وینی خو د ځمکې اوسیدونکیو ته ګرمي او رڼا ورکوي.[1]

له دې پرته، په تاریخ کښې، ډېر داسې پاک زړه والا کسان او پارسایان تېر شوي دي چې د هغه د لیدلو سعادت یې تر لاسه کړے دے، هغه حضرت ته رسیدلي دي او له هغه یې ګټه اخستې ده او اخلي، او په دې طریقه نور خلک هم د هغه له وجوده ګټه اخلي.

## اته نویم اصل

په انسانانو کښې عام طریقه دا ده چې ځینې کارونه پاچا په خپله کوي او ځینې کارونه د هغه استازي او نمایندګان کوي. دا رښتیا خبره ده چې د امام د غیبت سببونه ډیر دي او انسانان نیغ په نیغه هغه ته له رسیدلو محروم دي. خو د خوشحالۍ خبره دا ده چې د هغه له نمایندګانو چې عادل او پرهیزګار عالمان دي، د ګټې اخستلو لاره همیشه خلاصه ده لوي عالمان او مجتهدان په شرعی اوحکومتي کارونو کښې د هغه حضرت نمایندګان او استازي دي او د اسلامي ټولنې چلول د غیبت په زمانه کښې هغوي ته سپارلي شوي دي خو د هغه حضرت د وجود له ټولو آثارو

---

۱. کمال الدین، شیخ طوسی، **۴۵**باب، **۴**حدیث **۴۸۵**مخ،

محرومیدل د ځینو خاصو شرائطو او حالاتو په سبب دي چې د هغه غیبت ورسره ضروري کیږي.

## نهه نویم اصل

د هغه حضرت(عج) غیبت د خدای پاک له رازونو څخه دے او کیدے شی مونږ د هغې په حقیقت خبرنه وو. په تیرو امتونو کښې هم د امت د مشر او رهبر غیبت تیر شوےدے.
موسی بن عمرآن څلویښت ورځې له خپل قومه غیب و او په میقات کښې و (اعراف/۱۴۲)حضرت عیسی (ع) د خدای په خوښه له خپل امته غیب شو او دښمنان یې په وژلو کښې کامیاب نه شو (نساء۱۵۸)حضرت یونس هم د څه وخت لپاره له خپل امته غیب شو (صافات/ ۱۴۰)اصولا کله چې یوه خبره په متواترو حدیثونو سره ثابته شي او انسان د هغې له رازه د پوره خبریدو توان نه لري نو پکار نه ده چې په هغې کښې شک وکړی او انکار یې وکړي. ځکه چې په داسې بڼه کښې د اسلام په ډیر داسې احکامو چې له ضروریاتو او بدیهیاتو دي شک پیدا کیدے شي. د امام عصر (عج) غیبت هم له دې قاعدې وتلے نه دےاو د هغې له رازه نه خبریدل د دې سبب نه جوړیږي چې پکښې شک او تردید وشي او انکار ترې وشي. اودا ویلے شو چې انسان تر خپله فکري توانه د هغې په راز پوهیږي او هغه دا چې:

د خدای دا معصوم او اخرنے حجت د یو لوی ارمان او ایډیال د پوره کولو لپاره (چې په ټولې دنیا کښې د عدل حکومت راوستل او د اسلام د بیرغ رپول دی) ساتلے شوے دے او د دې ارمان پوره کیدل دې خبرې ته اړتیا لري چې ډیر وخت دې تیر شي او انسانان د عقل او روح له نظره دې خبرې ته تیار شي او انسانان په خپله دهغه حضرت هرکلي ته ورشي. نو که هغه حضرت له داسې وخته وړاندې څرګند شي نولکه د نورو امامانو او انبیاؤ به وړاندې له دې چې خپل مقصد ته ورسي، شهید کړے شي. او دې خبرې ته په روایتونو کښې هم اشاره شوې ده امام باقر(ع) وفرمایل: د حضرت قائم(عج) لپاره له ظهوره وړاندې یو غیبت دے. راوي ترې د دې د سبب پوښتنه وکړه نوویې فرمایل: د دې لپاره چې له مرګه خوندي پاتے شی[1]

له دې ورتیر په ځینې روایتونوکښې د خلکو د ازمیښت خبره هم شوې ده مطلب یې دا دے چې د غیبت په وخت کښې به خلک په ازمیښت کښې وي او هغوي به هاله کامیابیږي چې په خپل ایمان ښه کلک پاتې شي.[2]

## سلم اصل

کلامی دلیلونه، په ټولنه کښې د یو معصوم شتون د خدای له مهربانۍ اوالطافو څخه یوه مهرباني او لطف ګڼي چې هغه د خلکو د هدایت سبب

---

۱. کمال الدین، شیخ صدوق، ۱۴ باب، ۱۰،۹،۸، حدیثونه

۲. مجلسی، بحار الانوار،۱۰۲/۵۲، ۱۱۳، ۱۱۴، د التمحیص والنهی عن التوقیت باب.

دے. نو دا روښانه ده چې که چرې خلک د هغه خدايي لطف او مهربانۍ په لور لاړل نو د هغه له شتونه به ډېر ګټې بیا مومي اوکه د هغه په لور لا نه ړل نو له دې ګټې به محروم پاتے وي او بې برخې والي سبب خلک په خپله دي نه خدای پاک او امام.[1]

## يوسل يو اصل

حضرت ولی عصر عجل الله تعالی فرجه الشريف په **۲۵۵** هجری قمری کښې دنیا ته راغلے دے نو په دې حساب سره اوس(په ۱۴۱۸)کال کښې د هغه حضرت له عمره کابو يووس سوه کاله تيرېږي او د دې خبرې منل د خدای قدرت ته په پام سره څه ګران کار نه دے او کوم کسان چې د هغه حضرت دومره لوي عمر مشکل کار ګڼي په حقيقت د خدای له قدرته غافل دي: وَمَا قَدَرُواْ اللّهَ حَقَّ قَدْرِهِ (انعام/۹۱) او له دې ورتير په تير شوي امتونو کښې له دې هم د زيات عمر کسان وو لکه قرآن د حضرت نوح (ع) د رسالت موده نهه سوه پنځوس کاله ګڼی(عنکبوت/۱۴)همدا رنګ په نن وخت کښې د انسانانو علم او سائنس دا کوشش کوي چې د انسانانو د عمر د اوږدوالي مسله هواره کړي او دا خبره د دې دليل دے چې انسان د اوږد عمر توان لري خو ځينې ځيزونه داسې دي چې د هغه د عمر د اوږدوالي مخ

---

۱ محقق طوسی، په تجريد الاعتقاد کتاب کښې د امامت په بحث کښې په لاندينې عبارت سره دې دليل ته اشاره کړې ده، وُجودُهُ لُطفٌ، وتصرُّفُهُ لُطفٌ اخر و عَدَمُهُ منّا، **۳۶۲** مخ

نیوے کوي. نو په رښتیا کوم خدای چې دا توان لري چې حضرت یونس د ماهي په خیټه کښې تر قیامته ژوندے وساتی (صافات/۱۴۳/۱۴۴) نو آیا هغه دا طاقت او قدرت نه لري چې خپل آخرني حجت ته په خپل لطف او کرم سره اوږد عمر ورکړي؟ روښانه ده چې کولے یې شي.

خدای که جهان پاینده دارد    تواند حجتی دا زنده دارد.

هغه خدای چې ټول جهان ژوندے ساتے شي

یــو حـجت ورتـــه هر ان ژونـد ے ساتے شي

## یوسل دویم اصل

د هغه حضرت د ظهور او څرګندیدو وخت چاته معلوم نه دے او دا خبره له هغې رازونو څخه ده چې لکه دقیامت یوازې خدای ته یې پته ده نودې ته په پام سره د هغو کسانو خبره منل صحیح نه دي چې وایي مونږ ته د ظهور وخت معلوم دے بلکه هغوي دروغجن دي (کَذِبَالوقاتون)

که د هغه حضرت د ظهور د دقیق تاریخ له ټاکلو ورتیرشو، نو باید ووایو چې په روایتونو کښې د هغه حضرت د ظهور لپاره کلي ځینې نښې بیان شوي دي چې هغه هم په دوه ډوله دي حتمي اوغیر حتمي نښانې چې د دې تفصیل د عقایدو په کتابونو کښې راغلے دے.

# له مرګه وروسته جهان

## یوسل دریم اصل

اسماني شریعتونه ټول په دې خبره یوه خله دي چې په آخرت باندې ایمان ضروری دے. ټولو پیغمبرانو توحید ته د بلنې په څنګ کښې د قیامت او مرګ نه پس د ژوند په هکه هم خبرې کړي دي او په اخرت باندې ایمان یې د خپل پروګرام په سر کښې بیان کړےدے. نو دې ته په پام سره په قیامت باندې عقیده په اسلام کښې د ایمان له ارکانو څخه ده. که څه هم چې د قیامت مسله په تورات او انجیل کښې ډیره روښانه بیان شوې ده خو په قرآن کښې له نوروآسمانی کتابونونه زیات په دې اړه خبرې شوي دي. او د دې کتاب لویه برخه د قیامت په هکله ده. په قرآن کښې قیامت په بیلا بیلو نومونو یاد شوےدے. لکه ؛یوم القیامه، یوم الحساب، الیوم لاخر، یوم البعث او داسې نور. او دا دومره اهمیت لهدې امله دے چې ایمان او دینداري د قیامت له عقیدې پرته څه ګټه نه لري.

## یوسل څلورم اصل

اسلامی پوهانو اومتکلمانود مرګ نه په وروسته ژوند او د قیامت په شتون باندې بیلا بیل دلیلونه بیان کړی دي. او په دې ټولو دلیلونو کښې

يې له قرانه مرسته اخستې ده له همدې سببه ښه دا ده چې د قرآن ځينې دليلونه دلته بيان کړو:

الف. خدى پاک حق دے او د هغه کارونه هم حق دي او له هر ډول باطل او عبث کاره پاک دي. د انسانانو پيدا ايښت بې له کوم هدف او مقصده لغو او عبث دے لکه چې فرمايي: أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَاكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ (مومنون/۱۱۵)ايا تاسو دا پام کوئ چې تاسو مو عبث پيدا کړي يئ او تاسو به مونږ ته نه راګرځئ؟!.

ب. د خداى د عدل تقاضا ده چې له نيکانو او بدکارو سره په سزا او جزا کښې يوشان سلوک ونه شي. په داسې حال کښې چې په دې دنيا کښې ګورو چې په سزا او جزاء کښې د پوره عدل او انصاف د راتللو امکان نشته، ځکه چې د دواړو ټوليو برخليک يو دے او له يو بله نه جدا کيږي. له بل اړخه ځينې ښه او بد کارونه داسې دي چې د هغې اجر او سزا دومره لويه ده چې په دې دنيا کښې نه شي ادا کيدے مثلاًيو سړے د حق په لاره کښې ډير تکليفونه وزغمي او بيا په همدې لاره کښې شهيد شي او يو بل کس چې ډير حق غواړي انسانان ګمراه او مړه کړي. نو دې ته په پام سره يو بل جهان بايد داسې وي پکښې د خداى پاک د پوره پوره عدل جارى کيدلو امکان وي. لکه چې فرمايي:

أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ (ص/۲۸)ايا نيک مؤمنان د مفسدينو په قطار کښې راولو يا له پرهيزګارانو او ګناهګارانو سره يو شان سلوک وکړو؟!

او همدا رنګ فرمايي: إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا وَعْدَ اللّهِ حَقًّا إِنَّهُ يَبْدَأُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ آمَنُواْ وَعَمِلُواْ الصَّالِحَاتِ بِالْقِسْطِ وَالَّذِينَ كَفَرُواْ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُواْ يَكْفُرُونَ (يونس/۴) "ستاسو ورتګ د هغه په لور دی، د خدای وعده ريښتونې ده. بيشکه چې هغه انسان پيدا کوي بيا يې بيرته ستنه وي د دې لپاره چې هغه کسانو ته چې ايمان يې راوړے دے او نيک عملونو يې کړي دي هغه شان چې پکار دي انصاف سره جزا ورکړي او کومو کسانو چې کفر کړے دے د هغوي لپاره د يشيدلو اوبو څښاک دے او دردناک عذاب دے ځکه چې کفر يې کړے دے.

ج. د انسان پيدايښت په دې جهان کښې له يوې ذرې شورو شوے دے او ورو يې جسم پوره کيږی او کمال ته رسي تر دې چې د هغه په بدن کښې روح واچولے شي او قرآن خدای پاک ته د انسان په دې پوره پيدايښت د احسن الخالقين لقب ورکوي، بيا هغه د مرګ په سبب له دې جهانه بل جهان ته ځي چې له تيرې مرحلې نه زيات کمال پيدا کړي او تيره مرحله ورسره مکمل شي او دې خبرې ته په قرآن کښې داسې اشاره شوې ده: ثُمَّ أَنشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ.انَّكُمْ بَعْدَ ذَلِكَ لَمَيِّتُونَ. ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ (مومنون/۱۴-۱۶) "بيا مو ورته يو بل پيدايش او خلقت ورکړ نو د ډير برکت خاوند دے هغه ذات چې تر ټولو ښه پيدا کوونکےدے بيا به څه وخت پس تاسو مړيږئ او بيا به د قيامت په ورځې ژوندي کيږئ". د دې آيت له سياقه دا پته لګيږي چې له يوې ذرې د انسان د پيدا کولو د ذکر او د هغه د بيا ژوندي کيدو تر مينځ يو تړاو شته.

## يوسل پينځم اصل

د قرآن د نازليدو په زمانه كښې به د قيامت منكرانو ځينې پوښتنې او نيوكې كولې چې قرآن د دې سره سره چې د هغوي ځواب يې وركړے د قيامت په شتون باندې يې ځينې دليلونه هم راوړي دي چې دلته ترې ځينو ته اشاره كوو.

الف-كله كله يې د خداى په مطلق قدرت تكيه كړې ده او فرمايي: إِلَى اللّهِ مَرْجِعُكُمْ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (هود/۴) ستاسو ټولو بيا ورتلل د هغه په لوردي او هغه په هر څه قدرت لري.

كله كله دا بيانوي چې كوم خداى چې په لومړي ځل د انسان د پيدا كولو توان لري هغه يې له بيا پيدا كولو هم عاجز نه دے لكه د قيامت په منكرانو نيوكه كوي او فرمايي: فَسَيَقُولُونَ مَن يُعِيدُنَا هغوي وايي؛ مونږ به څوک دوباره ژوندي كړي؟ بيا ورته داسې ځواب وركوي: قُلِ الَّذِي فَطَرَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ (اسراﺀ/۵۱)ووايه؛هغه څوک چې تاسو يې په لومړي ځل پيداكړئ .

ج- په ځينو ځايونو كښې يې د انسان بيا ژوندى كول په سپرلي كښې له ژمي خوبه وروسته د ځمكې د بيا ژوندى كولو په څير ګڼلي دي لكه چې فرمايي؛ كله چې مو په مړه ځمكه اوبه راوليږلې، نو په خوځيدوشوه او وابنه ترې راوټوكيدل او ښائسته زرغونه يې وكړه. دغه بيا بيا وقع كيدونكي طبيعي حقيقت ته له اشارې وروسته د قيامت خبره كوي او فرمايي: وَأَنَّهُ يُحْيِي الْمَوْتَى (حج /۵-۲)

د-د دې پوښتنې په ځواب کښې چې ویل به یې: کله چې انسان مړشي او د هغه بدن خوړین شي او ورژیږي او د هغې ټوټې په خاورو کښې خورې شي نو دا خورې شوې ټوټې به بیا څرنګه پیژندل کیږي او د تیر بدن غوندې بدن به ترې جوړ شي؟

قران د خدای په لوي علم تکیه کوي او داسې فرمایي: بَلَى وَهُوَ الْخَلَّاقُ الْعَلِيمُ (یس/۸۱) هو! خدای دا قدرت لري ځکه چې خبردار پیدا کوونکے دے. په یو بل ځای کښې دغه پراخ علم داسې بیانوي: قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ الْأَرْضُ مِنْهُمْ وَعِندَنَا كِتَابٌ حَفِيظٌ (ق/۴) مونږ له هغه خبر یو چې ځمکه یې کموي او له مونږ سره داسې کتاب دے چې هر څه پکښې محفوظ دي.

ه-کله کله ځینی خلک دا فکر کوي چې انسان یوازي له مادی غړو جوړ شوے دے چې له مرګه وروسته رژیږی او خاورې کیږي نو دې ته په پام سره څرنګ دا ویلے شو چې کوم کس چې په قیامت کښې بیا ژوندے کیږي هغه همدا انسان دے بل نه دے؟

او په نورو ټکو، د دغې بدن د وحدت او یو والي حفاظت کوونکے څوک دے؟ قرآن له کافرانوداسې نقلوي هغوي وايي: أَئِذَا ضَلَلْنَا فِي الْأَرْضِ أَئِنَّا لَفِي خَلْقٍ جَدِيدٍ (سجده/۱۰)کله چې مونږ په ځمکه کښې ورک شو او مونږ له پیژندلو ووتو نو بیا به څنګه یو نوے پیدایش او ژوند پیدا کړو؟

بیا په ځواب کښې فرمایي: قُلْ يَتَوَفَّاكُم مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِي وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ (سجده/۱۱) ووایه د مرګ پرښته په تاسو ګمارل شوې ده تاسو اخلي بیا به خدای ته بیرته ورګرځئ.

په دې آیت کښې د توفی ټکے د اخستلو په معنی دے. نو له دې ټکي پوهیږو چې د مرګ په وخت له بدنه پرته چې په ځمکه پاتے کیږي یو څیز هم شته چې د مرګ پرښته هغه اخلی او هغه روح دے. نو دې ته په پام سره د قرآن ځواب دا دے چې د مرګ په وخت د دغې غړو د وحدت حفاظت کوونکےروح دے چې ملک الموت اخستے دے او هغه روح د دې سبب کیږي چې دوباره راګرځیدونکے د لومړي ځل د پیدا شوي په شان شي. له دې ایته او د دې غوندې له نورو آیتونو استفاده کیږي چې کوم انسان چې به د قیامت په ورځ پاڅیږي هغه همدغه انسان دے چې کوم په دنیا کښې و او جزا او سزا به هم هغه کس ته ورکړل کیږي چې د چا حق وي. قرآن په یو بل آیت کښې هم د دې وحدت ذکر کړےدے فرمایي: قُلْ يُحْيِيهَا الَّذِي أَنشَأَهَا أَوَّلَ مَرَّةٍ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ (یس/۷۹)

## یوسل شپږم اصل

د قرآن آیتونه او اسلامی حدیثونه په دې خبره ګواه دي چې د انسانانو بیا ژوندي کول اومعاد هم بدنی دے او هم روحی. د بدنی پاڅون مطلب دا دے چې بدن به په یو بل سرای کښې محشور شي او روح به ورته دوباره ورکړے شي او هغه جزاء او سزا خوند او درد چې د انسان له بدن او احساساتو سره تعلق لري او د بدن د حس او احساس نه بغیر د هغې کیدل ممکن نه دي هغه به ترسره کیږي.

او د روحاني معاد يا ژوند مطلب دا دے چې له حسي خوند او درد پرته ځينې داسې سزاګانې او خوندونه دي چې له روح سره اړه لري او د نيکانو او بدکارو لپاره يو لړ سزاګانې او انعامونه هم په نظر کښې نيول شوي دي چې روح د هغو خوند او درد په اخستلو کښې بدن ته محتاجه نه دے. لکه د خداى رضوان ته رسيدل، لکه قرآن چې د حسيّ جزاګانو له شميرلو وروسته فرمايي: وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّهِ أَكْبَرُ ذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (توبه/۷۲) يا سخت غم او حسرت لکه چې فرمايي: وَأَنذِرْهُمْ يَوْمَ الْحَسْرَةِ إِذْ قُضِيَ الْأَمْرُ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ وَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ (مريم/۳۹) ظالمان د حسرت (ارمان) له ورځې وويروه، کله چې د هغوي عذاب يقيني شي په داسې حال کښې چې هغوي په دې دنيا کښې په غفلت کښې وو او ايمان يې نه راوړۀ. او د دې غوندې نور.....

يو سل اووم اصل

مرګ د ژوند ختميدل نه دي بلکې له يوه سراى يا جهانه بلې سراى ته تلل دي، هميشنۍ سراى هماغه قيامت او باقي پاتې کيدونکےجهان دے ضمنا د دنيا او قيامت تر مينځ يوه بله سراى هم شته چې نوم يې برزخ دے او انسان د مرګ نه پس څه وخت په هغې کښې تيروي. د برزخي ژوند حقيقت، مونږ ته روښانه نه دے او مونږ له هغې هم دومره خبر يو څومره چې په قرآن او روايتونو کښې د هغې هکله ذکر شوے دے په دې هکله د قرآن ځينو آيتونو ته پام کوو.

الف_ کله چې د يو مشرک مرګ را نزدې شي نو وايي خدايه! ما واپس کړه چې کوم عملونه مې پريښې دي هغه وکړم. نو ورته وبه ويل شي؛ هيڅ کله

نه؛ دا خبرې، یوازې د خلے خبرې دي بیا فرمایي: وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ (مومنون/ ۱۰۰) یعنی د هغوي د دنیا د ژوند تر مینځ برزخ دے د قیامت تر ورځې پورې. دا آیت فرمایي چې انسان له مرګه وروسته هم یو وجود او حقیقت لري خو یو داسې څیز یې تر مینځ دے چې هغه له واپس راتلو منعې کوي.

ب- د شهیدانو په هکله فرمایي: وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ (بقره /۱۵۴) کوم کسان چې د خدای په لار کښې وژل کیږی هغو ته مړۀ مه وایئ بلکې هغوي ژوندي دي خو تاسوپرې نه پوهیږئ.

په بل آیت کښې د خدای په لار کښې د شهید شویو کسانو لپاره د ژوند نښاني او آثار بیانوي. فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ (آ ل عمران / ۱۷۰) هغوي په هغه څه چې خدای ورته له خپل فضله ورکړي دي خوشحال دي او هغو کسانو ته چې په هغوي پسې دي خو لا ورسره یوځای شوي نه دي، زیرے ورکوي چې هغوي ته څه ویره نشته او خپه کیږي به نه (مطلب یې دادے چې د آخرت له عذابه څه ویره نه لري او د دنیا په عملونو خپه نه دي.)

ج- د ګناهکارانو په هکله په آل عمران سورت کښې فرمایي: چې د قیامت د ورځې له رسیدو نه وړاندې هغوي هرسهار او ماښام اور ته اچول کیږي، او د قیامت په ورځ به هم په ډیر لوي عذاب اخته کیږي لکه چې فرمایي: النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ (غافر/ ۴۶)

یوسل اتم اصل

د برزخی ژوند لومړی مرحله په مرګ سره شوروکیږي کله چې انسان خاورو ته وسپارل شي، د ډېرو حدیثونو له مخې، د خدای پرښتې له هغه د توحید، نبوت او یو لړعقیدو او حکمونو په هکله پوښتنه کوي. نو دا روښانه خبره ده چې د یو مسلمان ځوابونه به د کافر له ځوابونو سره فرق لري نو په نتیجه کښې به د مومنانو لپاره قبر او برزخ د رحمت ځای وي او د کافرانو او منافقانو لپاره به د خدای د عذاب ځای وي. په قبر کښې د پرښتو پوښتنه د مومنانو او کا فرانو لپاره رحمت او عذاب زمونږ په دین کښې له منلو شویو عقیدو څخه دي. او په حقیقت کښې قبر د برزخ د ژوند پیل دے چې ترقیامته به دوام لري.

امامیه و عالمانو په خپلو عقیدتی کتابونو کښې دې خبرو ته چې بیان مو کړې اشاره کړې ده شیخ صدوق په خپل د اعتقاداتو په کتاب کښې فرمایي: "په قبر کښې د پوښتنې کولو په هکله زمونږ عقیده داده چې دا حق دي؛ او هر څوک چې دغو پوښتنو ته صحیح ځواب ورکړی نو د خدای رحمت به هغه ته شاملیږي او څوک چې ورته صحیح ځواب ورنه کړي نو د خدای په عذاب به اخته کیږي".[1]

شیخ مفید په تصحیح الاعتقاد کتاب کښې لیکي: له پیغمبر(ص) نه صحیح روایتونه نقل شوي دي چې له هغو پوهیږو چې د قبرونو له

---

۱ الاعتقادات، صدوق، ۱۷باب، ۳۷مخ.

خاوندانو به د هغوي د دين په هکله پوښتنه کيږي او په ځينو روايتونو کښې راغلي دي هغه دوه پرښتې چې هغوي ته د پوښتنې کولو حکم شوےدے ناکر او نکير نومونه لري. بيا زياتوي: " په قبر کښې پوښتنه کول د دې دليل دے چې مړي به په قبر کښې ژوندي کيږي، بيا به د هغوي ژوند تر قيامته ادامه لري."[1]

خواجه نصير الدين طوسی هم په تجريد الاعتقاد کتاب کښې راوړي دي:

د قبر عذاب به واقع شي ځکه چې عقل وايي ممکن کار دے او د دې په هکله متواتر روايتونه هم راغلي دي.[2]

د ټولو مذهبونو د عقايدو کتابونو ته په مراجعه کولو سره روښانيږي چې په دې عقيدې د ټولو اتفاق دے او هغه يوازينے کس چې د قبر له عذابه منکر دے هغه ضرار بن عمرو دے.[3]

## يوسل نهم اصل

له تيرو بياناتو روښانه شوه چې د معاد (قيامت) حقيقت دا دے چې روح له بدنه له جدا کيدو وروسته بيا د- خدای په خوښه- هماغه بدن ته چې

---

۱ تصحيح الاعتقاد، مفيد، ۴۵-۴۲مخونه.

۲ کشف المراد، ۲مقصد، ۱۴مسئله.

۳ د احمدبن حنبل، السنة کتاب، د ابوالحسن اشعری الابانه او د عبدالجبار معتزلي اصول خمسة کتاب ته دې رجوع وشي.

ورسره یې ژوند کړے وی ستنیږي ددې لپاره چې د دنیا د عملونو بدله په بل جهان کښې ومومي.

ځینې، کسان لکه د هندو مذهب منونکي له داسې معاده انکار کوي چې کوم په آسمانی دینونو کښې ذکر شوےدے خو د عملونو د سزا او جزاء مسئله قبلوي. او هغه د تناسخ په شکل کښې بیانوي. هغوي دا دعوا کوي چې روح د مور په خیټه کښې ماشوم ته ننوځي او ځینی مرحلې تیروي او بیا دوباره دې دنیا ته راځي او د ماشومتوب، ځوانۍ او بوډاوالي مرحلې تیروي. خو فرق دا دے چې کوم کسان په دې دنیا کښې پاک او نیک خلک وي نو هغوي به بیا په بل ژوند کښې ښه خوږ ژوند لري او که بدکاري وي نو بیا به لا بد ژوند لري. د تناسخ عقیدې هم په تاریخ کښې لارویان لرل، او دا د هندوانو د دین یو اصل ګڼل کیږي.

باید پام وکړو که د انسانانو روحونه د همیشه لپاره د تناسخ په لار لاړشي نو بیابه د معاد او قیامت د راتللو لپاره څه نه شی پاتے. په داسې حال کښې چې په عقلی او نقلي دلیلونو سره ثابته ده چې په قیامت عقیده لرل ضروري دي، او په حقیقت کښې باید ووایو چې د تناسخ منونکیو له دې امله چې معاد یې په صحیح طریقه نه شو پیژندلے نو تناسخ یې د هغې په ځای کیښوده د اسلام له نظره په تناسخ عقیده لرل کفر دے او زمونږ د عقایدو په کتابونو کښې د دغه عقیدې د باطل والي او له اسلامي عقایدو سره د هغه د ناسموالي لپاره ډیر دلیلونه بیان شوي دي، چې مونږ یې دلته په لنډه توګه بیانوو:

۱- د انسان نفس او روح د مرګ په وخت یوکمال ته رسي. پر دې اساس که روح د یونوي انسان په شکل بیا دنیا ته راشي نو داسبب کیږي چې د انسان روح له کماله بیا راوغورځیږي او له فعلیته قوې ته راشي دا له هغه چې دا له هغه سنت او قانون سره مخالف دے کوم چې په جهان کښې جاري دے (یعنې ټول موجودات باید دکمال په لور لاړ شی او د قوې نه فعل ته ورسي.)[1]
۲- که چرې مونږ دا ومنله چې نفس له بدنه له جدایئ وروسته یو بل ژوندي بدن ته بدلیږي نو دا په یو بدن کښې د دوو نفسونو جمع کیدل دي او د یو شخصیت دوه ځایه کیدل دي او داسې څیز د انسانی عقل په خلاف دے ځکه چې انسان یوشخصیت لري.[2]
۳- په تناسخ باندی عقیده له دې پرته چې د هستئ په نظام باندې له جاری سنت او قانون سره ټکر لري، د ظالمانو لپاره هم یوه بهانه جوړید ے شي ځکه چې هغوي به وایي چې مونږ تیر ژوند ښه تیر کړے و نو اوس هم ښه یو او تاسو رانه لاندې یئ او مظلومانو ته به وایي چې تاسو بد ژوند تیر کړے ؤ نو اوس په دې جنم کښې هم په بدبختئ اخته یئ او په دې طریقې به خپل بد عملونه ښه ثرګندوي او بهانه به ورته راوړی.
٤- قران د انسانانو لپاره د قیامت تروزځې پورې یوازې دوه ډوله مرګ او دوه ډوله ژوند لیکلے دے لکه چې فرمایي: كَيْفَ تَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَكُنتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ ثُمَّ إِلَيْهِ تُرْجَعُونَ (بقره / ۲۸)" څنګه له خدایه انکار

۱ باید دې خبر ې ته پام وکړو چې د انسان روح به پهقیامت کښې د هغه کامل او ټول بدن ته واپس راګرځي نو په دې فرض سره چې روح یو حنین ته واپس راځي ډیر فرق لري.
۲ . د علامه حلی کشف المراد کتاب، دویم مقصد ، څلورم څپرکې، اتمه مسئله، او د صدر المتألهین کتاب اسفار، ۹/ ۱۰.

کوئ په داسې حال کښې چې تاسو مړی وئ او هغه تاسو ژوندي کړئ بیا به تاسو مړه کړي او یوځل بیا به تاسو ژوندي کوي بیا به هغه ته جاروهل کیږي."

دا آیت د تناسخ په باطلوالي دلالت کوي ځکه چې کوم کسان د تناسخ عقیده لري هغوي وايي چې انسان له مرګه وروسته بیا هم دې ژوند ته راګرځي اوکیدے شي دا خبره څوځو ځله تکرار شي په داسې حال کښې چې د دې آیت په حکم سره له مرګه وروسته د یوځل نه زیات ژوند نشته اودا هماغه په قیامت کښې بیا ژوندي کیدل دي نه بیا په دې دنیا کښې. لنډه دا چې په دې آیت کښې دوه مرګه او دوه ژوندونه د خلکولپاره بیان شوي دي.

۱- مرګ: د بې روحه څیزونو په شان د انسان مرګ .
۲- ژوند: کله چې دنطفې په شکل کښې راشي او له څو مرحلو وروسته بیا دنیا ته راشي.
۳- عام مرګ.
٤- بیا په قیامت کښې ژوندي کیدل.

په داسې حال کښې چې په تناسخ کښې کیدے یو انسان په لسګونو ځله په دې طریقه مړ شي او د بل انسان په شکل کښې راشي.

## یوسل لسم اصل

د تناسخ د بحث په پای کښې ضروری ګڼو چې د دوو پوښتنو ځواب ورکړو؛

لومړی پوښتنه: قرآن روښانه ویلې دي چې په تیرو امتونو کښې ځینې کسان مسخ شوې دي یعنی ځینې پکښې د خنزیر او ځینې د شادوګانو په شکل شوي دي. فرمایي: وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ (مائده/ ۶۰)[1] که تناسخ باطل وي نو مسخ څنګه کیدے شي.

ځواب: مسخ له تناسخ سره ډیر فرق لري ځکه چې په تناسخ کښې روح له بدنه له وتلو وروسته یو بل ماشوم یا بل بدن ته ځي خو په مسخ کښې روح له برنه نه جدا کیږي بلکې یوازې د بدن شکل بدلیږي د دې لپاره چې ظالم کس ځان د شادو او خنزیر په شکل ویني او په دې خپه شي.

او په بل بیان سره به دا ووایو چې د ظالم کس انسانی روح له خپل مقامه ښکته نه راځي ځکه که داسې وه نو مسخ شویو انسانانو به خپل غم نه شو محسوسولے په داسې حال کښې چې قرآن نسخ ته نکال ویلي د ي یعنی د هغو ګناهګارانو سزا.[2] په دې هکله تفتازانی وایي: د تناسخ حقیقت دا دے چې دانسانانو روحونه له بدنه له جدا کیدو وروسته په هم دې دنیا کښې نورو بدنونو ته د تدبیر او تصرف په غرض ننوځي نه دا چې د بدن شکل یې بدل شي (خو په مسخ کښې شکل بدلیږي).[3]

---

۱ همدارنګ د سورة اعراف ۱۶۶ آیت ته رجوع کولے شئ.
۲ فجعلها...(بقره/۶۶) نو دا پیښه مود موجودو او اخلافو لپاره سزا اودمتقیانو لپاره عبرت اوپند وګرځوله.
۳ د تفتازانی کتاب، شرح مقاصد، ۳۳۷/۳مخ.

علامه طباطبائی فرمايي: مسخ شوي بنيادمان هغه دي چې انساني روح پکښې دے خو شکلونه يې بدل شوي دي نه دا چې انساني روح يې هم مسخ شوے وي او د شادو روح يا بل ځناور روح ترې جوړ شوے وي.[1]

دويمه پوښتنه: ځينو کسانو دا ويلي دي چې رجعت له تناسخه راوتے دے[2] آيا په رجعت د عقيدې لرلو لازمه هماغه تناسخ نه دے؟

ځواب: لکه څنګه چې به يې په خپل ځای ووايو، د ډير شيعه عالمانو د عقيدې مطابق رجعت دا دے چې ځينې مسلمانان او کافران به په اخره زمانه کښې بيا دې دنيا ته راشي او د هغوي راتلل د مړو د ژوندي کيدو غوندې دي لکه څنګه چې به عيسی مړي ژوندي کول[3] يا د عُزير (ع) په شان دي چې سل کاله پس ژوندے شو.[4] دې ته پام سره د رجعت عقيده د تناسخ له مسئلې سره څه اړه نه لري او مونږ به د رجعت په بحث کښې د دې په هکله په تفصيل سره خبرې وکړو.

---

۱ الميزان، طباطبائی، ۱/۲۰۹.
۲ فخرالاسلام، احمد امين مصری، ۳۷۷مخ.
۳ العمران/۹۴.
۴ بقره/۲۵۹.

## يوسل يوولسم اصل

د عالمانو په خبرو کښې، د قرآن په پیروۍ کښې یوه مسئله د "اشراط الساعة" په نوم بیان شوې ده چې د هغې مطلب دقیامت علامې او نښانې دي.

د قیامت نښانې په دوه ډوله ویشل کیږي:

الف: هغه نښانې چې د قیامت له راتللو او نږدې له رېنګیدو مخکښې به څرګندیږي چې دغه وخت به بنیادمان د ځمکې په مخ او سیږی او د اشراط الساعة؛ ټکے ډیر د همدې نښانو او پیښو لپاره استعمالیږي.

ب: هغه پیښې چې د ځمکې او د پیدایښت د نظام د خرابیدو سبب کیږي چې له هغې ډیرې نښانې په تکویر، انفطار، انشقاق او زلزله سورتونو کښې ذکر شوي دي.

لومړۍ ډول نښانې دا دي:

۱- د آخرني پیغمبر(ص) راتلل (محمد/ ۱۸)

۲- د یاجوج او ماجوج د بند ماتیدل (کهف/۹۸-۹۹)

۳- په پنډ لوګي سره د آسمان پټیدل (دخان/۱۰-۱۲)

۴- د حضرت عیسیٰ (ع) نازلیدل (زخرف/۵۷-۶۱)

۵- له ځمکې د یو خو ځیدونکي راوتل (نمل/۸۲)

د دې نښانو تفصیل بایدد حدیثونو او تفسیرونو په کتابونو کښې وکتل شي.

د دوم ډول نښانو په هکله هم قرآن په تفصیل سره ذکر کړے دے لکه د نمرسپوږمۍ دریابونو ، غرونو او ځمکې او آسمان ګډوډیدل او د دې

اجمالي بیان دا دے چې دا موجوده نړۍ او دنیا به ورانه او ګډه وډه شي او یو بل نظام به جوړ شي چې د خدای د قدرت یوه بشپړه جلوه ده لکه چې فرمایي: يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُواْ للّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ (ابراهیم/۴۸) هغه ورځ چې ځمکه او آسمانونه به بدل شي او خلک به د یوازیني او قدرتمن خدای په درګاه کښې حاضر شي.

## یوسل دولسم اصل

قران کریم یوه پیښه د " نفخ صور" په نوم یاده کړې ده چې دوه ځله به پیښیږي.

الف: هغه نفخ صور د شپیلۍ وهل چې په ځمکه او آسمانونوکښې د ټولو سالرونکیو د مرګ سبب به کیږي. (بې له هغه چا چې خدای یې وغواړي).

ب_هغه د شپیلۍ وهل چې د ټولو مړو د ژوندي کیدو او د خدای په دربار کښې د حاضریدو سبب به کیږي.[1] لکه چې فرمایي:

وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَمَن فِي الْأَرْضِ إِلَّا مَن شَاء اللَّهُ ثُمَّ نُفِخَ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُم قِيَامٌ يَنظُرُونَ (زمر/۶۸)شپیلۍ به وپوکل شي او د هغې په سبب هغه هر څه چې په ځمکه او آسمانونو کښې دي په مرګ بیهوشه شي بې له

---

۱ دې ته په پام سره دا آیت ، إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ (یس/۵۳) د هماغه واقعیت ښوونکے دے چې په ۵۱ آیت کښې راغلےدے بیانوي چې فرمایي؛و نفخ فی ...او د آیت معنی داده چې دویم ځل د شپیلۍ وهل به یوازې یوغږ وي او له دې وروسته به ناڅاپه ټول ماته حاضر وی.

هغه چا چې خدای یې وغواړي یو ځل به بیا شپیلۍ وپوکل شي او ناڅاپه به مړي راپاڅي او (خپله جزاء او سزا به) وینې.
قران کریم د قیامت د ورځې د حشر او نشر په هکله په بیله توګه داسې فرمایي: يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ (قمر/۷)مړي به د خپرو شویو ملخانو په شان له قبرونو بهر راوځي.

## یوسل دیارلسم اصل

د مړو له ژوندی کیدو او قیامت ته له تللو او جنت او دوزخ ته له ننوتلو وړاندې به ځوکارونه تر سره کیږي چې قرآن او حدیثونود هغې په هکله خبرورکړے دے.

۱. په یوې خاصې طریقې سره به د ټولو انسانانو د عملونو حساب کتاب کیږي چې یوه طریقه یې دا ده چې هر انسان ته به د هغه په لاس خپله عمل نامه یا کړن پاڼه ورکړل کیږي.

۲. له دې ورتیر چې په عمل نامې کښې به د هغوي ټول واړه اوغټ کارونه لیکلے شوي وي ځینې ګوایان به هم له دننه او بهره انسان په عملونود قیامت په ورځ ګواهي ورکوي. بهرني ګواهان دا دي: خدای (آل عمران /۹۸) د هر یو امت پیغمبر(نحل/۸۹) زمونږ پیغمبر(ص) (نساء۴۱) د اسلامي امت خوښ شوي کسان (بقره/۱۴۳) دخدای پرښتې (ق/۱۸) او ځمکه (زلزله/۴-۵).

داخلي ګواهان دا دي: دانسان غړي (نور/۲۴، فصلت ۲۰-۲۱) او د خپلو عملونو مجسم کیدل (توبه/۳۴-۳۵)

۳- د انسانانو د عملونو د حساب کتاب لپاره به له دې پرته د عدل تلې هم تیاریږي او هر یو کس ته به هغه څه ورسي د کوم چې حق لري لکه چې فرمايي: وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ (انبياء/۴۷) د قیامت په ورځ به د عدل تلې ولګوو نو په هیچا به هیڅ ظلم نه کیږي او که عمل د یو ذرې هومره هم وي نو هغه به په حساب کښې راولو او زمونږ حساب کافی دے.

۴- له اسلامی روایتونو پوهیږو چې د قیامت په ورځ به یوه عامه لاره وي چې باید ټول له هغې لارې تیر شي دې لارې ته په روایتونو کښې صراط ویلي شوي دي چې تفسیر کوونکیو د سورة مریم ۷۱-۷۲ آیتونه[1] په همدې طریقه تفسیر کړي دي.

۵- د جنتیانو او دوزخیانو تر مینځ یو دیوال دے چې قرآن هغې ته " حجاب"ویلي دي همدارنګ به دقیامت په ورځ لوړي مرتبې والا انسانان په یواوچت ځای ناست وي او جنتیان او دوزخیان به هر یو کس له

---

۱. وَإِن مِّنكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا وَّنَذَرُ الظَّالِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا (مریم/ ۷۱-۷۲) او له تاسویو کس هم داسې نشته مګر دا چې هغه (دوزخ) ته به ننوځي دا (خبره) د خدای قطعی حکم دےبیا به پرهیزګارانو ته نجات ورکوو او ظالمان به چې په ګونډو په دوزخ کښې غورځیدلي دي پریږدو د دي آیت په تفسیر کښې یو بل نظر هم شته چې د هغې تفصیل د دې کتاب د پوښتنو او ځوابو نو په برخه کښې بیانوو. -

خپلو څیرو پیژندل کیږي لکه چې فرمايي: وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى الأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلاً بِسِيمَاهُمْ (اعراف/۴۲) د هغې دو ترمینځ یوه پرده ده او په اعراف (په لوړ ځای) به داسې سړي وي چې هر یو کس به له څیرې پیژني دا د لوړې مرتبې انسانان زمونږ د روایتونو مطابق پیغمبران او د هغوي نائبان او خلیفه ګان دي.

۶- کله چې حساب کتاب ختم شي او د هر یو کس ځای معلوم شي نو خدای به یو بیرغ چې ورته "لواء الحمد" ویلے شي د پیغمبر(ص) په لاس کښې ورکړي او پیغمبر (ص) به له جنتیانو وړاندې د جنت په لور روان شي[1]

۷- په ډیرو روایتونو کښې د محشر په صحرا کښې د یو لوی حوض ذکر راغلےدے چې د کوثر ډنډ بللے شي؛ پیغمبر(ص) به د قیامت په ورځ له ټولو وړاندې د هغې غاړې ته رسي او د امت ژغوریدلې کسان به د پیغمبر(ص) او داهلبیتو(ع) په لاس له هغې ډنډ اوچینې اوبه څښي.

## یوسل څوارلسم اصل

په اسلامی عقیدو کښې یوه منلي شوي عقیده د قیامت په ورځ د شفاعت کوونکیو دشفاعت ده چې د خدای په اذن به کیږي. شفاعت به د هغو کسانو کیږي چې نه دین او خدای سره یې خپلې اړیکې نه وي پرې کړې او

---

۱. بحار الانوار، ۸ ټوک، ۱۸ باب، ۱-۱۲حدیثونه، مسند احمد ۱/ ۲۸۱۲۹۵او ۳/ ۱۴۴.

د شفاعت وړوي چې له ځينو ګناهونو سره سره د شافعانو (شفارس کوونکيو) دشفاعت په برکت د خدای په رحمت کښې شامل شي. د شفاعت عقيده له قرآن او روايتونو اخستلې شوې ده چې لاندې ورته اشاره کوو.

الف: شفاعت په قرآن کښې

د قران ايتونه د قيامت په ورځ د شفاعت په اصل دلالت کوي بيانوي او قرآن پخپله په شفاعت او د خدای له حکم او اجازې سره د هغه ترښت ټينګار کوي. او فرمايي: وَلَا يَشْفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَى (انبياء/۲۸)؛ شافعان به يوازې د هغو کسانو شفاعت کوي چې د خدای خوښ وي. په بل آيت کښې فرمايي: مَا مِن شَفِيعٍ إِلاَّ مِن بَعْدِ إِذْنِهِ (يونس/۳) هيڅ څوک شفاعت نه شي کولے خو د هغه له اجازته او حکمه وروسته. دې اصل ته په پام سره شفاعت د خدای په خوښه د قرآن له نظره يو منلے شوے او قطعی حکم دے.

اوس بايد وګورو چې شفاعت کوونکي کسان څوک دي؟

له ځينو آيتونو داسې په لاس راځي چې پرښتې له شفاعت کوونکيو څخه دي څنګه چې فرمايي: وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي السَّمَاوَاتِ لَا تُغْنِي شَفَاعَتُهُمْ شَيْئًا إِلَّا مِن بَعْدِ أَن يَأْذَنَ اللَّهُ لِمَن يَشَاء وَيَرْضَى (نجم/۲۶) او په آسمانونو کښې ډيرې داسې پرښتې دي چې د هغوی شفاعت د خدای له اجازته وروسته يوازې هغه چا ته رسيږي چې خدای وغواړي او راضي وي ترې. مفسران د عَسیٰ اَنْ يبعثک

ربّکَ مقاما محموداً په تفسیر کښې وايي: له مقام محموده مطلب د پیغمبر(ص) لپاره د شفاعت مقام دے[1]

ب- شفاعت په روایتونو کښې.

له قرانه ورتیر په د پیغمبر(ص) شفاعت په ډیرو زیاتو روایتونو کښې هم ذکر شوے دے چې ځینو ته ترې اشاره کوو؛

۱- پیغمبر(ص) فرمایي: " انما شفاعتی لاهل الکبائر من امتي"[2] زما شفاعت زما دامت دهغه کسانو لپاره دے چې لوی ګناونه یې کړي دي، پیغمبر(ص) کیدے شي ځکه شفاعت د لویو ګناونو کوونکیو لپاره خاص کړے وي چې خدای په قرآن کښې څرګنده وعده کړې ده چې که تاسوله لویو ګناهونو ځان وساتئ نو زه به مو وبخښم (نساء/۳۱) او بیا شفاعت ته څه ضرورت نه پاتې کیږي.

۲- همدارنګ فرمايي: "أُعطیتُ خمساً و أُعطیتُ الشفاعة، فادّخرتها لامتی فهی لمن لا یشرك بالله"[3] له خدایه په ما پینځه پیرزوینې شوي دي او یوه پکښې ماته د شفاعت راکول دي چې هغه مې د خپل امت لپاره ساتلے دے زما شفاعت زما د امت د هغه کسانو لپاره دے چې له خدای سره یې شریک نه وی جوړ کړے.

د ډیرو معلوماتو لپاره چې د قیامت په ورځ به له پیغمبر(ص) پرته شفاعت کونکی څوک وي؟ (لکه امامان لوي کسان او شهیدان) او هغوي به د چا

---

۱. المیزان،۱۳/ ۱۹۱-۱۹۲؛ مجمع البیان، ۱۰/ ۳۷۲.

۲. شیخ صدوق، من لا یحضره الفقیه،۳/ ۳۷۲.

۳. خصال، شیخ صدوق، پینځګونې بابونه، دصحیح بخاری حدیث،۱/ ۴۲، مسند احمد، ۱/ ۳۰۱.

شفاعت کوي د دې لپاره بایددعقایدو کلام او حدیث کتابونو به مراجعه وکړئ.

د دې په ترڅ کښې بایدپام وشي چې په شفاعت عقیده لرل په توبې باندې د عقیدې لرلو په شان باید د دې سبب نه شي چې خلک زیاتې گناه ته مخه کړي بلکه باید شفاعت د امید یوه لاره وګڼل شي او د بخښنې په نیت باید خپلی صحیح لارې ته دوام ورکړو . او د نهیلو خلکو په شان نه شو چې اوبه له ورخه تیرې وګڼو او سمې لارې ته د بیرته تللو فکر نه کړو. له تیرو خبرو دا هم څرګندیږي چې د شفاعت اثر د ځینو ګناهګارانو بخښل دي نه دا چې لکه معتزله وایي: چې ورسره د هغو کسانو چې شفاعت یې کیږي مقام لوړیږي. او ځینې نورې اسلامي فرقې هم دا خبره کوي چې صحیح نه ده.[1]

## یوسل پینځلسم اصل

لکه څنګه چې مو وویل: "په اخرت کښې د خدای په اذن د شفاعت عقیده" هغه عقیده ده چې ټولې اسلامی فرقې یې منی او څوک پکښی د نیوکې حق نه لري،اوس باید وګورو چې آیا په دې دنیا کښې له شافعانو لکه له پیغمبره(ص) شفاعت غوښتلے شو که نه؟ او په نورو ټکو به داسې ووایو چې دا وویل صحیح دي: اے د خدای رسوله دخدای په نزدزما شفاعت وکړه (یَا وجیهاً عندالله اشفع لنا عندالله)؟

١. اوائل المقالات، شیخ مفید ، ۵۴مخ، او نور کلامی کتابونه.

په ځواب کښې باید ووایو: د دې خبرې مشروعیت او شرعی جواز تر اتلسمې هجري پېړۍ پورې ټولو منله او د اتمې پېړۍ له نیمې وروسته ځینې کسان ددې عقیدے په خلاف پاځېدل او دا عقیده یې جائز ونه ګڼله. په داسې حال کښې چې د قرآن آیتونه دپیغمبر(ص) معتبر حدیثونه او د مسلمانانو سیرت د هغې په جائز والي ګواهي ورکوي، ځکه چې د شافعانو شفاعت هماغه د هغوي دعا ده چې د خلکو په حق کښې یې کوي او د یو مومن د بل مومن لپاره دعا کول بے شکه جائزه ده نو بیا دپیغمبر(ص) دعا خو هسې هم جائزه ده.

په هغه حدیث کښې چې ابن عباس یې له پیغمبر(ص) نقل کوي دا روښانه شوې ده چې د بل لپاره د یوه مؤمن شفاعت دهغه په حق کښې دعا کول دي: کله چې یو مسلمان مړ شی او څلویښت مومن کسان د هغه جنازه وکړي نو خدای د مړی په حق کښې د هغوي شفاعت قبلوي"[1] او دا خو منلې شوې خبره ده چې د څلویښتو کسانو دجنازې لمونځ هماغه د مړي په حق کښې د هغوي دعا کول دي.

که د تاریخ پاڼې ولټوو نوګورو چې د پیغمبر(ص) اصحابو به د هغه په ژوند کښې له هغه شفاعت غوښته. ترمذي له انس بن مالکه نقلوي چې فرمایي له پیغمبر(ص) مې وغوښتل چې د قیامت په ورځ زما شفاعت

---

[1] ما من رجل مسلم يموت فيقوم على جنازته اربعون رجلاً لا يشركون بالله شيأ، الا شفعهم الله فيه) صحیح مسلم، ۳/ ۵۴)

وکړي. پیغمبر(ص) وفرمایل: همداسې به وکړم. هغه ته مې وویل: تا به چرته لټوم؟ ویې فرمایل: د صراط په غاړه.[1]

دې ته په پام سره چې د شفاعت غوښتل بې له دې بل څه نه دي چې له شفاعت کوونکي دعا وغوښتل شي نو د هغې ځینې بیلګې په قرآن کښې د تیرو پیغمبرانو په زمانه کښې هم موندلے شو:

۱- د یعقوب زامنو له دې وروسته چې مظلمه یې څرګنده شوه له خپل پلاره یې وغوښتل چې له خدایه ورپاره بخښنه وغواړي حضرت یعقوب هم د هغوي خبره ومنله او په خپلې وعدې یې په خپل وخت عمل وکړ.[2]

۲- قران فرمایي: که له اسلامی امته ځینې کسانو په ځانونو ظلم وکړ او بیا پیغمبر(ص) ته راغلل چې هغه حضرت د هغوي لپاره له خدایه بخښنه وغواړي بیاپه خپله بخښنه وغواړی او پیغمبر(ص) هم د هغوي لپاره له خدایه بخښنه وغواړي، نو خدای د هغوي توبه قبلوی اود خپل رحمت لاندې یې راولي.[3]

۳- همدارنګ قرآن د منافقینو په هکله فرمایي: کله چې هغوي ته وویل شي چې راشئ او له پیغمبر(ص) وغواړئ چې ستاسولپاره بخښنه

---

۱ مسألت النبی أن یشفع لی یوم القیامة فقال أنا فاعل ،قلت فأینأطلبک؟ فقال علی الصراط (سنن ترمذی، ۴۲/۴، د صراط په شان کښې د راغلي روایتونو په باب کښې.۹

۲ یوسف/ ۹۷: قَالُواْ يَا أَبَانَا اسْتَغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا إِنَّا كُنَّا خَاطِئِينَ قَالَ سَوْفَ أَسْتَغْفِرُ لَكُمْ رَبِّيَ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ.

۳. نساء/۲۴. وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُواْ أَنفُسَهُمْ جَآؤُوكَ فَاسْتَغْفَرُواْ اللّهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُولُ لَوَجَدُواْ اللّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا.

وغواړی، نو هغوی مخ تاوهي او کبر کوي.[1] څرګنده ده چې که د پیغمبر(ص) له شفاعته مخ اړول د مشرک اونفاق نښه وي نو د شفاعت غوښتل به د ایمان او د خدای په درګاه کښې د تسلیمیدو نښه وي.

٤- دې ته دې هم پام وشي چې دلته زمونږ بحث د شفاعت مشروعیت او جائز ثابتول دي نو په دغو آیتونو کښې د شفاعت کوونکي ژوندی نه پاتې کیدل زمونږ مقصد ته تاوان نه رسوي که څه هم دا فرض شي چې دا آیت یوازې د ژوندیو په هکله راغلے وي نه د مړیو په هکله بیا هم زمونږ مقصد ته څه ضرر نه رسوي ځکه کله چې له ژوندیو مرسته غوښتل شرک نه وي نو له مړیو شفاعت غوښتل به هم شرک نه وي. ځکه چې د شفاعت کوونکي ژوند اومرګ د توحید اوشرک ملاک او معیار نه دے بلکې هغه یوازینې څیز چې دشفاعت لپاره ضروري دے هغه د پاکو روحونو د اوریدو طاقت دے چې د توسل په بحث کښې به په دې هکله په تفصیل سره خبرې وکړو او دغه ارتباط او نتیجه به یې څرګنده کړو.

دلته باید پاملرنه وشي چې له پیعمبرانو او اولیاؤ د مؤمنانو او مؤحدانو مرسته غوښتل له بتانو د کافرانو له مرسته غوښتلو سره ډیر فرق لري، ځکه چې موحدان په دوو اسسي خبرو په ایمان لرلو سره له الهي ولیانو مرسته غواړي:

١- اول دا چې هغوي داعقیده لري چې د شفاعت مقام یوداسې مقام دے چې له خدای سره خاص دے او د هغه په اختیار کښې دے لکه څنګه چې فرمایي: قُل لِّلَّهِ الشَّفَاعَةُ جَمِيعًا (زمر/۴۴)" وو ایه: شفاعت ټول د خدای په لاس

---

[1] . منافقین/۵: وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ لَوَّوْا رُؤُوسَهُمْ وَرَأَيْتَهُمْ يَصُدُّونَ وَهُم مُّسْتَكْبِرُونَ.

کښې د ے" او یا: " مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ " څوک دي چې بې د هغه له اذنه د شفاعت حق لري؟ او د هغه شفاعت قبول شي؟
۲- کوم شفاعت کوونکي چې موحدان د هغوي په وړاندې سوال اوغوښتنه کوي د خدای مخلص بندګان دي چې د خدای دربار ته دومره نزدې دي چې دعا یې قبلیږي.
لاندینیو دو شرطونو ته په پام سره په شفاعت کښې د بعثت د وخت له مشرکانو سره د مؤحدانو اساسي فرق روښانه کیږي:
اول: مشرکانو د هغوي د شفاعت کولو لپاره هیڅ قید نه لګولو او داسې وه لکه چې خدای د شفاعت حق دغې ړندو کڼو بتانو ته ورکړے وي. په داسې حال کښې چې موحدان د شفاعت حق یوازې د خدای په اختیار کښې ګڼي او د شفاعت قبلیدل د خدای په حکم او اجازت پورې تړلے ګڼي.
دویم: دجاهلیت د وخت مشرکانو به هغه معبودان چې په خپله یې جوړکړي وو خپل مالکان او خدایان ګڼل او دا خیال به یې کاوه چې دغه بې روحه څیزونه دهغوي رب او خدایان دي او د نړۍ په چلولو کښې یې لاس د ے، په داسې حال کښې چې موحدانو پیغمبر(ص) او امامان د خدای پاک خالص بندګان ګڼل او تل به یې دا خبره یادوله چې "عبده ورسوله"و عبادالله الصالحین" نو په دې دواړو کښې د آسمان او ځمکې فرق د ے .
دې ته په پام سره په هغو آیتونو باندې استدلال کول چې د مشرکانو په هکله راغلی دي چې هغوي د بتانو له شفاعت غوښتلو منعې کوي. د خدای د ولیانو د شفاعت په باب د دلیل په توګه د دغو ایتونو راوړل یوه غلطه او بې بنیاده خبره ده او یوازې مغالطه ده.

## یوسل شپاړسم اصل

په اسلامی تعلیماتو ـ بلکې په ټولو آسمانی شریعتونو کښې ـ د ګنهګارو لپاره د توبې لاره خلاصه ده. کله چې یو انسان په خپلو کړو پښیمان شي نو د هغه روح د هغه پام خدای ته اړوي د هغه په درګاه کښې زاري وکړي او له زړه اراده کوي چې بیا به هغه ناروا کار نه کوي. او خدای هم په هغه شرطونو سره چې په کلامي کتابونو کښې راغلي دي د هغه توبه قبلوي قرآن پاک فرمایي: وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ (نور/۳۱)ای ایماندارو ټول خدای ته ستنا نه شئ (توبه اوباسئ) ښایي چې کامیاب شئ کومو کسانو ته چې د توبې او د شفاعت د تربیتي اثراتو پته نشته هغوي دا خیال کوي چې ګنهګاروته د دې دواړو ورونو خلاصیدل په یو ډول ګناه ته د هغوي تشویقول دي په داسې حال کښې چې هغوي له دې خبرې غافل دي چې ډیر انسانان په څه نه څه ګناه ضرور ککړدي او داسې انسانان ډیر کم دي چې په عمر کښې ترې ګناه نه وي شوې. په دې جهان کښې داسې څوک دي چې ګناه ونه کړي؟ نو دې ته په پام سره که د توبې اوشفاعت دروازه هغوي ته خلاصه نه وي نو کوم کسان چې دې ته تیاردي چې په باقي پاتې عمر کښې له ګناهونو ځان وساتی اوپه پاکه لار روان شی هغوي به ځان سره وایي: مونږ ته خو به هسې هم یوه ورځ دګناهونو سزا راکول کیږي او دوزخ ته به ځو؛ نو په باقي پاتې عمر کښې هم ولې د خپل زړه اونفس خبره ونه منو او لا زیات له نامشروعه خوندونو خوند وانه

خلو؟ دا ډول که د توبې دروازه بندشي نو د خدای له رحمته نا امیدي به د یو ښامار په شان خله خلاصه کړي او انسانان به ځان ته راکاږي.
د توبې مثبت اثرات هاله روښانیږي چې کله پوه شو چې په اسلام کښې د توبې د قبلیدو لپاره څه شرطونه شته چې د دین مشرانو او د اسلامي علمونو څیړونکیو د هغو شرطونو په هکله په تفصیل سره خبرې کړې دي.
قرآن په روښانه توګه د توبې په هکله داسې فرمايي: كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ أَنَّهُ مَن عَمِلَ مِنكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ تَابَ مِن بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (انعام/۵۴) ستاسو خدای په ځان باندې رحمت فرض کړے دےکه په تاسو کښې یو کس د جهالت له مخې یو بدکار وکړ او بیايې توبه وکړه او ځان يې سم کړ نو خدای بخښونکے مهربان دے.

## یوسل اولسم اصل

۱. عقل اونقل دا ګواهی ورکوي چې هر یو انسان به د قیامت په ورځ د خپلو نیکو عملونو جزا مومي. قرآن پاک فرمایې: فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (زلزله/ ۷) کوم کس چې د یوې ذرې هومره نیک کار وکړي نو هغه به ويني. او همدارنګ فرمايي: وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى.
ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاء الْأَوْفَى (نجم/ ۴۰-۴۱) د هغه کوشش به خامخا ولیدل شي او بیا به ورته په بشپړه توګه جزاء ورکړے شي. له تیرو آیتونو معلومیږي چې د انسان بدکارونه د هغه ښه کارونه له مینځه نه وړي خوپه دې هم پوهیږو چې ځینې ګناهونه لکه شرک او کفر نور عملونه له مینځه وړی اوحبط

کوي يې او نيک عملونه يې تباه کيږي او په اخرت کښې به په هميشني عذاب اخته کيږي لکه څنګه چې فرمايي: وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ (بقره /۲۱۷) له تاسو څخه چې څوک له خپل دينه واوړي او په هماغه حالت کښې مړ شي نو په دنيا او آخرت کښې يې عمل تباه کيږي او دا رنګ کسان به د هميشه لپاره د دوزخ په اور کښې وي.

دې ته په پام سره يو ايماندار انسان به په بل جهان کښې خپل نيک او بد عملونه ويني خوکه مرتد شي يا بل داسې عمل وکړي چې حبط عمل ورسره کيږي او په کتاب او سنت کښې بيان شوےوي نو بيا به خپل نيک عملونه هم نه ويني.

په اخر کښې دې خبرې ته هم پام ضروري دے چې که څه هم خدای له مومنانو سره وعده کړې ده چې د نيکو عملونو بدله به ورته ورکوي او د بدو سزا خو د عقل له نظره دا دواړه په خپلوکښې څه فرق نه لري ځکه چې په وعدې عمل کول يوه عقلي خبره ده او عمل ورباندې نه کول يوبد کاردے. خو د "وعيد"(دبد کار په سزا ورکولو) کښې داسې نه ده ځکه چې سزا ورکول د سزا ورکونکي حق دےاو هغه له خپله حقه تيريدے شي. له همدی سببه څه فرق نه کوي که ځينې نيک کارونه ځينې بد کارنه پټ کړي چې په اصطلاح کښې ورته "تکفير"ويل کيږي.[1] په قرآن کښې ځينې نيک عملونه دځينې بدو عملونو "تکفير" او ختموونکې ګڼل شوي دي چې له

[1] کشف المراد، ۴۱۳مخ ،۲ مقصد، ۷ مسئله.

هغو څخه يو له لويو ګناهونو ځان ساتل دي لکه چې فرمايي: إِن تَجْتَنِبُواْ كَبَآئِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُم مُّدْخَلاً كَرِيمًا (نساء/۳۱) که له لويو ګناهونو ځان وساتئ نو مونږ به درته واړه ګناهونه پټ کړو او ښه ځای ته به مو ننباسو.

ځينې عملونه لکه توبه، پټه صدقه ورکول، او نور داسې کارونه شته چې داسې اثر لري

## يوسل اتلسم اصل

په دوزخ کښې د هميشه لپاره پاتې کيدل د کافرانو لپاره خاص دي او د هغه چا لپاره چې د توحيد رڼا يې په زړه کښې وي له دوزخ څخه د وتلو لار بنده نه ده. لکه چې فرمايي: إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدِ افْتَرَى إِثْمًا عَظِيمًا (نساء/۴۸) خدای پاک هيڅ کله شرک نه بخښې خو نور ګناهونه چې چا ته وغواړي بخښې يې او چا چې له خدای سره شريک جوړ کړ نو هغه يوه لويه ګناه کړې ده.

دا آيت په ډيره روښانه بيانوي چې له شرکه پرته نور ټول ګناهونه معاف کيدے شي نو بې شکه دا هغه ګناهونو ته اشاره کوي چې کوم کسان بې توبې مړه شي ګنې که توبه وکړي نو کيدے شي چې ټول ګناهونه تر دې چې شرک هم ورته وبخښل شي دې آيت ځکه د مشرک او نورو تر مينځ فرق بيان کړےدے چې کوم کسان بې توبې لاړ شي او مشرک وي نو هغه نه بخښل کيږي خو که مشرک نه وي نو د هغه په هکله اميد شته چې خدای

يې وبخښې خو نه دا چې خامخا به يې بخښې بلکه "لمن يشاء" قيد ورسره دے يعنى چا ته چې وغواړي ګناهونه معافوي . د من يشاء قيد دخداى رحمت ته اشاره ده چې ګناهګاران د ويرې او اميدپه مينځ کښې ساتي او هغوي ته وايي چې له مرګه مخکښې توبه وکړئ نو دغه وعده انسان د دو ګړنګونو تر مينځ چې نهيلي او تجري ده په نيغه لار تربيت کوي او وړاندې يې بيايي.

امام کاظم(ع) فرمايي: و لا يخلد الله فى النار الا اهل الكفر ولجحود و أهل الضلالة والشرك" خداى پاک به بې له مشرکانو اوکافرانو نور څوک د هميشه لپاره په اور کښې نه پريږدي اواخر به له خپلونيکو اعمالو خوند اخلي لکه چې فرمايي: فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ (زلزله/۷) [۱]

مونږ دا عقيده لرو چې جنت او دوزخ اوس هم شته شيخ مفيد فرمايي: جنت اودوزخ اوس هم شته او روايتونه د هغې په شتون ګواه دي او په شريعت عمل کوونکي په دې خبره يوه خله دي د قرآن آيتونه هم د جنت اودوزخ په اوس شتون باندى يو ډول ګواهي ورکوي لکه چې فرمايي: وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى.عِندَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى. عِندَهَا جَنَّةُ الْمَأْوَى (نجم/۱۳-۱۵)

پيغمبر(ص) د وحى پرښته يو ځل بيا له "سدرة المنتهىٰ" سره نزدې وليده هغه چې ورسره جنت الماوىٰ ده . په يو بل ځاى کښې مومنانو او کافرانو ته دزيرې او بيدارى په مقام کښې فرمايي: چې جنت د مومنانو اودوزخ د کافرانو لپاره تيار شوےدے لکه د جنت په هکله فرمايي: أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ (آل

---

۱ بحارالانوار، ۸ټوک، ۲۷باب، لومړى حديث.

عمران۱۳۳) او دوزخ په هکله فرمايي: " وَاتَّقُواْ النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ "(آل عمران/۱۳۱).

که څه هم مونږ ته د جنت او دوزخ ځای دقيق روښانه نه دے خوله ځينی آيتونو لاس ته راځي چې جنت په پاسه برخې کښې دے لکه چې فرمايي: وَفِي السَّمَاء رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ (ذاريات/۲۲)؟

# نهمه برخه

## ایمان، کفر، بدعت، تقیه، توسل او بداء وغیره....

## يو سل شلم اصل

د ایمان او کفر حد د کلام له مهمو بحثونو څخه دے "ایمان" په لغت کښې، د تصدیق کولو معنی لري او "کفر" د اغوستولو او پوشلو په معنی دے له همدې سببه کرونګر چې په ځمکه کښې دانې کري هغه ته هم کافر ویلے شي. خو د عقایدو او کلام په اصطلاح کښې ایمان د خدای په وحدانیت اعتقاد، د قیامت په ورځې باور کولو او د پیغمبر(ص) رسالت منلو ته وايي. البته په پیغمبر(ص) باندې ایمان ، په تیرو پیغمبرانو او آسمانی کتابونو ایمان او کوم حکمونه او تعلیمونه چې پیغمبر(ص) بیان کړي دي په هغو باور لرلو ته هم شاملیږي.

د ایمان اصلی ځای د انسان زړه دے لکه څنګه چې قرآن پاک فرمايي: أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ (مجادله /۲۲) هغوی داسې کسان دي چې خدای ایمان د هغو په زړونو کښې لیکلے دے . همدا رنګ د هغه اعرابو په هکله چې داسلام د طاقت په وړاندې تسلیم شوي دي خو زړونه يې د ایمان له نوره خالی دي فرمايي: وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ (حجرات/ ۱۴) تر اوسه ایمان ستاسو په زړو نو کښې نه دے ننوتے خو د يو کس د مسلمانۍ حکم په دې پورې تړلے دے چې په خلې ایمان څرګند کړی او لږ تر لږه د خپلې عقیدې انکار نه کوي ځکه چې که د خپلې عقیدې انکار وکړي نو بیا د هغه په هکله د ایمان حکم نه کیږي. لکه څنګه چې فرمايي: وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ (نمل/۱۴) د خدای له

ایتونویې سره د دې چې په هغو یې یقین درلود و بیا یې هم انکار وکړ. په دې بیان سره د کفر حدروښانه شو. کله چې یو کس د خدای د وحدانیت یا د قیامت د ورځی یا د پیغمبر(ص) د رسالت انکار وکړي، نو بېشکه په هغه به دکفر حکم کیږي. همدا رنګ که د پیغمبر(ص) د منلو شویو څیزو څخه د یو څیز انکار وکړی چې دا انکار یې د پیغمبر(ص) د رسالت د انکار سبب شي نو دا هم په انسان باندې د کفر حکم کوي.

پیغمبر(ص) چې کله علی(ع) د خیبر د فتح کولو لپاره روان و نو د هغه په لاس کې یې یو بیرغ ورکړ او دایې وویل چې د دغه بیرغ خاوند به د خیبر کلا فتح کړي او بریالے به راستون شي په دغه وخت کښې حضرت علي(ع) رسول الله(ص) ته مخ کړ او ویې ویل: له هغوي سره د جنګ حد څه دے؟ پیغمبر(ص) وفرمایل: قاتلهم حتی یشهدوا ان لا إله إلا الله و ان محمد رسول الله، فإذا فعلوا ذلك فقد منعوا منك دمائهم و اموالهم الا بحقها و حسابهم علی الله[1] له هغوي سره وجنګیږه تر دې چې د خدای په وحدانیت او د پیغمبر(ص) په رسالت ګواهی ورکړي نو کله چې یې ګواهي ورکړه نو د هغوي وینی او مالونه به محترم وي مګر په هغه ځای کښې چې په حق (ووژل شي یا یې مالونه واخستل شی) او د هغوي حساب له خدای سره دے.

همداراز یو سړي له امام صادق(ع) پوښتنه وکړه: له ټولو کم څیز چې د انسان د مسلمانیدو سبب کیږی څه دے؟ امام ورته ځواب ورکړ: یشهد ان لا

---

۱- صحیح بخاری، کتاب ایمان ، ۱۰مخ،صحیح مسلم، ۷ټوک، د علی(ع) د فضیلتونو باب، ۱۷مخ.

اله الا الله و ان محمد عبده ورسوله و يقر بطاعته و يعرف امام زمانه فاذا فعل ذلك فهومؤمن.[۱]

د ایمان تر ټولو کمه مرتبه دا ده چې د خدای په وحدا نیت او د پیغمبر(ص) په بندګۍ او رسالت ګواهي ورکړي او د حق اطاعت قبول کړي او د خپلې زمانې امام وپيژني کله چې يې داسې وکړل نو هغه مومن دے.

## یوسل یویشتم اصل

که څه هم د ایمان حقیقت هماغه د زړه عقیده ده خو دا ګمان دې ونه شي چې يوازې همدومره قدر ایمان د انسان د کامیابۍ لپاره کافي دےبلکې انسان باید د ایمان په اثارو او عملي لوازماتو هم عمل وکړي. همدا سبب دے چې په ډیرو روایتونو کښې صحیح مومن هغه کس ګڼلےشوے دےچې د زړه له ایمان سره سره د ایمان په حکمونو او په خپلو الهي دندو هم عمل کوي لکه د عصر په سورت کښې ټول انسانان په زیان کښې بللی شوي دي خولږ غوندې کسان یې زیانکار نه دې ګڼلي فرمایي: وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ، په زمانی قسم! چې ټول انسانان په تاوان کښې دي مګر هغه کسان چې ایمان یې راوړے دے او نیک عملونه یې کړي دي او یو بل ته د حقو او صبر هدایت کوي.

---

۱ بحار الانوار، ۱۲/۲۲،د کفر او ایمان کتاب، د شیخ صدوق د معانی الاخبار په نقل، د روایت سند صحیح دے.

امام باقر(ع) له امام علی(ع) نقلوي چې یو سړی هغه ته وویل: آیا هر هغه سړے چې د خدای د وحدانیت او د پیغمبر(ص) د رسالت ګواهی ورکړی مومن دے؟ حضرت وفرمایل: فأين فرائض الله، نو د خدای فرائض او حکمونه چرته لاړل؟!

همدارنګ امیرالمومنین (ع) فرمایي: لو كان الايمان كلاماً لم ينزل فيه صوم و لا صلاة و لا حلال و لا حرام. که ایمان یوازی د شهادتینو ویل وے نو روژه، لمونځ، او حلال او حرام به نه نازلیدل.[1]

له پاسني حدیثه دا نتیجه اخلو چې د ایمان بیلا بیلی مرتبې دي او هره مرتبه یې خپل خاص اثرات لري. یوازې په زړه سره عقیده لرل او یا لږ تر لږه د هغه انکار نه کول د ایمان له ټولو کمه درجه ده . چې په هغې د اسلام ځینې حکمونه جاري کیږي. په داسې حال کښې چې د ایمان نورې مرتبې چې انسان ورسره هم په دې دنیا کښې او هم په اخرت کښې کامیابیږي د انسان په عملي اثارو پورې تړلې دي.

د ویلو وړ ده چې په ځینو روایتونو کښې په دینی حکمونو باندې عمل کول هم د دین له ستنو او ارکانو ګڼلي شوي دي اتم امام له خپلو پلار نیکونو او هغوی هم له پیغمبره (ص) نقلوي چې هغه حضرت وفرمایل: الايمان معرفت بالقلب و اقرار باللسان و عمل بالاركان[2] ایمان د زړه معرفت، په ژبې سره اقرار کول او په غړو سره عمل کولو ته وایي. په ځینو روایتونو

---

۱ کافی، ۲/۲، ۳۳حدث.

۲ عیون اخبار الرضا، ۲۲۲/۱.

کښې شهادتینو سره سره نور شرطونه هم ذکر شوي دي لکه د لمانځه کول، زکات ورکول، د حج فریضه ادا کول، واجبې روژې نیول او داسې نور....[1]

دا ډول روایتونه یادې ته په پام سره راغلي دي چې د دغو عملونو په وسیله مسلمان سړےله غیر مسلمانه پیژندے شي یا دا وایي چې د شهادتینو ویل هاله ګټه ورکوي چې ورسره ورسره شرعی عملونه هم په ځای راوړے شي چې لمونځ، روژه ،زکات، حج وغیره پکښې مهم دي.

پاسنی اصل ته په پام سره باید د مسلمانانو ځینې ډلې نورې ډلې په دې خبره کافرانې ونه ګڼي چې په فرعی حکمونو کښې له یو بل سره اختلاف لري. ځکه چې د کفر نښانه دا ده چې انسان په هغه دریو اصلونو کښې د یوۀ اصل انکار وکړي یا د یو داسې څیز انکار وکړي چې د دې دریو څیزونو د انکار سبب شي.او دا هاله کیدے شي چې د کوم څیز انکار یې کړےوي هغه دومره روښانه وي چې د هغی انکار او په اصولو اقرار له یو بل سره نه شي جمع کیدے.

له همدې سببه مسلمانانو ته پکار دي چې په ټولو مرحلو کښې اسلامی ورورولي وساتي او په هغه کارونو کښې چې له اصولو سره څه تړاو نه لري هغه د اختلاف او د یو بل د فسق او کافر بللو سبب جوړ نه کړي. او په فکري او عقیدتی اختلافاتو کښې هم د یو بل خبرې واورې او څیړنه وکړي او په همدې بسنه وکړي اوله وچ او بې منطقه تعصبه او تومتونو او تحریف کولو دې ځان وساتي.

---

۱. صحیح بخاري، ۱۲/۱ ،کتاب الایمان،شهادة ان لا اله الا الله و ان محمدا رسول الله و اقامة الصلاة و ایتاء الزکاة و الحج وصوم رمضان.

## یوسل دوه ویشتم اصل

له همدې امله چې د نړۍ ټول مسلمانان په دریو اصلونو[1] کښې یو نظر لري نو پکار نه ده چې ځینې فرقې په اصولو یا فروعو کښې د اختلافاتو په وجه یو بل تکفیر کړي. ځکه چې د مسلمانانو ډیر اختلافات کلامي دي چې د پیغمبر(ص) له زمانې وروسته د مسلمانانو تر مینځ پیدا شوي دي او هر یوه فرقه د ځان لپاره دلیل او مدرک لري نو دې ته په پام سره، په داسې مسئلو کښې اختلاف ددې سبب نه کیږي چې په یو بل باندې د کفر فتوا ولګول شي او اسلامی وحدت له لاسه ورکړے شي. د دې اختلافاتو د حل د ټولو ښه لاره بحث او ګفتګو ده چې علمي خبرې له غیر منطقی تعصبونو لیرې وشي.

قران مجید فرمایي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَتَبَيَّنُواْ وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلاَمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا (نساء/۹۴) اے ایماندارو کله چې تاسو په ځمکه کښې ګرځئ نو (دمومن او د کافر په پیژندلوکښې) ځیر شئ او مومن کس چې تاسو ته سلام وکړي (یعنی خپل اسلام تاسو ته څرګند کړي) نوهغه ته مه وایئ چې مومن نه یې.

---

[1] هغه درې اصلو نه چې د کفر او ایمان انکارول یا قبلول په هغې پورې تړلی دي هغه شهادتین ویل یعنی د خدالی وحانیت منل، د پیغمبر(ص) رسالت منل او دریم د قیامت د ورځې منل دي.

پيغمبر(ص) داسلام د ستنو د بيانولو په ترڅ کښې فرمايي: يومسلمان دا حق نه لري چې بل مسلمان د يوې ګناه په سبب کافر وګڼي ياورته مشرک ووايي.[1]

## يوسل درې ويشتم اصل (بدعت)

"بدعت" په لغت کښې نوي کار ته ويلے شي چې له دې وړاندې نه وي شوے چې د کوونکي لپاره يو ډول کمال او ښکلا حسابيږي، د خداى له صفتونو يو صفت "بديع" دے؛

بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ (بقره/۱۱۷) د بدعت اصطلاحى مطلب دا دے چې انسان په شريعت کښې يو داسې څيز ننباسى چې په شريعت کښې نه وي. او د بدعت له ټولو لنډ تعريف دا دے: ادخال ماليس من الدين فى الدين.

په دين کښې بدعت راوستل له لويو ګناهونو څخه دے او د هغې په حراميدو کښې څه شک نشته. پيغمبر(ص) وفرمايل: كل محدثة بدعة وكل بدعة ضلالة وكل ضلالة فى النار"[2] د بدعت په هکله تر ټولو مهمه خبره دا ده چې د بدعت د مفهوم جامع الافراد او مانع الاغيار تعريف وشي او بيان شي چې له غير بدعت سره يې فرق وشي په دې لړ کښې د بدعت د حقيقت د پوهيدو لپاره بايد دوو مطلبونو ته پام وکړو.

---

۱ لا تكفرو هم بذنب و لاتشهدوا عليهم بشرك ، كنزالعمال.۱ټوک، ۳۰مخ.
۲ بحارالانوار، ۲/۲۲۳ ،مسنداحمد ،۴/۱۲۲-۱۲۷.

۱- بدعت ، په دين کښې يو ډول تصرف (لاس وهل) دي يا په شريعت کښې د څه زياتول يا ترې کمول. په دې اساس نوي ايجادات چې له دين سره څه اړه نه لري هغه بدعت نه دي او عامه مسئله ده (که څه هم پکښې دا شرط شته چې هغه نوے څيز په شرعې کښې حرام نه وي) د مثال په توګه، انسانان د خوراک او اوسيدو لپاره هميشه نوي نوي څيزونه جوړوي په تيره بيا زمونږ په اوسنۍ زمانه کښې د ژوند ډيرې طريقې او وسيلې بدلې شوي دي ، او د بيلګې په توګه دورزش اوتفريح لپاره ډير نوي نوي څيزونه جوړ شوي دي .څرګنده خبره ده چې داټول بدعت (نوښت) دے، خو په شريعت کښې له بدعت سره څه اړه نه لري، خو يوازې هغه څه چې موږ ويل د هغې دحلال والي شرط دا دے چې د ديني احکامو مخالف نه وي. مثلاً دښځواو سړيو بې پردې په يو محفل کښې جمع کيدل، چې د لويديځ فاسده ډالۍ ده حرام دي خو بدعت نه دے. ځکه چې کوم کسان په دا رنګ محفلونو کښې ګډون کوي هغوي پکښې په دې نيت ګډون نه کوي چې دا کار د شرعی له مخی روا شوے دے، بلکه په دې نيت چې دا کار که څه هم د شرعی مخالف ګڼي خو د بې پامو او د خوند لپاره په کې ګډون کوي همدا سبب دے چې کله د داسې کسانو خپلې غلطۍ ته پام شی نو توبه وکړی او کلکه اراده وکړی چې نور به په دا رنګ محفلونو کښې ګډون نه کوی.

# لسمه برخه

## یو سل شپږ دیرشم اصل

امامیه شیعه په عقائدو او احکامو کښې په هغو حدیثونو عمل کوي چې له ثقه (ربښتوني) او د پیغمبر(ص) د باور وړ کسانو څخه نقل شوي وي، فرق نه کوي چې دا حدیثونه د شیعو په کتابونو کښې وي او که د سنیانو په کتابونو کښې. له همدې سببه د شیعو د فقې په کتابونو کښې کله کله هغه روایتونه هم راوړے شي چې راویان یې اهل سنت دي. (په علم درایه کښې د حدیثونو په څلور قسمه ویش کښې دې حدیثونو ته "مؤثق" حدیثونه ویل کیږي). نو دې ته په پام سره هغه څه چې ځینې غرضي کسان یې په شیعیانو پورې تړي بالکل بې بنیاده دي.

د شیعو د فقې سرچینې: کتاب، سنت، اجماع او عقل دي. او سنت د معصوم علیه السلام کار، وینا او تقریر دے چې په معصومینو کښې له ټولو لومړے پیغمبر(ص) دے. نو هر کله چې یو مؤثق حدیث له پیغمبر(ص) نقل شي او پکښې د هغه حضرت قول فعل یا تقریر[1] وي نو هغه د شیعو له نظره معتبر دے. د شیعو د فقې په کتابونو کښې لیکلي شوي حدیثونه د دې خبرې څرګند دلیل دے او له یوه لحاظه دا ویلے شو

[1]. تقریر دې ته وایي چې د معصوم په وړاندې یو کار وشي او معصوم یې په خپلې چوپتیا سره تایید کړي

چې په دې هکله د شيعه او سني د حديثونو کتابونو تر مينځ څه فرق نشته؛ که څه فرق وي نو هغه د راوي د ثقه والي او د اعتبار د درجې په تشخيص کښې دے.

## يو سل اووه ديرشم اصل

هغه حديثونه او روايتونه چې په صحيح سند سره له معصومينو عليهم السلام نقل شوي دي هغه شرعي حجت دي؛ بايد په هغو عمل وشي او د هغو مطابق فتوی ورکړے شي. امامان او اهلبيت عليهم السلام د مفتي او مجتهد په مانې مفتي او مجتهد نه وو بلکه هغوي چې څه نقلول هغه داسې حقيقتونه وو چې په لاندينيو طريقو هغو ته رسيدلي وو.

الف- د خدای له رسوله نقلول

امامانو اهلبيت عليهم السلام به حديثونه (بې له واسطې، يا د خپلو پلرونو په واسطه) د خدای له رسوله اخستل او نورو ته به يې نقلول او داسې حديثونه په شيعو کښې زيات دي چې هر يو امام له وړاندې امامه نقل کړي دي تر دې چې پيغمبر(ص) ته رسيږي، او که دا حديثونه چې سند يې د امامانو په واسطه پيغمبر(ص) ته رسي راټول کړے شي نو يو لوی مسند ترې جوړيدے شي چې د مسلمانو محدثانو او فقيهانو لپاره به يوه لويه خزانه وي. ځکه چې په داسې پوخ سند سره روايتونه د حديثونو په علم کښې سارے نه لري. د بيلګې په توګه يو حديث چې د سلسلة الذهب د

حدیث په توګه د هغه یوه نسسخه د تبرک لپاره د سامانیانو د ادب دوستې لړۍ په خزانې کښې پرته ده بیانوو.

بزرګوار شیخ صدوق په خپل کتاب توحید کښې د دوو کسانو په واسطې سره له اباصلت هروي نقلوي چې فرمایي: زۀ له علی بن موسی رضا علیه السلام سره وم چې له نشابوره تېریدۀ دغه وخت د نشابور د محدثانو یوې ډلې لکه محمد بن رافع، احمد بن حرب، یحیی بن یحیی، اسحاق بن راهویه او نورو علمي ملګرو د امام د اس جلب ونیوۀ او ورته یې وویل: تاته ستا د پاکو پلرونو قسم درکوو چې مونږ ته داسې حدیث نقل کړه چې له خپل پلاره دې اوریدلې وي. امام په دې حال کښې خپل سر له کجاوې راوباسه او داسې یې وفرمایل:

"حَدّثنی ابی العبد الصالح موسی بن جعفر علیه السلام قال حدثنی ابی الصادق جعفر بن محمد علیه السلام قال حدثني ابی ابو جعفر محمد بن علي باقر علم الانبیاء علیه السلام قال حدثنی ابی علی بن الحسین سید العابدین علیه السلام قال حدثنی ابی سید شباب اهل الجنة الحسین علیه السلام قال حدثني ابی علی بن ابی طالب علیه السلام سمعتُ النبي صلی الله علیه و اله یقول سمعتُ جبرئیل یقول سمعتُ الله جل جلاله یقول: "لا إله إلا الله حِصنی فَمَن دَخَل حِصنی أمِنَ مِنْ عذابی". بیا چې لږ لاړ نو غږ یې وکړ او ویې فرمایل: بِشُروطها او أنا مِن شروطِها.[1]

ب- د علی علیه السلام له کتابه نقلول

---

۱ . توحید شیخ صدوق، لومړی باب، ۲۱ ، ۲۲ ، ۲۳ حدیث.

امیر المؤمنین د بعثت په ټول وخت کښې له پیغمبر(ص) سره یو ځای و او له همدې سببه ورته دا توفیق خدای ورکړ چې ډېر زيات حديثونه يې له پيغمبر(ص) په يو كتاب كښې راجمع كړل (په حقيقت به پیغمبر(ص) فرمايل او على عليه السلام به ليكل) دا كتاب چې د امامانو په كورنۍ كښې پاتې شو ځانګړنې يې د امامانو په روايتونو كښې بيان شوي دي.

امام صادق عليه السلام فرمايي: د دې كتاب اوږدوالې اويا ذراعه و او د پيغمبر(ص) په املا او د على ابن ابي طالب په خط ليكلے شوے دے او كومو څيزونو ته چې خلك اړمن دي هغه پكښې بيان شوي دي".[1]

دا خبره د ويلو ده چې دا كتاب د امام على عليه السلام په كورنۍ كښې لاس په لاس راغلے تر دې چې امام باقر او امام صادق عليهما السلام به ترې بيا بيا حديثونه نقلول او دا كتاب به يې خپلو ملګرو ته ښودۀ او اوس هم له هغې ځينې كتابونه د شيعو په ځينې حديثونه كښې په تېره بيا په "وسائل الشيعه" كښې په بيلا بيلو بابونو كښې نقل شوي دي.

ج- خدايي الهامونه

د اهلبيت عليهم السلام د علمونو يوه بله سرچينه هم وه چې ورته "الهام" ويلے شو. الهام يوازې له پيغمبرانو سره خاص نه و او په تاريخ كښې ډېر داسې كسان شته چې ورته به الهام كيدۀ. په تاريخ كښې ډېر داسې كسان شته چې كه څه هم پيغمبران نه وو خو بيا به هم هغوي ته د غيبو رازونه

---

۱ . بحار الانوار: ۲۲/ ۱۸ – ۲۲.

الهام کیدل چې قرآن کریم په هغوي کښې ځینو ته اشاره کوي. د حضرت موسی د ملګري (خضر) په هکله چې څو ورځې یې هغه ته ښوونه وکړه داسې فرمایي: آتَيْنَاهُ رَحْمَةً مِنْ عِندِنَا وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا (کهف/۲۵) هغه ته مو له خپل طرفه رحمت ورکړ او له خپل ځانه مو ورته خاص علم ورکړے و.

همدارنګ د حضرت سلیمان د یو ملګري (اصف بن برخیا) په هکله فرمایي: قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ (نمل/۴۰) هغه کس چې ورسره د کتاب څه نه څه علم و وویل....

دې کسانو خپل علم په عامه طریقه نه و زده کړے له د قرآن په وینا بلکې دوي سره "علم لدني" و: وَعَلَّمْنَاهُ مِن لَّدُنَّا عِلْمًا.

نو دې ته پام سره هغوي پیغمبران نه وو، دا خبره څه منعې شوې خبره نه ده چې ځینې کسان که څه هم نبي نه وي بیا هم ورته الهام کیږي. په اسلامي حدیثونو کښې له دواړو فریقو نقل شوي دي چې ځینې کسانو ته محدّث ویل شوي دي او بې له دې چې هغوي پیغمبران وي پرښتو ورسره خبرې کړي دي.

بخاري په خپل صحیح کښې له پیغمبره (ص) نقلوي چې فرمایي: "لَقَدْ كانَ فِيمنْ كان قبْلَكُم مِنْ بي إسرائيلَ يُكَلّمون من غير ان يكونوا أنبياءَ..."[1] له تاسو وړاندې په بني اسرائیلو کښې داسې کساي وو چې (پرښتو) به له هغوي سره خبرې کولې بې له دې چې هغوي پیغمبران وي.

---

[1]. صحیح بخاري ۱۴۹/۲.

نو دې ته په پام سره، د اهلبیتو امامان چې د خلکو مراجع وو او د خدای د معارفو بیانوونکي وو هغوي هم د ځینې داسې پوښتونو ځوابونه په الهام او غیبي زده کړې سره ورکړي دي چې د هغې ځوابونه د پیغمبر(ص) په حدیث او د علی علیه السلام په کتاب کښې نه وو.[1]

## یو سل اتة دیرشم اصل

د پیغمبر(ص) حدیثونه د قرآن په شان یو خاص اعتبار لري اود پیغمبر(ص) سنت د خدای د کتاب په شان د مسلمانانو له فقهي او عقیدتي سرچینو څخه ګڼل کیږي. د پیغمبر(ص) له وفاته وروسته ځینو کسانو د حکومت له ویرې د حدیثونو لیکل پریښودل خو د اهل بیتو امامانو لارویان د یو ساعت لپاره هم له حدیث لیکلو غافل نه شول او د هغه حضرت(ص) له وفاته وروسته د حدیثونو په لیکلو لګیا شول. په تېر اصل کښې مو یادونه وکړه چې د امامانو ځینې حدیثونه په خپله له پیغمبر(ص) څخه اخستل شوي دي.

په تاریخ کښې د اهلبیت علیهم السلام د مکتب شاګردانو د حدیثونو ډېر مجموعې لیکلي دي چې د رجالو په کتابونو کښې بیان شوي دي. په تیره بیا په څلور او پینځم هجري کال کښې، له هغو کتابونو څخه چې د امامانو په زمانه کښې د هغوي د شاګردانو په لاس لیکلے شوي وو، د حدیث جامع

---

۱ . د محدث په هکله د او د هغې د شرطونو او حدونو په هکله د صحیح بخاري شرحې ارشاد الساري ۹۹/۲ ته مراجعه وکړئ.

کتابونه ولیکل شول چې اوس هم هغه کتابونه د شیعو د احکامو او عقایدو سرچینې ګڼل کیږي مونږ لاندې ځینې کتابونو او د هغو لیکوالانو ته اشاره کوو:

١. کافي، اتۀ ټوکه، د محمد بن یعقوب کلیني لیکل شوے (وفات ٣٢٩ هجري کال)
٢. من لا یحضره الفقیه، څلور ټوکه د محمد بن علی بن بابویه چې په شیخ صدوق مشهور و لیکل شوے (٣٠٢-٣٨١ هجري کال).
٣. تهذیب، د محمد بن حسن طوسي چې په شیخ طوسي مشهور و لیکل شوے په لسو ټوکو کښې (٣٨٥-٤٢٠)
٤. استبصار، د محمد بن حسن طوسي چې په شیخ طوسي مشهور و په څلورو ټوکو کښې لیکل شوے (٣٨٥-٤٢٠)

دا د حدیثونو دویمه لړۍ ده چې شیعو په خپل تاریخ کښې تر څلورمې او پینځمې هجري پیړۍ پورې لیکلې وه. او لکه څنګه چې اشاره وشوه د امامانو په زمانه کښې هم په دوهمې او دریمې هجري پیړۍ کښې د جوامع اولیه په نوم یو جامع چې "څلور سوه اصلونه" هم ورسره ضمیمه وو لیکل شوي وو د هم هغو مطالب بیا دوهم جوامع ته منتقل شوې دي.

علم حدیث ته همیشه شیعو ډېره پاملرنه کړې ده نو له همدې سببه په یوولسمې او دولسمې پیړۍ کښې یوه بله جامعه هم لیکلې شوې ده چې پکښې د محمد باقر مجلسي علیه الرحمه بحار الانوار، د محمد حسن حر عاملي وسائل الشیعه، او د محمد محسن فیض کاشاني وافي ډېر مشهور دي.

دا روښانه خبره ده چې شیعه په هر یو حدیث عمل نه کوي او د عقائدو په برخه کښې د احادو حدیثونه او یا د قرآن او قطعي سنتو مخالف حدیثونه حجت نه دي. همدارنګ د حدیثونو په کتابونو کښې د یو حدیث د راتللو مطلب دا نه دے چې مؤلف یې دا حدیث صحیح مني بلکې حدیثونه د شیعو عالمانو له نظره په صحیح، حسن، مؤثق او ضعیف تقسیم شوي دي چې هر یو ځانته خپل حکمونه او اعتبار لري چې تفصیل یې د حدیثونو په علم "درایة الحدیث کښې شته دے.

## یو سل نهه دیرشم اصل

په تېرې بر خې کښې مو د شیعو د فقې سرچینو (کتاب، سنت، اجماع او عقل) ته اشاره وکړه. له دغو سرچینو څخه په هغو خاصو شرطونو سره چې په علم اصول کښې بیان شوي دي، د حکمونو راوباسلو ته اجتهاد ویل کیږي.

له دې امله د اسلام شریعت اخرنے شریعت دے او له دې وروسته به بل شریعت نه راځي، باید داسې شریعت وي چې د انساني ټولنې د ټولو ضرورتونو پوره کوونکے وي. د پیغمبر(ص) د وخت کسانو هم اسلام داسې بشپړ دین ګڼلے او د پیغمبر(ص) په سیرت به یې د ژوند په ټولو برخو کښې د رسول الله په امر او نهي عمل کاوۀ.

او له بلې خوا په دې هم پوهيږو چې د پيغمبر(ص) په زمانه کښې چې کومې پيښې شوي دي يوازې همدا پيښې نه وې بلکې هره ورځ نوې نوې پيښې پيښيږي چې هره يوه د ځان لپاره يو نوے حکم غواړي.
دې دوو مطلبونو ته په پام سره، په تاريخ کښې د فقيهانو لپاره د اجتهاد د لارې خلاصيدل يوه ضروري خبره ده. آيا دا ممکنه ده چې اسلام چې يو بشپړ دين دے د تاريخ د نويو پيښو په هکله څه نه وي ويلې د تاريخ په نوو نوو څيزونو او پيښو کښې انسانان همداسې لالهانده پريږدي او څه ذمه واري او لار ورته ونه ښيي؟
ټولو ته پته ده چې د علم اصول عالمانو اجتهاد په دوو برخو ويشلے دے "مطلق اجتهاد" او "په يو خاص مذهب کښې اجتهاد" مثلاً کله چې يو سړے په يو خاص مذهب کښې اجتهاد وکړي يعنې دا کوشش وکړي چې د يوې خاصې مسلې په هکله د هغه مذهب نظريه پيدا کړي نو د هغه دې عمل ته په مذهب کښې اجتهاد ويلے شي. خو که يو فقيه د يو خاص کس په مذهب عقيده نه وي او د هغه له مخې شرعي حکمونه نه راوباسي بلکه په مطلق ډول د خداى په حکم باندې د پوهيدلو کوشش کوي (که د هغه د مذهب مطابق وي او که نه وي) نو دې ته مطلق اجتهاد وايي.
له بده مرغه په **۶۶۵** هجري کال کښې د اهل سنتو په عالمانو باندې د اجتهاد دروازه بنده شوه.[۱] او اجتهاد يوازې په يو څو فقهو کښې محدود

۱ . مقريزي، الخطط: ۳۴۴/۲.

پاتې شو چې دا پابندي لګول او د اجتهاد د دروازې بندول مسلما د خدای له احکامو د ازاداه او حق غوارې استنباط د لارې بندول دي.
شيعه فقيهان او مجتهدان له کتاب، سنت، اجماع او عقل څخه په ديني معارفو د پوهيدلو لپاره اجتهاد کوي او په ديني معارفو د پوهيدلو لپاره د هغوي کوشش له شرعي دليلونو له پيروۍ پرته بل شرط نه لري. او همدا سبب دے چې د دې مذهب عالمانو په يو ژوندي او دوام لرونکي اجتهاد سره يوه داسې جامعه فقهه په لاس راوړې ده چې د انسانانو له بدليدونکيو او بيلا بيلو ضرورتو سره سمون لري او يوه لويه علمي خزانه يې تياره کړې ده. هغه يوازينے څيز چې د شيعيانو د فقهې په مخپرتګ کښې يې ډېره مرسته کړې ده دا دے چې په دې مذهب کښې د مړ مجتهد تقليد صحيح نه دے بلکې حکم کوي چې بايد د ژوندي مجتهد تقليد او پيروي وکړے شي هغه مجتهد چې د ټولنې نبض او واګې د هغه په لاس کښې وي او د وخت له ضرورتونو خبر وي.
د شيعو فقهه په ډېرو مسلو کښې د نورو مذهبونو د فقيهانو او عالمانو له نظريو سره اتفاق لري او د شيخ طوسي "الخلاف" کتاب د دې خبرې څرګند ګواه دے، ځکه چې داسې ډېرې کمې فرعي مسلې دي چې د شيعو فقهه پکښې له څلورو مذهبونو سره مخالفت ولري. خو بيا هم دا مذهب په ځينو مسلو کښې يو خاص نظر لري چې ځينو ته يې په لانديني څو اصلونو کښې اشاره کوو. ځکه چې کله کله دا خيال کيدے شي چې دا فرعي مسلې د مشروعيت څه دليل نه لري او يا دا ويل کيږي چې دا مسلې د قرآن او سنت په خلاف دي په داسې حال کښې چې خبره اپوټه ده.

## یو سل څلویښتم اصل

د پیغمبر(ص) سنت د ځینو اصحابو په لاس لیکل شوې او وروسته نسلونو ته نقل شوې دي، او د هغه حضرت(ص) وینا د هغوي د کړو او تقریر په شان حجت ده چې باید پیروي یې وشي. دې ته په پام سره که یو صحابي د پیغمبر(ص) یو سنت نقل کړي او هغه روایت د حجیت شرطونه ولري نو ټول هغه روایت قبلوي او په هغې عمل کوي.

همدارنګ که یو صحابي د قرآن د یو ټکې معنې وکړي او یا د پیغمبر(ص) د زمانې یو کیسه او پیښه نقل کړي، نو د هغه خبره په نوموړي شرط سره قبلیږي.

خو هر کله که یو صحابي له ایته یا سنته خپله یوه نظریه او استنباط بیان کړي یا ترې یوه خبره نقل شي چې معلومه نه وي چې دا یې د پیغمبر(ص) خبره نقل کړې ده که نه خپل نظر یې دے نو په داسې وخت کښې به هغه حجت نه وي، ځکه چې د یومجتهد نظر د بل مجتهد لپاره څه حجیت نه لري. نو باید چې کله مونږ د یو صحابي په قول عمل کوو نو باید د هغه په خپل نظر او له پیغمبر(ص) په نقل کړي سنت کښې فرق وکړو. امامیه شیعه د صحابي په قول باندې هغه وخت عمل کوي چې د پیغمبر(ص) سنت نقل کړي.

## یو سل یو څلویښتم اصل

په هر یو مسلمان فرض دي چې په هغه مسلو باندې یقین حاصل کړي چې په هغو باندې عقیده لرل ضروري دي. او په دې ځای کښې د نورو پیروي کول بې له دې چې هغه ورباندې په خپله یقین حاصل کړي جائز نه دي، او له دې امله چې د اعتقادي مسلو اصول او کلیات محدود دي او د عقل له نظره هې یو یې روښانه دلیل لري نو په عقیدتي اصولو کښې د هر یو انسان لپاره یقین حاصلول به یو اسان کار وي په داسې حال کښې چې فروع او فقهي حکمونه پراخه ساحه لري او په هغو باندې علم حاصلول او بیل بیل یقین ته رسیدل ډېرې پوهې او علم ته اړمن دي چې ډېر کسان د هغو د زده کړې توان نه لري نو له همدې سببه فطرت او د عاقلانو روده حکم کوي چې دا کسان باید عالمانو او مجتهدانو ته رجوع وکړي او شرعي حکمونه ترې زده کړي او په دې طریقه د خدای په حکمونو عمل وکړي.

په اصل کښې انسان یو داسې فاعل دے چې په علم او پوهې سره کار کوي او خپل کارونه له علم سره سموي، نو که په خپله یې په یو څیز علم حاصل کړ خو ډېره ښه ده او که نه وي نو بیا دې د نورو له علمه ګټه واخلي.

دلته باید پام وکړو چې له یو جامع الشرائط مجتهده تقلید کول داسې دي لکه په هر یو فن کښې د هغې متخصص ته رجوع کول او دا تقلید له ړاندهٔ او بې اساسه او د قوم قبیلې د تعصباتو له مخې له شوي تقلید سره اړه نه لري بلکې دواړه سره فرق لري.

## ځینې اختلافي فقهي حکمونه

د اسلام دین له "عقیدې" او "شریعته" جوړ شوے دے یعنې (خدای او هستي پیژندنه او کړ مکړ) چې پیغمبر(ص) ورته اصول دین او فروع دین هم ویلي دي. په تېرو بحثونو کښې په دلیلونو سره د شیعو له عقیدې خبر شو. همدارنګ د شیعو نظریه د پیغمبر(ص) او د اهلبیتو علیهم السلام د حدیثونو په هکله هم بیان شوه. اوس ضروري ګڼو په لنډه توګه د شیعو د فقهي طریقې په هکله هم ځینې خبرې وکړو او ځینې هغه فقهي مسلې چې شیعه پکښې ځانله یو خاص نظر لري بیان کړو.

## یو سل دوه څلویښتم اصل

ټول په دې خبره پوهیږو چې وضو او اودس د لمانځه لپاره ضروري مقدمه ده په مائده سورت کښې لولو: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلاةِ فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ (مائده/٦) اے ایماندارو کله چې لمانځه ته ودریږئ نو خپل مخ او لاسونه تر څنګلو پورې ووینځئ او په سر او پښو تر کعبینو (راوتلو ځایونو پورې مسح وکړئ.

په لومړنئ جمله فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ کښې د "ایدی" ټکې راغلے دے چې د "ید" جمع ده لومړۍ خبره دا ده چې "ید" په عربۍ ژبه کښې د بیلا بیلو ځایونو لپاره استعمالیږي. کله کله یوازې ګوتو ته ید ویلے شي،

کله کله له تلي سره یو ځای ورته ید ویلے شي، کله له ګتو نیسه تر څنګل پورې ځای ته ید ویلے شي او کله کله ټول لاس ته یعنې له ګتو تر اوږې پورې ځای ته ید ویلے شي. دویمه خبره دا چې د لاس وینځلو واجب مقدار چې په وضو کښې باید ووینځلے شي د څنګل او ګتو تر مینځ دے، له همدې سببه په قرآن کښې الی المرافق ټکې راغلے دے چې واجب مقدار ورسره بیان کړي، نو دې ته په پام سره الی المرافق ټکے د "مغسول به" (وینځل کیدو د ځای) مقدار ښیي، نه کیفیت او د لاسو وینځلو طریقه (چې مثلا د بره نه ښکته طرف ته ووینځل شي یا د ښکته نه بره طرف ته) او د وینځلو طریقه د خلکو له عرف سره تعلق لري چې معمولا عام خلک یې له بره نه په ښکته وینځي. مثلا که یو طبیب دا ووایي چې د مریض پښه تر زنګانه پورې ووینځئ نو ایا مونږ د هغه پښه له ښکته نه په بره وینځو، نه بلکې له بره یې په ښکته وینځو. له همدې سببه امامیه شیعه دا عقیده لري چې د وضو په وخت مخ او لاسونه باید له بره نه په ښکته ووینځل شي او اپوټه وینځل صحیح نه دي.

بله خبره په چاردام (وضو) کښې د پښو مسحه ده. د شیعو فقه دا وایي چې باید په پښو باندې مسحه وکړے شي نه وینځل؛ د دې خبرې لپاره د هغوي موجز دلیل دا دے چې په څرګنده د مائدې سورت شپږم آیت دا بیانوي چې لمونځ کوونکے د چاردام په وخت باید دوه کارونه وکړي: یو وینځل (چې د لاس او مخ دي) او بل مسح (چې د سر او پښو ده) او دا خبره د لاندینو دوو جملو له مقایسې او په یوځای د هغوي له راوړلو څرګندیږي:

۱. فاغْسِلُواْ وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ

۲. وَامْسَحُواْ بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَينِ

که مونږ دا دوه جملې یو داسې عرب سړي ته چې په ذهن کښې یې له اوله د دې په هکله څه حکم نه لري، وښیو نو هغه به بې شکه دا خبره کوي چې د دغه ایت مطابق زمونږ ذمه واري د لاسونو او مخ وینځل او د سر او پښو مسح کول دي.

د ادبي قاعدو له مخې باید د "ارجُلَکُم" تړکې په "رؤوسَکم" باندې عطف شي چې نتیجه یې د پښو مسح ده. او دا مونږ په "ایدیکم" باندې نه شو عطف کولے چې په نتیجه کښې یې پښې ووینځو. ځکه چې د دې لازمه دا ده چې د معطوف "ارجُلَکم" او معطوف علیه "وَ اَیدیکم" تر مینځ یوه معترضه جمله "فَامْسَحوا بِرؤوسِکُم" راشي چې د عربي قاعدو له نظره صحیح نه ده او په مطلب کښې د ګډوډۍ سبب کیږي.

او باید دا هم ووایو چې که مونږ "ارجُلَکُم" په زبر سره ووایو او که په زیر سره د پښې په مسح کولو کښې څه فرق نه راځي او د دواړو قرائتو پر اساس "ارجُلَکُم" په "رؤوسکم" عطف دے خو فرق یې دا دے چې په ظاهر یې عطف شي نو په زیر سره ویلے شي او که په محل یې عطف شي نو په زبر سره ویلے شي.

له اهلبیتو امامانو څخه متواتر روایتونه راغلي دي چې فرمایي وضو له دوو ځیزونو جوړ دے: غَسلَتانِ و مَسْحتان؛ او امام باقر علیه السلام په یو حدیث کښې د پیغمبر(ص) د وضو په تفصیل کښې فرمایي چې هغوي له په پښو مسح کوله.

دا خبره هم د ويلو ده چې نه يوازې اهلبيتو عليهم السلام به په وضو کښې په پښو مسح کوله بلکې ځينې اصحابو او تابعينو هم دا نظر لاره، خو بيا د ځينې سببونو له مخې ځينې مسلمانانو د مسح سنت په وينځلو بدل کړ چې په تفصيل سره د فقهې په کتابونو کښې راغلے دے.

## يو سل درېم ځلوېښتم اصل

شيعه عقيده لري چې د لمانځه په وخت بايد په ځمکه يا په هغه څه چې له ځمکې زرغونيږي (په دې شرط چې د خوړلو او اغوندلو نه وي) سجده وکړے شي. او له دې دواړو پرته پ بل څه باندې په اختياري حالت کښې سجده کول صحيح نه دي. د پيغمبر(ص) په يو حديث کښې روايت شوي دي چې اهل سنتو هم هغه نقل کړے دے: وَ جُعِلَتْ لِيَ الارْضُ مَسجِداً وَ طَهُوراً[1]. د "طهور" ټکے چې د تيمم لپاره راغلے دے دابنيي چې د "ارض" مطلب عامه ځمکه ده چې له خاورو، کاڼو او د دې غوندې له نورو څيزونو جوړه شوې ده.

امام صادق عليه السلام هم فرمايي: "السّجُودُ لا يَجُوزُ اِلا على الارض او على ما اَنْبَتَتِ الاَرْضُ اِلاّ ما اُكِلَ او لُبِسَ"[2]

---

۱ . صحيح بخاری، ۱/۹۱، د تيمم کتاب، ۲ حديث.

۲ . وسائل، ۳ ټوک، له "ما يَسجُدُ عَليه" بابونو لومړی باب، لومړی حديث، ۵۱۹مخ.

د پیغمبر(ص) په زمانه کښې د مسلمانانو سیرت دا و چې د جمات په فرش به یې چې له شګو جوړ شوے و سجده کوله. کله به چې ګرمي وه نو هغوي به هغه شګې په لاس کښې راخستې چې یخې شي او بیا به یې په هغې سجده کوله. جابر بن عبدالله انصاري وایي: ما په پیغمبر(ص) پسې د ماسپښین لمونځ کاوه لږې غوندې شګې مې په لاس کښې واړولې راواړولې چې سړې شي چې په لمانځه کښې په هغو سجده وکړم.[1]

پیغمبر(ص) خپل یو صحابي ته چې له خاورو یې خپل تندے ساته وفرمایل: "تَرِّب وَجْهَكَ" مخ دې خاورین کړه.[2] همدارنګ که کله کله ځینو کسانو به د خپلې عمامې په پلو سجده کوله نو پیغمبر(ص) به هغه د هغوي له تندي راکښوده.

دا ټول حدیثونه په دې ګواه دي چې د پیغمبر(ص) په زمانه کښې د مسلمانانو ذمه واري په خاورو او کاڼو سجده کول وو او هغوي به هیڅکله په فرش، جامو او د عمامې په پلو سجده نه کوله. خو څه وخت وروسته پیغمبر(ص) ته وحي وشوه چې په پوزي او بوریه هم سجده کیدے شي، او له پیغمبر(ص) ډېر روایتونه راغلي دي چې په پوزي او بوریه باندې د هغه سجده کول ښیي.[3]

البته د عذر په ځایونو کښې به اصحابو په خپلو جامو سجده کوله، لکه انس ابن مالک وایي: مونږ له پیغمبر(ص) سره لمونځ کاوۀ کله به چې له

١ . مسند احمد ، ٣٢٧/٣ ، د جابر حدیث، سنن بیهقي، ۴٣٩/١.
٢ . کنزل العمال، ۴٢۵/٧، حدیث شمېره ١٩٨١٠ .
٣ . سنن بیهقي، ١٠۵/٢.

مونږ. څخه یو کس په ځمکه باندې له تندي کیښودلو معذوره و نو د خپلې عمامې په پلو یا په خپلو جامو به یې سجده کوله.[1]

دې ته په پام سره شیعه تل په دې اصل باندې ولاړ و او یوازې پر ځمکه یا په هغه څیز چې له ځمکې به زرغونیدۀ سجده کوله خو په دې شرط چې هغه د خوړلو او اغوستلو څیز نه وي لکه پوزے او بورۍ. او که شیعه په دې خبره ټینګار کوي چې یوازې په خاورې او له خاورې په پیدا شوي څیزونو دې سجده وشي نو دا د همدې دلیلونو له امله دي. او غوره دا ده چې په ټولو اسلامي هیوادونو کښې جماتونه داسې وي چې د هرې فرقې مسلمانان پکښې لمونځ وکولے شي.

په اخر کښې د دې خبرې کول ضروروي ګڼو چې کاڼې او خاوره "مسجودٌ علیه" دي نه "مسجودٌ له" (یعنې په هغې سجده کیږي نه دا چې هغې ته ځوک سجده کوي). کله کله ځینې خلک دا وایي چې شیعه خاورې ته سجده کوي په داسې حال کښې چې هغوي هم د ټولو مسلمانانو غوندې یوازې خدای ته سجده کوي او د دې لپاره چې خدای ته خواري زاري وکړي نو خپل سر په خاوره ږدي او په زړه کښې وایي: "اَیْنَ التراب وَ رَبُّ الارباب" خاوره چرته او د مالکانو مالک چرته".

---

۱ . مسند احمد، ۱۷۹/۲، ۳۰۹، ۳۳۱، ۳۷۷، او ۲/ ۱۹۲ – ۱۹۸.

## يو سل څلور څلويښتم اصل

په هر يو مسلمان فرض دي چې په ورځې شپې کښې پينځه وخته لمونځ وکړي چې د هغې شرعي وختونه په قرآن او سنت کښې ذکر شوي دي: له ماسپښينه تر لمر پرېواته پورې د ماسپښين او ماځيګر د لمانځه وخت دے؛ او له ماښامه تر نيمې شپې پورې د ماښام او ماسخوتن د لمانځه وخت دے؛ له فجره تر لمر راختلو پورې د سهار د لمانځه وخت دے.

شيعه دا عقيده لري چې له ماسپښينه تر لمر پرېواته پورې د ماسپښين او ماځيګر د لمانځه وخت شريک دے، خو لومړے يوازې دومره وخت چې څلور رکعته پکښې کيږي د ماسپښين له لمانځه سره خاص دے او اخرنے دومره وخت چې څلور رکعته پکښې کيدے شي د ماځيګر له لمانځه سره خاص دے، نو دې ته په پام سره د دې دوو خاصو وختونو په مينځ کښې وخت کښې چې کوم وخت انسان وغواړي دواړه لمونځونه کولے شي او لمونځ د هغې د فضيلت له وخته وروسته کولے هم شي، که څه هم ښه دا ده چې هغه دواړه په خپل د فضيلت په وخت کښې وکړے شي چې وروسته به بيانيږي.

امام باقر عليه السلام فرمايي: "إذا زالَت الشمْسُ دَخل الوقتانِ الظهرُ والعَصرُ و إذا غابت الشمسُ دخل الوقتان المغربُ والعشاء الاخرة"[1]. کله چې لمر د آسمان

---

۱ . د ماسپښين د فضيلت وخت د لمر له راګرځيدو (له زواله) تر هغه وخته پورې دے چې د شاخص سيورے د هغې په اندازه شي او د ماځيګر د فضيلت وخت هم هغه وخت دے چې د شاخص سيوره د هغې برابره شي.

مینځ ته ورسي نو د ماسپښین او ماځیګر د لمانځه وخت شي او کله چې لمر پرېوځي نو د ماښام او ماسخوتن د لمانځه وخت شي.
امام صادق علیه السلام فرمایي: "إذا زالتِ الشمسُ فقد دَخَل وقتُ الظهرِ والعصر جمیعاً إلا انّ هذه قبل هذه، ثمّ أنتَ فی وقت منهما جمیعاً حتی تغیبُ الشمس"[1] کله چې لمر د زوال حد ته ورسي نو د ماسپښین او ماځیګر د لمانځه وخت شي، خو ضروري ده چې د ماسپښین لمونځ د ماځیګر لمانځه نه وړاندې وشي. بیا ستا خوښه ده چې تر لمر پرېواته پورې چې کله وغواړې دواړه لمونځونه کولې شې.
امام باقر (ع) له پیغمبر(ص) نقل کوي چې هغه حضرت(ص) به بې له دې چې څه عذر ولري د ماسپښین او مازیګر لمونځونه په یو ځای جمع کول.[2]
په ځینو ځایونو کښې د دواړو لمونځونو په جمع کولو باندې د اسلام د ټولو عالمانو اتفاق دے. لکه په عرفه او مزدلفه کښې ټول مسلمانان په یوه خله دي چې ماسپښین او ماځیګر او همدارنګ ماښام او ماسخوتن دواړه لمونځونه په یو ځای کول جائز دي، لکه څنګه چې له اهلسنتو ډېر عالمان په سفر کښې د دواړو لمونځونو په یو ځای کول جائز ګڼي. له نورو سره د شیعو فرق یوازې دا دے چې یو قدم مخکښې لاړ دي او پاسنیو دلیلونو ته په پام سره که څه هم وایي چې فضیلت دا دے چې باید جدا جدا په خپل د فضیلت په وخت کښې وشي خو د دوو لمونځونو په یو ځای کول مطلقاً (بې له سفره، بارانه او ویرې وغیره) جائز ګڼي. او د دې کار حکمت

---

۱ . وسائل الشیعه، ۳ټوک، د وختونو بابونه، ۴باب، ۴ او ۲ روایتونه.
۲ . وسائل الشیعه، ۳ټوک، د وختونو بابونه، ۴باب، ۴ او ۲ روایتونه.

هماغه دے چې کوم په حدیثونو کښې بیان شوے دے چې مسلمانانو ته اساني وي. او پیغمبر(ص) په خپله هم په ډېرو ځایونو کښې بې له څه پیښې (لکه سفر، باران، بیماری وغیره) دوه لمونځونه په یو ځای کړي دي د دې لپاره چې امت ته کار اسان کړي، چې د هر چا خوښه چې که په یو ځای یې کوي او که جدا جدا یې کوي.

مسلم په خپل صحیح کښې داسې نقلوي: "صلّیٰ رسولُ الله الظهرَ والعصرَ جمیعاً والمغربَ والعشاءَ جمیعاً فی غیر خوفٍ و لا سفرٍ"[1]. پیغمبر(ص) د ماسپښین او ماښام او همدارنګ د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځای وکړو بې له دې چې (له دښمنه) څه وېره ولري او یا په سفر کښې وي.

ځینې روایتونو د دې یو ځای کولو حکمت ته اشاره کړې ده لکه چې فرمایي: "جَمَعَ النبیّ صلّی الله علیه و اله بین الظهر والعصر و بین المغرب والعشاء فقیل له فی ذلك فقال صنعتُ هذا لئلاّ تحرج اُمّتی"[2] پیغمبر(ص) د ماسپښین او ماښام او همدارنګ د ماښام او ماسخوتن لمونځونه په یو ځای وکړل. له هغوی څخه د دې د سبب پوښتنه وشوه نو ویې فرمایل: داسې مې ځکه وکړل چې امت مې په سختۍ کښې پرې نه وځي.

هغه روایتونه چې د پیغمبر(ص) لخوا د دوو لمونځونو د یو ځای کولو په هکله په صحاح کښې راغلي دي تر یویشتو حدیثونو زیات دي چې ځینې

---

۱ . صحیح مسلم ۱۵۱/۲، په خپل ځای (حضر) کښې د دواړو لمونځونو د جمع کولو باب.

۲ . د مالک په موتا کتاب باندې د زرقاني شرحه، لومړۍ ټوک، الجمع بین الصلاتین فی الحضر والسفر باب، ۲۹۴مخ.

پکښې د سفر او مرض او باران په هکله دي. او په ځینو کښې یې د هغې سبب ته چې هماغه د مسلمانو لپاره اساني ده، اشاره شوې ده. او د شیعو عالمانو د همدې دلیلونو په رڼا کښې چې مسلمانانو ته اساني ده د دوو لمونځونو مطلقاً په یو ځای کول یې جائز ګڼلي دي. او د لمونځونو د یو ځای کیدلو طریقه هماغه ده چې ټول مسلمانان یې په عرفه او مزدلفه کښې کوي یا یې په سفر کښې کوي.

کله کله دا ویل کیږي چې د دوو لمونځونو د یو ځای کیدو مطلب دا دے چې لومړنے لمونځ په خپل (د فضیلت په) اخرني وخت کښې او دویم لمونځ په خپل لومړي وخت کښې وشي په دې طریقه لمونځ کوونکي دواړه لمونځونه په خپل وخت کښې کړي دي که څه هم اول لمونځ یې په اخرني او دویم لمونځ یې او اولني وخت کې کړے دے.

دا اخستون او خیال د روایتونو د ظاهر مخالف دے ځکه چې لکه څنګه چې وویل شول د دوو لمونځونو د یو ځای کولو طریقه هماغه ده چې کومه ټول مسلمانان په عرفې او مزدلفې کښې کوي، په دې طریقه چې په عرفې کښې دواړه لمونځونه د ماسپښین په وخت کیږي او په مزدلفه کښې دواړه لمونځونه د ماسخوتن په وخت کیږي. نو دې ته په پام سره کوم یو ځای کول چې د پیغمبر(ص) له خولې راغلي دي هغه هم داسې یو ځای کیدل بیانوي، نه هغه یو ځای کول چې یو په اخرني وخت کښې وکړو او بل یې لومړني وخت کښې.

له دې ورتېر، په روایتونو کښې د دوو لمونځونو د یو ځای کولو سبب په وخت کښې اوږد والی او امت ته اساني بیان شوې ده، او ځینې نورو کښې

رفع حرج، او دا دواړه هاله کيدے شي چې د لمونځ کوونکي لاس خلاص وي او وخت ورته ډېر وي يعنې له هغه سره د دواړو لمونځونو لپاره يو لوى وخت وي چې کله يې وغواړي په هغه وخت کښې يې کولے شي. او له دې پرته يوه بله خبره دا هم کولے شو چې پيغمبر(ص) څه نوے شے نه دے راوړے، ځکه چې داسې جمع کول خو د پيغمبر(ص) له عمله وړاندې هم جائز وو او هر يو مسلمان ته دا اختيار و چې لومړے لمونځ په اخري وخت او دويم په لومړي وخت کښې وکړي.
شيعو عالمانو د دوو لمونځونو په يو ځاى کولو په هکله ډېر کتابونه ليکلي دي او ډېر دليلونه يې راوړي دي چې څوک پکښې زياته څيړنه غواړي نو د هغوي کتابونو ته رجوع کولے شئ.

## يو سل پينځه څلويښتم اصل

د شيعو فقهه د قرآن او سنت په رڼا کښې دوه ډوله واده جائز ګڼي: "ازدواج دائم" چې تفسير ته يې څه ضرورت نشته او يو "ازدواج موقت" يا "متعه" چې هغه په لاندينۍ طريقه ده:
هغه ښځه او سړے چې د هغوي د واده لپاره کوم مانع (لکه نسب، رضاع وغيره) نه وي نو د مهر له ټاکلو وروسته تر يو ټاکلي وخته پورې له يو بل سره نکاح کولے شي او له ټاکلي وخته وروسته بې له دې چې طلاق ووايي له يو بله جدا کيږي. په دې مينځ کښې که د هغوي بچے وشي نو د هغوي شرعي بچے دے او د دواړو وارث دے. ښځه هم بايد له ټاکلي وخته

وروسته شرعي عده وساتي او که امیدواره (حامله) وي نو د ماشوم تر زیږیدو دې صبر وکړي او له بل سړي سره له وادهٔ دې ډډه وکړي.
د ماهیت له مخې موقت واده او متعه د دائم واده په شان دے او ټول هغه حکمونه چې دائمي وادهٔ یې لري دا یې هم لري هغه لوی فرقونه چې په دواړو کښې دي په دې ډول دي:

١. په موقت وادهٔ کښې د وخت معلومول
٢. په دې کښې ښځې ته نفقه او خرچه ورکول واجب نه دي.

که له دې دوو مطلبونو تېر شو نو نور فرقونه یې دومره معمولي دي چې د دواړو ودونو تر مینځ څه فرق او توپیر نه پیدا کوي.
له دې امله چې اسلام یو جامع او اخرنے دین دے نو د مشکل وخت اود جنسي بحرانونو د حل لپاره یې داسې طریقه جائزه کړې ده. که مونږ یو داسې ځوان په نظر کښې ونیسوله هیواده بهر په تعلیم یا کار مشغول دے د دایمي دواده وس هم نه لري نو په داسې حال کښې د هغه څه ذمه واري ده؟ دا روښانه خبره ده چې په داسې حالت کښې به هغه له لاندینیو دریو لارو څخه یوه لاره خپلوي.
الف - باید ځان وساتي او له جنسي خونده ځان محروم کړي؛
ب – له ناروغو او فاسدو ښځو سره نامشروعه رابطه جوړه کړي؛
ج – له یوې پاکلمنې ښځې سره موقت واده وکړي، په یو لړ خاصو شرطونو سره چې هم مشکل هوار کړي او هم یې خرچه ډېره نه وي.
څرګنده خبره ده چې په پاسني مثال کښې څلورمه لار نشته چې دا ځوان ترې ګټه واخلي (البته د دې مطلب دا نه دے چې موقت واده یوازې له دغو

حالاتو سره مخصوص وي، خو په عین حال کښې داسې حالات او وختونه د دې د تشریع او جائز والي سبب بیانولے شي.
باید دې ته هم پام وکړو چې د نورو مذهبونو ځینې فقیهان او عالمان هم په یوې طریقې دائمي د واده تاییدوي چې مطلب یې هماغه موقت واده دے او هغه داسې چې یوه ښځه او سړے په خپلو کښې واده وکړي خو ورته پته وي چې څه وخت پس له یوه بله په طلاق سره جدا کیږي د دا رنګ واده مشوره ورکول هماغه د موقت واده مشوره ده خو یوازې په نوم کښې یې فرق دے.
د خدای کتاب او د پیغمبر(ص) سنت موقت واده (متعه) جائز ګڼي. قرآن کریم فرمايي: فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ (نساء/۲۴) ؛ کله چې مو له یوې ښځې سره د تمتع نکاح وتړله نو د هغوي مهریه وکړئ. تقریبا ډېر زیات عالمان چې ورته اتفاق ویلے شو په دې باور دي چې دا آیت د موقت واده په هکله نازل شوے دے. او اصولا په دې کښې څه شک نشته چې په اسلام کښې داسې واده جائز دے که څه اختلاف دے نو هغه په دې کښې دے چې ایا له جائزیدو وروسته بیا منسوخ شوے دے که نه. د طریفینو روایتونه دا وایي چې دا آیت منسوخ شوے نه دے او یوازې د دویم خلیفه په زمانه کښې په ځینو وجوهاتو د هغه مخه نیول شوې ده. خو د خلیفه خپلې خبرې هم په دې ګواهي ورکوي چې د پیغمبر(ص) په زمانې کښې دا کار جائز و او د هغه دا منعې کول یوازې د هغه شخصي نظر و ځکه چې هغه داسې وویل: "أيّها النّاس ثلاثٌ كُنّ على عهدِ رسولِ الله أنا أنهىٰ عنهُنّ و أحرّمهنّ و اُعاقِبُ

عليهنّ و هی مُتعة النساء و متعة الحج و حیّ علی خير العمل"[1] اے خلکودرې ښځو متعه، د حج متعه، او (په بانګ کښې) "حی علی خير العمل" ویل دي.
ښځو متعه، د حج متعه، او (په بانګ کښې) "حی علی خير العمل" ویل دي.

د حیرانتیا خبره دا ده چې د خلیفه منعې کول د لومړي او دریم څیز په هکله تر اوسه باقي دي خو د حج متعه د هغه د نظریې په خلاف تراوسه جاري دي او مسلمانان پرې عمل کوي. (د متعه حج مطلب دا دے چې د عمرې او حج تر مینځ انسان له احرامه وځي او د احرام محرمات هغه حلال شي).

په دې خبره چې پیغمبر(ص) متعه نه ده منعې کړې روښانه دلیل هغه دے چې بخاري له عمران بن حصینه نقل کړے دے چې وایي: "د متعې آیت د خدای په کتاب کښې نازل شو او مونږ هم د خدای له رسول سره په هغې عمل وکړ. خو د هغې په حرامیدو کښې هیڅکله یو آیت نه دے نازل شوے او پیغمبر(ص) له هغې منعې ونه کړه تر دې چې وفات شو بیا یو سړي په خپلې رأی د هغې په هکله خبرې وکړې" (مطلب یې دا دے چې دویم خلیفه په خپله خوښه دا کار وکړ)[2]

---

۱ . شرحد تجرید قوشچي، د امامت بحث، ۴۲۴مخ، او نورې سرچینې.
۲ . نزلت آیة المتعة فی کتاب الله فعملنا بها مع رسول الله و لم ینزل قرآن یحرّمها و لم ینه عنها حتی مات، قال رجل برأیه ما شاء (صحیح بخاري، ۲۷/۲، د تفسیر په برخه کښې د بقرې سورت د ۱۹۲ آیت لاندې).

## یو سل شپږ څلویښتم اصل

په ترلي لاس لمونځ (قبض یا تکفیر) په امامیه مذهب کښې بدعت او حرام دي. امیر المؤمنین فرمایي: "لا يَجْتَمِعُ المُسلمُ يَدَيْه في صلاتِهِ وَ هُو قائمٌ بَينَ يَدَيِ الله يُشَبَهُ بأهلِ الكُفْرِ منَ المَجوس"[1] لمونځ کوونکے کله چې خدای ته ولاړ وي نو لاسونه دې د یوبل لپاسه نه ږدي ځکه چې په دې عمل سره ځان د مجوسو په شان کوي.

لوی صحابي ابو حمید ساعدي، د اصحابو یوې ډلې ته چې پکښې ابوهریره دوسي، سهل ساعدي، ابواسید ساعدي، ابوقتاده، حارس بن ربعي او محمد بن مسلمه هم وو، د پیغمبر(ص) د لمانځه طریقه بیان کړه او پکښې واړه او لوی مستحبات هم په ګوته کړل، خو داسې څه عمل (یعنې په لمانځه کښې لاس ترل) یې پکښې بیان نه کړ.[2] روښانه خبره ده که د پیغمبر(ص) لمونځ همداسې و نو باید هغه پکښې دا کار بیان کړے وے او یا ورته باید حاضرانو وریاد کړے وے. د ساعدي حدیث ته ورته حدیث امام صادق علیه السلام له زبانه د حماد بن عیسی په وسیله زمونږ په حدیثي کتابونو کښې هم ذکر شوے دے.[3]

---

۱ . وسائل الشیعه، ۴ټوک، د لمانځه د ماتیدونکیو څیزونو څخه ۱۵باب، ۷حدیث.

۲ . بیهقي، سنن، ۷۲/۲، ۷۳، ۱۰۱، ۱۰۲، ابوداود سنن: ۱۹۴/۱، د افتتاح الصلاة باب، ۷۳۲، ۷۳۰ حدیثونه، ترمذي، سنن، ۹۸/۲، د صفت الصلاة باب.

۳ . وسائل الشیعه، ۴ ټوک، د افعال الصلاة له بابونو څخه لومړی باب، ۸۱حدیث.

د سهل بن سعد له حديثه معلوميږي چې په تړلو لاسونو لمونځ د پيغمبر(ص) له وخته وروسته شورو شو، ځکه چې وايي: "كَانَ النّاسُ يُؤمَرون" خلکو ته به حکم کيده. نو که دا کار د پيغمبر(ص) و نو بايد ويلې يې وے چې پيغمبر(ص) به خلکو ته حکم کاوۀ.[1]

## يو سل اووه څلويښتم اصل

د تراوو لمونځ د پيغمبر(ص) په پيروۍ له مؤکدو مستحباتو څخه دے. د شيعو فقه وايي: مستحبه ده چې انسان د روژې په ټولو شپو کښې زر رکعته لمونځ وکړي. خو دا لمونځونه له جمعې سره کول بدعت دي او بايد يوازې يا په جمات کښې وشي او يا ښه دا ده چې په کور کښې وشي. زيد بن ثابت له پيغمبر(ص) نقل کوي چې د سړي لپاره په کور کښې لمونځ کول تر دې ښه دي چې په جمات کښې يې وکړي خو که فرض لمونځ وي نو مستحبه دا ده چې په جمات کښې يې وکړي.[2]

امام باقر عليه السلام فرمايي: مستحب لمونځونه په جمعې سره نه شي کيدے او په دين کښې هر ډول بدعت د ګمراهۍ سبب کيږي او د هغې انجام اور دے.[3]

---

١ . فتح البارى، ٢٢۴/٢ او سنن بيهقي ٢٨/٢.

٢ . طوسي، خلاف، د لمانځه کتاب، ٢٢٨ مسئله.

٣ . صدوق، خصال، ١۵٢/٢.

امام رضا علیه السلام په خپلې هغه رسالې کښې چې د یو مسلمان انسان د عقایدو او عملونو په هکله یې لیکلې ده، یادونه کړې ده چې مستحب لمونځ په جمعې سره نه شي کیدے او دا کار بدعت دے.[1]

کله چې په جمعې سره د تراوو د لمانځه د کولو (چې اهل سنتو کښې دود دے) تاریخچه وګورو دا به راته روښانه شي چې دې کار ته د خپلې رائ اجتهاد مشروعیت ورکړے دے، تر دې چې دې ته یې بدعت حسنه ویلي دي په دې هکله که څوک څیړنه کول غواړي نو لاندینیو سرچینو ته مراجعه کولے شي.[2]

## یو سل اته څلویښتم اصل

د اسلام ټول فقهاء یوه خله دي چې ټول جنګي غنیمتونه دې د جهاد کوونکیو تر مینځ تقسیم شي خو د هغې پینځمه برخه باید په خاصو ځایونو کښې خرچ شي لکه څنګه چې د قرآن پاک په آیت کښې بیان شوي دي هلته چې فرمایي: وَاعْلَمُواْ أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ (انفال/۴۱) ؛ او پوه شئ هغه څه چې مو په غنیمت کښې واخستل نو د هغې پینځمه برخه، د خدای اود رسول او (د

---

۱ . صدوق، عیون اخبار الرضا، دویم ټوک، ۱۲۴مخ.

۲ . قسطلاني، ارشاد الساري، ۲۲۲/۳؛ عیني، عمدة القاري، ۱۲۲/۱۱۰؛ شاطبي، الاعتصام، ۲۹۱/۲.

رسول) د خپلوانو او (د پیغمبر د کورنۍ) د یتیمانو او مسکینانو او په لاره د پاتې کسانو لپاره ده....

په دغې ځای کښې چې شیعه فقیهان له نورو سره کوم فرق لري هغه دا دے چې نورو فقیهانو خمس یوازې له جنګي غنیمتونو سره خاص کړے دے او له هغې پرته په نورو کښې داسې فرضیه نه مني. او د هغوي دلیل دا دے چې دا آیت د جنګي غنیمتونو په هکله نازل شوے دے.

خو دا خبره په دوو دلیلونو سره صحیح نه ده.

لومړی دا چې: په لغت کښې هر هغه څیز چې انسان ته په لاس ورشي هغې ته غنیمت وایي، او له جنګي غنیمتونو سره اختصاص نه لري لکه څنګه چې ابن منظور وایي: "الغنم الفوز بالشيء من غير مشقة"[1] غنیمت، بې تکلیفه د یو شي په لاس راوړل دي.

له دې ورتېر قرآن هم دا ټکے د جنت د نعمتونو لپاره استعمال کړے دے فرمایي: فَعِندَ اللّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ (نساء/۹۴) د خدای په نزد ډېر لوی انعامونه دي.

په اصل کښې "غنیمت" د "غرامت" په مقابله کښې دے، هرکله چې یو انسان بې له دې چې له یوه څیزه ګټه واخلي د هغې په بدل د یو څیز او تاوان په ورکولو باندې مجبور شي دې ته غرامت، او کله چې ورته څه ګټه په لاس ورشي نوهغې ته غنیمت وایي.

نو دې ته په پام سره دا آیت یوازې له جنګي غنیمتونو سره د ایت خاص کول څه دلیل نه لري او د بدر په جنګ کښې د ایت نازلیدل د دې دلیل نه

---

۱ . لسان العرب، غَنَمَ ټکې. همدارنګې خبره په نهایه کښې د ابن اثیر هم کړې ده او په قاموس اللغة کښې فیروز ابادي هم داسې ویلي دي.

دے چې دا له جنګي غنيمتونو سره خاص دے او د ګټې او عايداتو د تخميس قانون يو کلي قانون دے او له دې آيت سره يې څه تخصيص نه دے خوړلے.

او دوهمه دا چې: په ځينې روايتونو کښې راغلي دي چې پيغمبر(ص) د خمس ورکول په هر ډول ګټې او عايد کښې واجب کړي دي کله چې د عبدالقيس د قبيلې يو ټولے هغه ته راورسيدۀ او ويې ويل: زمونږ او ستاسو تر مينځ مشرکان خنډ او مانع دي، او مونږ يوازې د حرمت په مياشتو کښې (چې امن وي) تاسو ته راتلے شو، نو مونږ ته هغه حکمونه بيان کړه چې په هغې باندې په عمل سره مونږ جنت ته تللے شو او نورو ته هم په هغې باندې دعمل کولو بلنه ورکړو، پيغمبر(ص) ورته وفرمايل: "تاسو ته د ايمان حکم درکوم" بيا يې د ايمان په تفسير کښې وفرمايل: "شهادة أن لا إله إلاّ الله و إقام الصلاة و إيتاء الزكاة و تعطوا الخمس من المَغْنَم"[1]؛ د خدای د يو والي شهادت او د لمانځه قائمول او زکات ورکول او دا چې له ګټو پينځمه برخه ورکړئ"

بې له شکه په دې حديث کښې له غنيمته مراد هغه ګټه ده چې جنګي نه ده، ځکه چې دوي وايې: مونږ په داسې ځای کښې يو چې هر وخت مو پيغمبر(ص) ته لاس نه رسي، يعنې د مشرکانو له ويرې هر وخت مدينې ته نه شو راتللے، او داسې کسان چې د مشرکانو په محاصره کښې وو له

---

۱. صحيح بخاري، ۴ټوک، ۲۵۰مخ.

مشرکانو سره يې د جنګ توان نه لارۀ چې د هغې د غنيمتونو خمس ورکړي.

له دغو روايتونو پرته د اهلبيتو عليهم السلام په روايتونو کښې له هر ډوله ګټې او عايده په خمس ورکولو باندې ټينګار شوے دے او پکښې څه شک نه دے پاتے.[1]

دا يو لړ فقهي فروعات دي چې شيعه د هغوي په هکله خپله نظريه لري. البته کوم فروعات مو چې ياد کړل شيعه يوازې په دغو کښې له نورو سره فرق نه لري او همداشان د خمس په بابونو د وصيت په مسلو او د ارث[2] په مسلو کښې هم د نظر اختلاف لري، خو د احکامو په کلياتو کښې له نورو سره د شيعيانو له اشراکه ورتېر په تطبيقي ډول د فقې تدريس او په تيره بيا د وحي د کورنۍ مستدلو نظرياتو ته پام سره د اهل سنتو دا لږه شان فاصله هم کمولے شي.

---

۱ . وسايل الشيعه، ۶ټوک، د خمس کتاب، لومړۍ باب.

۲ . وارث ته وصيت کول د شيعو له نظره صحيح دي خو د سنيانو له نظره صحيح نه دي. د ارث په حکمونو کښې عول او تعصيب د شيعو له نظره باطل دے او په دې دواړو ځايونو کښې مشکل په يوه بله طريقه حل کيږي چې د فقهې په کتابونو کښې په تفصيل سره ليکل شوي دي.

## یو سل نهه څلویښتم اصل

اسلامي تمدن او کلتور د اسلامي امت د پرله پسې کوششونو نتیجه ده. هغوي سره له دې چې بیلا بیل مذهبونه لري خو د ایمان او عقیدې تر سوري لاندې د اسلام په خدمت کښې یو شول او خپل ټول طاقت یې د اسلام د لوړو موخو د پرمختګ په لاره کښې ولګاوهٔ او داسې کلتور یې جوړ کړ چې اوس انساني ټولنه د دغه ځلانده کلتور پامته داره ده.

په دې هکله شیعو د اسلامي کلتور د جوړلو لپاره ډېر ښه رول ولوبوه، دلته دومره بس ده چې مونږ په دې هکله د علمونو او اسلامي کلتور د کتابونو پانڼې وګورو او د شیعو پوهانو نومونه پکښې وګورو.

په ادبیاتو او ادبي علمونو کښې دومره بس ده چې امیرالمؤمنین د هغې بنسټ کیښود او د غې لارې ته د هغوي شاګرد ابوالاسود دوئلي دوام وکړ، او له دوي وروسته شیعو شخصیتونو چې ډېر پکښې په عراق کښې اوسیدل دې لارې ته دوام ورکړ لکه: مازني (وفات کال/۲۴۸)، ابن سکیت (وفات کال/۲۴۴)، ابو اسحاق نحوي (د امام موسی کاظم له ملګرو و)، خلیل بن احمد فراهي د "العین" کتاب لیکوال (وفات کال/۱۷۰) ابن درید د "الجمهره" کتاب لیکوال (وفات کال/۳۲۱) او صاحب بن عبّاد د "المحیط" کتاب لیکوال (وفات کال/۳۸۲)، هغوي او همدارنګ په سلګونو نور کسان چې په خپله زمانه کښې د لغت او صرف او نحو او یا شعر او عروض مزبوتې ستنې وې.

د تفسیر په علم کښې، د پیغمبر(ص) له وفاته وروسته لومړنے تفسیر کوونکے امیرالمؤمنین(ع) او اهلبیت علیهم السلام وو او له هغوي

وروسته عبدالله بن عباس (وفات کال /۶۸) او د هغوي نور شاګردان وو او په تیرو څوارلسو سوو کلونو کښې يې په سلګونو تفسیرونه په بیلا بیلو طریقو لیکلي دي چې مونږ د شیعیانو لخوا د تفسیر لیکلو په هکله تاریخي څیړنه د شیخ طوسي د "تبیان" کتاب په سریزې کښې په تفصیل سره بیان کړې ده.

د حدیث په علم کښې شیعه له نورو اسلامي فرقو وړاندې دي او د خدای د رسول سنت يې په هغه وخت کښې هم په یادولو لیکلو او مباحثې سره ساتلے دے په کوم وخت کښې چې د هغې په لیکلو د خلیفه ګانو له خوا پابندي وه په دې هکله "عبدالله الي رافع، ربیعة بن سمیع او علی بن ابي رافع" چې د امام علی علیه السلام له یارانو وو نومونه او له دوي وروسته د امام سجاد او امام صادق علیه السلام د شاګردان نومونه یادولے شو.

د امام صادق علیه السلام په زمانه کښې حدیث دومره پرمختګ وکړ چې حسن بن علی الوشاء وايي: او ما د کوفې په جمات کښې نهه سوه محدثین ولیدل چې ټولو وویل: "حدّثنی جعفر بن محمد" مونږ له جعفر بن محمده (علیهما السلام) نقلوو.[1]

په فقهې کښې هم د اهل بیتو په مکتب کښې لوی مجتهدان جوړ شوي دي لکه: ابان بن تغلب (وفات کال/۱۴۱) زرارة بن اعین (وفات کال۱۵۰)، محمد بن مسلم (وفات کال/۱۵۰)، صفوان بن یحیی بجلي د دیرشو کتابونو لیکوال (وفات کال۲۱۰) او په سلګونو نور پاخه او توانمن

---

۱ . نجاشي ۷۹ شمېره.

مجتهدان لکه: شیخ مفید، سید مرتضی، شیخ طوسي، ابن ادریس، محقق حلی او علامه حلی چې ډېر ارزښتمن علمي اثار یې پرېښې دي.
شیعه یوازې په دې علمونو کښې خدمت کوونکي نه وو بلکه په نورو علمونو کښې هم لکه تاریخ او مغازي، رجال او درایه او په شعر او ادب کښې یې هم ډېره ښه خدمتونه اسلامي نړۍ ته وړاندې کړي دي چې په دې لنډ کتاب کښې یې نومونو نه شي راتلی.
هغه څه چې وویل شول له نقلي علمونو سره تړلي وو خو په عقلي علمونو لکه کلام اوفلسفه کښې تر ټولو مذهبونو وړاندې وو ځکه چې شیعه له نورو ټولو اسلامي فرقو عقل ته زیاته پاملرنه کوي او د امیرالمؤمنین او د اهلبیت علیهم السلام له ویناوو په الهام سره یې د اسلامي عقایدو په بیانولو کښې له حده زیات کوشش کړے دے، او اسلامي ټولنې ته یې لوي متکلمان او لوی فلسفیان ډالۍ کړي دي او د شیعو دکلام علم په اسلامي مکتبونو کښې تر ټولو زیات ګټه ور او ارزښتمن علم دے چې له کتاب او سنته پرته له عقله هم په ښه طریقه ګټه اخلي.
د علمي تمدن یوه ستنه د طبیعت د عالَم او په هغې باندې د واکمنو قانونونو پېژندل دي، د امام صادق علیه السلام په زمانه کښې د هغه یو شاګرد جابر بن حیان په طبیعي علمونو کښې داسې مقام ته ورسید چې هغه ته نن سبا د کیمیا د علم پلار ویل کیږي.
او د جغرافیا په علم کښې په یعقوبي مشهور احمد بن ابي یعقوب (وفات کال/ ۲۹۰) هغه لومړنے جغرافیادان و چې اسلامي هیوادونه یې ولیدل او د "البلدان" په نوم یې یو کتاب ولیکۀ.

دا هر اړخيز کوششونه د شيعه پوهانو په لاس له لومړي هجري کاله پيل شوي او تر اوسه دوام لري او په دې لاره کښې ډېرې ديني مدرسې او پوهنتونونه جوړ شوي دي چې تل د انسانو د علم او پوهې په لاره کښې د انسان خدمت کوونکي دي. هغه څه چې وويل شول په اسلامي تمدن او علم کښې د شيعيانو خدمتونو ته يوه ځغلنده اشاره وه، د ډېرې پوهې لپاره په دې هکله ليکلو شويو کتابونو ته مراجعه کولې شئ.[1] (د پام وړ ده چې په سائنس او ټکنالوژۍ کښې اوس هم شيعه په اسلامي هيوادونو کښې په لومړي نمبر دي).

## يو سل پنځوسم اصل

اماميه شيعه، په فروعاتو کښې اختلاف د استعمار په مقابله کښې اسلامي وحدت اود مسلمانانو د وروروليٰ خنډ نه ګڼي او دا عقيده هم لري چې په ارامه فضا کښې د علمي مناظرو او مذاکرو په تر سره کيولو سره ډېر هغه فکري او فقهي اختلافات (چې زمونږ د مسلمانانو د جداييٰ سبب کيږي) له منځ وړل کيدے شي. اصول د افکارو او سليقو اختلاف دانسان له فطرت سره تړلے اود عالمانو او پوهانو په مخ د علمي مذاکرې او بحث، دروازو تړل د هغوي د علم او پوهې د مرګ سبب کيږي. له همدې

١ . فهرست ابن نديم، رجال نجاشي، فهرست شيخ طوسي تأسيس الشيعه، الذريعة الى تصانيف الشيعه، أعيان الشيعة او د الملل او نحل کتاب شپږم ټوک او داسې نور کتابونه.

امله زمونږ مشرانو په ټولو وختونو کښې دا کوشش کړے دے چې د علمي او عقيدتي بحثونو په کولو سره حقيتونه روښانه کړي او کله چې هم د دښمن په مقابله کښې راغلي دي نو اسلامي وحدت او اتفاق ته يې غاړه ايښې ده او هر کلے يې ورته ويلے دے.

د شيعو د ټولو مفکرانو او مصلحانو غږ همدا دے:

"بُنِيَ الاسلام على دعامتين: كلمة التوحيد، و توحيد الكلمة"

اسلام په دوو ستنو ولاړ دے:

١. توحيد او يو خداى منل

٢. او اتحاد او اتفاق.

***

اى زمونږ ربه! د اسلام بيرغ په ټوله نړۍ کښې ورپوې! هغه بيلتون اچوونکي چې د ظالمانو په ګټه کار کوي تباه او هلاک کړې! او مسلمانانو ته د مشرکانو، منافقانو او ځان بايلو کسانو په مقابله کښې توان او طاقت ورکړې! او مونږ په نيغه لاره هدايت کړې!

بِمَنِكَ وكَرَمِكَ

# سر چینې

له قران مجیده وروسته


۱. ارشاد الساری لشرح صحیح البخاری، ابن حجر قسطلانی، احمد بن محمد ، (م ۹۲۳هـ) ، ۸ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، بی تاریخ.
۲. الاعتصام، شاطبی، ابو اسحاق ابراهیم بن موسی غرناطی (زوکړه ۷۹۰هـ) دار الفکر.
۳. اعتقادات، صدوق، محمد بن علی بن الحسین(ابن بابویه) قمی(م ۳۸۱هـ)چاپخانه آفتاب، تهران، ۱۳۷۱هـ.
۴. الالهیات، سبحانی، جعفر، ۲ج، الدار الاسلامیة، بیروت، ۱۴۱۰هـ/۱۹۸۹م.
۵. امالی، صدوق، محمد بن علی بن الحسین(ابن بابویه) قمی(م ۳۸۱هـ) مؤسسه الاعلمی بیروت ۱۴۰۰هـ.
۶. الامامة والسیاسة، ابن قتیبه، عبدالله بن مسلم(م ۲۷۲هـ)، ۲ج، المکتبة التجاریة الکبریٰ، قاهره، بی تاریخ.
۷. اوائل المقالات فی المذاهب و المختارات، مفید ، محمد بن محمد بن نعمان(م ۴۱۳هـ) ، مکتبۂ حقیقت، تبریز، ۱۳۷۱هـ.
۸. انیس الاعلام، فخر الاسلام، محمد صادق اورموی(م ۱۳۲۷هـ) ، ۲ج، تهران(سنگی) ، بی تاریخ.
۹. بحار الانوار، مجلسی، محمد باقر(م ۱۱۱۱هـ)، ۱۱۰ج، موسسة الوفاء، بیروت، ۱۴۰۳هـ.
۱۰. تاریخ بغداد ، خطیب بغدادی، احمد بن علی(م ۴۶۳هـ)، ۱۴ج، المکتبة السلفیة، مدینۂ منوره، بی تاریخ.

١١. تاریخ الخلفا، سیوطی، عبدالرحمن بن ابی بکر، (م٩١١هـ)، دار الجیل، بیروت،١٤٠٨هـ/١٩٨٨م.
١٢. تاریخ الرسل والملوك، طبری، محمدبن جریر، ابی جعفر، (م٣١٠هـ)١٣ج، دار الفکر، بیروت، ١٤٠٧هـ/١٩٨٧م.
١٣. تفسیر القران العظیم، ابن کثیر، اسماعیل، ابی الفداء، (م٧٧٤هـ)،٧ج، دارالفکر، بیروت، ١٤٠٣هـ/١٩٨٣م.
١٤. تمدن اسلام و عرب، گوستاولوبون، ترجمه فارسی سید محمد تقی فخر داعی گیلانی، چاپخانه علمی، تهران،١٣٣٤ش.
١٥. تنزیه الانبیاء، سید مرتضی علم الهدی(٣٥٥-٤٣٦)، چاپ تبریز، سنگی ١٢٩٠هـ.
١٢. التوحید، صدوق، محمدبن علی بن الحسین (ابن بابویه) قمی، (م٣٨١هـ) مکتبة الصدوق، تهران، ١٣٨٧هـ.
١٧. تهذیب الاصول، سبحانی، جعفر، ٢ج، مؤسسة النشر الاسلامی، قم، ١٤٠٥هـ/١٣٣٦ش.
١٨. جامع الاصول فی احادیث الرسول، ابن اثیرجزری(م٦٠٢هـ)، ١١ج، دار الفکر، بیروت، ١٤٠٣هـ/١٩٨٣م.
١٩. جامع البیان فی تفسیر القران، طبری، محمد بن جریر(أبی جعفر) (م٣١٠هـ)، ٣٠ج، دارالمعرفة، بیروت، ١٤٠٠هـ/١٩٨٠م.
٢٠. الحکمة المتعالیة فی الأسفار الأربعة، صدر الدین الشیرازی(١٠٥٠هـ)، ٩ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، ١٩٨١م.
٢١. حلیة الاولیاء، ابی نعیم اصفهانی، احمدبن عبدالله،(م٤٣٠هـ) ١٠ج، دار الکتاب العربی، بیروت، ١٣٨٧هـ/١٩٦٧م.

۲۲. خصائص الامام امیر المومنین علی علیه السلام، نسائی، احمد بن شعیب(م۳۰۳هـ)، تحقیق و نشر محمد باقرمحمودی، ۱۴۰۳هـ/۱۹۸۳م.
۲۳. الخصائص الکبری؛ سیوطی، عبرالرحمن بن أبی بکر، (م۹۱۱هـ).
۲۴. الخصال؛ صدوق، محمد بن علی بن الحسین(ابن بابویه قمی(م۳۸۱هـ)، منشورات جامعه مدرسین، قم، ۱۴۰۳هـ/۱۳۶۲ش.
۲۵. الخلاف؛ الطوسی، محمد بن الحسن شیخ الطائفه (م۴۶۰هـ)، ۶ج، مؤسسة النشر الاسلامی، قم، ۱۴۱۲هـ.
۲۶. الدرالمنثور فی التفسیر بالمأثور؛ سیوطی، عبدالرحمن بن أبی بکر(م۹۱۱هـ)، ۸ج، دار الفکر، بیروت، ۱۴۰۳هـ/۱۹۸۳م.
۲۷. رجال النجاشی؛ نجاشی، احمد بن علی(م۴۵۰هـ)، ۲ج، دار الأضواء، بیروت، ۱۴۰۸هـ/۱۹۸۸م.
۲۸. روح المعانی فی تفسیر القران..، الوسی، محمود بغدادی (م۱۲۷۰هـ)، ۲۲ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، بی تاریخ.
۲۹. سنن ابن ماجه؛ ابن ماجه، محمد بن یزید قزوینی(م۲۷۵هـ) دار احیاء التراث العربي، بیروت، ۱۳۹۵هـ/ ۱۹۷۵م.
۳۰. سنن بیهقی؛ بیهقی، احمد بن حسین بن علی(م۴۵۸هـ) ، ۱۰ج، بیروت ، ۱۳۴۴هـ.
۳۱. سنن ترمذی؛ ترمذی، محمد بن عیسی(م۲۹۷هـ)، ۵ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، بی تاریخ.
۳۲. سنن دارمی؛ دارمی، عبدالله بن بهرام(م۲۵۵هـ)، ۲ج، دارالفکر، بی تاریخ.
۳۳. السنة؛ احمد بن حنبل(م۲۴۱هـ)، دار الکتب العلمیة، بیروت، ۱۴۰۵هـ/۱۹۸۵م.

۳۴. السیرة النبویة؛ ابن هشام، عبدالملک بن ایوب حمیری(م۲۱۳یا۲۱۸ھ)۴ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، بی تاریخ.
۳۵. شرح الأصول الخمسة؛ عبدالجبار بن احمد (ک۴۱۵ھ) ، مکتبة وهبیة، قاهره، ۱۴۰۸ھ/۱۹۸۸م.
۳۶. شرح تجرید ؛ قوشجی، علی بن محمد ، علاء الدین(م۷۸۹ھ)، چاپ سنگی، تبریز، ۱۳۰۷ھ.
۳۷. شرح الزرقانی علی موطأ مالک؛ زرقانی، محمد بن عبدالباقی(م۱۱۲۲ھ)، ۴ج، طبع عبدالحمید احمد حنفی، قاهره، بی تاریخ.
۳۸. شرح عقائد صدوق(تصحیح الاعتقاد)، مفید، محمد بن محمد بن نعمان(م۴۱۳ھ)، مکتبۀ حقیقت، تبریز، ۱۳۷۱ھ.
۳۹. شرح المقاصد؛ تفتازانی، عمر اسعد الدین(م۷۹۲ھ)، چاپ بوسنوی، استنبول، ۱۳۰۵ھ.
۴۰. الشفاء؛ ابن سینا، حسین بن عبدالله، ابو علی(م۴۲۷)، شیخ الرئیس، انتشارات بیدار، قم، بی تاریخ.
۴۱. صحیح بخاری؛ بخاری، محمد بن اسماعیل(م۲۵۶ھ)، ۹ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت ، ۱۴۰۰ھ.
۴۲. صحیح مسلم؛ مسلم بن حجاج قشیری نیشابوری(م۲۶۱ھ)، ۸ج، دار الجیل، بیروت، بی تاریخ.
۴۳. الصواعق المحرقة؛ ابن حجر هیثمی مکی. شهاب الدین احمد (م۹۷۴ھ)، مکتبة القاهره، قاهره، ۱۳۸۵ھ.
۴۴. عمدة القاری شرح صحیح البخاری؛ عینی، محمود بن احمد، بدر الدین(م۸۵۵ه)، ۲۲ج، دار الفکر، بیروت، بی تاریخ.

۴۵. عیون اخبار الرضاعلیه السلام؛ صدوق، محمد بن علی بن الحسین (ابن بابویه) قمی(م۳۸۱هـ) مؤسسة الأعلمی، بیروت، ۱۴۰۴هـ.
۴۶. الغدیر؛ امینی، عبدالحسین احمد (م۱۳۹۰هـ)، ۱۱ج، دار الکتاب العربی، بیروت، ۱۳۸۷هـ.
۴۷. فتح الباری بشرح صحیح البخاری، عسقلانی، احمد بن حجر(م۸۵۲هـ) ۱۳ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت ، ۱۴۰۲هـ.
۴۸. فتح القدیر؛ شوکانی، محمد بن علی صنعانی(م۱۲۵۰هـ) ، دار المعرفة، بیروت، بی تاریخ.
۴۹. فجر الاسلام؛ احمد امین مصری(م۱۳۷۳هـ).
۵۰. فرق الشیعة؛ نوبختی، حسن بن موسی(م۳۱۰هـ)، دار الاضواء، بیروت، ۱۴۰۴هـ/۱۹۸۴م.
۵۱. الکافی؛ کلینی، محمد بن یعقوب(م۳۲۹هـ)، (اصول کافی)، ۲ج، دار صعب- دار التعارف، بیروت، ۱۴۰۱هـ.
۵۲. کشف الغمة فی معرفة الأئمة؛ إربلی، علی بن عیسی(م۲۹۲هـ)، دار الاضواء، بیروت، ۱۴۰۵هـ.
۵۳. کشف المراد فی شرح تجرید الاعتقاد؛ علامه حلی، حسن بن مطهر(۶۴۸-۷۲۶)، مؤسسةالنشر الاسلامی، قم، ۱۴۱۳هـ.
۵۴. کفایة الأثر؛ خزاز قمی، علی بن محمد (م قرن۴ق)، منشورات بیدار، قم، ۱۴۰۱هـ.
۵۵. کمال الدین و تمام النعمة؛ صدوق، محمد بن علی بن الحسین (ابن بابویه) قمی (م۳۸۱هـ) مؤسسة النشر الاسلامی، قم، ۱۴۰۵هـ.
۵۶. کنزالعمال فی سنن الاقوال و الاعمال؛ متقی هندی، علی بن حسام الدین(م۹۷۵هـ)، ۱۶ج، مکتبة التراث الإسلامی، حلب، بی تاریخ.

۵۷. مجمع البیان؛ طبرسی، فضل بن حسن (م۵۴۸هـ)، ۵ج، المکتبة العلمیة الاسلامیة، تهران، بی تاریخ.
۵۸. محاسن التأویل؛ قاسمی، جمال الدین محمد (۱۳۳۲هـ)، ۱۷ج، دارالفکر، بیروت، ۱۳۹۸هـ/۱۹۷۸م.
۵۹. المستدرک علی الصحیحین؛ حاکم نیشابوری، حافظ أبی عبدالله (م۴۰۵هـ) ۴ج، دار المعرفة، بیروت، بی تاریخ.
۶۰. مسند احمد؛ احمدبن حنبل (م۲۴۱هـ)، ۴ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، بی تاریخ.
۶۱. معانی الأخبار؛ صدوق، محمد بن علی بن الحسین (ابن بابویه قمی)(م۳۸۱هـ) دار المعرفة، بیروت، ۱۳۹۹هـ/ ۱۹۷۹م.
۶۲. مفاتیح الغیب؛(تفسیر کبیررازی)؛ رازی، فخرالدین (م۶۰۲هـ)، دار الکتب العلمیة، تهران، بی تاریخ.
۶۳. المفردات فی غریب القران؛ راغب اصفهانی، حسین بن محمد (م۵۰۲هـ) المکتبة المرتضویة، تهران، ۱۳۳۲ش.
۶۴. مقالات السلامیین و اختلاف المصلین؛ اشعری، ابوالحسن، علی بن اسماعیل (م۳۲۴هـ)، دار النشر فرانزشتایز، ویسباون، بی تاریخ.
۶۵. مقاییس اللغة؛ ابن فارس، احمد بن زکریا (م۳۹۵هـ)، ۶ج، دار احیاء الکتب العربیة ، قاهره، بی تاریخ.
۶۶. الملل والنحل؛ شهرستانی، عبدالکریم (م۵۴۸هـ) دار الکتب العلمیة ، بیروت، ۱۴۱۰هـ/ ۱۹۹۰م.
۶۷. المنار فی تفسیر القران، رشید رضا (م۱۳۵۴هـ)، ۱۲ج، دار المنار، قاهره، ۱۳۷۳هـ.
۶۸. مناقب؛ خوارزمی، موفق بن احمد بن محمد مکی، (م۵۴۸هـ)، مؤسسة النشر الاسلامی، قم ، ۱۴۱۱هـ.

۶۹. من لا یحضره الفقیه؛ صدوق، محمدبن علی بن الحسین، (ابن بابویه) قمی (م۳۸۱هـ)، ۴ج، دار التعارف، بیروت، ۱۴۱۱هـ/ ۱۹۹۰م.

۷۰. المواعظ والاعتبار بذکر الخطط والاثار (خطط مقریزیة)؛ مقریزی، تقی الدین (م۸۴۵هـ)، ۲ج، دار صادر، بیروت، بی تاریخ.

۷۱. میزان الاعتدال؛ ذهبی، محمد بن احمد ، شمس الدین (م۷۴۸هـ) ، ۴ج، دار المعرفة، بی تاریخ.

۷۲. المیزان فی تفسیر القران؛ طباطبائی، سید محمد حسین، ۲۰ج، مؤسسة الأعلمی، بیروت، ۱۳۹۳هـ/۱۹۷۳م.

۷۳. نهج البلاغه؛ رضی، ابوالحسن محمد (م۴۰۶هـ)، ضبط و فهرست الدکتور صبحی الصالح، بیروت، ۱۳۸۷هـ/تهران۱۳۹۵ش.

۷۴. وحی محمدی؛ منشی المنار رشید رضا (م۱۳۵۴هـ).

۷۵. وسائل الشیعة؛ حر عاملی، محمد بن حسن (م۱۱۰۴هـ)، ۲۰ج، دار احیاء التراث العربی، بیروت، ۱۴۰۳هـ / ۱۹۸۳م.

۷۶. ینابیع المودة؛ قندوزی، بابا خواجه حسینی (م۱۳۰۳هـ) ، مطبعة اختر، استنبول، ۱۳۰۱هـ.